بشتو

# د قران کریم د روستنی لسمی برخی ترجمه

ISBN : 978-9960-59-085-1

www.tafseer.info

# سریزه

بسم الله الرحمن الرحیم

**مسلمانه وروره او خوری په دی باندی پوه شه چه په مونږ باندی د څلورو مسئلو پیژندل واجب دی :**

❶ **علم :** چه هغه د الله تعالی، رسول الله ﷺ او د اسلام معرفت او پیژندل دی، ځکه چه په غیر د علم نه د الله تعالی بندگی او عبادت جایز ندی، او چا چه په غیر د علم نه د الله تعالی بندگی وکړه نو د هغی مصیر به گمراهی طرف ته وی، او په دغه کار کی د نصاری و سره مشابهت لری.

❷ **عمل :** څوک چه علم وکړی او عمل پری ونکړی نو هغه د یهودو سره مشابهت لری، ځکه چه یهود عالمان وو لیکن په علم ئی عمل نه کولو، او شیطان په مختلفو مکرونو او چلونو باندی انسان د علم نه متنفر کوی او دا حیله او بهانه ورته ښیی چه انسان د الله تعالی په نزد په جهل سره معذوره دی، او دا فکر نه کوی چه څوک علم حاصلولی شی او بیا ئی پریږدی نو په هغی باندی حجت او دلیل قایم شو، او دا د نوح عليه السلام د قوم مکر او چل وو، لکه څرنگه چه الله تعالی د هغوی نه حکایت کوی : ﴿جَعَلُوٓاْ أَصَٰبِعَهُمۡ فِيٓ ءَاذَانِهِمۡ وَٱسۡتَغۡشَوۡاْ ثِيَابَهُمۡ﴾ سورة نوح : 7). **ترجمه:** گرځوی دوی گوتی خپلی په غوږونو کی او پټوی خانونه خپل په جامو کی، دی لپاره چه حجت پری قایم نه شی .

❸ **د الله دین ته دعوت کول :** ځکه چه عالمان او داعیان (دعوتگران) د پیغمبرانو علیهم السلام وارثان دی، د دی وجه نه چه کله بنی اسرایلو د دعوت کار پریښوده نو الله تعالی پری لعنت وکړو، لکه څرنگه چه الله تعالی فرمائی : ﴿كَانُواْ لَا يَتَنَاهَوۡنَ عَن مُّنكَرٖ فَعَلُوهُۚ لَبِئۡسَ مَا كَانُواْ يَفۡعَلُونَ﴾ سورة المائدة : 79). **ترجمه:** دوی خلک نه منع کول د ناروا کارونو نه چه کول به ئی، ډیر ناکاره ۋ هغه کار چه دوی کوو. د دعوت اود تعلیم مسئله فرض کفائی ده، که چیرته ځنی کسان دعوت ته ادامه ورکړی نو ټول د گناه نه خلاص شول، او که ټول خلک دعوت پریږدی نو ټول گناهگار دی .

❹ **صبر کول :** یعنی په هغه تکلیفونو باندی صبر کول چه کوم د علم په طلب کولو کښی دی، او یا په دغی علم باندی د عمل کولو په وخت کی دی، او یا د دعوت کولو په لاره کی مخی ته راځی.

✸ مونږ د جهل د ختمولو او د واجبی او ضروری علمونو د اسانتیا په هدف په دی مختصر کتاب کښی ځنی هغی شرعی علمونو ته ځای ورکړی دی چه زده کول ئی تر ډیره حده پوری کفایت کوی، او د دی سره مو د قران کریم اخرنی دری سیپاری او دهغی تفسیر ته هم ځای ورکړی دی ځکه چه دغه سیپاری باربار تکراریږی، او (هغه څه چه ټول نه حاصلږی نواهم او ضروری خو ئی باید پری نښودل شی).

✸ او مونږ په دغی کار کښی د نهایت زیات اختصار نه کار اخستی دی، او د رسول الله ﷺ صحیح احادیث مو پکښی راجمع کړی دی، او مونږ کمال ته د رسیدو دعوه نه کوو، ځکه چه کمال یواځی الله تعالی لره خاص دی، لیکن دا یو ناڅیزه محنت او کوشش دی، که چیرته حق او پرځای وی نو د الله تعالی له طرفه به وی، او که غلط او خطا وی نو دا به زمونږ او د شیطان له طرفه وی، الله او دهغه رسول ﷺ تری پاک دی، او الله تعالی دی په هغی انسان باندی رحم وکړی چه مونږ ته زمونږ خطاگانی او عیبونه د هدفمند او خیرخوا نقد او اعتراض په شکل په گوته کړی .

الله تعالی ته سوال کوو چه ټولو هغو ورونو ته نیك عوض او ثواب ورکړی چه د دی کتاب په تیارولو، یا چاپولو، یا تقسیمولو، او یا د هغی په لوستلو او ښوونی کښی یی برخه اخستی ده، الله تعالی دی د هغوی دغه عمل قبول کړی، او لوی اجر او ثواب دی ورله ورکړی .

دا کتاب وړیا ورکول کیږی او خرڅول ئی منع دی
څورلسم صفا اوپه نوو معلوماتو باندی سنبال چاپ
د چاپ کال: جماد ثاني 1431هـ
داسلامی نړی گنو عالمانو د دی کتاب تزکیه او تایید کړی دی
الموقع / www.tafseer.info البريد / bsh@tafseer.info

# دقرآن کریم د لوستلو فضیلت

قران کریم د الله تعالی کلام دی، نو په نورو خبرو د دی فضیلت داسی دی لکه د الله تعالی فضیلت په خپل مخلوق باندی، او لوستل یی د ټولو هغه څه نه ډیر غوره دی چه ژبه پری خوځیږی .

**او د قران کریم د زده کولو ښودلو او لوستلو ډیر فضیلتونه ذکر شوی چه ځنی یی په لاندی ډول دی:**

- **د قران د ښودلو فضیلت:** رسول الله ﷺ فرمائی : « **خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ** » البخاري. بهترین په تاسو کښی هغه څوک دی چه قران زده کوی او بیا یی نورو ته ښائی.
- **د قران کریم د لوستلو فضیلت:** رسول الله ﷺ فرمائی : « **مَنْ قَرَأَ حَرْفًا مِنْ كِتَابِ اللهِ فَلَهُ بِهِ حَسَنَةٌ وَالْحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا** » الترمذي، څوک چه د قران کریم یو حرف ولولی نو د هغی لپاره یوه نیکی ده او نیکی یو په لسو باندی ده.
- **قران کریم د زده کولو حفظ کولو او د هغی په لوستلو کښی د مهارت حاصلولو فضیلت :** رسول الله ﷺ فرمائی : « **مَثَلُ الَّذِي يَقْرَأُ الْقُرْآنَ وَهُوَ حَافِظٌ لَهُ مَعَ السَّفَرَةِ الْكِرَامِ الْبَرَرَةِ، وَمَثَلُ الَّذِي يَقْرَأُ الْقُرْآنَ وَهُوَ يَتَعَاهَدُهُ وَهُوَ عَلَيْهِ شَدِيدٌ فَلَهُ أَجْرَانِ** » متفق عليه ، مثال د هغی کس چه قران کریم لولی په داسی حال کښی چه دهغی حافظ وی نو د نیکانو او عزتمندو ملایکو سره به وی، او مثال د هغی کس چه قران لولی او دیادولو کوشش یی کوی خو هغه ورته ګران وی نو د هغی دوه اجره دی. او رسول الله ﷺ فرمائی : « **يُقَالُ لِصَاحِبِ الْقُرْآنِ: اقْرَأْ وَارْتَقِ وَرَتِّلْ كَمَا كُنْتَ تُرَتِّلُ فِي الدُّنْيَا فَإِنَّ مَنْزِلَتَكَ عِنْدَ آخِرِ آيَةٍ تَقْرَأُ بِهَا** » الترمذي ، د قران کریم خاوند ته به وویلی شی: قران لوله او خیژه او په دمه (ارامه) یی لوله لکه څرنګه چه تا په دنیا کښی په دمه لوسته، یقینا ستا اخری منزل به هغه ځای وی چه ته پکښی اخری ایت ولولی.

علامه خطابی فرمائی: په اثر کښی راغلی چه د قران کریم ایاتونه د جنت د پوړو (زینو) په اندازه دی، نو قاری ته به وویلی شی چه په پوړو(زینو) د قران کریم د هغی ایاتونو په مقدار خیژه چه ته یی لولی، نو چا چه ټول قران ولوسته نو هغه به په اخرت کی د جنت په اعلی او اوچته پوړی قادره شی، او که څوک د قران کریم لږه برخه ولولی نو هغه به د هغی په اندازه په پوړو خیژی، نو د ده د ثواب به ددە د لوستلو په اندازه وی.

- **د هغه انسان فضیلت چه بچی یی قران کریم زده کړی وی:** رسول الله ﷺ فرمائی : « **مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ وَتَعَلَّمَهُ وَعَمِلَ بِهِ أُلْبِسَ وَالِدَاهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ تَاجًا مِنْ نُورٍ ضَوْؤُهُ مِثْلُ ضَوْءِ الشَّمْسِ، وَيُكْسَى وَالِدَاهُ حُلَّتَيْنِ لَا يَقُومُ لَهُمَا الدُّنْيَا، فَيَقُولَانِ: بِمَ كُسِينَا هَذِهِ؟ فَيُقَالُ: بِأَخْذِ وَلَدِكُمَا الْقُرْآنَ** » الحاكم ، چا چه قران کریم ولوستی او زده یی کړی او عمل پری وکړی، نو مور او پلار ته به یی په قیامت کښی داسی تاج په سرشی چه د لمر په شان به رڼا کوی، او داسی جامی به ورته واغوستلی شی، چه دا دنیا به دهغی قیمت نه شی پوره کولی، نو دوی به وائی چه دا جامی مونږ ته په څه باندی واغوستلی شوی؟ نو وبه ویلی شی: پدی سبب چی تاسو خپلو بچو ته قران ښودلی وو.
- **حافظ لپاره په ورځ د قیامت کښی د قران کریم شفاعت:** رسول الله ﷺ فرمائی : « **اقْرَءُوا الْقُرْآنَ فَإِنَّهُ يَأْتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ شَفِيعًا لِأَصْحَابِهِ** » مسلم ، قران ولولئ ځکه چه دا به په ورځ د قیامت کښی د خپلو خاوندانو لپاره شفاعت کوی، او رسول الله ﷺ فرمائی : « **الصِّيَامُ وَالْقُرْآنُ يَشْفَعَانِ لِلْعَبْدِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ....** » أحمد. روژه او قران به په ورځ د قیامت کښی د بنده لپاره شفاعت کوی.
- **د هغی خلکو اجر او فضیلت چه د قران کریم د لوستلو او زده کولو لپاره راجمع کیږی:** رسول الله ﷺ فرمائی : « **مَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ فِي بَيْتٍ مِنْ بُيُوتِ اللهِ تَعَالَى يَتْلُونَ كِتَابَ اللهِ وَيَتَدَارَسُونَهُ بَيْنَهُمْ**

**إلا نَزلَتْ عليْهِمُ السَّكِينَةُ، وَغَشِيَتْهُمُ الرَّحمَةُ وحَفَّتهُمُ الملائكَةُ وذَكَرَهُمُ اللهُ فِيمَنْ عِنْدَهُ »** أبو داود. نـه راجمع کيږی يو قوم د الله په کور کښی چه د قران کريم تلاوت کوی اوپه خپل منځ کښـی د هغی زده کړه کوی مگر نازليږی په هغوی باندی سکون او اطمنان، او رحمتونه به پری چاپيره وی، او ملايکی پری وزری غوړوی، او الله يی په هغه ټولی کښی يادوی چه د هغه سر ه دی.

**د قران کريم دلوستلو اداب:** حافظ ابن کثير د قران د لوستلو اداب ذکر کړی چه ځنی يی دا دی: د پاکی او طهارت په حالت کښی د قران تلاوت او يا د هغی مسه کول، د تلاوت نه مخکښی مسواک وهل، ښايسته جامی اغوستل، قبلی تـه مخ کول، د (تثاوب) يعنی اسويلی په حالت کښی تلاوت نه کول، په بی ضرورته خبرو باندی به تلاوت نه بندوی، د تلاوت په وخت کښی بايد ذهن او فکر حاضره وی، د بشارت په اياتونو باندی وقف کول او د هغی سوال کول، او د تخويف (ويری) په اياتونو باندی وقف کول او الله سره د هغی نه پناه غوښتل، او قران بايد خلاص پری نږدی، او نـه بـه پری د بره څه شی ايږدی، لوستونکی بايد د لوستلو په وخت کښی يو په بل باندی خپل اوازونـه اوچت نه کړی، په بازارونو او د شور په ځايونو کښی بايد د قران تلاوت ونه کړی.

**قران بايد څرنګه ولوستلی شی؟** د انس ﷺ نـه د رسول الله ﷺ د قراءت پـه هکله تپوس وشو نو هغه ووېلی: رسول الله ﷺ به قران په مدونو سره تلاوت کول، کله چه به يی بسم الله الرحمن الرحيم لوسته نو په بسم الله بـه يی مد کولو، پـه الرحمن باندی بـه يی مد کولو، پـه الرحيم باندی به يی مد کولو. امام بخاری روايت کړيدی.

**د قراءت د ثوابونو زياتيدل:** څوک چه خالص د الله تعالی لپاره د قران کريم تـلاوت کوی نو هغه لره بـه اجرونـه ورکول کيږی، ليکن څومره چه انسان د زړه پـه حضور اوپوهی سره تلاوت کوی، او په اياتونو کښی تدبر او فکر کوی، نو اجر او ثواب نور هم زياتيږی، نو په يو حرف باندی د لسو نيکيو نه نيولی تر (٧٠٠) نيکيو پوری اجر ورکول کيږی.

**هغه مقدار چه په يوه شپه او ورځ کښی لوستلی کيږی:** د رسول الله ﷺ صحابه کرامو بـه هره ورځ د قران کريم څه حصه د خپل ځان لپاره مقرر کړی وه، او د يوی هفتی نـه پـه کمه هغوی د قران په ختمولو باندی هميشوالی نه دی کړی، بلکه د دری ورځو نـه پـه کمه د قران کريم د ختم نه منع راغلی ده.

نو ای عزتمنده وروره! د قران کريم په تـلاوت بـاندی د وقت د تيرولو کوشش وکړه، او د خپل ځان لپاره هره ورځ يوه حصه مقرره کړه او په هيڅ حال يی مه پريږده، او هغه نيک عمل چه لږ او دوامداره وی د هغی ډير عمل نه غوره دی چه هميشه لپاره نـه وی، کـه ستا نـه تـلاوت هير شی او يا تری اوده شی، نو سبا ورځ د هغی قضـائی راوړه، رسول الله ﷺ فرمائی : **« مَنْ نَامَ عَنْ حِزْبِهِ أَوْ عَنْ شَيْءٍ مِنْهُ فَقرَأَهُ فِيمَا بَيْنَ صَلاةِ الفَجْرِ وصَلاةِ الظُّهْرِ كُتِبَ لَهُ كَأَنَّمَا قَرَأَهُ مِنَ اللَّيْلِ »** مسلم ، څوک چه د خپل حزب (مقرره حصه) او يا د څه حصی نه اوده پاتی شی او بيا يی د سهار او د ماسپښين د لمونځونو په منځ کښی ولولی نو ده لپاره به (هغه اجر) وليکلی شی لکه چه ده د شپی دغه قران لوستلی وی. او د هغی کسانو لـه جملی څخـه مـه کيږه چه قران پريږدی او يا يی هيروی: لکه د قران کريم د تلاوت پريښودل، يا دهغی ترتيل (صفا ويل) او تدبر پريښودل، او يا پری عمل پريښودل، او يا پری د شفاء او علاج طلب کول پريښودل او يادلسی نور.

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ﴿١﴾
ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٢﴾ ٱلرَّحْمَٰنِ
ٱلرَّحِيمِ ﴿٣﴾ مَٰلِكِ يَوْمِ ٱلدِّينِ ﴿٤﴾ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ
نَسْتَعِينُ ﴿٥﴾ ٱهْدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلْمُسْتَقِيمَ ﴿٦﴾
صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ ٱلْمَغْضُوبِ
عَلَيْهِمْ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ ﴿٧﴾

## سُورَةُ الفَاتِحَةِ

دی سورت ته فاتحه وائی ځکه چه د قران شروع پری کیږی، او همدارازلیکونکی پری په لیکلو کښی، او لوستونکی پری په لوستلو کښی شروع کوی، او دا په نزول کښی اولنی سورت نه دی، چا ویلی چه: دا مکي دی، او چا ویلی چه مدني دی، دیته فاتحة الکتاب، أم الکتاب، سبع المثاني، سورة الحمد، سورة الصلاة، او الواقية هم وائی، **او په فضیلت کښی ئی ډیر احادیث راغلی دی، یو ئی دا دی چه رسول الله ﷺ فرمایلی:** « **الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ هِيَ السَّبْعُ الْمَثَانِي، وَالقُرْآنُ العَظِيمُ الذِي أُوتِيتُهُ** » البخاري وأحمد. الحمدلله دا اوه ایاتونه دی چه بار بار تکراریږی، او دا هغه قران عظیم دی چه ماته راکړی شوی دی. ﴿بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ﴾ دا په ټولو سورتونو کښی اولنی ایات نه دی، بلکه دا د دوو سورتونو په منځ کښی د جداوالی لپاره علامه ده، لوستل ئی مستحب دی لیکن په سورت توبه کښی ئی لوستل مکروه دی

﴿١﴾ خاص په نوم د الله تعالی سره چه عام مهربانه دی او خاص مهربانه دی (مدد غواړم)
﴿٢﴾ ټول صفتونه د خدائی توب خاص الله لره دی چه پالونکی د ټول عالم دی
﴿٣﴾ عام مهربانی والا دی او خاص رحم کونکی دی
﴿٤﴾ واکدار د ورځی د بدلی دی
﴿٥﴾ خاص تالره بندګی کوو مونږ او خاص ستا نه امداد غواړو مونږ
﴿٦﴾ وښایه مونږ ته لار نیغه (سمه)
﴿٧﴾ لار د هغی کسانو چه تا نعمت کړی دی په هغوی باندی چه نه غضب شوی دی په هغوی باندی او نه دی ګمراهان.

# د المجادلة سورت

سُورَةُ المُجَادلَة — ترتيبها ٥٨ — آياتها ٢٢

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

قَدۡ سَمِعَ ٱللَّهُ قَوۡلَ ٱلَّتِي تُجَٰدِلُكَ فِي زَوۡجِهَا وَتَشۡتَكِيٓ إِلَى ٱللَّهِ
وَٱللَّهُ يَسۡمَعُ تَحَاوُرَكُمَآۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعُۢ بَصِيرٌ ١ ٱلَّذِينَ يُظَٰهِرُونَ
مِنكُم مِّن نِّسَآئِهِم مَّا هُنَّ أُمَّهَٰتِهِمۡۖ إِنۡ أُمَّهَٰتُهُمۡ إِلَّا ٱلَّٰٓـِٔي
وَلَدۡنَهُمۡۚ وَإِنَّهُمۡ لَيَقُولُونَ مُنكَرٗا مِّنَ ٱلۡقَوۡلِ وَزُورٗاۚ وَإِنَّ
ٱللَّهَ لَعَفُوٌّ غَفُورٞ ٢ وَٱلَّذِينَ يُظَٰهِرُونَ مِن نِّسَآئِهِمۡ ثُمَّ يَعُودُونَ
لِمَا قَالُواْ فَتَحۡرِيرُ رَقَبَةٖ مِّن قَبۡلِ أَن يَتَمَآسَّاۚ ذَٰلِكُمۡ تُوعَظُونَ
بِهِۦۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرٞ ٣ فَمَن لَّمۡ يَجِدۡ فَصِيَامُ شَهۡرَيۡنِ
مُتَتَابِعَيۡنِ مِن قَبۡلِ أَن يَتَمَآسَّاۖ فَمَن لَّمۡ يَسۡتَطِعۡ فَإِطۡعَامُ سِتِّينَ
مِسۡكِينٗاۚ ذَٰلِكَ لِتُؤۡمِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦۚ وَتِلۡكَ حُدُودُ ٱللَّهِۗ
وَلِلۡكَٰفِرِينَ عَذَابٌ أَلِيمٌ ٤ إِنَّ ٱلَّذِينَ يُحَآدُّونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ كُبِتُواْ
كَمَا كُبِتَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡۚ وَقَدۡ أَنزَلۡنَآ ءَايَٰتِۢ بَيِّنَٰتٖۚ وَلِلۡكَٰفِرِينَ
عَذَابٞ مُّهِينٞ ٥ يَوۡمَ يَبۡعَثُهُمُ ٱللَّهُ جَمِيعٗا فَيُنَبِّئُهُم بِمَا
عَمِلُوٓاْۚ أَحۡصَىٰهُ ٱللَّهُ وَنَسُوهُۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدٌ ٦

(١) یقینا واوریدله الله تعالی وینا دهغی زنانه (ښځی) چه بحث ئی کوو له تاسره په باره د خپل خاوند کښی او ګیله (شکایت) ئی کوله الله تعالی ته (د خپل خاوند نه) او الله تعالی اوریدلی خبری اتری ستاسو، یقینا الله تعالی اوریدونکی او لیدونکی دی

(٢) هغه کسان چه ظهار کوی ستاسو نه د زنانه و خپلو نه نه دی دوی میندی دهغوی، نه دی میندی د دوی مګر هغه چه دوی ئی زیږولی دی او یقینا دوی خامخا وائی ناروا خبره او دروغ، او یقینا الله تعالی خامخا معافی کونکی اوبښنه کونکی دی

(٣) او هغه کسان چه ظهار کوی د زنانه و خپلو نه بیا واپس کیږی (ماتولو د) هغی خبری ته چه دوی کړی وی، نو ازادول د مرئی دی مخکی د یوځای کیدو د دوی نه، دا وعظ درکیدای شی تاسو ته په دی باندی او الله تعالی په هغی عملونو باندی چه تاسو ئی کوی خبردار دی

(٤) نو څوک چه نه مومی (وس د ازادولو د مرئی) نو روژی نیول دی دوه میاشتی پرله پسی مخکی د یو ځای کیدو (جماع کولو) د دواړو نه، نو څوک چه وس نه لری (دروژو نیولو) نو طعام ورکول دی شپیته مسکینانو ته، دا د دی لپاره چه ایمان راوړئ تاسو په الله تعالی او په پیغمبر د هغی باندی، او دا پولی (حدونه) د الله دی، او خاص کافرانو لره عذاب دردونکی دی

(٥) یقینا هغه کسان چه خلاف کوی د الله تعالی او د رسول د هغه نه خوار هلاک به شی دوی لکه چه خوار هلاک کړی شوی ؤ هغه کسان چه پخوا ؤ له دوی څخه او یقینا نازل کړی دی مونږ دلایل واضحه او خاص د کافرانو لپاره عذاب رسوا کونکی دی

(٦) (یاد کړه ای محمده) هغه ورځ چه راپورته به کړی دوی لره الله تعالی ټول، نو خبر به ورکړی دوی لره په عملونو د دوی، راګیر کړی دی هغی لره الله تعالی او دوی هیر کړیدی، او الله تعالی په هر څیز باندی شاهد او خبردار دی

أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ ۖ مَا يَكُونُ
مِن نَّجْوَىٰ ثَلَٰثَةٍ إِلَّا هُوَ رَابِعُهُمْ وَلَا خَمْسَةٍ إِلَّا هُوَ سَادِسُهُمْ
وَلَآ أَدْنَىٰ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكْثَرَ إِلَّا هُوَ مَعَهُمْ أَيْنَ مَا كَانُوا۟ ۖ ثُمَّ يُنَبِّئُهُم
بِمَا عَمِلُوا۟ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ﴿٧﴾ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ
نُهُوا۟ عَنِ ٱلنَّجْوَىٰ ثُمَّ يَعُودُونَ لِمَا نُهُوا۟ عَنْهُ وَيَتَنَٰجَوْنَ بِٱلْإِثْمِ
وَٱلْعُدْوَٰنِ وَمَعْصِيَتِ ٱلرَّسُولِ وَإِذَا جَآءُوكَ حَيَّوْكَ بِمَا لَمْ يُحَيِّكَ
بِهِ ٱللَّهُ وَيَقُولُونَ فِىٓ أَنفُسِهِمْ لَوْلَا يُعَذِّبُنَا ٱللَّهُ بِمَا نَقُولُ ۚ حَسْبُهُمْ
جَهَنَّمُ يَصْلَوْنَهَا ۖ فَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ ﴿٨﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِذَا
تَنَٰجَيْتُمْ فَلَا تَتَنَٰجَوْا۟ بِٱلْإِثْمِ وَٱلْعُدْوَٰنِ وَمَعْصِيَتِ ٱلرَّسُولِ وَتَنَٰجَوْا۟
بِٱلْبِرِّ وَٱلتَّقْوَىٰ ۖ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ٱلَّذِىٓ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿٩﴾ إِنَّمَا ٱلنَّجْوَىٰ
مِنَ ٱلشَّيْطَٰنِ لِيَحْزُنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَلَيْسَ بِضَآرِّهِمْ شَيْـًٔا
إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴿١٠﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ
ءَامَنُوٓا۟ إِذَا قِيلَ لَكُمْ تَفَسَّحُوا۟ فِى ٱلْمَجَٰلِسِ فَٱفْسَحُوا۟ يَفْسَحِ
ٱللَّهُ لَكُمْ ۖ وَإِذَا قِيلَ ٱنشُزُوا۟ فَٱنشُزُوا۟ يَرْفَعِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟
مِنكُمْ وَٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْعِلْمَ دَرَجَٰتٍ ۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿١١﴾

﴿٧﴾ ایا ته نه ګوری چه یقینا الله تعالی عالم دی په هغی څیزونو چه په اسمانونو کښی دی او په هغی څیزونو چه په زمکه کښی دی، نه کیږی هیڅ جرګه (پټه خبره) د دری کسانو مګر الله څلورم د هغی دی او نه د پنځه و کسانو مګر هغه ئی شپږم دی او نه کم د دی نه او نه زیات مګر هغه د دوی سره وی هرځای چه وی دوی بیا به خبر ورکړی دوی ته په هغی عملونو باندی چه دوی کړیدی په ورځ د قیامت کښی، یقینا الله تعالی په هر څیز باندی پوهه دی

﴿٨﴾ آیا ته نه ګوری هغی کسانو ته چه منع کړی شویدی د جرګی (پټه خبری) کولو نه بیا راګرځی دوی هغی کار ته چه منع شویدی د هغی نه او جرګی کوی دوی په ګناه او ظلم سره او په نافرمانئ د رسول سره او هر کله چه راشی دوی تاته نو سلام کوی تا ته په هغه طریقه چه سلام نه دی ښودلی په هغی سره الله تعالی تاته، او وائی دوی په خپلو زړونو کښی چه ولی الله تعالی عذاب نه راکوی مونږ ته په هغی خبرو باندی چه مونږ ئی وایو، ښه پوره دی دوی لره جهنم ورننوځی به دوی هغی ته نو بد ځای د ورتلو دی

﴿٩﴾ ای ایمان والاو هر کله چه جرګی کوئ تاسو نو جرګی مه کوئ په ګناه او ظلم باندی او په نافرمانئ د رسول سره او جرګی کوئ په نیکئ کولو او تقوا سره او ویره وکړئ د الله تعالی نه هغه ذات چه خاص ده ته به جمع کړی شئ تاسو په (قیامت کښی)

﴿١٠﴾ یقینا داقسم جرګی د شیطان (په وسوسو سره وی) دی لپاره چه غمژن کړی مؤمنانو لره او نه دی دوی ضرر رسونکی مؤمنانو ته د هیڅ شی مګر په حکم د الله تعالی سره او خاص په الله تعالی باندی توکل دی وکړی مؤمنان

﴿١١﴾ ای ایمان والاو کله چه وویلی شی تاسو ته چه ځای پراخه کړئ په مجلس کښی نو ځای پراخه کړی نو ځای به پراخه کړی تاسو لره الله تعالی (په جنت کښی) او کله چه وویلی شی تاسو ته چه پورته شئ نو بیا پورته شئ، اوچتوی الله تعالی مؤمنانو لره ستاسو نه او هغی کسانو لره چه ورکړی شوی دی هغوی ته علم په درجو او مرتبو کښی او الله تعالی په هغی عملونو باندی چه کوئ ئی تاسو خبر دار دی

﴿١٢﴾ ای ایمان والاو کله چه تاسو جرګه کوئ د رسول ﷺ سره نو مخکی کړئ د جرګی

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نَٰجَيْتُمُ ٱلرَّسُولَ فَقَدِّمُواْ بَيْنَ يَدَيْ نَجْوَىٰكُمْ
صَدَقَةً ۚ ذَٰلِكَ خَيْرٌ لَّكُمْ وَأَطْهَرُ ۚ فَإِن لَّمْ تَجِدُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ
﴿١٢﴾ ءَأَشْفَقْتُمْ أَن تُقَدِّمُواْ بَيْنَ يَدَيْ نَجْوَىٰكُمْ صَدَقَٰتٍ ۚ فَإِذْ لَمْ تَفْعَلُواْ
وَتَابَ ٱللَّهُ عَلَيْكُمْ فَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ
وَرَسُولَهُۥ ۚ وَٱللَّهُ خَبِيرٌۢ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿١٣﴾ ۞ أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ تَوَلَّوْاْ قَوْمًا
غَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيْهِم مَّا هُم مِّنكُمْ وَلَا مِنْهُمْ وَيَحْلِفُونَ عَلَى ٱلْكَذِبِ
وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿١٤﴾ أَعَدَّ ٱللَّهُ لَهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا ۖ إِنَّهُمْ سَآءَ مَا كَانُواْ
يَعْمَلُونَ ﴿١٥﴾ ٱتَّخَذُوٓاْ أَيْمَٰنَهُمْ جُنَّةً فَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ فَلَهُمْ
عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴿١٦﴾ لَّن تُغْنِيَ عَنْهُمْ أَمْوَٰلُهُمْ وَلَآ أَوْلَٰدُهُم مِّنَ ٱللَّهِ
شَيْـًٔا ۚ أُوْلَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿١٧﴾ يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ
ٱللَّهُ جَمِيعًا فَيَحْلِفُونَ لَهُۥ كَمَا يَحْلِفُونَ لَكُمْ ۖ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ عَلَىٰ شَيْءٍ ۚ أَلَآ
إِنَّهُمْ هُمُ ٱلْكَٰذِبُونَ ﴿١٨﴾ ٱسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ ٱلشَّيْطَٰنُ فَأَنسَىٰهُمْ ذِكْرَ
ٱللَّهِ ۚ أُوْلَٰٓئِكَ حِزْبُ ٱلشَّيْطَٰنِ ۚ أَلَآ إِنَّ حِزْبَ ٱلشَّيْطَٰنِ هُمُ ٱلْخَٰسِرُونَ
﴿١٩﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ يُحَآدُّونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓ أُوْلَٰٓئِكَ فِي ٱلْأَذَلِّينَ ﴿٢٠﴾
كَتَبَ ٱللَّهُ لَأَغْلِبَنَّ أَنَا۠ وَرُسُلِيٓ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٌ ﴿٢١﴾

ستاسو نه صدقه دا غوره ده ستاسو لپاره او پاکونکی ده، نو که تاسو نه مومئ (صدقه) نو یقینا الله تعالی ببښنه کونکی رحم کونکی دی

﴿١٣﴾ ایا ویریدلئ تاسو چه ولیږئ مخکښی د جرګی ستاسو نه خیراتونه، نو کله چه ونکړئ تاسو (د عجز د وجی نه) او مهربانی وکړه الله تعالی په تاسو باندی، نو پابندی کوئ په لمونځونو او زکات ورکوئ او تابعداری کوئ د الله تعالی او د رسول د هغه او الله تعالی خبر دار دی په هغی عملونو باندی چه تاسو ئی کوئ

﴿١٤﴾ ایا نه ګوری ته هغی کسانو ته چه دوستانه (دوستی) کوی د هغی قوم سره چه غضب کړی دی الله تعالی په هغوی باندی نه دی هغوی له تاسو(مؤمنانو) څخه او نه له هغوی (یهودیانو) څخه او قسمونه خوری په دروغو باندی او حال دا چه هغوی پوهیږی

﴿١٥﴾ تیار کړی دی الله تعالی دوی لره عذاب سخت یقینا دوی بد دی هغه شی چه کوی ئی دوی

﴿١٦﴾ ګرځولی دی دوی قسمونه خپل ډال نو منع کوی (خلک) د لاری د الله نه نو دوی لپاره عذاب دی رسوا کونکی

﴿١٧﴾ هیڅکله به دفع نه کړی د دوی نه ممالونه د دوی او نه بچی د دوی د (عذاب) د الله نه هیڅ شی، همدغه کسان خاوندان د اور دی او دوی به په هغی کښی همیشه وی

﴿١٨﴾ په هغه ورځ چه راپورته به کړی دوی لره الله تعالی ټول نو قسمونه به کوی هغی ته لکه چه قسمونه به ئی کول تاسو ته یقینا دوی ګمان کوی چه په یو څیز (فایده مند) باندی دی دوی، خبردار یقینا همدوی دی دروغجن

﴿١٩﴾ غالبه شویدی په دوی باندی شیطان نو هیر کړی ئی دی د دوی نه ذکر د الله، همدغه کسان لښکر د شیطان دی، خبردار یقینا لښکر دشیطان تاوانیان دی

﴿٢٠﴾ یقینا هغه کسان چه مخالفت کوی د الله تعالی او د رسول د هغی نه دغه (د مخالفانو) ټولی په جمله د ذلیلانو کښی دی

﴿٢١﴾ لیکلی دی الله تعالی (په تقدیر کښی) چه خامخا غالب کیږم به زه او رسولان زما، یقینا الله تعالی قوت والا زورور دی

لَّا تَجِدُ قَوۡمٗا يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ يُوَآدُّونَ مَنۡ
حَآدَّ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَلَوۡ كَانُوٓاْ ءَابَآءَهُمۡ أَوۡ أَبۡنَآءَهُمۡ
أَوۡ إِخۡوَٰنَهُمۡ أَوۡ عَشِيرَتَهُمۡۚ أُوْلَٰٓئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ
ٱلۡإِيمَٰنَ وَأَيَّدَهُم بِرُوحٖ مِّنۡهُۖ وَيُدۡخِلُهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي
مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ رَضِيَ ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ وَرَضُواْ
عَنۡهُۚ أُوْلَٰٓئِكَ حِزۡبُ ٱللَّهِۚ أَلَآ إِنَّ حِزۡبَ ٱللَّهِ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ٢٢

ترتيبها ٥٩ — **سُورَةُ الحَشۡرِ** — آياتها ٢٤

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ
١ هُوَ ٱلَّذِيٓ أَخۡرَجَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ مِن دِيَٰرِهِمۡ
لِأَوَّلِ ٱلۡحَشۡرِۚ مَا ظَنَنتُمۡ أَن يَخۡرُجُواْۖ وَظَنُّوٓاْ أَنَّهُم مَّانِعَتُهُمۡ
حُصُونُهُم مِّنَ ٱللَّهِ فَأَتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِنۡ حَيۡثُ لَمۡ يَحۡتَسِبُواْۖ وَقَذَفَ
فِي قُلُوبِهِمُ ٱلرُّعۡبَۚ يُخۡرِبُونَ بُيُوتَهُم بِأَيۡدِيهِمۡ وَأَيۡدِي ٱلۡمُؤۡمِنِينَ
فَٱعۡتَبِرُواْ يَٰٓأُوْلِي ٱلۡأَبۡصَٰرِ ٢ وَلَوۡلَآ أَن كَتَبَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمُ
ٱلۡجَلَآءَ لَعَذَّبَهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ عَذَابُ ٱلنَّارِ ٣

٢٢ او به نه مومی ته داسی قوم چه ایمان لری په الله تعالی او په ورځ روستنۍ چه دوستی به کوی دوی له هغه چا سره چه مخالفت کوی د الله تعالی او د هغه د رسول نه اګر که هغوی وی د دوی پلاران یا د دوی ځامن اویا د دوی ورونه یا د دوی قبیله دغه کسان لیکلی دی (الله) په زړونو د هغوی کښی ایمان او کلک کړی ئی دی دوی په روح سره د خپل طرف نه، او داخل به کړی دوی جنتونو لره چه بهیږی به لاندی د هغی نه ولی همیشه به وی په هغی کښی، راضی به وی الله تعالی د دوی نه او دوی به راضی وی له هغی نه، دغه (خلک لښکر او حزب د الله دی، خبردار لښکر د الله تعالی همدوی دی کامیاب

## د الحشر سورت

١ پاکی وائی الله تعالی لره هغه څیزونه چه په اسمانونو کښی دی او هغه څیزونه چه په زمکه کښی دی او خاص هغه دی زوراور او حکمتونو والا

٢ خاص هغه داسی ذات دی چه اویستل ئی کافران د کتابیانو نه د کورونو خپلو نه په اول راجمع کولو سره، ګمان نه کوو تاسو چه دوی به اوځی او ګمان کوو هغوی چه یقینا بچ کونکی دی دوی لره قلعه ګانی د هغوی (د عذاب) د الله تعالی نه، نو راغی دوی ته الله د داسی ځای نه چه ګمان نه کوو هغوی او واچوله الله په زړونو د هغوی کښی ویره، ورانول دوی کورونه خپل په لاسونو خپلو باندی او په لاسونو د مؤمنانو نو، عبرت واخلئ ای خاوندانو د سترګو (عقلونو)

٣ او که چیرته نه وی لیکلی (مقرر کړی) الله تعالی په دوی باندی جلا وطنی (فرار کول) نو خامخا عذاب به ئی ورکړی وی دوی ته په دنیا کښی او د دوی لپاره په اخرت کښی عذاب د اور دی

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ شَآقُّواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥۖ وَمَن يُشَآقِّ ٱللَّهَ فَإِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ
ٱلْعِقَابِ ﴿٤﴾ مَا قَطَعْتُم مِّن لِّينَةٍ أَوْ تَرَكْتُمُوهَا قَآئِمَةً
عَلَىٰٓ أُصُولِهَا فَبِإِذْنِ ٱللَّهِ وَلِيُخْزِيَ ٱلْفَٰسِقِينَ ﴿٥﴾ وَمَآ أَفَآءَ ٱللَّهُ
عَلَىٰ رَسُولِهِۦ مِنْهُمْ فَمَآ أَوْجَفْتُمْ عَلَيْهِ مِنْ خَيْلٍ وَلَا رِكَابٍ
وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يُسَلِّطُ رُسُلَهُۥ عَلَىٰ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ
قَدِيرٌ ﴿٦﴾ مَّآ أَفَآءَ ٱللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ مِنْ أَهْلِ ٱلْقُرَىٰ فَلِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ
وَلِذِي ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْيَتَٰمَىٰ وَٱلْمَسَٰكِينِ وَٱبْنِ ٱلسَّبِيلِ كَيْ لَا يَكُونَ
دُولَةًۢ بَيْنَ ٱلْأَغْنِيَآءِ مِنكُمْۚ وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا
نَهَىٰكُمْ عَنْهُ فَٱنتَهُواْۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۖ إِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ﴿٧﴾
لِلْفُقَرَآءِ ٱلْمُهَٰجِرِينَ ٱلَّذِينَ أُخْرِجُواْ مِن دِيَٰرِهِمْ وَأَمْوَٰلِهِمْ
يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِّنَ ٱللَّهِ وَرِضْوَٰنًا وَيَنصُرُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓۚ أُوْلَٰٓئِكَ
هُمُ ٱلصَّٰدِقُونَ ﴿٨﴾ وَٱلَّذِينَ تَبَوَّءُو ٱلدَّارَ وَٱلْإِيمَٰنَ مِن قَبْلِهِمْ
يُحِبُّونَ مَنْ هَاجَرَ إِلَيْهِمْ وَلَا يَجِدُونَ فِي صُدُورِهِمْ حَاجَةً
مِّمَّآ أُوتُواْ وَيُؤْثِرُونَ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌۚ
وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِۦ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ﴿٩﴾

﴿٤﴾ دا په دې وجه سره چه دوی خلاف
کړی د الله تعالی او د رسول د هغی نه او چا
چه خلاف وکړه د الله تعالی نو یقینا الله تعالی
سخت عذاب ورکونکی دی
﴿٥﴾ هغه چه پرې کړی دی تاسو څه ونې
د کجورو او یا پریښی دی تاسو ولاړی په
بیخونو خپلو باندی نو دا په حکم د الله
سره ؤ او د دې لپاره چه رسوا کړی
نافرمانانو لره
﴿٦﴾ او هغه مالونه چه راګرځولی دی الله
تعالی رسول خپل ته له مالونو د دوی پس نه
ؤ ځغلولی تاسو پر دی هیڅ اسونه او نه
اوښان لیکن الله غالبه کوی رسولان خپل په
هغه چا باندی چه وغواړی او الله تعالی په
هر شی باندی قدرت لری
﴿٧﴾ هغه چه راګرځولی ؤ الله تعالی خپل
پیغمبر ته د (مالونو) د کلو والاو نه نو
(هغه) د الله لپاره دی او د رسول ﷺ لپاره
او د خپلوانو د هغی لپاره او د یتیمانو او
مسکینانو لپاره او د مسافرو لپاره دی چه
ونه ګرځی دغه (اموال) دولت په منځ د
مالدارانو کښې له تاسو څخه، نو هغه څیز
چه درکړی دی تاسو ته رسول نو هغه
واخلئ او هغه څیز چه منع کړی یی تاسو له
هغی څخه نو منع شئ د هغی نه او ویره
وکړئ د الله تعالی نه یقینا الله تعالی سخت
عذاب ورکونکی دی
﴿٨﴾(دا مالونه) د پاره د فقیرانو مهاجرینو
دی هغه کسان چه ویستلی شوی دی د خپلو
کورونو او مالونو نه لټوی دوی مهربانی د
الله تعالی او رضامندی د هغی او مدد کوی
دوی د الله تعالی او درسول د هغه همدغه
کسان رښتینی دی
﴿٩﴾ او هغو(انصارو لره دی دغه مالونه) چه
ځای ئی نیولی دی په (دی) کور (مدینه)
کښې او (خالص کړی ئی دی) ایمان مخکی د
راتلو د دوی نه مینه کوی دوی د هغه چا
سره چه هجرت کوی دوی ته او نه مومی
دوی په خپلو سینو کښې څه خفګان د هغه
څیز نه چه ورکړی شوی دی (مهاجرینو) ته
او غوره کوی دوی (مهاجرینو لره) په خپلو
ځانونو باندی اګر که وی په دوی باندی ولږه،
او څوک چه بچ وساتلی شی د شومتیا د نفس
نه نو همدغه کسان دی کامیاب

وَٱلَّذِينَ جَآءُو مِنۢ بَعۡدِهِمۡ يَقُولُونَ رَبَّنَا ٱغۡفِرۡ لَنَا
وَلِإِخۡوَٰنِنَا ٱلَّذِينَ سَبَقُونَا بِٱلۡإِيمَٰنِ وَلَا تَجۡعَلۡ فِي قُلُوبِنَا
غِلّٗا لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ رَبَّنَآ إِنَّكَ رَءُوفٞ رَّحِيمٌ ﴿١٠﴾ ۞ أَلَمۡ تَرَ إِلَى
ٱلَّذِينَ نَافَقُواْ يَقُولُونَ لِإِخۡوَٰنِهِمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡ أَهۡلِ
ٱلۡكِتَٰبِ لَئِنۡ أُخۡرِجۡتُمۡ لَنَخۡرُجَنَّ مَعَكُمۡ وَلَا نُطِيعُ فِيكُمۡ
أَحَدًا أَبَدٗا وَإِن قُوتِلۡتُمۡ لَنَنصُرَنَّكُمۡ وَٱللَّهُ يَشۡهَدُ إِنَّهُمۡ لَكَٰذِبُونَ
﴿١١﴾ لَئِنۡ أُخۡرِجُواْ لَا يَخۡرُجُونَ مَعَهُمۡ وَلَئِن قُوتِلُواْ لَا يَنصُرُونَهُمۡ
وَلَئِن نَّصَرُوهُمۡ لَيُوَلُّنَّ ٱلۡأَدۡبَٰرَ ثُمَّ لَا يُنصَرُونَ ﴿١٢﴾
لَأَنتُمۡ أَشَدُّ رَهۡبَةٗ فِي صُدُورِهِم مِّنَ ٱللَّهِۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ قَوۡمٞ
لَّا يَفۡقَهُونَ ﴿١٣﴾ لَا يُقَٰتِلُونَكُمۡ جَمِيعًا إِلَّا فِي قُرٗى
مُّحَصَّنَةٍ أَوۡ مِن وَرَآءِ جُدُرِۭۚ بَأۡسُهُم بَيۡنَهُمۡ شَدِيدٞۚ تَحۡسَبُهُمۡ
جَمِيعٗا وَقُلُوبُهُمۡ شَتَّىٰۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ قَوۡمٞ لَّا يَعۡقِلُونَ ﴿١٤﴾
كَمَثَلِ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ قَرِيبٗاۖ ذَاقُواْ وَبَالَ أَمۡرِهِمۡ وَلَهُمۡ عَذَابٌ
أَلِيمٞ ﴿١٥﴾ كَمَثَلِ ٱلشَّيۡطَٰنِ إِذۡ قَالَ لِلۡإِنسَٰنِ ٱكۡفُرۡ فَلَمَّا كَفَرَ
قَالَ إِنِّي بَرِيٓءٞ مِّنكَ إِنِّيٓ أَخَافُ ٱللَّهَ رَبَّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٦﴾

﴿١٠﴾ او هغه کسان چه راځی روسته د دوی نه وائی دوی: ای ربه زمونږ. ببښنه وکړی مونږ. ته او ورونو زمونږ. ته هغه کسان چه مخکی والی ئی کړی دی زمونږ. نه په حاصلولو د ایمان کښی، او مه ګرځوه په زړونو زمونږ. کښی بغض او کینه د هغه کسانو سره چه ایمان ئی راوړی دی ای ربه زمونږ. یقینا ته شفقت کونکی او مهربان ئی

﴿١١﴾ ایا ته نه ګوری هغی کسانو ته چه منافقان دی وائی ورونو خپلو ته هغه کسان چه کفر ئی کړی دی د کتابیانو نه، که چیرته ویستلی شوئ تاسو نو خامخا به اوځو مونږ. ستاسو سره او خبره نه منو مونږ. ستاسی په باره کښی د هیچا هیڅکله او که تاسو سره جنګ شروع شوه نو خامخا مدد به وکړو مونږ. ستاسی سره او الله تعالی ګواهی کوی چه یقینا دوی دروغجن دی

﴿١٢﴾ که چیرته دوی ویستلی شی نو دوی نه وځی د هغوی سره او که چیرته جنګ وکړی شی د هغوی سره نو دوی مدد نه کوی د هغوی سره او که مدد وکړی دوی د هغوی سره نو خامخا وبه ګرځوی (دغه منافقان) شاګانی خپلی بیا به د دوی سره امداد نه شی کیدای

﴿١٣﴾ خامخا تاسو ډیر سخت رعب (ویری) والا ئی په سینو د هغوی کښی د الله تعالی نه دغه ویره په سبب د دی ده چه بیشکه دوی یو قوم دی چه نه پوهیږی

﴿١٤﴾ جنګ به ونه کړی (دغه یهودیان) له تاسی سره ټول په ګډه سره، مګر په کلیو تنګ کړی شوو کښی او یا شاته د دیوالونو او سنګرونو نه، جنګ (ډوزی) د دوی په خپل مینځ کښی ډیر سخت دی، ګمان به کوئ تاسو په دوی باندی چه یو دی او حال دا چه زړونه د هغوی سره جلا جلا دی دا په سبب د دی سره چه دوی یو داسی قوم دی چه نه پوهیږی

﴿١٥﴾ (حال د دوی) په شان د حال د هغی کسانو دی چه د دی نه مخکی ؤ په نږدی زمانه کښی اوڅکله هغوی سزا د کار خپل او د دوی لپاره عذاب دردونکی دی

﴿١٦﴾ (حال د دوی) په شان د حال د شیطان دی کله چه ووائی انسان ته کفر کوه نو هر کله چه هغه کفر وکړی نو دی ورته ووائی یقینا زه بیزاره یم له تا څخه یقینا زه ویریږم له الله څخه چه رب د ټولو مخلوقاتو دی

فَكَانَ عَـٰقِبَتَهُمَآ أَنَّهُمَا فِى ٱلنَّارِ خَـٰلِدَيْنِ فِيهَا ۚ وَذَٰلِكَ جَزَٰٓؤُا۟
ٱلظَّـٰلِمِينَ ﴿١٧﴾ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَلْتَنظُرْ
نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ ۖ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرٌۢ بِمَا تَعْمَلُونَ
﴿١٨﴾ وَلَا تَكُونُوا۟ كَٱلَّذِينَ نَسُوا۟ ٱللَّهَ فَأَنسَىٰهُمْ أَنفُسَهُمْ ۚ أُو۟لَـٰٓئِكَ
هُمُ ٱلْفَـٰسِقُونَ ﴿١٩﴾ لَا يَسْتَوِىٓ أَصْحَـٰبُ ٱلنَّارِ وَأَصْحَـٰبُ
ٱلْجَنَّةِ ۚ أَصْحَـٰبُ ٱلْجَنَّةِ هُمُ ٱلْفَآئِزُونَ ﴿٢٠﴾ لَوْ أَنزَلْنَا هَـٰذَا
ٱلْقُرْءَانَ عَلَىٰ جَبَلٍ لَّرَأَيْتَهُۥ خَـٰشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ
ٱللَّهِ ۚ وَتِلْكَ ٱلْأَمْثَـٰلُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ
﴿٢١﴾ هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِى لَآ إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ عَـٰلِمُ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَـٰدَةِ ۖ
هُوَ ٱلرَّحْمَـٰنُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٢٢﴾ هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِى لَآ إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ
ٱلْمَلِكُ ٱلْقُدُّوسُ ٱلسَّلَـٰمُ ٱلْمُؤْمِنُ ٱلْمُهَيْمِنُ ٱلْعَزِيزُ
ٱلْجَبَّارُ ٱلْمُتَكَبِّرُ ۚ سُبْحَـٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ
﴿٢٣﴾ هُوَ ٱللَّهُ ٱلْخَـٰلِقُ ٱلْبَارِئُ ٱلْمُصَوِّرُ ۖ لَهُ ٱلْأَسْمَآءُ ٱلْحُسْنَىٰ ۚ
يُسَبِّحُ لَهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٢٤﴾

## سُورَةُ ٱلْمُمْتَحَنَة

ترتيبها ٦٠ — آياتها ١٣

﴿١٧﴾ نو شو عاقبت د دی دواړو چه یقینا دوی به په اور کښی وی همیشه به وی په هغی کښی او دا سزا د ظالمانو ده

﴿١٨﴾ ای ایمان والاو ویره کوئ د الله تعالی نه او ودی گوری هر نفس هغی شی ته چه مخکی ئی لیږلی دی لپاره د سبا او ویریږئ له الله تعالی نه یقینا الله په هغی عملونو باندی چه تاسو ئی کوئ خبردار دی

﴿١٩﴾ او مه کیږئ د هغی کسانو په شان چه هیر کړی دی الله تعالی نو هیر کړل الله تعالی د دوی نه نفسونه د دوی، دغه کسان هم دوی پوره نافرمان دی

﴿٢٠﴾ نه دی برابر اوروالا او د جنت والا جنت والا خاص دوی مراد حاصلونکی دی

﴿٢١﴾ که چیرته نازل کړی وی مونږ دا قران په غره باندی ضرور تا به لیدلی وی هغه عاجزی کونکی تکړی تکړی د وجی د ویری د الله تعالی نه او دا مثالونه بیانوو مونږ د پاره د خلکو دی لپاره چه دوی فکر وکړی

﴿٢٢﴾ دغه الله تعالی هغه ذات دی چه نشته دی حقدار د عبادت سواد هغه نه پوهه د ی په هر پټ او ښکاره، خاص هغه پوره مهربانی کونکی او خاص رحم والا دی

﴿٢٣﴾ دغه الله تعالی هغه ذات دی چه نشته بل حقدار د عبادت سوا د هغه نه بادشاه دی ډیر پاک دی بچ دی د هر نقصان نه امن ورکونکی دی ساتنه کونکی دی عزت والا دی زوراور دی خاوند د لوئی دی پاک دی د هغی نه چه دوی ورسره شریک جوړوی

﴿٢٤﴾ دغه الله تعالی پیداکونکی دی راویستونکی دی (دعدم نه وجود ته) صورت ورکونکی دی خاص هغه لره دی ښایسته نومونه پاکی وائی هغه لپاره هغه مخلوق چه په اسمانونو کښی دی او هغه چه په زمکه کښی دی او خاص هغه زوراور او حکمتونو والا دی

# د الممتحنة سورت

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ
يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمۡ أَوۡلِيَآءَ تُلۡقُونَ
إِلَيۡهِم بِٱلۡمَوَدَّةِ وَقَدۡ كَفَرُواْ بِمَا جَآءَكُم مِّنَ ٱلۡحَقِّ يُخۡرِجُونَ ٱلرَّسُولَ
وَإِيَّاكُمۡ أَن تُؤۡمِنُواْ بِٱللَّهِ رَبِّكُمۡ إِن كُنتُمۡ خَرَجۡتُمۡ جِهَٰدٗا فِي سَبِيلِي
وَٱبۡتِغَآءَ مَرۡضَاتِيۚ تُسِرُّونَ إِلَيۡهِم بِٱلۡمَوَدَّةِ وَأَنَا۠ أَعۡلَمُ بِمَآ أَخۡفَيۡتُمۡ
وَمَآ أَعۡلَنتُمۡۚ وَمَن يَفۡعَلۡهُ مِنكُمۡ فَقَدۡ ضَلَّ سَوَآءَ ٱلسَّبِيلِ ١ إِن
يَثۡقَفُوكُمۡ يَكُونُواْ لَكُمۡ أَعۡدَآءٗ وَيَبۡسُطُوٓاْ إِلَيۡكُمۡ أَيۡدِيَهُمۡ وَأَلۡسِنَتَهُم
بِٱلسُّوٓءِ وَوَدُّواْ لَوۡ تَكۡفُرُونَ ٢ لَن تَنفَعَكُمۡ أَرۡحَامُكُمۡ وَلَآ أَوۡلَٰدُكُمۡۚ
يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يَفۡصِلُ بَيۡنَكُمۡۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ٣ قَدۡ
كَانَتۡ لَكُمۡ أُسۡوَةٌ حَسَنَةٞ فِيٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥٓ إِذۡ قَالُواْ لِقَوۡمِهِمۡ
إِنَّا بُرَءَٰٓؤُاْ مِنكُمۡ وَمِمَّا تَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ كَفَرۡنَا بِكُمۡ وَبَدَا بَيۡنَنَا
وَبَيۡنَكُمُ ٱلۡعَدَٰوَةُ وَٱلۡبَغۡضَآءُ أَبَدًا حَتَّىٰ تُؤۡمِنُواْ بِٱللَّهِ وَحۡدَهُۥٓ إِلَّا
قَوۡلَ إِبۡرَٰهِيمَ لِأَبِيهِ لَأَسۡتَغۡفِرَنَّ لَكَ وَمَآ أَمۡلِكُ لَكَ مِنَ ٱللَّهِ مِن شَيۡءٖۖ
رَّبَّنَا عَلَيۡكَ تَوَكَّلۡنَا وَإِلَيۡكَ أَنَبۡنَا وَإِلَيۡكَ ٱلۡمَصِيرُ ٤ رَبَّنَا لَا تَجۡعَلۡنَا
فِتۡنَةٗ لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ وَٱغۡفِرۡ لَنَا رَبَّنَآۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٥

١ ای مؤمنانو مه نیسئ دښمنان زما او دښمنان ستاسو دوستان چه غورځوئ تاسو هغی ته خبری د دوستانی (دوستی) او حال دا چه هغوی کفر کړی دی په هغی چه راغلی دی تاسو ته د حق نه اوباسی دوی رسول ﷺ لره او تاسو لره د دی وجی نه چه تاسو ایمان راوړی دی په الله تعالی چه رب ستاسی دی که چیرته وتلی ئی تاسو (د وطن نه) د پاره د جهاد په لار زما کښی او د پاره د لټولو د رضا زما چه په پټه لیږئ تاسو هغوی ته (خبری) په (سبب د) دوستئ سره او زه ښه عالم یم په هغه څه چه پټوئ تاسی او په هغه څه چه ښکاره کوئ تاسی، او چا چه وکړه دا کار (په اینده وخت کښی) ستاسو نه نو یقینا گمراه شوه هغه د سمی لاری نه

٢ که چیری بری ومومی په تاسی باندی (نو) شی به دوی تاسو لره دښمنان او اوږدوی دوی تاسو ته لاسونه خپل او ژبی خپلی په بدئ سره او خوښوی دوی چه کافران شئ تاسی

٣ هیچیری نفع نه درکوی خپلولی ستاسو او نه اولاد ستاسو په ورځ د قیامت کښی، فیصله به وکړی (الله) په مینځ ستاسو کښی او الله تعالی په هغی عملونو چه کوئ تاسو ښه لیدونکی دی

٤ یقینا شته ستاسو لپاره نمونه د تابعداری شایسته په ابراهیم عليه السلام او په هغی کسانو کښی چه د هغه سره ؤ کله چه وویل دوی قوم خپل ته یقینا مونږ بیزاره یو ستاسو نه او د هغی چا نه چه تاسو ئی بندگی کوئ په غیر د الله تعالی نه منکران شوی یو مونږ (په باطل دین) ستاسو باندی او ښکاره شوی ده په منځ زمونږ او په منځ ستاسو کښی دښمنی او کینه همیشه تر دی پوری چه ایمان راوړئ تاسو په الله تعالی چه یو دی (په الوهیت کښی) مگر خو (اقتدا مه کوئ د) یوی خبری د ابراهیم عليه السلام چه ویلی ئی وه پلار خپل ته خامخا به زه ښننه غواړم ستا لپاره او اختیار نه لرم زه ستا د (بچ کولو) لپاره د عذاب د الله تعالی نه د هیڅ شی، ای ربه زمونږ په تا باندی مونږ خپل ځان سپارلی دی او خاص تا ته مونږ درگرځو او خاص تاته بیرته گرځیدل دی ( د پاره د جزاء)

٥ ای ربه زمونږ مه گرځوی مونږ لره ازمائش د پاره د کافرانو او ښښنه وکړی

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيهِمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُوا۟ ٱللَّهَ وَٱلْيَوْمَ ٱلْـَٔاخِرَ ۚ
وَمَن يَتَوَلَّ فَإِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْغَنِىُّ ٱلْحَمِيدُ ﴿٦﴾ ۞ عَسَى ٱللَّهُ أَن يَجْعَلَ
بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ ٱلَّذِينَ عَادَيْتُم مِّنْهُم مَّوَدَّةً ۚ وَٱللَّهُ قَدِيرٌ ۚ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ
﴿٧﴾ لَّا يَنْهَىٰكُمُ ٱللَّهُ عَنِ ٱلَّذِينَ لَمْ يُقَٰتِلُوكُمْ فِى ٱلدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُم
مِّن دِيَٰرِكُمْ أَن تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوٓا۟ إِلَيْهِمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُقْسِطِينَ
﴿٨﴾ إِنَّمَا يَنْهَىٰكُمُ ٱللَّهُ عَنِ ٱلَّذِينَ قَٰتَلُوكُمْ فِى ٱلدِّينِ وَأَخْرَجُوكُم
مِّن دِيَٰرِكُمْ وَظَٰهَرُوا۟ عَلَىٰٓ إِخْرَاجِكُمْ أَن تَوَلَّوْهُمْ ۚ وَمَن يَتَوَلَّهُمْ فَأُو۟لَٰٓئِكَ
هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٩﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِذَا جَآءَكُمُ ٱلْمُؤْمِنَٰتُ
مُهَٰجِرَٰتٍ فَٱمْتَحِنُوهُنَّ ۖ ٱللَّهُ أَعْلَمُ بِإِيمَٰنِهِنَّ ۖ فَإِنْ عَلِمْتُمُوهُنَّ مُؤْمِنَٰتٍ
فَلَا تَرْجِعُوهُنَّ إِلَى ٱلْكُفَّارِ ۖ لَا هُنَّ حِلٌّ لَّهُمْ وَلَا هُمْ يَحِلُّونَ لَهُنَّ ۖ وَءَاتُوهُم
مَّآ أَنفَقُوا۟ ۚ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ أَن تَنكِحُوهُنَّ إِذَآ ءَاتَيْتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ ۚ
وَلَا تُمْسِكُوا۟ بِعِصَمِ ٱلْكَوَافِرِ وَسْـَٔلُوا۟ مَآ أَنفَقْتُمْ وَلْيَسْـَٔلُوا۟ مَآ أَنفَقُوا۟ ۚ
ذَٰلِكُمْ حُكْمُ ٱللَّهِ ۖ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ ۚ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿١٠﴾ وَإِن فَاتَكُمْ
شَىْءٌ مِّنْ أَزْوَٰجِكُمْ إِلَى ٱلْكُفَّارِ فَعَاقَبْتُمْ فَـَٔاتُوا۟ ٱلَّذِينَ ذَهَبَتْ
أَزْوَٰجُهُم مِّثْلَ مَآ أَنفَقُوا۟ ۚ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ٱلَّذِىٓ أَنتُم بِهِۦ مُؤْمِنُونَ ﴿١١﴾

مونږ. ته ای ربه زمونږ یقینا خاص ته زوراور او حکمتونو والا ئی

﴿٦﴾ یقینا شته ستاسو لپاره په دوی کښی نمونه د تابعداری ښایسته دپاره د هغه چا چه امید لری د ملاقات د الله تعالی او دورځ روستنئ او چا چه مخ وګرځوو نو یقینا الله تعالی خاص هغه بی حاجته او ستایلی شوی دی

﴿٧﴾ امید دی چه الله تعالی به وګرځوی په منځ ستاسو او په منځ د هغی کسانو کښی چه تاسو ورسره دښمنی کوئ د دوی نه دوستانه (دوستی) او الله تعالی قدرت والا دی او الله تعالی ښښنه کونکی او رحم کونکی دی

﴿٨﴾ نه منع کوی الله تعالی تاسو لره (د دوستئ) د هغی کسانو نه چه نه ئی دی کړی جنګ ستاسو سره په دین (اسلام) کښی او نه ئی ویستلی تاسو لره د خپلو کورونو نه چه نیکی کوئ تاسو د هغوی سره او چه عدل او انصاف کوئ تاسی له هغوی سره بیشکه الله تعالی خوښوی انصاف کونکی

﴿٩﴾ یقینا منع کوی الله تعالی تاسو لره د هغی کسانو نه چه جنګ کوی تاسو سره په دین کښی او ویستلی ئی تاسو لره د کورونو خپلو نه او مدد مرسته ئی کړی ده له دښمنانو ستاسی سره په ویستلو ستاسی باندی، له دی څخه چه دوستی کوئ تاسو له هغوی سره او هغه څوک چه دوستی کوی د هغوی سره نو همدغه خلک ظالمان دی

﴿١٠﴾ ای ایمان والاو هر کله چه راشی تاسو ته مؤمنی زنانه هجرت کونکی نو امتحان واخلئ د هغوی (دایمانونو) الله تعالی ښه پوهه دی په ایمان د هغوی نو که ستاسی علم راغی چه دوی مؤمنی دی نو مه واپس کوئ دوی لره کافرانو ته، نه هغوی حلالی دی دوی لره او نه دوی حلال دی هغوی لره او ورکوئ دوی ته هغه خرچ چه کړی وی هغوی (په زنانه و باندی) او ګناه نشته په تاسو باندی چه نکاح وکړئ تاسو د هغوی سره کله چه ورکوئ تاسو مهرونه د هغوی او مه راټنګوئی نکاحونه د کافرو ښځو او غواړئ تاسو هغه خرچ چه کړی وی تاسو او هغوی دی هم غواړی هغه چه هغوی خرچ کړی وی دا فیصله د الله تعالی ده فیصله کوی په منځ ستاسو کښی او الله تعالی عالم دی په هر څه او حکمتونو والا دی

﴿١١﴾ او که چیرته فوت (لاړی) شی له تاسی نه ځینی ښځی ستاسو نه کافرانو ته پس غزا مو وکړه (او غنیمت مو واخیست تاسو په غزا کښی) نو ورکړئ هغی کسانو ته چه تللی وی ښځی د هغوی په مثل د هغه (مهر) چه ورکړی دی دوی او ویره وکړئ د الله تعالی نه هغه ذات چه تاسو پری ایمان لرئ

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِذَا جَآءَكَ ٱلۡمُؤۡمِنَٰتُ يُبَايِعۡنَكَ عَلَىٰٓ أَن لَّا يُشۡرِكۡنَ
بِٱللَّهِ شَيۡـٔٗا وَلَا يَسۡرِقۡنَ وَلَا يَزۡنِينَ وَلَا يَقۡتُلۡنَ أَوۡلَٰدَهُنَّ وَلَا يَأۡتِينَ
بِبُهۡتَٰنٖ يَفۡتَرِينَهُۥ بَيۡنَ أَيۡدِيهِنَّ وَأَرۡجُلِهِنَّ وَلَا يَعۡصِينَكَ
فِي مَعۡرُوفٖ فَبَايِعۡهُنَّ وَٱسۡتَغۡفِرۡ لَهُنَّ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ
١٢ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَوَلَّوۡاْ قَوۡمًا غَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡ
قَدۡ يَئِسُواْ مِنَ ٱلۡأٓخِرَةِ كَمَا يَئِسَ ٱلۡكُفَّارُ مِنۡ أَصۡحَٰبِ ٱلۡقُبُورِ ١٣

ترتيبها ٦١ — سُورَةُ الصَّفِّ — آياتها ١٤

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ
١ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفۡعَلُونَ ٢
كَبُرَ مَقۡتًا عِندَ ٱللَّهِ أَن تَقُولُواْ مَا لَا تَفۡعَلُونَ ٣ إِنَّ
ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلَّذِينَ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِهِۦ صَفّٗا كَأَنَّهُم
بُنۡيَٰنٞ مَّرۡصُوصٞ ٤ وَإِذۡ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوۡمِهِۦ يَٰقَوۡمِ لِمَ
تُؤۡذُونَنِي وَقَد تَّعۡلَمُونَ أَنِّي رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيۡكُمۡۖ فَلَمَّا
زَاغُوٓاْ أَزَاغَ ٱللَّهُ قُلُوبَهُمۡۚ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡفَٰسِقِينَ ٥

(١٢) اى نبى ﷺ كوم وخت چه راشى تاته مؤمنانى زنانه چه بيعت كوى له تا سره په دى شرط چه نه به شريكوى دوى د الله تعالى سره هيڅ شى او نه به غلا كوى دوى او نه به كوى زنا دوى او نه به وژنى دوى اولاد خپل او نه به راتلل كوى په بهتان سره چه جوړوى ئى په منځ د لاسونو او ښپو خپلو كښى او نه به كوى دوى نافرمانى ستا په معروف يعنى (ښو كارونو كښى) نو بيعت وكړه د دوى سره او ښښنه غواړه دوى لره د الله تعالى نه يقينا الله تعالى ښښنه كونكى او مهربان دى

(١٣) اى ايمان والاو دوستانه (دوستى) مه كوئ د هغى قوم سره چه غضب كړى دى الله تعالى په هغوى باندى يقينا نا اميده دى دوى د اخرت نه لكه چه نا اميده دى كافران (د دوباره ژوندون) د قبرونو والاو نه

## د الصف سورت

(١) پاكى وائى الله تعالى لره هغه ځيزونه چه په اسمانونو كښى دى او هغه ځيزونه چه په زمكه كښى دى او خاص الله تعالى زوراور او حكمتونو والا دى

(٢) اى ايمان والاو ولى په ژبه هغه خبرى كوئ چه نه ئى كوئ (په عمل كښى)

(٣) ديره لويه ده له جهته د غضبه په نزد د الله تعالى چه وائى تاسو هغه چه نه ئى كوئ

(٤) يقينا الله تعالى مينه كوى د هغى كسانو سره چه جنګ كوى په لار د الله تعالى كښى صفونه صفونه ګويا چه دوى ديوال دى په يو بل كښى ننوتلى (تينګ شوى)

(٥) او په كوم وخت كښى چه وويلى موسى عليه السلام قوم خپل ته اى زما قومه ولى خفه كوئ ما او حال دا چه يقينا پوهيږئ تاسو چه زه رسول د الله تعالى يم تاسو ته نو هر كله چه دوى كاږه شوه نو كاږه كړل الله تعالى زړونه د دوى او الله تعالى هدايت نه كوى قوم نافرمان ته

وَإِذْ قَالَ عِيسَى ٱبْنُ مَرْيَمَ يَـٰبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ إِنِّى رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيْكُم مُّصَدِّقًا
لِّمَا بَيْنَ يَدَىَّ مِنَ ٱلتَّوْرَىٰةِ وَمُبَشِّرًۢا بِرَسُولٍ يَأْتِى مِنۢ بَعْدِى ٱسْمُهُۥٓ أَحْمَدُ ۖ فَلَمَّا
جَآءَهُم بِٱلْبَيِّنَـٰتِ قَالُوا۟ هَـٰذَا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿٦﴾ وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ
عَلَى ٱللَّهِ ٱلْكَذِبَ وَهُوَ يُدْعَىٰٓ إِلَى ٱلْإِسْلَـٰمِ ۚ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّـٰلِمِينَ
﴿٧﴾ يُرِيدُونَ لِيُطْفِـُٔوا۟ نُورَ ٱللَّهِ بِأَفْوَٰهِهِمْ وَٱللَّهُ مُتِمُّ نُورِهِۦ وَلَوْ كَرِهَ
ٱلْكَـٰفِرُونَ ﴿٨﴾ هُوَ ٱلَّذِىٓ أَرْسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلْهُدَىٰ وَدِينِ ٱلْحَقِّ لِيُظْهِرَهُۥ
عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْمُشْرِكُونَ ﴿٩﴾ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ هَلْ أَدُلُّكُمْ
عَلَىٰ تِجَـٰرَةٍ تُنجِيكُم مِّنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿١٠﴾ تُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَتُجَـٰهِدُونَ
فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ بِأَمْوَٰلِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ ۚ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿١١﴾
يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَيُدْخِلْكُمْ جَنَّـٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَـٰرُ وَمَسَـٰكِنَ
طَيِّبَةً فِى جَنَّـٰتِ عَدْنٍ ۚ ذَٰلِكَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ﴿١٢﴾ وَأُخْرَىٰ تُحِبُّونَهَا ۖ نَصْرٌ
مِّنَ ٱللَّهِ وَفَتْحٌ قَرِيبٌ ۗ وَبَشِّرِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٣﴾ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ كُونُوٓا۟
أَنصَارَ ٱللَّهِ كَمَا قَالَ عِيسَى ٱبْنُ مَرْيَمَ لِلْحَوَارِيِّـۧنَ مَنْ أَنصَارِىٓ إِلَى ٱللَّهِ ۖ
قَالَ ٱلْحَوَارِيُّونَ نَحْنُ أَنصَارُ ٱللَّهِ ۖ فَـَٔامَنَت طَّآئِفَةٌ مِّنۢ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ
وَكَفَرَت طَّآئِفَةٌ ۖ فَأَيَّدْنَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ عَلَىٰ عَدُوِّهِمْ فَأَصْبَحُوا۟ ظَـٰهِرِينَ ﴿١٤﴾

(٦) او کوم وخت چه وویلی عیسی عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ
ځوی د مریم ای بنی اسرائیلو یقینا زه رسول د
الله تعالی یم تاسو ته تصدیق کونکی د هغی
کتاب چه زما نه مخکښی نازل شوی دی چه
تورات دی او زیری ورکونکی یم پداسی
رسول چه راځی به روسته زما نه چه نوم د
هغی احمد دی بیا هرکله چه راغی دوی ته په
ښکاره ؤ معجزو سره، وویل (بنی اسرائیلو) دا
سحر (کوډی) دی ښکاره

(٧) او څوک دی لوی ظالم د هغه چانه چه
جوړوی په الله تعالی باندی دروغ او حال دا
چه هغه رابللی شی اسلام ته او الله تعالی
هدایت نه کوی قوم ظالمانو ته

(٨) غواړی دوی چه مړه کړی رڼا د الله تعالی
په خپلو خولو سره او الله تعالی پوره کونکی دی
د رڼا خپلی اګر که بد ئی ګڼی کافران

(٩) خاص الله تعالی هغه ذات دی چه
رالیږلی ئی دی رسول خپل په هدایت سره
او په حق دین سره د دی لپاره چه غالب
کړی هغه په دینونو ټولو باندی اګر چه بد
ئی ګڼی مشرکان

(١٠) ای ایمان والاو ایا وښایم تاسو ته یو
داسی تجارت چه بچ کړی تاسو لره د عذاب
دردونکی نه

(١١) ایمان به راوړئ په الله تعالی باندی او
په رسول د هغی باندی او جهاد به کوئ په
لار د الله تعالی کښی په مالونو او په نفسونو
خپلو سره دا کار غوره دی ستاسو لپاره که
تاسو پوهیږئ

(١٢) ښښنه به وکړی تاسو ته د ګناهونو ستاسو
او داخل به کړی تاسو جنتونو ته چه بهیږی
به لاندی د ونو د هغی نه ولی او کورونه د
اوسیدلو مزیدار (سپیڅلی) په باغونو د
همیشوالی کښی دا کامیابی لویه ده

(١٣) او بل نعمت چه خوښوی ئی تاسو هغه
لره (چه هغه) مدد دی د طرفه د الله تعالی نه
او فتح نږدی او زیری ورکړه مؤمنانو لره

(١٤) ای ایمان والاو شئ مدد کونکی د دین د
الله تعالی لکه چه ویلی ؤ عیسی زوی د مریم
عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ حوارینو (ملګرو) خپلو ته څوک دی
ماسره مدد کونکی د پاره د الله تعالی نو
وویل حوارینو مونږ مدد کوو د دین د الله
تعالی نو ایمان راوړه یوی ډلی دبنی اسرایلو
نه او کفر وکړه بلی ډلی نو کلک کړه مونږ
هغه کسان چه ایمان ئی راوړی ؤ په
دښمنانو خپلو باندی نو وګرځیدل دوی غالبه

# د الجمعة سورت

ترتيبها ٦٢ — سُورَةُ الجُمُعَةِ — آياتها ١١

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ
يُسَبِّحُ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ الْمَلِكِ الْقُدُّوسِ الْعَزِيزِ
الْحَكِيمِ ﴿١﴾ هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي الْأُمِّيِّينَ رَسُولًا مِنْهُمْ يَتْلُو
عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِنْ كَانُوا
مِنْ قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُبِينٍ ﴿٢﴾ وَآخَرِينَ مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوا بِهِمْ
وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٣﴾ ذَٰلِكَ فَضْلُ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ
ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ ﴿٤﴾ مَثَلُ الَّذِينَ حُمِّلُوا التَّوْرَاةَ ثُمَّ لَمْ
يَحْمِلُوهَا كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ أَسْفَارًا بِئْسَ مَثَلُ الْقَوْمِ
الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِ اللَّهِ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴿٥﴾
قُلْ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ هَادُوا إِنْ زَعَمْتُمْ أَنَّكُمْ أَوْلِيَاءُ لِلَّهِ مِنْ
دُونِ النَّاسِ فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ﴿٦﴾ وَلَا يَتَمَنَّوْنَهُ
أَبَدًا بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالظَّالِمِينَ ﴿٧﴾ قُلْ إِنَّ
الْمَوْتَ الَّذِي تَفِرُّونَ مِنْهُ فَإِنَّهُ مُلَاقِيكُمْ ثُمَّ تُرَدُّونَ
إِلَىٰ عَالِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٨﴾

(١) پاکي بيانوی الله تعالی لره هغه څيزونه چه په اسمانونو کښې دی او هغه څيزونه چه په زمکه کښې دی بادشاه دی ډير پاک دی زوراور او حکمتونو والا دی

(٢) خاص الله تعالی هغه ذات دی چه ليږلی ئی دی په انپړو (اميانو) کښې يو رسول د دوی د جنس نه بيانوی دوی ته اياتونه د الله تعالی او پاکوی دوی لره د شرک نه او ښائی دوی ته قران او احکام (دشريعت) اګر چه ؤ دوی مخکښې خامخا په ګمراهی ښکاره کښې

(٣) او نور خلک (روسته د دوی نه) چه نه دی رسيدلی هغوی ته په مرتبه کښې او خاص الله تعالی زوراور او حکمتونو والا دی

(٤) دا فضل د الله تعالی دی چه ورکوی ئی هغه چاته چه وئی غواړی او الله تعالی خاوند د مهربانی لوئی دی

(٥) مثال د هغی کسانو چه مکلف شوی ؤ په تورات (چه عمل پری وکړی) بيا ئی ذمه واری نه ده ادا کړی په شان د حال د خر دی چه باروی (په شا وړی) کتابونه، بد دی مثال د هغه قوم چه دروغجن ګڼی اياتونه د الله تعالی او الله تعالی هدايت نه کوی قوم ظالم ته

(٦) ته ووايه ای يهوديانو که چيرته تاسو دعوی کوئ چه بيشکه تاسی دوستان ئی د الله تعالی په غير د نورو خلکو نه نو اوغواړئ مرګ که چيرته تاسو رښتينی ئی

(٧) هيڅکله به ارزو د مرګ ونکړی دوی په سبب د هغی عملونو چه مخکی ليږلی دی لاسونو ددوی او الله تعالی عالم دی په ظالمانو باندی

(٨) او ووايه يقينا هغه مرګ چه تاسو تيښته کوئ د هغی نه يقينا هغه ستاسی سره ملاقات کونکی دی بيا به وګرځولی شئ تاسو هغه ذات ته چه عالم دی په پټ او ښکاره باندی نو خبر به درکړی تاسو ته په هغی عملونو باندی چه تاسو ئی کوئ

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَوٰةِ مِن يَوۡمِ ٱلۡجُمُعَةِ
فَٱسۡعَوۡاْ إِلَىٰ ذِكۡرِ ٱللَّهِ وَذَرُواْ ٱلۡبَيۡعَۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ
تَعۡلَمُونَ ﴿٩﴾ فَإِذَا قُضِيَتِ ٱلصَّلَوٰةُ فَٱنتَشِرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ
وَٱبۡتَغُواْ مِن فَضۡلِ ٱللَّهِ وَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ كَثِيرٗا لَّعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ
﴿١٠﴾ وَإِذَا رَأَوۡاْ تِجَٰرَةً أَوۡ لَهۡوًا ٱنفَضُّوٓاْ إِلَيۡهَا وَتَرَكُوكَ قَآئِمٗاۚ قُلۡ
مَا عِندَ ٱللَّهِ خَيۡرٞ مِّنَ ٱللَّهۡوِ وَمِنَ ٱلتِّجَٰرَةِۚ وَٱللَّهُ خَيۡرُ ٱلرَّٰزِقِينَ ﴿١١﴾

ترتيبها ٦٣ — سُورَةُ المُنَافِقُونَ — آياتها ١١

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

إِذَا جَآءَكَ ٱلۡمُنَٰفِقُونَ قَالُواْ نَشۡهَدُ إِنَّكَ لَرَسُولُ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ
إِنَّكَ لَرَسُولُهُۥ وَٱللَّهُ يَشۡهَدُ إِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ لَكَٰذِبُونَ ﴿١﴾
ٱتَّخَذُوٓاْ أَيۡمَٰنَهُمۡ جُنَّةٗ فَصَدُّواْ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ إِنَّهُمۡ سَآءَ مَا كَانُواْ
يَعۡمَلُونَ ﴿٢﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ ءَامَنُواْ ثُمَّ كَفَرُواْ فَطُبِعَ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ
فَهُمۡ لَا يَفۡقَهُونَ ﴿٣﴾ ۞ وَإِذَا رَأَيۡتَهُمۡ تُعۡجِبُكَ أَجۡسَامُهُمۡۖ
وَإِن يَقُولُواْ تَسۡمَعۡ لِقَوۡلِهِمۡۖ كَأَنَّهُمۡ خُشُبٞ مُّسَنَّدَةٞۖ يَحۡسَبُونَ كُلَّ
صَيۡحَةٍ عَلَيۡهِمۡۚ هُمُ ٱلۡعَدُوُّ فَٱحۡذَرۡهُمۡۚ قَٰتَلَهُمُ ٱللَّهُۖ أَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ ﴿٤﴾

(٩) ای ایمان والاو کوم وخت چه (اول) اذان وویلی شی د پاره د لمانځه په ورځی د جمعی کښی نو ځغلئ ذکر د الله ته او پریږدئ خرخول دا کار غوره دی تاسو لره که چیری پوهیږئ تاسو

(١٠) نو هر کله چه ادا کړی شی لمونځ (دجمعی) پس خواره شئ تاسو په ځمکه کښی او ولټوئ تاسو فضل د الله تعالی او یادوئ الله تعالی (په یادولو) ډیرو سره دی لپاره چه تاسی کامیاب شئ

(١١) او هر کله چه دوی وینی تجارت (سوداګری) یا لوبی (ننداره) نو خوریږی دوی په لوری د هغی او پریږدی تا لره ولاړ (په خطبه باندی) ورته ووایه (ای محمده) هغه څه (ثواب) چه په نزد د الله تعالی دی هغه ډیر غوره دی د لهو تماشو ننداړو او د سوداګری نه او الله تعالی غوره رزق ورکونکی دی

## د المنافقون سورت

(١) هر کله چه راشی تا ته منافقان نودوی وائی ګواهی کوو مونږ چه بیشکه ته خامخا رسول د الله تعالی ئی او الله تعالی پوهه دی چه ته یقینا د هغه رسول ئی او الله تعالی ګواهی کوی چه یقینا خامخا منافقان دروغجن دی

(٢) نیولی دی دوی قسمونه خپل ډالونه نو منع کوی (خلک) د لاری د الله نه یقینا ډیر بد دی هغه عملونه چه کوی ئی دوی

(٣) دا په دی سبب سره چه دوی ایمان راوړی دی بیائی کفر کړی دی نو مهر وهلی شوی دی په زړونو د دوی باندی نو دوی یو قوم دی چه نه پوهیږی

(٤) او هر کله چه ته ووینی دوی لره نو په تعجب کښی به اچوی تنی د دوی او که چیری دوی وینا کوی نو غوږ به ږدی وینا د دوی ته ګویا چه دوی لرګی دی اړم کړی شوی دی دیوال ته ګمان کوی دوی د هری چغی په ځان باندی هم دوی دښمنان دی نو ځان وساته ته له دوی څخه هلاک دی کړی دوی لره الله تعالی نو څرنګ ګرځولی شوی دی دوی (له حق نه)

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا يَسْتَغْفِرْ لَكُمْ رَسُولُ ٱللَّهِ لَوَّوْا رُءُوسَهُمْ
وَرَأَيْتَهُمْ يَصُدُّونَ وَهُم مُّسْتَكْبِرُونَ ﴿٥﴾ سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ
أَسْتَغْفَرْتَ لَهُمْ أَمْ لَمْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ لَن يَغْفِرَ ٱللَّهُ لَهُمْ إِنَّ
ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْفَٰسِقِينَ ﴿٦﴾ هُمُ ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ
لَا تُنفِقُوا عَلَىٰ مَنْ عِندَ رَسُولِ ٱللَّهِ حَتَّىٰ يَنفَضُّوا وَلِلَّهِ
خَزَآئِنُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَلَٰكِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ لَا يَفْقَهُونَ
﴿٧﴾ يَقُولُونَ لَئِن رَّجَعْنَآ إِلَى ٱلْمَدِينَةِ لَيُخْرِجَنَّ ٱلْأَعَزُّ
مِنْهَا ٱلْأَذَلَّ وَلِلَّهِ ٱلْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِۦ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَلَٰكِنَّ
ٱلْمُنَٰفِقِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٨﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا لَا تُلْهِكُمْ
أَمْوَٰلُكُمْ وَلَآ أَوْلَٰدُكُمْ عَن ذِكْرِ ٱللَّهِ وَمَن يَفْعَلْ
ذَٰلِكَ فَأُولَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْخَٰسِرُونَ ﴿٩﴾ وَأَنفِقُوا مِن مَّا رَزَقْنَٰكُم
مِّن قَبْلِ أَن يَأْتِىَ أَحَدَكُمُ ٱلْمَوْتُ فَيَقُولَ رَبِّ لَوْلَآ أَخَّرْتَنِىٓ
إِلَىٰٓ أَجَلٍ قَرِيبٍ فَأَصَّدَّقَ وَأَكُن مِّنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿١٠﴾ وَلَن
يُؤَخِّرَ ٱللَّهُ نَفْسًا إِذَا جَآءَ أَجَلُهَا وَٱللَّهُ خَبِيرٌۢ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿١١﴾

## سُورَةُ التَّغَابُن

ترتيبها ٦٤ — آياتها ١٨

(٥) او کوم وخت چه وویلی شی دوی ته
راشی چه بښنه وغواړی تاسو لره رسول الله
ﷺ نو واړوی دوی سرونه خپل او وینی به
ته دوی چه ځنګ کوی او حال دا چه وی
دوی لوئ کونکی
(٦) برابره خبره ده په دوی باندی که ته
بښنه غواړی دوی لره او که بښنه نه غواړی
ته دوی لره هیچیری بښنه نه کوی الله تعالی
دوی ته یقینا الله تعالی هدایت نه کوی قوم
فاسقانو نافرمانو ته
(٧) دوی هغه کسان دی چه وائی خرچ مه
کوئ په هغه چا چه درسول الله ﷺ سره
دی تر دی پوری چه خواره واره شی
خاص الله تعالی لره خزانی دی د اسمانونو
او د زمکی او لیکن منافقان نه پوهیږی
(٨) دوی وائی که چیری بیرته وګرځو مونږ
طرف د مدینی ته نو خامخا اوبه باسی عزتمند
د هغی نه ذلیل لره او خاص الله لره دی
عزت او غلبه او رسول د ده لره او مؤمنانو
لره لیکن منافقان نه پوهیږی
(٩) ای ایمان والاو غافله دی نه کړی تاسو لره
مالونه ستاسی او نه بچی ستاسی د ذکر د الله
تعالی نه او چا چه دغه کار وکړه نو همدغه
کسان هم دوی دی تاوانیان زیانکاران
(١٠) او خرچ وکړئ د هغی مالونو نه چه
درکړی دی ما تاسو ته مخکی د هغی نه چه
راشی یو کس ستاسو ته (اسباب) د مرګ نو وبه
وائی ای ربه زما ولی دی روسته نه کړه ما لره
تر نیتی نږدی پوری چه صدقه او خیرات کړی
وی ما او شم زه د نیکانو څخه
(١١) او هیڅکله نه روسته کوی الله تعالی هیڅ
نفس کوم وخت چه راشی نیته د هغه او الله
تعالی خبردار دی په هغی عملونو باندی چه
تاسو ئی کوی

# د التغابن سورت

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يُسَبِّحُ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۖ لَهُ ٱلۡمُلۡكُ وَلَهُ ٱلۡحَمۡدُۖ
وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ١ هُوَ ٱلَّذِي خَلَقَكُمۡ فَمِنكُمۡ كَافِرٞ
وَمِنكُم مُّؤۡمِنٞۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٌ ٢ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَٱلۡأَرۡضَ بِٱلۡحَقِّ وَصَوَّرَكُمۡ فَأَحۡسَنَ صُوَرَكُمۡۖ وَإِلَيۡهِ ٱلۡمَصِيرُ ٣
يَعۡلَمُ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَيَعۡلَمُ مَا تُسِرُّونَ وَمَا تُعۡلِنُونَۚ وَٱللَّهُ
عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ٤ أَلَمۡ يَأۡتِكُمۡ نَبَؤُاْ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَبۡلُ
فَذَاقُواْ وَبَالَ أَمۡرِهِمۡ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ٥ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُۥ كَانَت تَّأۡتِيهِمۡ
رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ فَقَالُوٓاْ أَبَشَرٞ يَهۡدُونَنَا فَكَفَرُواْ وَتَوَلَّواْۚ وَّٱسۡتَغۡنَى
ٱللَّهُۚ وَٱللَّهُ غَنِيٌّ حَمِيدٞ ٦ زَعَمَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَن لَّن يُبۡعَثُواْۚ قُلۡ بَلَىٰ وَرَبِّي
لَتُبۡعَثُنَّ ثُمَّ لَتُنَبَّؤُنَّ بِمَا عَمِلۡتُمۡۚ وَذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٞ ٧ فَـَٔامِنُواْ بِٱللَّهِ
وَرَسُولِهِۦ وَٱلنُّورِ ٱلَّذِيٓ أَنزَلۡنَاۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرٞ ٨ يَوۡمَ
يَجۡمَعُكُمۡ لِيَوۡمِ ٱلۡجَمۡعِۖ ذَٰلِكَ يَوۡمُ ٱلتَّغَابُنِۗ وَمَن يُؤۡمِنۢ بِٱللَّهِ وَيَعۡمَلۡ
صَٰلِحٗا يُكَفِّرۡ عَنۡهُ سَيِّـَٔاتِهِۦ وَيُدۡخِلۡهُ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا
ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۚ ذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ٩

١ پاکی وائی الله تعالی لره هغه مخلوقات چه په اسمانونو کښی دی او هغه څیزونه چه په زمکه کښی دی خاص د ده لپاره بادشاهی ده او خاص د ده لپاره بنایسته ستاینه ده او هغه په هر څیز باندی قدرت لرونکی دی

٢ خاص الله هغه ذات دی چه پیدا ئی کړی تاسو نو ځنی ستاسو نه کافر دی او ځنی ستاسو نه مؤمنان دی او الله تعالی په هغی عملونو باندی چه تاسو ئی کوئ لیدونکی دی

٣ پیدا کړی ئی دی اسمانونه او زمکی په تدبیر حق سره او شکلونه ئی درکړی دی تاسو ته نو بیا ئی بنایسته کړی دی شکلونه ستاسو او خاص هغه ته بیرته ورتلل دی

٤ پوهیږی په هغه څیزونو چه په اسمانو کښی دی او په زمکه کښی دی او عالم دی په هغه څه چه تاسو ئی پټوی او په هغه څه چه تاسو ئی ښکاره کوئ او الله تعالی عالم دی په هغه خبرو باندی چه په سینو (د خلکو کښی) دی

٥ ایا نه دی راغلی تاسو ته خبر دهغی کسانو چه منکران شوی دی پخوا له دی نه پس وئی څکل سزا د کار خپل او شته دی د دوی لپاره عذاب دردونکی

٦ دا په دی سبب چه یقینا راتلل دوی ته رسولان د دوی په ښکاره احکامو سره نو دوی وویل ایا یو بشر مونږ ته لار ښائی نو انکار وکړه دوی او مخ ئی واړوو او (ښکاره کړه) الله تعالی بی پروائی خپله او الله تعالی بی پروا او ستایلی شوی ذات دی

٧ ګمان کوی کافران چه دوی به هیڅ کله دوباره پیدا نشی ته وو وایه ها قسم دی په رب زما چه ضرور به دوباره پیدا کیږی بیا به ضرور خبر درکړی شی تاسو ته د هغی عملونو چه تاسو کړیدی او دا کار په الله تعالی باندی اسان دی

٨ نو ایمان راوړئ په الله تعالی او په رسول د هغی او په هغی رڼا باندی چه مونږ نازل کړی ده او الله تعالی په هغی عملونو چه کوئ ئی تاسو خبر دار دی

٩ په هغی ورځ چه راجمع به کړی تاسو لره په ورځ د جمع کیدلو (قیامت) کښی دغه ورځ د غبن ښکاره کیدلو ده او چا چه ایمان راوړه په الله تعالی باندی او عمل ئی وکړه نیک نو لری به کړی (الله) له ده څخه بدی د ده او داخل به کړی ده لره جنتونو ته چه بهیږی به لاندی د هغی نه ولی همیشه به وی دوی په هغی کښی همیشه دا کامیابی لویه ده

وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَآ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ
ٱلنَّارِ خَٰلِدِينَ فِيهَاۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ﴿١٠﴾ مَآ أَصَابَ مِن
مُّصِيبَةٍ إِلَّا بِإِذۡنِ ٱللَّهِۗ وَمَن يُؤۡمِنۢ بِٱللَّهِ يَهۡدِ قَلۡبَهُۥۚ وَٱللَّهُ بِكُلِّ
شَيۡءٍ عَلِيمٞ ﴿١١﴾ وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَۚ فَإِن
تَوَلَّيۡتُمۡ فَإِنَّمَا عَلَىٰ رَسُولِنَا ٱلۡبَلَٰغُ ٱلۡمُبِينُ ﴿١٢﴾ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ
إِلَّا هُوَۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ﴿١٣﴾ يَٰٓأَيُّهَا
ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ مِنۡ أَزۡوَٰجِكُمۡ وَأَوۡلَٰدِكُمۡ عَدُوّٗا
لَّكُمۡ فَٱحۡذَرُوهُمۡۚ وَإِن تَعۡفُواْ وَتَصۡفَحُواْ وَتَغۡفِرُواْ
فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٌ ﴿١٤﴾ إِنَّمَآ أَمۡوَٰلُكُمۡ وَأَوۡلَٰدُكُمۡ
فِتۡنَةٞۚ وَٱللَّهُ عِندَهُۥٓ أَجۡرٌ عَظِيمٞ ﴿١٥﴾ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ مَا ٱسۡتَطَعۡتُمۡ
وَٱسۡمَعُواْ وَأَطِيعُواْ وَأَنفِقُواْ خَيۡرٗا لِّأَنفُسِكُمۡۗ وَمَن
يُوقَ شُحَّ نَفۡسِهِۦ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ﴿١٦﴾ إِن تُقۡرِضُواْ
ٱللَّهَ قَرۡضًا حَسَنٗا يُضَٰعِفۡهُ لَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡۚ وَٱللَّهُ شَكُورٌ
حَلِيمٌ ﴿١٧﴾ عَٰلِمُ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿١٨﴾

## سُورَةُ الطَّلَاق

ترتيبها ٦٥ — آياتها ١٢

﴿١٠﴾ او هغه کسان چه کفر ئی کړی دی او دروغجن ئی گڼلی ایاتونه زمونږ. دغه کسان اور والا دی همیشه به وی دوی په هغی کښې او بد ځای د ورتللودی

﴿١١﴾ او نه رسیږی هیڅ مصیبت مگر په حکم (تقدیر) د الله تعالی سره او چا چه ایمان راوړه په الله تعالی باندی نو هدایت به وکړی زړه د هغه ته او الله تعالی په هر شی باندی پوهه دی

﴿١٢﴾ او تابعداری کوئ د الله او تابعداری کوئ د رسول د هغه نو که چیری مخ واړو تاسو نو یقینا په رسول زمونږ باندی رسول ښکاره دی

﴿١٣﴾ الله تعالی نشته بی له هغی نه لایق د عبادت او خاص په الله تعالی باندی دی توکل وکړی مؤمنان

﴿١٤﴾ ای ایمان والاو یقینا ځنی د ښځو ستاسو نه او د ځامنو ستاسو نه دښمنان دی تاسی لره نو ځان وساتئ د هغوی نه او که عفوه وکړئ تاسو او مخ وگرځوئ تاسو او ښننه وکړئ تاسی نو بیشکه الله تعالی ښننه کونکی او رحم کونکی دی

﴿١٥﴾ یقینا مالونه ستاسو او اولاد ستاسو یوه فتنه ده او الله تعالی خاص د هغی سره ثواب لوی دی

﴿١٦﴾ نو ویره کوئ له الله تعالی نه څومره چه وس وی ستاسو او غوږ کیږدئ او خبره منئ او خرچ کوئ نو غوره به وی ستاسو لپاره او څوک چه وساتلی شوه د شومتیا د نفس نه نو دا کسان هم دوی دی کامیاب

﴿١٧﴾ که چیری قرض ورکړئ تاسو الله تعالی ته قرض ښایسته زیات به ئی کړی ستاسو لپاره اوښننه به وکړی تاسو لره او الله تعالی ښه قدر دان دی ښه تحمل والا دی

﴿١٨﴾ عالم دی په پټو او ښکاره باندی زورور دی او حکمتونو والا دی

# د الطلاق سورت

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ
يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِذَا طَلَّقۡتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَطَلِّقُوهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ وَأَحۡصُواْ
ٱلۡعِدَّةَۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ رَبَّكُمۡۖ لَا تُخۡرِجُوهُنَّ مِنۢ بُيُوتِهِنَّ
وَلَا يَخۡرُجۡنَ إِلَّآ أَن يَأۡتِينَ بِفَٰحِشَةٖ مُّبَيِّنَةٖۚ وَتِلۡكَ حُدُودُ
ٱللَّهِۚ وَمَن يَتَعَدَّ حُدُودَ ٱللَّهِ فَقَدۡ ظَلَمَ نَفۡسَهُۥۚ لَا تَدۡرِي لَعَلَّ
ٱللَّهَ يُحۡدِثُ بَعۡدَ ذَٰلِكَ أَمۡرٗا (١) فَإِذَا بَلَغۡنَ أَجَلَهُنَّ فَأَمۡسِكُوهُنَّ
بِمَعۡرُوفٍ أَوۡ فَارِقُوهُنَّ بِمَعۡرُوفٖ وَأَشۡهِدُواْ ذَوَيۡ عَدۡلٖ مِّنكُمۡ
وَأَقِيمُواْ ٱلشَّهَٰدَةَ لِلَّهِۚ ذَٰلِكُمۡ يُوعَظُ بِهِۦ مَن كَانَ يُؤۡمِنُ
بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۚ وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يَجۡعَل لَّهُۥ مَخۡرَجٗا (٢) وَيَرۡزُقۡهُ
مِنۡ حَيۡثُ لَا يَحۡتَسِبُۚ وَمَن يَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِ فَهُوَ حَسۡبُهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ
بَٰلِغُ أَمۡرِهِۦۚ قَدۡ جَعَلَ ٱللَّهُ لِكُلِّ شَيۡءٖ قَدۡرٗا (٣) وَٱلَّٰٓـِٔي يَئِسۡنَ
مِنَ ٱلۡمَحِيضِ مِن نِّسَآئِكُمۡ إِنِ ٱرۡتَبۡتُمۡ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلَٰثَةُ أَشۡهُرٖ
وَٱلَّٰٓـِٔي لَمۡ يَحِضۡنَۚ وَأُوْلَٰتُ ٱلۡأَحۡمَالِ أَجَلُهُنَّ أَن يَضَعۡنَ حَمۡلَهُنَّۚ
وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يَجۡعَل لَّهُۥ مِنۡ أَمۡرِهِۦ يُسۡرٗا (٤) ذَٰلِكَ أَمۡرُ ٱللَّهِ أَنزَلَهُۥٓ
إِلَيۡكُمۡۚ وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يُكَفِّرۡ عَنۡهُ سَيِّـَٔاتِهِۦ وَيُعۡظِمۡ لَهُۥٓ أَجۡرًا (٥)

(١) ای نبی صلی الله علیه واله وسلم کله چه طلاق ورکول غواړئ بیبیانو ته نو طلاق ورکړئ دوی ته په عدت د دوی کښې او وشمیرئ تاسو (موده) د عدت او ویره وکړئ د الله تعالی نه چه رب ستاسو دی مه اوباسئ دوی لره د کورونو خپلو نه او نه دی اوځی دوی په خپله هم مګر په هغه وخت کښې چه راشی دوی په بی حیائی ښکاره سره او دا (احکام) پولی د الله تعالی دی او څوک چه تجاوز وکړی د پولو د الله تعالی نه نو یقینا ظلم ئې وکړه په ځان خپل نه پوهیږی هیڅ نفس ښائی چه الله پیدا کړی وروسته له دی (طلاق) څخه کوم (ښه) کار

(٢) نو بیا هرکله چه ورسیږی دغه (ښځې) نیتې خپلې ته نو اوساتئ دغه ښځې په ښې طریقې سره او یا جدا شئ تاسی د هغوی نه په ښې طریقې سره او شاهدان ونیسئ تاسی (په دغه رجوع باندی) دوه خاوندان د عدل له تاسی څخه او (ښه) ادا کړئ تاسو شهادت د الله لپاره دا وعظ کیدای شی په دی سره هغه چاته چه ایمان لری په الله تعالی او په ورځ روستنئ او څوک چه ویره کوی له الله تعالی نه نو وبه ګرځوی ده ته یو ځای دوتلو (لار دنجات)

(٣) او رزق به ورکړی ده ته د داسی ځای نه چه دی به ګمان نه کوی او هغه څوک چه توکل وکړی په الله تعالی باندی نو دغه (الله) ښه پوره دی ده لره یقینا الله رسیدونکی (پوره کونکی) دی کار خپل لره یقینا الله ګرځولی ده هر خیز لره اندازه

(٤) او هغه زنانه چه ناامیده وی د حیض نه د زنانه و ستاسو نه که چیری شک کوئ (په عدت د هغوی کښې) نو عدت د هغوی دری میاشتی دی او هغه زنانه چه حائضه شوی نه وی هم، او حمل والا زنانه عدت د هغوی زیږول د حمل د هغوی دی، او چا چه ویره کوله له الله تعالی نه نو وبه ګرځوی الله تعالی ده ته په کار د ده کښې اسانتیا

(٥) او دا حکم د الله تعالی دی نازل کړی ئې دی تاسو ته او چا چه ویره وکړه د الله تعالی څخه لری به کړی د ده نه بدی د ده او لوی به کړی ده ته ثواب

أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنتُم مِّن وُجْدِكُمْ وَلَا تُضَآرُّوهُنَّ لِتُضَيِّقُوا۟
عَلَيْهِنَّ ۚ وَإِن كُنَّ أُو۟لَٰتِ حَمْلٍ فَأَنفِقُوا۟ عَلَيْهِنَّ حَتَّىٰ يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ۚ
فَإِنْ أَرْضَعْنَ لَكُمْ فَـَٔاتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ ۖ وَأْتَمِرُوا۟ بَيْنَكُم بِمَعْرُوفٍ ۖ وَإِن
تَعَاسَرْتُمْ فَسَتُرْضِعُ لَهُۥٓ أُخْرَىٰ ﴿٦﴾ لِيُنفِقْ ذُو سَعَةٍ مِّن سَعَتِهِۦ ۖ
وَمَن قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهُۥ فَلْيُنفِقْ مِمَّآ ءَاتَىٰهُ ٱللَّهُ ۚ لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفْسًا
إِلَّا مَآ ءَاتَىٰهَا ۚ سَيَجْعَلُ ٱللَّهُ بَعْدَ عُسْرٍ يُسْرًا ﴿٧﴾ وَكَأَيِّن مِّن قَرْيَةٍ
عَتَتْ عَنْ أَمْرِ رَبِّهَا وَرُسُلِهِۦ فَحَاسَبْنَٰهَا حِسَابًا شَدِيدًا وَعَذَّبْنَٰهَا
عَذَابًا نُّكْرًا ﴿٨﴾ فَذَاقَتْ وَبَالَ أَمْرِهَا وَكَانَ عَٰقِبَةُ أَمْرِهَا خُسْرًا ﴿٩﴾
أَعَدَّ ٱللَّهُ لَهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا ۖ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ يَٰٓأُو۟لِى ٱلْأَلْبَٰبِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ۚ
قَدْ أَنزَلَ ٱللَّهُ إِلَيْكُمْ ذِكْرًا ﴿١٠﴾ رَّسُولًا يَتْلُوا۟ عَلَيْكُمْ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ مُبَيِّنَٰتٍ
لِّيُخْرِجَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ مِنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ ۚ
وَمَن يُؤْمِنۢ بِٱللَّهِ وَيَعْمَلْ صَٰلِحًا يُدْخِلْهُ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا
ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ۖ قَدْ أَحْسَنَ ٱللَّهُ لَهُۥ رِزْقًا ﴿١١﴾ ٱللَّهُ ٱلَّذِى خَلَقَ
سَبْعَ سَمَٰوَٰتٍ وَمِنَ ٱلْأَرْضِ مِثْلَهُنَّ يَتَنَزَّلُ ٱلْأَمْرُ بَيْنَهُنَّ لِتَعْلَمُوٓا۟ أَنَّ
ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ وَأَنَّ ٱللَّهَ قَدْ أَحَاطَ بِكُلِّ شَىْءٍ عِلْمًۢا ﴿١٢﴾

﴿٦﴾ اوسوی دا ښځی په هغی ځای کښی چه تاسو پکښی اوسیږئ په اندازه د خپل طاقت او ضرر مه رسوی دوی ته د پاره د دی چه تنګستیا راولی په دوی باندی او که چیرته وی دغه زنانه حمل والا نو خرچ کوی په دوی باندی تر دی چه وزیږوی حمل خپل نو که چیری پی ورکوی دوی ستاسو (بچو) ته نو ورکړی دوی ته مزدوری د دوی او جرګه کوی په منځ خپل کښی (په باره د بچی کښی) په ښه طریقه سره او که چیرته تاسو سختی کوی د یو بل سره (په مزدوری د پئ ورکولو کښی) نو پی به ورکړی ده ته بله زنانه

﴿٧﴾ خرچ دی کوی خاوند د پراختیا د طاقت (مال خپل) نه او هغه څوک چه تنګه وی په هغی باندی روزی د هغی نو خرچ دی وکړی د هغی مال نه چه ورکړی دی ده ته الله تعالی تکلیف نه ورکوی الله تعالی هیڅ نفس ته مګر برابر د هغه د طاقت چه ورکړی ئی دی ده ته زر دی چه پیدا به کړی الله تعالی روسته د تنګستیا نه اسانتیا

﴿٨﴾ او ډیر کلو والا چه نافرمانی ئی کړی وه د حکم د رب خپل نه او د رسولانو د هغه نه نو حساب وکړو مونږ د هغی سره حساب سخت او عذاب ورکړو مونږ هغی ته عذاب ډیر بد

﴿٩﴾ نو اوڅکله هغوی سزا د کار خپل او شوه عاقبت د کار د هغوی تاوان

﴿١٠﴾ تیار کړی دی الله تعالی دوی لره عذاب سخت نو اوویریږی د الله تعالی نه ای خاوندانو د عقل هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی یقینا نازل کړی دی الله تعالی تاسو ته ذکر نصیحت (قران)

﴿١١﴾ رسول چه لولی په تاسو باندی ایاتونه د الله تعالی ښکاره کونکی د حکمونو د دی لپاره چه اوباسی هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی او عملونه ئی کړی دی نیک موافق د سنت د تیارو نه رڼا ته او چا چه ایمان راوړه په الله تعالی او عمل ئی کوو برابر د سنت سره داخل به کړی ده لره جنتونو ته چه بهیږی به لاندی د هغی نه ولی همیشه به وی په هغی کښی همیشه او یقینا ښایسته به کړی الله تعالی د ده لپاره رزق (په جنت کښی)

﴿١٢﴾ الله تعالی هغه ذات دی چه پیدا کړی ئی دی اوه اسمانونه او د زمکو نه په شان د اسمانونو راکوزیږی حکم (د الله تعالی) په منځ د دوی کښی د دی لپاره چه یقین اوکړی تاسو چه یقینا الله تعالی په هر شی باندی قدرت والا دی او یقینا الله تعالی راګیر کړی دی هر څیز لره په علم خپل کښی

# د التحریم سورت

سُورَةُ التَّحْرِيمِ
ترتيبها ٦٦ — آياتها ١٢

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَآ أَحَلَّ ٱللَّهُ لَكَۖ تَبْتَغِي مَرْضَاتَ أَزْوَٰجِكَۚ وَٱللَّهُ
غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١﴾ قَدْ فَرَضَ ٱللَّهُ لَكُمْ تَحِلَّةَ أَيْمَٰنِكُمْۚ وَٱللَّهُ مَوْلَىٰكُمْۖ
وَهُوَ ٱلْعَلِيمُ ٱلْحَكِيمُ ﴿٢﴾ وَإِذْ أَسَرَّ ٱلنَّبِيُّ إِلَىٰ بَعْضِ أَزْوَٰجِهِۦ حَدِيثًا
فَلَمَّا نَبَّأَتْ بِهِۦ وَأَظْهَرَهُ ٱللَّهُ عَلَيْهِ عَرَّفَ بَعْضَهُۥ وَأَعْرَضَ عَنۢ بَعْضٍۖ
فَلَمَّا نَبَّأَهَا بِهِۦ قَالَتْ مَنْ أَنۢبَأَكَ هَٰذَاۖ قَالَ نَبَّأَنِيَ ٱلْعَلِيمُ ٱلْخَبِيرُ
﴿٣﴾ إِن تَتُوبَآ إِلَى ٱللَّهِ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَاۖ وَإِن تَظَٰهَرَا عَلَيْهِ
فَإِنَّ ٱللَّهَ هُوَ مَوْلَىٰهُ وَجِبْرِيلُ وَصَٰلِحُ ٱلْمُؤْمِنِينَۖ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ
بَعْدَ ذَٰلِكَ ظَهِيرٌ ﴿٤﴾ عَسَىٰ رَبُّهُۥٓ إِن طَلَّقَكُنَّ أَن يُبْدِلَهُۥٓ أَزْوَٰجًا
خَيْرًا مِّنكُنَّ مُسْلِمَٰتٍ مُّؤْمِنَٰتٍ قَٰنِتَٰتٍ تَٰٓئِبَٰتٍ عَٰبِدَٰتٍ سَٰٓئِحَٰتٍ
ثَيِّبَٰتٍ وَأَبْكَارًا ﴿٥﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ قُوٓا۟ أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ
نَارًا وَقُودُهَا ٱلنَّاسُ وَٱلْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلَٰٓئِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ
لَّا يَعْصُونَ ٱللَّهَ مَآ أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ ﴿٦﴾ يَٰٓأَيُّهَا
ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَا تَعْتَذِرُوا۟ ٱلْيَوْمَۖ إِنَّمَا تُجْزَوْنَ مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٧﴾

(١) ای نبی ﷺ ولی حراموی ته هغه چه حلال کړی دی الله تعالی تاته غواړی ته (په دی حراملو سره) خوښی د ښځو خپلو او الله تعالی ښنونکی دی ډیر رحم والا دی

(٢) یقینا مقرر کړی دی الله تاسی لره حلالوالی د قسمونو ستاسو (په کفاری سره) او الله تعالی دوست مددګار ستاسو دی او هم دغه (الله) ښه عالم او د حکمتونو والا دی

(٣) او په هغی وخت کښی چه پټه وکړه نبی ﷺ څنو ښیبیانو ته یوه خبره نو هر کله چه خبر ورکړه هغی (حفصی) په دی خبری سره (عائشی ته) او ښکاره کړه الله تعالی هغه ته نو ویخودله یوه خبره او اعراض یی وکړه د بلی خبری نه نو هر کله چه خبر ورکړه نبی ﷺ هغی بی بی ته په هغی خبری سره هغی وویل چا خبر درکړه تاته هغه وویل خبر راکړی دی ماته الله تعالی چه په هر څه پوهه دی خبردار دی

(٤) که توبه اوباسی تاسی دواړه نو په تحقیق کاږه شوی دی زړونه ستاسو او که مرسته او مدد وکړئ تاسو دواړه یوه له بلی سره (په خلاف د نبی ﷺ کښی) نو بیشکه الله تعالی مددګار دی د هغی او جبرئیل عليه السلام او نیکان مؤمنان او نور ټول ملایک روسته د هغه نه د دی (رسول) مرسته کونکی دی

(٥) نږدی دی رب د دغه نبی که چیری طلاق درکړی تاسو ټولو ته په دی چه په بدل کښی ورکړی ده لره نوری ښځی بهتری له تاسو څخه حکم منونکی مؤمنانی لمونځ کونکی توبه ویستونکی عبادت کونکی روژه نیونکی کونډی او پیغلی

(٦) ای ایمان والاو وساتئ تاسو ځانونه خپل او بال بچ خپل د اور نه چه خشاک د هغی خلک دی او ګټی دی په هغی اور باندی مقرری دی ملایکی سخت (طبیعت والا) قوتناکی دی نافرمانی نه کوی له الله تعالی نه په هغی څه کښی چه امر ئی کړی دی دوی ته او دوی کوی هغه کار چه دوی ته پری امر شوی وی

(٧) ای هغه کسانو چه کفر ئی کړی دی عذرونه مه کوئ تاسو نن ورځ یقینا بدله درکیدای شی تاسو ته د هغی عملونو چه تاسو کول

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ تُوبُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ تَوۡبَةٗ نَّصُوحًا عَسَىٰ رَبُّكُمۡ
أَن يُكَفِّرَ عَنكُمۡ سَيِّـَٔاتِكُمۡ وَيُدۡخِلَكُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي
مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ يَوۡمَ لَا يُخۡزِي ٱللَّهُ ٱلنَّبِيَّ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ
مَعَهُۥۖ نُورُهُمۡ يَسۡعَىٰ بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَبِأَيۡمَٰنِهِمۡ يَقُولُونَ رَبَّنَآ
أَتۡمِمۡ لَنَا نُورَنَا وَٱغۡفِرۡ لَنَآۖ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٨
يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ جَٰهِدِ ٱلۡكُفَّارَ وَٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَٱغۡلُظۡ عَلَيۡهِمۡۚ
وَمَأۡوَىٰهُمۡ جَهَنَّمُۖ وَبِئۡسَ ٱلۡمَصِيرُ ٩ ضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلٗا
لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱمۡرَأَتَ نُوحٖ وَٱمۡرَأَتَ لُوطٖۖ كَانَتَا تَحۡتَ
عَبۡدَيۡنِ مِنۡ عِبَادِنَا صَٰلِحَيۡنِ فَخَانَتَاهُمَا فَلَمۡ يُغۡنِيَا عَنۡهُمَا
مِنَ ٱللَّهِ شَيۡـٔٗا وَقِيلَ ٱدۡخُلَا ٱلنَّارَ مَعَ ٱلدَّٰخِلِينَ ١٠
وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلٗا لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱمۡرَأَتَ فِرۡعَوۡنَ إِذۡ
قَالَتۡ رَبِّ ٱبۡنِ لِي عِندَكَ بَيۡتٗا فِي ٱلۡجَنَّةِ وَنَجِّنِي مِن فِرۡعَوۡنَ
وَعَمَلِهِۦ وَنَجِّنِي مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ١١ وَمَرۡيَمَ ٱبۡنَتَ
عِمۡرَٰنَ ٱلَّتِيٓ أَحۡصَنَتۡ فَرۡجَهَا فَنَفَخۡنَا فِيهِ مِن رُّوحِنَا
وَصَدَّقَتۡ بِكَلِمَٰتِ رَبِّهَا وَكُتُبِهِۦ وَكَانَتۡ مِنَ ٱلۡقَٰنِتِينَ ١٢

(٨) ای ایمان والاو توبی اوباسی الله تعالی ته توبی د اخلاص والا امید دی چه رب ستاسو به لری کړی ستاسو نه ګناهونه ستاسی او داخل به کړی تاسو جنتونو ته چه بهیږی لاندی د هغی نه ولی په هغه ورځ چه نه به شرمنده کوی الله تعالی خپل نبی او هغی کسانو لره چه ایمان ئی راوړی دی د هغه په ملګرتیا کښی رڼا د دوی به منډی وهی مخی د دوی ته او په ښی طرفونو د دوی کښی دوی به وائی ای ربه زمونږ پوره وساتی مونږ لره رڼا او ښننه وکړی مونږ ته بیشکه ته په هر شی باندی ښه قادر ئی

(٩) ای نبی ﷺ جهاد وکړه د کافرانو او د منافقانو سره او سختی کوه په دوی باندی او ځای د دوی جهنم دی او بد ځای د بیرته ورتللو دی

(١٠) بیانوی الله تعالی مثال کافرانو ته د ښځی د نوح علیه السلام او د ښځی د لوط علیه السلام وی دا دواړه لاندی د دوه و بندګانو نه د نیکانو بندګانو زمونږ نه نو خیانت وکړه دغی دواړو ښځو (په کفر کولو سره) د هغی دواړو (پیغمبرانو) سره نو دفع نه کړه هغوی د دی دواړو نه د عذاب د الله تعالی نه هیڅ شی او ویلی شوه چه ننوځی اور ته سره د داخلیدونکو نه

(١١) او بیانوی الله تعالی مثال مؤمنانو ته د ښځی د فرعون کوم وخت چه وویلی هغی ای ربه زما جوړ کړی زما لپاره کور ستا په خواکښی په جنت کښی او بچ وساتی ما لره د فرعون نه او د عمل د هغه نه او بچ وساتی ما لره د قوم ظالم نه

(١٢) او (بیان کړی دی الله تعالی مثال) د مریم چه لور د عمران وه هغه زنانه چه بچ ئی ساتلی ؤ عورت خپل نو پوکی اوکړو مونږ په هغی کښی د روح د طرف خپل نه او تصدیق کړی ؤ هغی د کلمو د رب خپل او د کتابونو د هغه‌او دا وه د پوره تابعداری کونکو نه

# د الملک سورت

سُورَةُ المُلْكِ — ترتيبها ٦٧ — آياتها ٣٠

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

تَبَٰرَكَ ٱلَّذِى بِيَدِهِ ٱلْمُلْكُ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿١﴾ ٱلَّذِى خَلَقَ
ٱلْمَوْتَ وَٱلْحَيَوٰةَ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا ۚ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْغَفُورُ ﴿٢﴾
ٱلَّذِى خَلَقَ سَبْعَ سَمَٰوَٰتٍ طِبَاقًا ۖ مَّا تَرَىٰ فِى خَلْقِ ٱلرَّحْمَٰنِ مِن
تَفَٰوُتٍ ۖ فَٱرْجِعِ ٱلْبَصَرَ هَلْ تَرَىٰ مِن فُطُورٍ ﴿٣﴾ ثُمَّ ٱرْجِعِ ٱلْبَصَرَ كَرَّتَيْنِ
يَنقَلِبْ إِلَيْكَ ٱلْبَصَرُ خَاسِئًا وَهُوَ حَسِيرٌ ﴿٤﴾ وَلَقَدْ زَيَّنَّا ٱلسَّمَآءَ
ٱلدُّنْيَا بِمَصَٰبِيحَ وَجَعَلْنَٰهَا رُجُومًا لِّلشَّيَٰطِينِ ۖ وَأَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابَ
ٱلسَّعِيرِ ﴿٥﴾ وَلِلَّذِينَ كَفَرُوا۟ بِرَبِّهِمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ ۖ وَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ
﴿٦﴾ إِذَآ أُلْقُوا۟ فِيهَا سَمِعُوا۟ لَهَا شَهِيقًا وَهِىَ تَفُورُ ﴿٧﴾ تَكَادُ تَمَيَّزُ
مِنَ ٱلْغَيْظِ ۖ كُلَّمَآ أُلْقِىَ فِيهَا فَوْجٌ سَأَلَهُمْ خَزَنَتُهَآ أَلَمْ يَأْتِكُمْ نَذِيرٌ ﴿٨﴾
قَالُوا۟ بَلَىٰ قَدْ جَآءَنَا نَذِيرٌ فَكَذَّبْنَا وَقُلْنَا مَا نَزَّلَ ٱللَّهُ مِن شَىْءٍ إِنْ أَنتُمْ
إِلَّا فِى ضَلَٰلٍ كَبِيرٍ ﴿٩﴾ وَقَالُوا۟ لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ أَوْ نَعْقِلُ مَا كُنَّا فِىٓ أَصْحَٰبِ
ٱلسَّعِيرِ ﴿١٠﴾ فَٱعْتَرَفُوا۟ بِذَنۢبِهِمْ فَسُحْقًا لِّأَصْحَٰبِ ٱلسَّعِيرِ ﴿١١﴾
إِنَّ ٱلَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُم بِٱلْغَيْبِ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ كَبِيرٌ ﴿١٢﴾

(١) ډیر برکت والا دی هغه ذات چه په لاس د هغه کښې بادشاهی ده او هغه په هر خیز باندی قدرت والا دی

(٢) هغه ذات چه پیدا کړی ئی دی مرګ او ژوندون دی لپاره چه وازمائی تاسی چه کوم یو په تاسو کښې ښایسته عمل کونکی دی او هغه زورور او ښونکی دی

(٣) هغه ذات چه پیدا کړی ئی دی اوه اسمانونه طبقی طبقی (لاندی باندی) وبه نه وینی ته په پیداکولو د مهربان ذات کښې هیڅ نقصان نو اوګرځوه سترګی ایا وینی ته څه چاودونه

(٤) بیا اوګرځوه سترګی بار بار واپس به راوګرځی تاته سترګی عاجزی او هغه به ستړی وی

(٥) او یقینا ښایسته کړی دی مونږ اسمان نږدی لره په چراغونو سره او ګرځولی دی مونږ هغی لره ویشتونکی شیطانانو لره او تیار کړیدی مونږ د دوی لپاره عذاب ډیر سوځونکی

(٦) اوهغی کسانو لره چه کفر ئی کړیدی په رب خپل باندی عذاب د جهنم دی او بد ځای د ورتللو دی

(٧) کوم وخت چه اوغورځولی شی دوی په هغی کښې نو اوری به هغی لره هنار او هغه به خوټکیږی

(٨) نږدی دی چه اوچوی د وجی د غصی نه هر وخت چه وغورځولی شی په هغی کښی یوه ډله نو تپوس به کوی د دوی نه ځوکیداران د هغی ایا نه ؤ راغلی تاسو ته ویره درکونکی

(٩) دوی به ووائی هو په تحقیق راغلی ؤ مونږ ته ویرونکی پیغمبران نو دروغجن وګڼل مونږ. او وویل مونږ نه دی رالیږلی الله تعالی هیڅ شی نه ئی تاسو مګر په ګمراهی لویه کښی

(١٠) او وبه وائی دوی که چیری مونږ اوریدلی وی او یا مو د عقل نه کار اخستی وی نو نه به وی مونږ د اور والاو سره

(١١) نو اقرار به وکړی دوی په ګناهونو خپلو نو تباهی ده د اور والاو لره

(١٢) یقینا هغه کسان چه ویریږی له رب خپل نه په غیب سره د دوی لپاره ښښنه ده او ثواب لوی دی

وَأَسِرُّواْ قَوۡلَكُمۡ أَوِ ٱجۡهَرُواْ بِهِۦٓۖ إِنَّهُۥ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴿١٣﴾ أَلَا
يَعۡلَمُ مَنۡ خَلَقَ وَهُوَ ٱللَّطِيفُ ٱلۡخَبِيرُ ﴿١٤﴾ هُوَ ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ
ٱلۡأَرۡضَ ذَلُولٗا فَٱمۡشُواْ فِي مَنَاكِبِهَا وَكُلُواْ مِن رِّزۡقِهِۦۖ وَإِلَيۡهِ ٱلنُّشُورُ
﴿١٥﴾ ءَأَمِنتُم مَّن فِي ٱلسَّمَآءِ أَن يَخۡسِفَ بِكُمُ ٱلۡأَرۡضَ فَإِذَا هِيَ
تَمُورُ ﴿١٦﴾ أَمۡ أَمِنتُم مَّن فِي ٱلسَّمَآءِ أَن يُرۡسِلَ عَلَيۡكُمۡ حَاصِبٗاۖ
فَسَتَعۡلَمُونَ كَيۡفَ نَذِيرِ ﴿١٧﴾ وَلَقَدۡ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ فَكَيۡفَ
كَانَ نَكِيرِ ﴿١٨﴾ أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ إِلَى ٱلطَّيۡرِ فَوۡقَهُمۡ صَٰٓفَّٰتٖ وَيَقۡبِضۡنَۚ مَا
يُمۡسِكُهُنَّ إِلَّا ٱلرَّحۡمَٰنُۚ إِنَّهُۥ بِكُلِّ شَيۡءِۭ بَصِيرٌ ﴿١٩﴾ أَمَّنۡ هَٰذَا ٱلَّذِي
هُوَ جُندٞ لَّكُمۡ يَنصُرُكُم مِّن دُونِ ٱلرَّحۡمَٰنِۚ إِنِ ٱلۡكَٰفِرُونَ إِلَّا فِي غُرُورٍ
﴿٢٠﴾ أَمَّنۡ هَٰذَا ٱلَّذِي يَرۡزُقُكُمۡ إِنۡ أَمۡسَكَ رِزۡقَهُۥۚ بَل لَّجُّواْ فِي عُتُوّٖ
وَنُفُورٍ ﴿٢١﴾ أَفَمَن يَمۡشِي مُكِبًّا عَلَىٰ وَجۡهِهِۦٓ أَهۡدَىٰٓ أَمَّن يَمۡشِي سَوِيًّا
عَلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴿٢٢﴾ قُلۡ هُوَ ٱلَّذِيٓ أَنشَأَكُمۡ وَجَعَلَ لَكُمُ ٱلسَّمۡعَ
وَٱلۡأَبۡصَٰرَ وَٱلۡأَفۡـِٔدَةَۚ قَلِيلٗا مَّا تَشۡكُرُونَ ﴿٢٣﴾ قُلۡ هُوَ ٱلَّذِي ذَرَأَكُمۡ
فِي ٱلۡأَرۡضِ وَإِلَيۡهِ تُحۡشَرُونَ ﴿٢٤﴾ وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلۡوَعۡدُ إِن كُنتُمۡ
صَٰدِقِينَ ﴿٢٥﴾ قُلۡ إِنَّمَا ٱلۡعِلۡمُ عِندَ ٱللَّهِ وَإِنَّمَآ أَنَا۠ نَذِيرٞ مُّبِينٞ ﴿٢٦﴾

﴿١٣﴾ که پټوئ تاسو خبره خپله او که ښکاره کوئ هغې لره یقینا الله تعالی پوهه دی په هغې خبرو باندې چه په سینو کښې دی

﴿١٤﴾ ایا نه پوهیږی هغه ذات چه پیدا کونکی دی او هغه دی پوهه (په رازونو) او خبردار ذات دی

﴿١٥﴾ خاص هغه (الله تعالی) هغه ذات دی چه ګرځولې ئی ده تاسی لره زمکه تابعداره نو ځئ ګرځئ تاسی په لارو د هغې کښې او خورئ او خاص هغه ته راپورته کیدل دی

﴿١٦﴾ ایا بې ویرې ئی تاسی د هغې ذات نه چه په اسمانونو کښې دی چه ډوب کړی تاسو په زمکه کښې نو بیا به (ناڅاپه) هغه لړزیږی

﴿١٧﴾ ایا بې ویرې ئی تاسی د هغې ذات نه چه په اسمانونو کښې دی چه راولیږی په تاسو باندی (جاکړ) کاڼی ویشتونکی نو پوهه به شئ تاسو چه څرنګ ؤ ویرول زما

﴿١٨﴾ او بیشکه تکذیب کړی ؤ هغی کسانو چه د دوی نه مخکښې وو نو څرنګ وو عذاب زما دوی لره

﴿١٩﴾ ایا دوی نه ګوری مرغانو ته د پاسه د دوی نه چه خورونکی دی وزرو خپلو لره او ټولوی ئې نه دی حصار کړی دوی لره مګر رحمن ذات یقینا هغه هر څیز لره لیدونکی دی

﴿٢٠﴾ بلکه هغه څوک دی چه لښکر شی ستاسو مدد وکړی ستاسو په غیر د رحمن ذات نه نه دی کافران مګر په دوکه او غرور کښې دی

﴿٢١﴾ ایا څوک دی هغه ذات چه رزق درکړی تاسو ته که چیری بنده کړی (الله تعالی) روزی خپله بلکه ننوتلی دی دوی په سرکشی او نفرت کولو کښې

﴿٢٢﴾ ایا هغه څوک چه روان وی پړمخی ښه لار موندونکی دی یا هغه څوک چه ځی برابر سم په لاری سمې باندی

﴿٢٣﴾ ووایه (ای محمده) دغه (الله) هغه ذات دی چه پیدا کړی ئی تاسو او درکړی ئی دی تاسو ته غوږونه او سترګی او زړونه ډیر لږ شکر اوباسی تاسو

﴿٢٤﴾ ووایه (ای محمده) خاص هغه داسی ذات دی چه پیدائی کړی (خواره کړی ئی) تاسی په زمکه کښې او خاص هغې ته به راجمع کیږی تاسو

﴿٢٥﴾ او وائی دوی کله به وی دا وعده که چیرته تاسو رښتینی ئی

﴿٢٦﴾ ووایه (ای محمده) یقینا علم د دغې (خبری) خاص د الله سره دی او بیشکه زه ویرونکی ښکاره یم

﴿٢٧﴾ نو کله چه وینی دوی هغه (عذاب د قیامت) ډیر نږدی نو بدشکله او تور به شی مخونه د هغې کسانو چه کافران دی او وبه ویل شی دا هغه عذاب دی چه تاسو هغه غوښتلو

(٢٨) وو ایه (ای محمده) که چیرته وفات کړی
ما لره الله تعالی او هغه څوک چه زما سره
ملګری دی او یا رحم وکړی په مونږ. باندی پس
څوک دی چه وبه ژغوری (بچ به کړی)
کافرانو لره د عذاب دردونکی نه
(٢٩) وو ایه (ای محمده) دغه (الله) مهربان
ذات دی چه ایمان راوړی دی مونږ. په هغی
باندی او خاص په هغه باندی ځان سپارلی
دی مونږ. نو زر دی چه پوهه به شئ تاسو
چه څوک دی په ګمراهئ ښکاره کښی
(٣٠) وو ایه (ای محمده) خبر راکړی ماته که
چیرته وګرځی اوبه ستاسو (دسهار په وخت
کښی) ښکته او ژوری نو پس څوک به راولی
تاسی ته اوبه پاکی او صافی

## د القلم سورت

(١) قسم دی په قلم او په هغی څه باندی چه
دوی ئی لیکی
(٢) نه ئی ته (ای محمده) په نعمت (فضل)
د رب خپل سره لیونی
(٣) او یقینا خامخا تالره اجر او ثواب دی بی انتها
(٤) او یقینا ته خامخا ئی په خویونو لوی باندی
(٥) پس زر دی چه ته به ووینی او دوی به
هم ووینی
(٦) چه په کوم یوستاسوباندی لیونتوب دی
(٧) یقینا رب ستا ښه پوهه دی په هغه چا
باندی چه ګمراه شوی دی د لاری د هغی نه
او هغه ښه پوهه دی په هدایت
موندونکوباندی
(٨) نو ته تابعداری مه کوه د دروغجن کونکو
(٩) خوښوی دوی چه ته نرم شی دوی ته نو
دوی به هم نرم شی

فَلَمَّا رَأَوْهُ زُلْفَةً سِيٓـَٔتْ وُجُوهُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَقِيلَ هَٰذَا ٱلَّذِى
كُنتُم بِهِۦ تَدَّعُونَ (٢٧) قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِنْ أَهْلَكَنِىَ ٱللَّهُ وَمَن مَّعِىَ
أَوْ رَحِمَنَا فَمَن يُجِيرُ ٱلْكَٰفِرِينَ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ (٢٨) قُلْ هُوَ
ٱلرَّحْمَٰنُ ءَامَنَّا بِهِۦ وَعَلَيْهِ تَوَكَّلْنَا ۖ فَسَتَعْلَمُونَ مَنْ هُوَ فِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ
(٢٩) قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِنْ أَصْبَحَ مَآؤُكُمْ غَوْرًا فَمَن يَأْتِيكُم بِمَآءٍ مَّعِينٍۭ (٣٠)

### سُورَةُ القَلَمِ

ترتيبها ٦٨ — آياتها ٥٢

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

نٓ ۚ وَٱلْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُونَ (١) مَآ أَنتَ بِنِعْمَةِ رَبِّكَ بِمَجْنُونٍ (٢)
وَإِنَّ لَكَ لَأَجْرًا غَيْرَ مَمْنُونٍ (٣) وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ (٤)
فَسَتُبْصِرُ وَيُبْصِرُونَ (٥) بِأَييِّكُمُ ٱلْمَفْتُونُ (٦) إِنَّ رَبَّكَ هُوَ
أَعْلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِۦ وَهُوَ أَعْلَمُ بِٱلْمُهْتَدِينَ (٧) فَلَا تُطِعِ
ٱلْمُكَذِّبِينَ (٨) وَدُّوا۟ لَوْ تُدْهِنُ فَيُدْهِنُونَ (٩) وَلَا تُطِعْ كُلَّ
حَلَّافٍ مَّهِينٍ (١٠) هَمَّازٍ مَّشَّآءٍۭ بِنَمِيمٍ (١١) مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ مُعْتَدٍ
أَثِيمٍ (١٢) عُتُلٍّۭ بَعْدَ ذَٰلِكَ زَنِيمٍ (١٣) أَن كَانَ ذَا مَالٍ وَبَنِينَ
(١٤) إِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِ ءَايَٰتُنَا قَالَ أَسَٰطِيرُ ٱلْأَوَّلِينَ (١٥)

(١٠) پس تابعداری مه کوه د هر قسم خور او
سپک
(١١) عیب لګونکی او تلونکی په چغلی سره
(١٢) ډیر منع کونکی وی دخیر د حد نه
تیریدونکی ډیر ګناهګار
(١٣) بد ژبی روسته د دی نه حرامزاده هم وی
(١٤) د دی وجی نه چه هغه خاوند دمال او د
ځامنو دی
(١٥) کله چه ولوستلی شی په ده باندی
ایاتونه زمونږنو وائی دی چه داخو قصی
دی د مخکنو خلکو
(١٦) زر دی چه داغ به کیږدو ده لره په
خرتم (پوزه) باندی
(١٧) یقینا مونږ. ازمیښت کړیدی په دوی باندی
لکه څرنګ چه مونږ. ازمیښت کړی ؤ په باغ

سَنَسِمُهُۥ عَلَى ٱلۡخُرۡطُومِ ﴿١٦﴾ إِنَّا بَلَوۡنَٰهُمۡ كَمَا بَلَوۡنَآ أَصۡحَٰبَ ٱلۡجَنَّةِ إِذۡ أَقۡسَمُواْ
لَيَصۡرِمُنَّهَا مُصۡبِحِينَ ﴿١٧﴾ وَلَا يَسۡتَثۡنُونَ ﴿١٨﴾ فَطَافَ عَلَيۡهَا طَآئِفٞ مِّن رَّبِّكَ
وَهُمۡ نَآئِمُونَ ﴿١٩﴾ فَأَصۡبَحَتۡ كَٱلصَّرِيمِ ﴿٢٠﴾ فَتَنَادَوۡاْ مُصۡبِحِينَ ﴿٢١﴾ أَنِ
ٱغۡدُواْ عَلَىٰ حَرۡثِكُمۡ إِن كُنتُمۡ صَٰرِمِينَ ﴿٢٢﴾ فَٱنطَلَقُواْ وَهُمۡ يَتَخَٰفَتُونَ ﴿٢٣﴾
أَن لَّا يَدۡخُلَنَّهَا ٱلۡيَوۡمَ عَلَيۡكُم مِّسۡكِينٞ ﴿٢٤﴾ وَغَدَوۡاْ عَلَىٰ حَرۡدٖ قَٰدِرِينَ ﴿٢٥﴾ فَلَمَّا
رَأَوۡهَا قَالُوٓاْ إِنَّا لَضَآلُّونَ ﴿٢٦﴾ بَلۡ نَحۡنُ مَحۡرُومُونَ ﴿٢٧﴾ قَالَ أَوۡسَطُهُمۡ أَلَمۡ أَقُل
لَّكُمۡ لَوۡلَا تُسَبِّحُونَ ﴿٢٨﴾ قَالُواْ سُبۡحَٰنَ رَبِّنَآ إِنَّا كُنَّا ظَٰلِمِينَ ﴿٢٩﴾ فَأَقۡبَلَ
بَعۡضُهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٖ يَتَلَٰوَمُونَ ﴿٣٠﴾ قَالُواْ يَٰوَيۡلَنَآ إِنَّا كُنَّا طَٰغِينَ ﴿٣١﴾ عَسَىٰ
رَبُّنَآ أَن يُبۡدِلَنَا خَيۡرٗا مِّنۡهَآ إِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا رَٰغِبُونَ ﴿٣٢﴾ كَذَٰلِكَ ٱلۡعَذَابُۖ وَلَعَذَابُ
ٱلۡأٓخِرَةِ أَكۡبَرُۚ لَوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ ﴿٣٣﴾ إِنَّ لِلۡمُتَّقِينَ عِندَ رَبِّهِمۡ جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ
﴿٣٤﴾ أَفَنَجۡعَلُ ٱلۡمُسۡلِمِينَ كَٱلۡمُجۡرِمِينَ ﴿٣٥﴾ مَا لَكُمۡ كَيۡفَ تَحۡكُمُونَ ﴿٣٦﴾ أَمۡ
لَكُمۡ كِتَٰبٞ فِيهِ تَدۡرُسُونَ ﴿٣٧﴾ إِنَّ لَكُمۡ فِيهِ لَمَا تَخَيَّرُونَ ﴿٣٨﴾ أَمۡ لَكُمۡ أَيۡمَٰنٌ
عَلَيۡنَا بَٰلِغَةٌ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ إِنَّ لَكُمۡ لَمَا تَحۡكُمُونَ ﴿٣٩﴾ سَلۡهُمۡ أَيُّهُم
بِذَٰلِكَ زَعِيمٌ ﴿٤٠﴾ أَمۡ لَهُمۡ شُرَكَآءُ فَلۡيَأۡتُواْ بِشُرَكَآئِهِمۡ إِن كَانُواْ صَٰدِقِينَ ﴿٤١﴾
يَوۡمَ يُكۡشَفُ عَن سَاقٖ وَيُدۡعَوۡنَ إِلَى ٱلسُّجُودِ فَلَا يَسۡتَطِيعُونَ ﴿٤٢﴾

والاو باندی کله چه هغوی قسم وکړه چه ضرورپریکوی به هغه د صبا په وخت کښی

﴿١٨﴾ او ان شاء الله ئی ونه ویل

﴿١٩﴾ نو راغی په هغی باندی د شپی راتلونکی عذاب له طرفه د رب ستانه او حال دا چه دوی اوده ؤ

﴿٢٠﴾ نووګرځیده (هغه باغ) لکه له بیخه ریبلی شوی فصل

﴿٢١﴾ نو اوازونه ئی وکړه یوبل ته د سبا په وخت کښی

﴿٢٢﴾ چه سبا وختی لاړ شی پټی خپل ته که چیرته تاسو پری کونکی یاستی

﴿٢٣﴾ نو راوان شوه دوی او حال دا چه دوی پټی خبری کولی

﴿٢٤﴾ چه داخل نشی هیڅکله دغی باغ ته نن ورځ پر تاسی باندی هیڅ مسکین محتاج اړ سړی

﴿٢٥﴾ او سهار وختی لاړ (باغ ته) حال دا چه قادر ؤ (په منع د فقیرانو په خپل ګمان کښی)

﴿٢٦﴾ پس هرکله چه ولیده دوی هغه (باغ سوځیدلی) وویل دوی یقینا مونږ ورکونکی یو د لاری

﴿٢٧﴾ بلکه مونږه محروم کړی شوی (بی نصیبه) یو

﴿٢٨﴾ وویل هوښیار د دوی نه ایا ما نه ؤ ویلی چه ولی پاکی نه بیانوئ (الله لره)

﴿٢٩﴾ دوی وویل پاکی ده رب زمونږ لره یقینا مونږ ظلم کونکی یو

﴿٣٠﴾ نو مخامخ شول ځنی د دوی ځنو ته چه یو بل ئی ملامته کول

﴿٣١﴾ وویل دوی های تباهی ده مونږ لره یقینا مونږ د حد نه تیریدونکی یو

﴿٣٢﴾ امید دی چه رب زمونږ به په بدله کښی راکړی غوره د دی نه یقینا مونږ خپل رب ته رغبت کونکی یو

﴿٣٣﴾ همداسی عذاب (راځی په دونیا کښی مخالفینو ته) او خامخا عذاب د اخرت ډیر لوی دی که چیرته دوی پوهیدلی

﴿٣٤﴾ یقینا متقیانو لره په نزد د رب د دوی جنتونه د نعمتونو دی

﴿٣٥﴾ ایا پس وبه ګرځوو مونږ مسلمانان په شان د مجرمانو

﴿٣٦﴾ څه شوی دی تاسو ته څرنګ فیصلی کوئ تاسو

﴿٣٧﴾ ایا له تاسی سره شته کوم کتاب چه په هغی کښی لولئ تاسی

﴿٣٨﴾ یقینا تاسو لره په هغی کښی هغه څه دی چه تاسو ئی خوښوئ

﴿٣٩﴾ ایا شته تاسی لره قسمونه پر مونږ باندی رسیدونکی تر ورځی د قیامت پوری چه یقینا ستاسو لپاره خامخا هغه څه دی چه تاسو ئی فیصله کوئ

﴿٤٠﴾ تپوس اوکړه د دوی نه چه کوم یو له دوی نه په دغه حکم باندی ذمه وار دی

﴿٤١﴾ ایا شته دی دوی لره شریکان (د الله سره) پس دوی دی راولی خپل شریکان که چیرته دوی رښتینی وی

خَٰشِعَةً أَبۡصَٰرُهُمۡ تَرۡهَقُهُمۡ ذِلَّةٞۖ وَقَدۡ كَانُواْ يُدۡعَوۡنَ إِلَى ٱلسُّجُودِ وَهُمۡ سَٰلِمُونَ
٤٣ فَذَرۡنِي وَمَن يُكَذِّبُ بِهَٰذَا ٱلۡحَدِيثِۖ سَنَسۡتَدۡرِجُهُم مِّنۡ حَيۡثُ
لَا يَعۡلَمُونَ ٤٤ وَأُمۡلِي لَهُمۡۚ إِنَّ كَيۡدِي مَتِينٌ ٤٥ أَمۡ تَسۡـَٔلُهُمۡ أَجۡرٗا فَهُم
مِّن مَّغۡرَمٖ مُّثۡقَلُونَ ٤٦ أَمۡ عِندَهُمُ ٱلۡغَيۡبُ فَهُمۡ يَكۡتُبُونَ ٤٧ فَٱصۡبِرۡ
لِحُكۡمِ رَبِّكَ وَلَا تَكُن كَصَاحِبِ ٱلۡحُوتِ إِذۡ نَادَىٰ وَهُوَ مَكۡظُومٞ ٤٨ لَّوۡلَآ
أَن تَدَٰرَكَهُۥ نِعۡمَةٞ مِّن رَّبِّهِۦ لَنُبِذَ بِٱلۡعَرَآءِ وَهُوَ مَذۡمُومٞ ٤٩ فَٱجۡتَبَٰهُ رَبُّهُۥ
فَجَعَلَهُۥ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ٥٠ وَإِن يَكَادُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَيُزۡلِقُونَكَ بِأَبۡصَٰرِهِمۡ
لَمَّا سَمِعُواْ ٱلذِّكۡرَ وَيَقُولُونَ إِنَّهُۥ لَمَجۡنُونٞ ٥١ وَمَا هُوَ إِلَّا ذِكۡرٞ لِّلۡعَٰلَمِينَ ٥٢

## سُورَةُ الحَاقَّةِ

ترتيبها ٦٩ — اياتها ٥٢

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

ٱلۡحَآقَّةُ ١ مَا ٱلۡحَآقَّةُ ٢ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا ٱلۡحَآقَّةُ ٣ كَذَّبَتۡ ثَمُودُ
وَعَادُۢ بِٱلۡقَارِعَةِ ٤ فَأَمَّا ثَمُودُ فَأُهۡلِكُواْ بِٱلطَّاغِيَةِ ٥ وَأَمَّا
عَادٞ فَأُهۡلِكُواْ بِرِيحٖ صَرۡصَرٍ عَاتِيَةٖ ٦ سَخَّرَهَا عَلَيۡهِمۡ
سَبۡعَ لَيَالٖ وَثَمَٰنِيَةَ أَيَّامٍ حُسُومٗاۖ فَتَرَى ٱلۡقَوۡمَ فِيهَا صَرۡعَىٰ
كَأَنَّهُمۡ أَعۡجَازُ نَخۡلٍ خَاوِيَةٖ ٧ فَهَلۡ تَرَىٰ لَهُم مِّنۢ بَاقِيَةٖ ٨

٤٢ (او یاد کړه) هغه ورځ چه بربنده به کړی شی پندی او راوبه بللی شی دوی سجدی کولو ته پس توان به نه لری دوی

٤٣ حال دا چه ذلیله به وی سترگی د دوی پټ کړی به وی دوی لره ذلت او یقینا دوی به بللی کیدل سجدی کولو ته او دوی به روغ رمټ ؤ

٤٤ پس پریږده مالره او هغه څوک چه درغجن گڼی دی خبرو لره خامخا نیسو مونږ دوی لره په دمه دمه په داسی طریقی سره چه نه پوهیږی دوی

٤٥ او مهلت ورکوم زه دوی ته یقینا تدبیر زما مضبوط دی

٤٦ ایا ته غواړی د دوی نه څه عوض نو دوی د وجی د تاوان نه درانه دی

٤٧ ایا شته دی ددوی سره غیب نو دوی لیکل کوی د هغی نه

٤٨ پس صبر کوه ته په حکم د رب خپل او مه کیږه په شان د کب والا کله چه ئی اواز وکړه او هغه د غم نه ډک ؤ

٤٩ که نه وی رسیدلی ده ته نعمت د رب ستا نو خامخا غورځولی شوی به وی هغه په ډاگه او هغه به وی بدحاله

٥٠ پس غوره کړه هغی لره رب د ده او وئی گرځوو هغه د نیکانو نه

٥١ او یقینا نږدی دی کافران چه خامخا وښویوی تا لره په سترگو خپلو هر کله چه واوریده دوی قران لره او وائی دوی چه دا لیونی دی

٥٢ او حال دا چه نه دی دا (قران) مگر نصیحت دی لپاره د ټولو خلکو

## د الحاقة سورت

١ یقینی افت راتلونکی

٢ څه لوی دی یقینی افت راتلونکی

٣ او څه شی پوهه کړی ئی ته چه څه دی یقینی راتلونکی افت

٤ دروغجن گڼلی ؤ ثمودیانو او عادیانو (افت) ټکونکی (دزړونو) لره

٥ پس هر چه ثمودیان ؤ نو هلاک شول په سختی چغه باندی

٦ او هر چه عادیان ؤ نو هلاک شول په سیلی سخت اواز کونکی د حد نه تیریدونکی

٧ مقرر کړی ؤ (الله) دغه باد پر دوی باندی اوه شپی او اته ورځی متواتر پرله پسی نو لیده به تا هغه قوم په هغی کښی پرمخی پراته گویا چه دوی یخونه د کجورو غورځیدلو دی

٨ نو ایا وینی ته کوم یو له دوی څنی باقی پاتی شوی

٩ او راغی فرعون او هغه څوک چه د هغوی نه مخکی ؤ د کلیو چپه شوو نه په (لوی) گناه سره

وَجَآءَ فِرۡعَوۡنُ وَمَن قَبۡلَهُۥ وَٱلۡمُؤۡتَفِكَٰتُ بِٱلۡخَاطِئَةِ ﴿٩﴾ فَعَصَوۡاْ رَسُولَ
رَبِّهِمۡ فَأَخَذَهُمۡ أَخۡذَةٗ رَّابِيَةً ﴿١٠﴾ إِنَّا لَمَّا طَغَا ٱلۡمَآءُ حَمَلۡنَٰكُمۡ فِي ٱلۡجَارِيَةِ
﴿١١﴾ لِنَجۡعَلَهَا لَكُمۡ تَذۡكِرَةٗ وَتَعِيَهَآ أُذُنٞ وَٰعِيَةٞ ﴿١٢﴾ فَإِذَا نُفِخَ فِي ٱلصُّورِ
نَفۡخَةٞ وَٰحِدَةٞ ﴿١٣﴾ وَحُمِلَتِ ٱلۡأَرۡضُ وَٱلۡجِبَالُ فَدُكَّتَا دَكَّةٗ وَٰحِدَةٗ ﴿١٤﴾
فَيَوۡمَئِذٖ وَقَعَتِ ٱلۡوَاقِعَةُ ﴿١٥﴾ وَٱنشَقَّتِ ٱلسَّمَآءُ فَهِيَ يَوۡمَئِذٖ وَاهِيَةٞ
﴿١٦﴾ وَٱلۡمَلَكُ عَلَىٰٓ أَرۡجَآئِهَاۚ وَيَحۡمِلُ عَرۡشَ رَبِّكَ فَوۡقَهُمۡ يَوۡمَئِذٖ ثَمَٰنِيَةٞ
﴿١٧﴾ يَوۡمَئِذٖ تُعۡرَضُونَ لَا تَخۡفَىٰ مِنكُمۡ خَافِيَةٞ ﴿١٨﴾ فَأَمَّا مَنۡ أُوتِيَ
كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ فَيَقُولُ هَآؤُمُ ٱقۡرَءُواْ كِتَٰبِيَهۡ ﴿١٩﴾ إِنِّي ظَنَنتُ أَنِّي مُلَٰقٍ
حِسَابِيَهۡ ﴿٢٠﴾ فَهُوَ فِي عِيشَةٖ رَّاضِيَةٖ ﴿٢١﴾ فِي جَنَّةٍ عَالِيَةٖ ﴿٢٢﴾
قُطُوفُهَا دَانِيَةٞ ﴿٢٣﴾ كُلُواْ وَٱشۡرَبُواْ هَنِيٓـَٔۢا بِمَآ أَسۡلَفۡتُمۡ فِي ٱلۡأَيَّامِ
ٱلۡخَالِيَةِ ﴿٢٤﴾ وَأَمَّا مَنۡ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِشِمَالِهِۦ فَيَقُولُ يَٰلَيۡتَنِي لَمۡ أُوتَ كِتَٰبِيَهۡ
﴿٢٥﴾ وَلَمۡ أَدۡرِ مَا حِسَابِيَهۡ ﴿٢٦﴾ يَٰلَيۡتَهَا كَانَتِ ٱلۡقَاضِيَةَ ﴿٢٧﴾ مَآ أَغۡنَىٰ
عَنِّي مَالِيَهۡۜ ﴿٢٨﴾ هَلَكَ عَنِّي سُلۡطَٰنِيَهۡ ﴿٢٩﴾ خُذُوهُ فَغُلُّوهُ ﴿٣٠﴾ ثُمَّ ٱلۡجَحِيمَ
صَلُّوهُ ﴿٣١﴾ ثُمَّ فِي سِلۡسِلَةٖ ذَرۡعُهَا سَبۡعُونَ ذِرَاعٗا فَٱسۡلُكُوهُ ﴿٣٢﴾ إِنَّهُۥ
كَانَ لَا يُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ ٱلۡعَظِيمِ ﴿٣٣﴾ وَلَا يَحُضُّ عَلَىٰ طَعَامِ ٱلۡمِسۡكِينِ ﴿٣٤﴾

(١٠) نو نافرمانی ئی وکړه د رسول د رب د دوی
نه نو ونیول (الله) هغوی لره په نیولو سختو سره
(١١) یقینا مونږ کله چه د حد نه تیری شوی اوبه
سواره کړه مونږ تاسو لره په کشتی کښی
(١٢) لپاره د دی چه وګرځوو مونږ دا (واقعه) تاسی
ته پند او یاد وساتی دی لره غوږونه ساتونکی
(١٣) نو کله چه پوکی اوکړی شی په شپیلی
کښی پوکی یو
(١٤) او پورته کړی شی زمکه او غرونه نو
اوبه ټکولی شی په ټکولو یوځل
(١٥) پس په دغی ورځ به واقع شی واقع
کیدونکی افت
(١٦) او اوبه چوی اسمان نو هغه به په دغی
ورځ کمزوری وی
(١٧) او ملایکی به په غاړو د هغی باندی وی
او پورته به کړی عرش د رب ستا د پاسه د
دوی په هغه ورځ کښی اته (ملایکی)
(١٨) په دغه ورځ کښی به تاسی حاضر پیش
کړل شئ (الله ته) پټه به نه پاتی کیږی له
تاسی څخه هیڅ یوه پټه خبره
(١٩) پس هغه څوک چه ورکړی شی عملنامه د
هغه په ښی لاس د ده نو وائی به چه واخلی او
ولولی عملنامه زما
(٢٠) بیشکه ما یقین کاوه چه زه به مخامخ
کیږم د خپل حساب سره
(٢١) نو هغه به په ژوند خوشحاله کښی وی
(٢٢) په جنت اوچت کښیبه وی
(٢٣) چه میوی به ئی نږدی وی
(٢٤) خورئ او څښئ په اشتهاء هضم سره په
سبب د هغی عملونو چه مخکښی کړی ؤ
تاسو په ورځو تیرو شوو کښی
(٢٥) او هغه څوک چه ورکړیشی عملنامه د هغه
په کس (چپ) لاس د هغه کښی نو وائی به های
ارمان چه نه وی راکړی شوی عملنامه زما
(٢٦) او نه وی پوهیدلی زه چه څه دی حساب
زما
(٢٧) های ارمان چه دا مرګ وی ختمونکی ما لره
(٢٨) هیڅ فایده رانکړه مالره مال زما
(٢٩) برباد شوه زما څخه بادشاهی زما
(٣٠) اونیسی دی نو (ستڼ ته ئی) طوق واچوی
(٣١) بیا ئی جهنم ته ور داخل کړی
(٣٢) بیا په یو ځنځیر کښی چه هره ذرعه (کړی)
ئی اویاګزه ده ورننه باسی
(٣٣) یقینا ده ایمان نه لرلو په الله تعالی باندی
چه لوی ذات دی
(٣٤) او تیزی ئی نه ورکوله په خوراک د
مسکینانو باندی
(٣٥) نو نشته ده لره دلته نن ورځ مخلص دوست
(٣٦) او نه خوراک مګر د وینو زوو نه

فَلَيْسَ لَهُ ٱلْيَوْمَ هَٰهُنَا حَمِيمٌ ﴿٣٥﴾ وَلَا طَعَامٌ إِلَّا مِنْ غِسْلِينٍ ﴿٣٦﴾ لَّا يَأْكُلُهُۥٓ
إِلَّا ٱلْخَٰطِـُٔونَ ﴿٣٧﴾ فَلَآ أُقْسِمُ بِمَا تُبْصِرُونَ ﴿٣٨﴾ وَمَا لَا تُبْصِرُونَ ﴿٣٩﴾
إِنَّهُۥ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ ﴿٤٠﴾ وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَاعِرٍ ۚ قَلِيلًا مَّا تُؤْمِنُونَ ﴿٤١﴾
وَلَا بِقَوْلِ كَاهِنٍ ۚ قَلِيلًا مَّا تَذَكَّرُونَ ﴿٤٢﴾ تَنزِيلٌ مِّن رَّبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٤٣﴾ وَلَوْ
تَقَوَّلَ عَلَيْنَا بَعْضَ ٱلْأَقَاوِيلِ ﴿٤٤﴾ لَأَخَذْنَا مِنْهُ بِٱلْيَمِينِ ﴿٤٥﴾ ثُمَّ لَقَطَعْنَا
مِنْهُ ٱلْوَتِينَ ﴿٤٦﴾ فَمَا مِنكُم مِّنْ أَحَدٍ عَنْهُ حَٰجِزِينَ ﴿٤٧﴾ وَإِنَّهُۥ لَتَذْكِرَةٌ
لِّلْمُتَّقِينَ ﴿٤٨﴾ وَإِنَّا لَنَعْلَمُ أَنَّ مِنكُم مُّكَذِّبِينَ ﴿٤٩﴾ وَإِنَّهُۥ لَحَسْرَةٌ عَلَى
ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٥٠﴾ وَإِنَّهُۥ لَحَقُّ ٱلْيَقِينِ ﴿٥١﴾ فَسَبِّحْ بِٱسْمِ رَبِّكَ ٱلْعَظِيمِ ﴿٥٢﴾

## سُورَةُ المَعَارِجِ

ترتيبها ٧٠ — آياتها ٤٤

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

سَأَلَ سَآئِلٌۢ بِعَذَابٍ وَاقِعٍ ﴿١﴾ لِّلْكَٰفِرِينَ لَيْسَ لَهُۥ دَافِعٌ ﴿٢﴾ مِّنَ
ٱللَّهِ ذِى ٱلْمَعَارِجِ ﴿٣﴾ تَعْرُجُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ وَٱلرُّوحُ إِلَيْهِ فِى
يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُۥ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ ﴿٤﴾ فَٱصْبِرْ صَبْرًا جَمِيلًا ﴿٥﴾
إِنَّهُمْ يَرَوْنَهُۥ بَعِيدًا ﴿٦﴾ وَنَرَىٰهُ قَرِيبًا ﴿٧﴾ يَوْمَ تَكُونُ ٱلسَّمَآءُ كَٱلْمُهْلِ
﴿٨﴾ وَتَكُونُ ٱلْجِبَالُ كَٱلْعِهْنِ ﴿٩﴾ وَلَا يَسْـَٔلُ حَمِيمٌ حَمِيمًا ﴿١٠﴾

(٣٧) نه به خوری هغی لره مګر غټ ګناهګاران
(٣٨) نو داسی نه ده قسم کوم زه په هغه څه چه تاسو ئی وینی
(٣٩) او په هغه څه چه تاسو ئی نه وینی
(٤٠) یقینا دا خامخا وینا ده د رسول عزتمند
(٤١) او نه ده دا وینا د شاعر ډیر لږ ایمان راوړی تاسو
(٤٢) او نه ده دا وینا د ترویتی ډیر لږ نصیحت اخلئ تاسو
(٤٣) نازل کړی شوی دی له طرفه د رب د عالمینو نه
(٤٤) او که چیرته ده جوړ کړی وی په مونږ باندی څه خبری دروغ
(٤٥) نو خامخا نیولی به وی مونږ د ده نه ښی لاس
(٤٦) بیا به غوڅ کړي وی مونږ د ده نه رګ د څټ
(٤٧) نو نه به وی ستاسو نه هیڅوک ده لره بچ کونکی
(٤٨) او یقینا دا (قران) نصیحت دی لپاره د متقیانو
(٤٩) او یقینا مونږ خامخا پوهیږو چه شته ستاسو نه تکذیب کونکی
(٥٠) او یقینا دا (قران) خامخا افسوس دی په کافرانو باندی
(٥١) او یقینا دا (قران) خامخا پوخ یقین دی
(٥٢) نو پاکی وایه د نوم د رب ستا چه لوی شان والا دی

# د المعارج سورت

(١) وغوښتو یوغوښتونکی عذاب واقع کیدونکی
(٢) کافرانو لره چه نیشته هغی لره هیڅوک اړونکی
(٣) له طرف د الله تعالی نه چه د اسمانونو والا دی
(٤) ورخیژی هغی ته ملایکی او روح په هغی ورځ کښی چه دی مقدار د هغی پنځوس زره کلونه
(٥) نو صبر کوه صبر ښایسته
(٦) یقینا دوی وینی هغه لری
(٧) او مونږ وینو هغی لره نږدی
(٨) په کومه ورځ چه شی به اسمان پشان د تانبی ویلی کړیشوی
(٩) او شی به غرونه په شان د وړی دانډس کړی شوی
(١٠) تپوس به نه شی کولی یو دوست د بل دوست نه
(١١) تول به ښودلی کیږی دوی ته ارمان به کوی مجرم چه فدیة ورکړی د عذاب د دغی ورځی نه په ځامنو خپلو سره
(١٢) او په ښځی خپلی سره او په ورورخپل سره

يُبَصَّرُونَهُمْ ۚ يَوَدُّ الْمُجْرِمُ لَوْ يَفْتَدِي مِنْ عَذَابِ يَوْمِئِذٍ بِبَنِيهِ ﴿١١﴾
وَصَاحِبَتِهِ وَأَخِيهِ ﴿١٢﴾ وَفَصِيلَتِهِ الَّتِي تُؤْوِيهِ ﴿١٣﴾ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ
جَمِيعًا ثُمَّ يُنْجِيهِ ﴿١٤﴾ كَلَّا ۖ إِنَّهَا لَظَىٰ ﴿١٥﴾ نَزَّاعَةً لِلشَّوَىٰ ﴿١٦﴾ تَدْعُو
مَنْ أَدْبَرَ وَتَوَلَّىٰ ﴿١٧﴾ وَجَمَعَ فَأَوْعَىٰ ﴿١٨﴾ ۞ إِنَّ الْإِنْسَانَ خُلِقَ هَلُوعًا
﴿١٩﴾ إِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ جَزُوعًا ﴿٢٠﴾ وَإِذَا مَسَّهُ الْخَيْرُ مَنُوعًا ﴿٢١﴾ إِلَّا
الْمُصَلِّينَ ﴿٢٢﴾ الَّذِينَ هُمْ عَلَىٰ صَلَاتِهِمْ دَائِمُونَ ﴿٢٣﴾ وَالَّذِينَ فِي
أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَعْلُومٌ ﴿٢٤﴾ لِلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ ﴿٢٥﴾ وَالَّذِينَ يُصَدِّقُونَ
بِيَوْمِ الدِّينِ ﴿٢٦﴾ وَالَّذِينَ هُمْ مِنْ عَذَابِ رَبِّهِمْ مُشْفِقُونَ ﴿٢٧﴾ إِنَّ عَذَابَ
رَبِّهِمْ غَيْرُ مَأْمُونٍ ﴿٢٨﴾ وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ ﴿٢٩﴾ إِلَّا عَلَىٰ
أَزْوَاجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ ﴿٣٠﴾ فَمَنِ ابْتَغَىٰ وَرَاءَ
ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْعَادُونَ ﴿٣١﴾ وَالَّذِينَ هُمْ لِأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ
﴿٣٢﴾ وَالَّذِينَ هُمْ بِشَهَادَاتِهِمْ قَائِمُونَ ﴿٣٣﴾ وَالَّذِينَ هُمْ عَلَىٰ صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ
﴿٣٤﴾ أُولَٰئِكَ فِي جَنَّاتٍ مُكْرَمُونَ ﴿٣٥﴾ فَمَالِ الَّذِينَ كَفَرُوا قِبَلَكَ مُهْطِعِينَ
﴿٣٦﴾ عَنِ الْيَمِينِ وَعَنِ الشِّمَالِ عِزِينَ ﴿٣٧﴾ أَيَطْمَعُ كُلُّ امْرِئٍ مِنْهُمْ
أَنْ يُدْخَلَ جَنَّةَ نَعِيمٍ ﴿٣٨﴾ كَلَّا ۖ إِنَّا خَلَقْنَاهُمْ مِمَّا يَعْلَمُونَ ﴿٣٩﴾

(١٣) او په خاندان خپل هغه چه ده لره ئی ځای ورکوو

(١٤) او هغه خوک چه په زمکه کښی دی تول بیا بچ کړی خپل ځان لره

(١٥) هیڅیری نشی کیدای، یقینا دا ګرمی لمبی دی

(١٦) راخکونکی دی ځرمن د اندامونو لره

(١٧) اواز به کوی هغه چاته چه شاکړی ئی ده او مخ ئی ګرځولی دی

(١٨) او جمع کوی مال نو په لوخو کښی ئی خوندی کړی ؤ

(١٩) یقینا انسان پیدا شوی دی ډیر حرصناک

(٢٠) کله چه ورسیږی ده ته خه مصیبت نو فریادونه کوی

(١٦) او کله چه ورسیږی ده ته خه خیر نو منع کول کوی

(٢٢) لیکن لمونځ کونکی

(٢٣) هغه کسان چه هغوی په خپلو لمونځونو باندی همیشوالی کوی

(٢٤) او هغه کسان چه په مالونو د هغوی کښی حصة ده مقرر

(٢٥) لپاره د غوختونکی او بی برخی

(٢٧) او هغه کسان چه دوی د عذاب د رب خپل نه ویره کونکی دی

(٢٨) یقینا د عذاب د رب د دوی نه خوک (بی ویری) نه دی پکار

(٢٩) او هغه کسان چه د خپلو شرمګاهونو حفاظت کوی

(٣٠) مګر په خپلو ښځو باندی او په وینځوخپلو باندی یقینا دوی نه دی ملامته کړی شوی

(٣١) نو چا چه ولټوله سیوا د دی نه نو دغه کسان دوی د حد نه تیریدونکی دی

(٣٢) او هغه کسان چه دوی د امانتونو خپلو او لوظونو خپلو لحاظ کونکی دی

(٣٣) او هغه کسان چه دوی په شهادتونو کلک ولاړ وی

(٣٤) او هغه کسان چه دوی په لمونځونو خپلو باندی ساتنه کونکی دی

(٣٥) دغه کسان به په جنتونو کښی وی عزتمند

(٣٦) نو څه وجه ده هغی کسانو لره چه کافران دی چه ستا طرف ته رازغلی

(٣٧) د ښی طرف نه او چپ طرف نه ډلی ډلی

(٣٨) ایا طمع لری هر سړی د دوینه چه داخل به کړی شی جنت د نعمتونو ته

(٣٩) هیڅیری داسی نشی کیدای یقینا مونږ پیدا کړی دی دوی د هغه څیز نه چه دوی ئی پیژنی

فَلَآ أُقۡسِمُ بِرَبِّ ٱلۡمَشَٰرِقِ وَٱلۡمَغَٰرِبِ إِنَّا لَقَٰدِرُونَ ﴿٤٠﴾ عَلَىٰٓ أَن نُّبَدِّلَ خَيۡرٗا مِّنۡهُمۡ
وَمَا نَحۡنُ بِمَسۡبُوقِينَ ﴿٤١﴾ فَذَرۡهُمۡ يَخُوضُواْ وَيَلۡعَبُواْ حَتَّىٰ يُلَٰقُواْ يَوۡمَهُمُ ٱلَّذِي
يُوعَدُونَ ﴿٤٢﴾ يَوۡمَ يَخۡرُجُونَ مِنَ ٱلۡأَجۡدَاثِ سِرَاعٗا كَأَنَّهُمۡ إِلَىٰ نُصُبٖ يُوفِضُونَ
﴿٤٣﴾ خَٰشِعَةً أَبۡصَٰرُهُمۡ تَرۡهَقُهُمۡ ذِلَّةٞۚ ذَٰلِكَ ٱلۡيَوۡمُ ٱلَّذِي كَانُواْ يُوعَدُونَ ﴿٤٤﴾

## سُورَةُ نُوحٍ

ترتيبها ٧١ — آياتها ٢٨

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

إِنَّآ أَرۡسَلۡنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوۡمِهِۦٓ أَنۡ أَنذِرۡ قَوۡمَكَ مِن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَهُمۡ
عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿١﴾ قَالَ يَٰقَوۡمِ إِنِّي لَكُمۡ نَذِيرٞ مُّبِينٌ ﴿٢﴾ أَنِ ٱعۡبُدُواْ
ٱللَّهَ وَٱتَّقُوهُ وَأَطِيعُونِ ﴿٣﴾ يَغۡفِرۡ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمۡ وَيُؤَخِّرۡكُمۡ
إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمًّىۚ إِنَّ أَجَلَ ٱللَّهِ إِذَا جَآءَ لَا يُؤَخَّرُۚ لَوۡ كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ
﴿٤﴾ قَالَ رَبِّ إِنِّي دَعَوۡتُ قَوۡمِي لَيۡلٗا وَنَهَارٗا ﴿٥﴾ فَلَمۡ يَزِدۡهُمۡ دُعَآءِيٓ إِلَّا
فِرَارٗا ﴿٦﴾ وَإِنِّي كُلَّمَا دَعَوۡتُهُمۡ لِتَغۡفِرَ لَهُمۡ جَعَلُوٓاْ أَصَٰبِعَهُمۡ
فِيٓ ءَاذَانِهِمۡ وَٱسۡتَغۡشَوۡاْ ثِيَابَهُمۡ وَأَصَرُّواْ وَٱسۡتَكۡبَرُواْ ٱسۡتِكۡبَارٗا
﴿٧﴾ ثُمَّ إِنِّي دَعَوۡتُهُمۡ جِهَارٗا ﴿٨﴾ ثُمَّ إِنِّيٓ أَعۡلَنتُ لَهُمۡ وَأَسۡرَرۡتُ
لَهُمۡ إِسۡرَارٗا ﴿٩﴾ فَقُلۡتُ ٱسۡتَغۡفِرُواْ رَبَّكُمۡ إِنَّهُۥ كَانَ غَفَّارٗا ﴿١٠﴾

(٤٠) نو داسی نه ده زما دی قسم وی په رب د مشرقونو او مغربونو باندی یقینا مونږ خامخا د قدرت والا یو

(٤١) په دی خبره چه بدل کښی راولو غوره د دوی نه او نه یو مونږ کمزوری

(٤٢) نو پریږده دوی چه عبثی خبری کوی او لوبی کوی تر دی پوری چه مخامخ به شی د هغی ورځ سره چه دوی سره ئی وعده کیدای شی

(٤٣) په هغه ورځ چه دوی به را اوځی د قبرونو نه په تادئ سره ګویا که دوی خپلو نښو ته ورزغلی

(٤٤) کوزی به وی سترګی د دوی پټ کړی به وی دوی لره ذلت (رسوائی) دا ورځ ده هغه چه دوی سره ئی وعده کیدای شوه

# د نوح سورت

(١) بیشکه مونږ لیږلی ؤ نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ قوم خپل ته چه وویروه ته قوم خپل پخوا له هغی ځنی چه راشی دوی ته عذاب دردونکی

(٢) وویل نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ ای قومه زما بیشکه زه ستاسو لپاره ویرونکی ښکاره یم

(٣) چه بندګی کوی تاسو الله لره او وویریږی له الله ځنی او ومنی تاسو زما خبری

(٤) نو وبه بښی تاسو ته ګناهونه ستاسو او روسته به کړی تاسو لره تر نیتی مقرری پوری یقینا نیته د الله تعالی چه کله راشی نو نه روسته کیږی که تاسو پوهیږی

(٥) هغه وویل ای ربه زما یقینا ما بللی دی (توحید ته) قوم خپل شپه او ورځ

(٦) نو زیاتی نه کړه دوی لره رابللو زما مګر مګر تیخته کول

(٧) او یقینا هر کله چه ما رابللی دی دوی (توحید ته) لپاره د دی چه ته ببښنه وکړی دویته نو ننباسی دوی ګوتی خپلی په غوږونو خپلو کښی او پټ کړی دوی ځانونه خپل په جامو کښی او همیشوالی کوی (په کفر خپل) او لوئی کوی دوی ډیره لوئی

(٩) بیا یقینا ښکاره وینا کړیده ما دوی ته او پټ پټ می ویلی دی دوی ته په پټ ویلو سره

(١٠) نو ما وویل(دوی ته) چه ببښنه غواړی د رب خپل نه یقینا هغه دی ببښنه کونکی

(١١) را وبه لیږی بارانونه په تاسو باندی پرله پسی

(١٢) او زیات به کړی تاسو لره مالونه او ځامن او درکوی به تاسو لره باغونه او وبه ګرځوی تاسو لره نهرونه

يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُم مِّدْرَارًا ﴿١١﴾ وَيُمْدِدْكُم بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَل
لَّكُمْ جَنَّاتٍ وَيَجْعَل لَّكُمْ أَنْهَارًا ﴿١٢﴾ مَّا لَكُمْ لَا تَرْجُونَ لِلَّهِ وَقَارًا ﴿١٣﴾
وَقَدْ خَلَقَكُمْ أَطْوَارًا ﴿١٤﴾ أَلَمْ تَرَوْا كَيْفَ خَلَقَ اللَّهُ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ
طِبَاقًا ﴿١٥﴾ وَجَعَلَ الْقَمَرَ فِيهِنَّ نُورًا وَجَعَلَ الشَّمْسَ سِرَاجًا ﴿١٦﴾
وَاللَّهُ أَنبَتَكُم مِّنَ الْأَرْضِ نَبَاتًا ﴿١٧﴾ ثُمَّ يُعِيدُكُمْ فِيهَا وَيُخْرِجُكُمْ
إِخْرَاجًا ﴿١٨﴾ وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ بِسَاطًا ﴿١٩﴾ لِّتَسْلُكُوا مِنْهَا
سُبُلًا فِجَاجًا ﴿٢٠﴾ قَالَ نُوحٌ رَّبِّ إِنَّهُمْ عَصَوْنِي وَاتَّبَعُوا مَن لَّمْ يَزِدْهُ
مَالُهُ وَوَلَدُهُ إِلَّا خَسَارًا ﴿٢١﴾ وَمَكَرُوا مَكْرًا كُبَّارًا ﴿٢٢﴾ وَقَالُوا
لَا تَذَرُنَّ آلِهَتَكُمْ وَلَا تَذَرُنَّ وَدًّا وَلَا سُوَاعًا وَلَا يَغُوثَ وَيَعُوقَ
وَنَسْرًا ﴿٢٣﴾ وَقَدْ أَضَلُّوا كَثِيرًا وَلَا تَزِدِ الظَّالِمِينَ إِلَّا ضَلَالًا ﴿٢٤﴾
مِّمَّا خَطِيئَاتِهِمْ أُغْرِقُوا فَأُدْخِلُوا نَارًا فَلَمْ يَجِدُوا لَهُم مِّن دُونِ
اللَّهِ أَنصَارًا ﴿٢٥﴾ وَقَالَ نُوحٌ رَّبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْأَرْضِ مِنَ الْكَافِرِينَ
دَيَّارًا ﴿٢٦﴾ إِنَّكَ إِن تَذَرْهُمْ يُضِلُّوا عِبَادَكَ وَلَا يَلِدُوا إِلَّا فَاجِرًا
كَفَّارًا ﴿٢٧﴾ رَّبِّ اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ وَلِمَن دَخَلَ بَيْتِيَ
مُؤْمِنًا وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَلَا تَزِدِ الظَّالِمِينَ إِلَّا تَبَارًا ﴿٢٨﴾

﴿١٣﴾ څه شوی دی په تاسو باندی چه امید (ارزو) نه لرئ له الله څخه د وقار لوئی او عزت

﴿١٤﴾ او یقینا پیدا کړی ئی تاسو په مختلف حالتونو باندی

﴿١٥﴾ ایا نه ګوری تاسو چه څرنګ پیدا کړی دی الله تعالی اوه اسمانونه لاندی باندی

﴿١٦﴾ او ګرځولی ئی ده سپوږمی په دی اسمانونو کښی رڼا او ګرځولی ئی دی لمر چراغ بلیدونکی

﴿١٧﴾ او الله تعالی زرغون کړی ئی تاسو د زمکی نه په زرغونولو سره

﴿١٨﴾ بیا به واپس کړی تاسو لره په هغی کښی او بیا به راوباسیتاسی په راویستلو سره

﴿١٩﴾ او الله ګرځولی ده ستاسو لپاره زمکه غوړیدلی فرش

﴿٢٠﴾ لپاره د دی چه چه ګرځئ تاسو د هغی نه په لارو پراخو کښی

﴿٢١﴾ وویل نوح عليه‌السلام ای ربه زما یقینا دوی نافرمانی کوی زما او تابعداری کوی دوی د هغه چا چه نه زیاتوی هغه لره مال د هغه او اولاد دهغه مګر تاوان

﴿٢٢﴾ او چلونه وکړل دوی چلونه لوی

﴿٢٣﴾ او ویل به دوی مه پریږدئ معبودان خپل او مه پریږدئ ود سواع یغوث یعوق او نسر لره

﴿٢٤﴾ او یقینا ګمراه کړل دوی ډیر خلق او مه زیاتوه ظالمانو لره مګر ګمراهی

﴿٢٥﴾ په سبب د ګناهونو خپلو غرق کړی شول دوی نو داخل کړی شول اور ته نو دوی به ونه مومی د ځان لپاره ماسوا د الله تعالی نه مددګاران

﴿٢٦﴾ او وویل نوح عليه‌السلام ای ربه زما مه پریږده په زمکه باندی د کافرانو نه یو کور اباد

﴿٢٧﴾ یقینا ته که چیرته پریږدی دوی لره نو ګمراه به کړی بندګان ستا او نه زیږوی دوی مګر بدکار ډیر کفر کونکی

﴿٢٨﴾ ای ربه زما ببښنه وکړی ماته او موراو پلار زما ته او هغه چاته چه ننوځی کور زما ته په داسی حال کښی چه ایمان دار وی او ټولو مؤمنانو نارینه و ته او مؤمنانو ښځو ته او مه زیاتوی ظالمانو لره مګر تباهی

# د الجن سورت

سُورَةُ الْجِنِّ — ترتيبها ٧٢ — آياتها ٢٨

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

قُلْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنَّهُ ٱسْتَمَعَ نَفَرٌ مِّنَ ٱلْجِنِّ فَقَالُوٓا۟ إِنَّا سَمِعْنَا قُرْءَانًا
عَجَبًا ﴿١﴾ يَهْدِىٓ إِلَى ٱلرُّشْدِ فَـَٔامَنَّا بِهِۦ ۖ وَلَن نُّشْرِكَ بِرَبِّنَآ أَحَدًا ﴿٢﴾
وَأَنَّهُۥ تَعَٰلَىٰ جَدُّ رَبِّنَا مَا ٱتَّخَذَ صَٰحِبَةً وَلَا وَلَدًا ﴿٣﴾ وَأَنَّهُۥ كَانَ
يَقُولُ سَفِيهُنَا عَلَى ٱللَّهِ شَطَطًا ﴿٤﴾ وَأَنَّا ظَنَنَّآ أَن لَّن تَقُولَ ٱلْإِنسُ
وَٱلْجِنُّ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا ﴿٥﴾ وَأَنَّهُۥ كَانَ رِجَالٌ مِّنَ ٱلْإِنسِ يَعُوذُونَ بِرِجَالٍ
مِّنَ ٱلْجِنِّ فَزَادُوهُمْ رَهَقًا ﴿٦﴾ وَأَنَّهُمْ ظَنُّوا۟ كَمَا ظَنَنتُمْ أَن لَّن يَبْعَثَ
ٱللَّهُ أَحَدًا ﴿٧﴾ وَأَنَّا لَمَسْنَا ٱلسَّمَآءَ فَوَجَدْنَٰهَا مُلِئَتْ حَرَسًا
شَدِيدًا وَشُهُبًا ﴿٨﴾ وَأَنَّا كُنَّا نَقْعُدُ مِنْهَا مَقَٰعِدَ لِلسَّمْعِ ۖ فَمَن
يَسْتَمِعِ ٱلْـَٔانَ يَجِدْ لَهُۥ شِهَابًا رَّصَدًا ﴿٩﴾ وَأَنَّا لَا نَدْرِىٓ أَشَرٌّ أُرِيدَ
بِمَن فِى ٱلْأَرْضِ أَمْ أَرَادَ بِهِمْ رَبُّهُمْ رَشَدًا ﴿١٠﴾ وَأَنَّا مِنَّا ٱلصَّٰلِحُونَ
وَمِنَّا دُونَ ذَٰلِكَ ۖ كُنَّا طَرَآئِقَ قِدَدًا ﴿١١﴾ وَأَنَّا ظَنَنَّآ أَن لَّن نُّعْجِزَ
ٱللَّهَ فِى ٱلْأَرْضِ وَلَن نُّعْجِزَهُۥ هَرَبًا ﴿١٢﴾ وَأَنَّا لَمَّا سَمِعْنَا ٱلْهُدَىٰٓ
ءَامَنَّا بِهِۦ ۖ فَمَن يُؤْمِنۢ بِرَبِّهِۦ فَلَا يَخَافُ بَخْسًا وَلَا رَهَقًا ﴿١٣﴾

(١) ته وواېه وحی شویده ماته چه یقینا غوږ یخی دی یوی ډلی د پیریانو نه نو دوی وویل یقینا مونږ اوریدلی دی قران نا اشنا (مضمون والا)

(٢) هدایت کوی لاری ښی او حق ته نو ایمان راوړی دی مونږ په هغی (قران) باندی او هیڅکله به نه شریکوو د رب خپل سره هیڅوک

(٣) او یقینا اوچت دی شان د رب زمونږ او نه ئی دی نیولی ملګری او نه بچی

(٤) او یقینا شان دا دی چه ویل به ناپوهانو زمونږ پر الله تعالی باندی خبری لری د حق او صواب نه

(٥) او یقینا مونږ ګمان کوو چه هیڅیری به ونه وائی انسانان او پیریان په الله تعالی باندی دروغ

(٦) او یقینا شان دا دی چه او به ډیر سړی د انسانانو نه چه پناه به ئی غوختله په سړو د پیریانو باندی نو زیات کړه (دی انسانانو) هغی لره سرکشی

(٧) او یقینا دوی ګمان کوو لکه چه ګمان کوی تاسو چه هیڅیری به دوباره ژوندی نه کړی هیڅ چا لره

(٨) او یقینا مونږ ورسیدو اسمان ته (لپاره د غوږ نیولو خبرو ته) نو ومو مونده هغه ډک کړی شوی له څوکیدارانو سختو او شغلو نه

(٩) او یقینا مونږ اوو چه کیناستلو به (پخوا د رالیږلو د دی پیغمبر نه) د دی اسمان نه په ځایونو د کیناستلو د هغی کښی د پاره د غوږ سارنی نو هغه څوک چه اوریدل غواړی اوس مومی لپاره د ځان خپل لمبه د اور تیاره

(١٠) او یقینا مونږ نه پوهیږو چه ایا د بدی اراده شو یده په هغه چا باندی چه په زمکه کښی دی او که اراده کړیده الله تعالی په دوی باندی د هدایت

(١١) او یقینا ځنی زمونږ نه نیکان دی او بعض د دینه سوا دی او ؤ مونږ ډلی مختلفو لارو والا

(١٢) او یقینا مونږ ګمان کوو چه هیڅیری نه شوه عاجزه کولی الله تعالی لره په زمکه کښی او نه شو عاجزه کولی هغی لره په تیختی سره

(١٣) او یقینا هر کله چه واوریدو مونږ هدایت نو ایمان راوړه مونږ په هغی باندی نو چا چه ایمان راوړو په رب خپل نو نه به ویریږی د نقصان نه او نه د زیاتی نه

وَأَنَّا مِنَّا ٱلْمُسْلِمُونَ وَمِنَّا ٱلْقَٰسِطُونَ ۖ فَمَنْ أَسْلَمَ فَأُو۟لَٰٓئِكَ
تَحَرَّوْا۟ رَشَدًا ﴿١٤﴾ وَأَمَّا ٱلْقَٰسِطُونَ فَكَانُوا۟ لِجَهَنَّمَ حَطَبًا ﴿١٥﴾
وَأَلَّوِ ٱسْتَقَٰمُوا۟ عَلَى ٱلطَّرِيقَةِ لَأَسْقَيْنَٰهُم مَّآءً غَدَقًا ﴿١٦﴾ لِّنَفْتِنَهُمْ
فِيهِ ۚ وَمَن يُعْرِضْ عَن ذِكْرِ رَبِّهِۦ يَسْلُكْهُ عَذَابًا صَعَدًا ﴿١٧﴾ وَأَنَّ
ٱلْمَسَٰجِدَ لِلَّهِ فَلَا تَدْعُوا۟ مَعَ ٱللَّهِ أَحَدًا ﴿١٨﴾ وَأَنَّهُۥ لَمَّا قَامَ عَبْدُ ٱللَّهِ
يَدْعُوهُ كَادُوا۟ يَكُونُونَ عَلَيْهِ لِبَدًا ﴿١٩﴾ قُلْ إِنَّمَآ أَدْعُوا۟ رَبِّى وَلَآ أُشْرِكُ
بِهِۦٓ أَحَدًا ﴿٢٠﴾ قُلْ إِنِّى لَآ أَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَلَا رَشَدًا ﴿٢١﴾ قُلْ إِنِّى
لَن يُجِيرَنِى مِنَ ٱللَّهِ أَحَدٌ وَلَنْ أَجِدَ مِن دُونِهِۦ مُلْتَحَدًا ﴿٢٢﴾ إِلَّا بَلَٰغًا
مِّنَ ٱللَّهِ وَرِسَٰلَٰتِهِۦ ۚ وَمَن يَعْصِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَإِنَّ لَهُۥ نَارَ جَهَنَّمَ
خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ﴿٢٣﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا رَأَوْا۟ مَا يُوعَدُونَ فَسَيَعْلَمُونَ
مَنْ أَضْعَفُ نَاصِرًا وَأَقَلُّ عَدَدًا ﴿٢٤﴾ قُلْ إِنْ أَدْرِىٓ أَقَرِيبٌ
مَّا تُوعَدُونَ أَمْ يَجْعَلُ لَهُۥ رَبِّىٓ أَمَدًا ﴿٢٥﴾ عَٰلِمُ ٱلْغَيْبِ فَلَا
يُظْهِرُ عَلَىٰ غَيْبِهِۦٓ أَحَدًا ﴿٢٦﴾ إِلَّا مَنِ ٱرْتَضَىٰ مِن رَّسُولٍ فَإِنَّهُۥ
يَسْلُكُ مِنۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِۦ رَصَدًا ﴿٢٧﴾ لِّيَعْلَمَ أَن قَدْ أَبْلَغُوا۟
رِسَٰلَٰتِ رَبِّهِمْ وَأَحَاطَ بِمَا لَدَيْهِمْ وَأَحْصَىٰ كُلَّ شَىْءٍ عَدَدًۢا ﴿٢٨﴾

(۱۴) او یقینا بعض زمونږ نه مسلمانان دی او بعض زمونږ نه ظالمان (کاږه) دی (له لاری حقی نه) نو چا چه اسلام راوړه نو دغی کسانو ومندله لار د هدایت

(۱۵) او هر هغه څوک چه کاږه روان دی نو دوی دی د جهنم لپاره خاشاک

(۱۶) او (بله وحی راغلی ده ماته) که چیری دا خلک برابر شوه په لاری سمه نو خامخا وبه څښوو په دوی باندی مونږ اوبه ډیری

(۱۷) د دی لپاره چه ازمیښت وکړو مونږ په دوی باندی په دغی (نعمت کښی) او چا چه مخ واړو له ذکر د رب خپل نه نو داخل به کړی ده لره عذاب سخت ته

(۱۸) او یقینا جماتونه (او یا اندامونه د سجدی) خاص د الله لپاره دی نو مه رابلی د الله تعالی سره بل څوک مددګاران

(۱۹) او بیشکه شان دا دی کله چه ودریده بنده د الله چه رابله ئی هغه لره نو نږدی وی خلک چه په هغی باندی راپڼډ شی

(۲۰) ته ووایه یقینا زه رابلم رب خپل او نه شریکوم د هغه سره هیڅوک

(۲۱) ته ووایه یقینا زه نه لرم هیڅ اختیار د ضرر او نه د فایدی

(۲۲) ووایه ته (ای محمده) یقینا زه هیچیری پناهی نه شی راکولی ما لره د الله تعالی نه هیڅوک او هیچیری به ونه مومم سیوا د هغی نه ځای د پناهی

(۲۳) مګر (رسول کوم) رسول د الله له طرفه او پیغامونه د هغه او چا چه نافرمانی وکړه د الله تعالی او د رسول د هغی نه نو یقینا هغه لره اور د جهنم دی همیشه به وی په هغی کښی همیشه

(۲۴) تر هغی پوری هرکله چه ووینی هغه (عذاب) چه دوی سره ئی وعده کیدی شی نو زر دی چه پوهه به شی چه څوک دی کمزوری امدادی او لږ شمیر والا

(۲۵) ووایه ته نه پوهیږم زه ایا نږدی دی هغه چه تاسو سره ئی وعده کیدای شی او یا به وګرځوی هغی لره رب زما لری

(۲۶) عالم دی په پټوخبرو(غیبو) باندی نو نه خبروی په غیبو خپلو باندی هیڅوک

(۲۷) مګر هغه څوک چه غوره کړی ئی وی کوم پیغمبر نو یقینا روان کړی مخی د هغی ته او روسته د هغه څوکیداران

(۲۸) لپاره د دی چه پوهه شی چه یقینا رسولی دی دوی پیغامونه د رب خپل او راګیر کړیدی (الله) هغه چه د دوی سره دی او شمارلی دی (الله) هر شی په اعتبار د عدد سره

# د المزمل سورت

سُورَةُ المُزَّمِّلِ — ترتيبها ٧٣ — آياتها ٢٠

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمُزَّمِّلُ ﴿١﴾ قُمِ ٱلَّيْلَ إِلَّا قَلِيلًا ﴿٢﴾ نِّصْفَهُۥٓ أَوِ ٱنقُصْ مِنْهُ قَلِيلًا
﴿٣﴾ أَوْ زِدْ عَلَيْهِ وَرَتِّلِ ٱلْقُرْءَانَ تَرْتِيلًا ﴿٤﴾ إِنَّا سَنُلْقِى عَلَيْكَ قَوْلًا
ثَقِيلًا ﴿٥﴾ إِنَّ نَاشِئَةَ ٱلَّيْلِ هِىَ أَشَدُّ وَطْـًٔا وَأَقْوَمُ قِيلًا ﴿٦﴾ إِنَّ لَكَ فِى
ٱلنَّهَارِ سَبْحًا طَوِيلًا ﴿٧﴾ وَٱذْكُرِ ٱسْمَ رَبِّكَ وَتَبَتَّلْ إِلَيْهِ تَبْتِيلًا ﴿٨﴾
رَّبُّ ٱلْمَشْرِقِ وَٱلْمَغْرِبِ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ فَٱتَّخِذْهُ وَكِيلًا ﴿٩﴾ وَٱصْبِرْ
عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ وَٱهْجُرْهُمْ هَجْرًا جَمِيلًا ﴿١٠﴾ وَذَرْنِى وَٱلْمُكَذِّبِينَ
أُو۟لِى ٱلنَّعْمَةِ وَمَهِّلْهُمْ قَلِيلًا ﴿١١﴾ إِنَّ لَدَيْنَآ أَنكَالًا وَجَحِيمًا ﴿١٢﴾
وَطَعَامًا ذَا غُصَّةٍ وَعَذَابًا أَلِيمًا ﴿١٣﴾ يَوْمَ تَرْجُفُ ٱلْأَرْضُ وَٱلْجِبَالُ
وَكَانَتِ ٱلْجِبَالُ كَثِيبًا مَّهِيلًا ﴿١٤﴾ إِنَّآ أَرْسَلْنَآ إِلَيْكُمْ رَسُولًا شَٰهِدًا
عَلَيْكُمْ كَمَآ أَرْسَلْنَآ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ رَسُولًا ﴿١٥﴾ فَعَصَىٰ فِرْعَوْنُ ٱلرَّسُولَ
فَأَخَذْنَٰهُ أَخْذًا وَبِيلًا ﴿١٦﴾ فَكَيْفَ تَتَّقُونَ إِن كَفَرْتُمْ يَوْمًا يَجْعَلُ
ٱلْوِلْدَٰنَ شِيبًا ﴿١٧﴾ ٱلسَّمَآءُ مُنفَطِرٌۢ بِهِۦ ۚ كَانَ وَعْدُهُۥ مَفْعُولًا ﴿١٨﴾
إِنَّ هَٰذِهِۦ تَذْكِرَةٌ ۖ فَمَن شَآءَ ٱتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ سَبِيلًا ﴿١٩﴾

﴿١﴾ ای نغښتونکیه د ځان په جامه کښی
﴿٢﴾ اودریږه د شپی مګر لږ
﴿٣﴾ نیمه د هغی یا کم کړه د هغی نه لږ
﴿٤﴾ او یا زیات کړه په هغی باندی او صفا واضح لوله قران په صفا لوستلو سره
﴿٥﴾ بیشکه مونږ غورځونکی یو په تا باندی وینا درنه (یعنی قران)
﴿٦﴾ یقینا پاځیدل د شپی دا کلک برابرونکی دی د زړه او ښه سیده کونکی د وینا دی
﴿٧﴾ یقینا ستا لپاره په ورځ کښی کارونه اوږده دی
﴿٨﴾ نو یادوه نوم د رب ستا او ځان جدا کړه هغه طرف ته (د هرڅه نه) ځان جدا کول
﴿٩﴾ رب د مشرق دی او د مغرب دی نشته حقدار د بندګی سیوا دهغه نه نو اونیسه هغه لره کارجوړونکی
﴿١٠﴾ او صبر کوه په هغو خبرو چه دوی ئی وائی او پریږده دوی لره په پریخودلو خایستو سره
﴿١١﴾ او پریږده ما او دروغجن کونکی چه خاوندان د نعمتونو دی او مهلت ورکړه دوی ته لږ مهلت
﴿١٢﴾ یقینا زمونږ سره زلونی دی او اور سوزونکی دی
﴿١٣﴾ او طعام دی چه نښتونکی به وی په مری کښی او عذاب دردونکی دی
﴿١٤﴾ په کومه ورځ چه وبه لړزیږی زمکه او غرونه او شی به غرونه ډیری د شړی بهیدونکی
﴿١٥﴾ یقینا مونږ را لیږلی تاسو ته رسول شاهد په تاسی باندی لکه څرنګ چه لیږلی ؤ مونږ فرعون ته استاذی (رسول)
﴿١٦﴾ نو نافرمانی وکړه فرعون د هغه رسول نو ونیو مونږ دی په سختو نیولو سره
﴿١٧﴾ پس څرنګه به وساتئ (ځانونه خپل) که چیرته کفر وکړئ تاسو له (عذاب) د هغی ورځی نه چه اوبه ګرځی ماشومان بوډاګان
﴿١٨﴾ اسمان به وشلیږی په دغه ورځ ده وعده د رب ستا کیدونکی
﴿١٩﴾ یقینا دا (سورت) نصیحت دی نو څوک چه غواړی ودنیسی خپل رب ته لار
﴿٢٠﴾ یقینا رب ستا پوهیږی چه ته اودریږی کم د دوو برخو د شپی څخه او نیمه برخه د شپی او دریمه برخه د شپی او یوه ډله د هغو کسانو نه چه تاسره دی او الله تعالی پوره اندازه کوی شپه او ورځ پوهه دی (الله) په

۞ إِنَّ رَبَّكَ يَعۡلَمُ أَنَّكَ تَقُومُ أَدۡنَىٰ مِن ثُلُثَيِ ٱلَّيۡلِ وَنِصۡفَهُۥ وَثُلُثَهُۥ وَطَآئِفَةٞ
مِّنَ ٱلَّذِينَ مَعَكَۚ وَٱللَّهُ يُقَدِّرُ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَۚ عَلِمَ أَن لَّن تُحۡصُوهُ فَتَابَ
عَلَيۡكُمۡۖ فَٱقۡرَءُواْ مَا تَيَسَّرَ مِنَ ٱلۡقُرۡءَانِۚ عَلِمَ أَن سَيَكُونُ مِنكُم مَّرۡضَىٰ
وَءَاخَرُونَ يَضۡرِبُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ يَبۡتَغُونَ مِن فَضۡلِ ٱللَّهِ وَءَاخَرُونَ
يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۖ فَٱقۡرَءُواْ مَا تَيَسَّرَ مِنۡهُۚ وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ
ٱلزَّكَوٰةَ وَأَقۡرِضُواْ ٱللَّهَ قَرۡضًا حَسَنٗاۚ وَمَا تُقَدِّمُواْ لِأَنفُسِكُم مِّنۡ خَيۡرٖ تَجِدُوهُ
عِندَ ٱللَّهِ هُوَ خَيۡرٗا وَأَعۡظَمَ أَجۡرٗاۚ وَٱسۡتَغۡفِرُواْ ٱللَّهَۖ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمُۢ ﴿٢٠﴾

## سُورَةُ المُدَّثِّرِ

ترتيبها ٧٤ — آياتها ٢٠

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمُدَّثِّرُ ﴿١﴾ قُمۡ فَأَنذِرۡ ﴿٢﴾ وَرَبَّكَ فَكَبِّرۡ ﴿٣﴾ وَثِيَابَكَ فَطَهِّرۡ ﴿٤﴾
وَٱلرُّجۡزَ فَٱهۡجُرۡ ﴿٥﴾ وَلَا تَمۡنُن تَسۡتَكۡثِرُ ﴿٦﴾ وَلِرَبِّكَ فَٱصۡبِرۡ ﴿٧﴾
فَإِذَا نُقِرَ فِي ٱلنَّاقُورِ ﴿٨﴾ فَذَٰلِكَ يَوۡمَئِذٖ يَوۡمٌ عَسِيرٌ ﴿٩﴾ عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ
غَيۡرُ يَسِيرٖ ﴿١٠﴾ ذَرۡنِي وَمَنۡ خَلَقۡتُ وَحِيدٗا ﴿١١﴾ وَجَعَلۡتُ لَهُۥ مَالٗا
مَّمۡدُودٗا ﴿١٢﴾ وَبَنِينَ شُهُودٗا ﴿١٣﴾ وَمَهَّدتُّ لَهُۥ تَمۡهِيدٗا ﴿١٤﴾ ثُمَّ يَطۡمَعُ
أَنۡ أَزِيدَ ﴿١٥﴾ كَلَّآۖ إِنَّهُۥ كَانَ لِأٓيَٰتِنَا عَنِيدٗا ﴿١٦﴾ سَأُرۡهِقُهُۥ صَعُودًا ﴿١٧﴾

دی شان چه تاسو هیچیری نه شئ پوره کولی دا اندازه نو اسانتیا ئی راوستله په تاسو باندی پس لولئ تاسو هغه چه اسان دی د قران نه پوهه دی چه خامخا به وی ستاسی نه ځنی ناجوړه او نور کسان به سفر کوی په زمکه کښی لټوی به د فضل د الله تعالی نه او نور کسان چه جنګ کوی په لار د الله تعالی کښی نو لولئ هغه چه اسان دی د دینه (قران) او پابندی کوئ د لمونځ او ورکوئ زکاة او قرض ورکړئ الله تعالی ته قرض ښه او هغه چه مخکی ئی لیږئ تاسو د خپلو ځانونو لپاره څه نیک عمل نو اوبه مومی تاسو (ثواب) د هغی د الله تعالی سره غوره او ډیر لوئ اجر او ښښنه غواړئ د الله تعالی نه یقینا الله تعالی ښښنه کونکی او رحم کونکی دی

# د المدثر سورت

(١) ای په کمپل کښی نغښتونکیه (له هیبته د وحی)
(٢) ودرېږه نو ویره ورکړه
(٣) او خاص د خپل رب لوئی وایه
(٤) او پاکی ساته جامی خپلی
(٥) او د هری پلیتی نه ډډه وکړه
(٦) او مه کوه داسی (لږ) احسان چه بدل ئی ډیر غواړی
(٧) او خاص د رب خپل لپاره صبر کوه
(٨) پس کله چه پوکی وکړی شی په شپیلی کښی
(٩) نو دا په دغه ورځ ورځ ډیره سخته ده
(١٠) په کافرانو باندی نده اسانیدونکی
(١١) پرېږده ما او هغه څوک چه پیدا کړی دی ما یواځی
(١٢) او ورکړیدی ما هغی لره مالونه خواره واره
(١٣) او ځامن حاضر
(١٤) او تیارکړیدی ما هغه لره سامانونه تیار
(١٥) بیا طمع لری چه لا به ښه زیات کړم (دغه څیزونه)
(١٦) هیچیری نشی کیدی یقینا دی زمونږ د ایاتونو سره عناد کونکی دی
(١٧) نو خامخا وبه خیژوم ده لره په لویه چړائی باندی
(١٨) یقینا ده سوچ وکړه او اندازه ئی ولګوله
(١٩) نو پس تباه دی شی څرنګه اندازه ئی ولګوله
(٢٠) بیا دی تباه شی چه څرنګ اندازه ئی ولګوله
(٢١) بیائی وکتل

إِنَّهُۥ فَكَّرَ وَقَدَّرَ (١٨) فَقُتِلَ كَيۡفَ قَدَّرَ (١٩) ثُمَّ قُتِلَ كَيۡفَ قَدَّرَ (٢٠) ثُمَّ نَظَرَ
(٢١) ثُمَّ عَبَسَ وَبَسَرَ (٢٢) ثُمَّ أَدۡبَرَ وَٱسۡتَكۡبَرَ (٢٣) فَقَالَ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا سِحۡرٞ
يُؤۡثَرُ (٢٤) إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا قَوۡلُ ٱلۡبَشَرِ (٢٥) سَأُصۡلِيهِ سَقَرَ (٢٦) وَمَآ أَدۡرَىٰكَ
مَا سَقَرُ (٢٧) لَا تُبۡقِي وَلَا تَذَرُ (٢٨) لَوَّاحَةٞ لِّلۡبَشَرِ (٢٩) عَلَيۡهَا تِسۡعَةَ عَشَرَ
(٣٠) وَمَا جَعَلۡنَآ أَصۡحَٰبَ ٱلنَّارِ إِلَّا مَلَٰٓئِكَةٗۙ وَمَا جَعَلۡنَا عِدَّتَهُمۡ إِلَّا فِتۡنَةٗ
لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ لِيَسۡتَيۡقِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ وَيَزۡدَادَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِيمَٰنٗاۙ
وَلَا يَرۡتَابَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَۙ وَلِيَقُولَ ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٞ
وَٱلۡكَٰفِرُونَ مَاذَآ أَرَادَ ٱللَّهُ بِهَٰذَا مَثَلٗاۚ كَذَٰلِكَ يُضِلُّ ٱللَّهُ مَن يَشَآءُ وَيَهۡدِي
مَن يَشَآءُۚ وَمَا يَعۡلَمُ جُنُودَ رَبِّكَ إِلَّا هُوَۚ وَمَا هِيَ إِلَّا ذِكۡرَىٰ لِلۡبَشَرِ (٣١) كَلَّا
وَٱلۡقَمَرِ (٣٢) وَٱلَّيۡلِ إِذۡ أَدۡبَرَ (٣٣) وَٱلصُّبۡحِ إِذَآ أَسۡفَرَ (٣٤) إِنَّهَا لَإِحۡدَى
ٱلۡكُبَرِ (٣٥) نَذِيرٗا لِّلۡبَشَرِ (٣٦) لِمَن شَآءَ مِنكُمۡ أَن يَتَقَدَّمَ أَوۡ يَتَأَخَّرَ (٣٧) كُلُّ
نَفۡسِۭ بِمَا كَسَبَتۡ رَهِينَةٌ (٣٨) إِلَّآ أَصۡحَٰبَ ٱلۡيَمِينِ (٣٩) فِي جَنَّٰتٖ يَتَسَآءَلُونَ
(٤٠) عَنِ ٱلۡمُجۡرِمِينَ (٤١) مَا سَلَكَكُمۡ فِي سَقَرَ (٤٢) قَالُواْ لَمۡ نَكُ مِنَ
ٱلۡمُصَلِّينَ (٤٣) وَلَمۡ نَكُ نُطۡعِمُ ٱلۡمِسۡكِينَ (٤٤) وَكُنَّا نَخُوضُ مَعَ
ٱلۡخَآئِضِينَ (٤٥) وَكُنَّا نُكَذِّبُ بِيَوۡمِ ٱلدِّينِ (٤٦) حَتَّىٰٓ أَتَىٰنَا ٱلۡيَقِينُ (٤٧)

(٢٢) بیائی مخ تریو کړه او وچولی (تندی)
غوټه کړه
(٢٣) بیا ئی شاه وګرځوله او لوئی ئی وکړه
(٢٤) نو وئی ویل چه نه دی دا مګر جادو
دی نقل کړی شوی
(٢٥) نه دی دا مګر وینا ده د بشر
(٢٦) زر دی چه داخل به کړم دی اور ته
(٢٧) او څه پته ده تاته چه څه دی سقر
(٢٨) نه پریږدی باقی د دوی نه هیڅوک او
نه پریږدی د بدن نه څه خیز
(٢٩) سوځونکی دی د څرمنی
(٣٠) په هغی باندی مقرر دی نولس (ملایکی)
(٣١) او نه دی مقرر کړی مونږ څوکیدارانی د
اور مګر ملایکی او ندی ګرځولی مونږ شمیر
دهغوی مګر امتحان د پاره د کافرانو (اوبل) د
دی لپاره چه پوخ یقین وکړی هغه کسان چه
ورکړی شویدی هغوی ته کتاب (او) زیاتی
شی مؤمنان په ایمان کښی او شک ونکړی
هغه کسان چه ورکړی شوی دی کتاب او
مؤمنان او چه ووائی هغه کسان چه په زړونو
د هغوی کښی مرض (منافقت) دی او نور
کافران څه شی اراده کړی دی الله تعالی په دی
شمیر(د ملایکو) له جهته د مثال، دغسی ګمراه
کوی الله تعالی هغه کسان چه اوغواړی او
هدایت کوی هغه چاته چه وغواړی او نه
پیژنی لښکری د رب ستا مګر هغه او نه دی
دا مګر یاداشت دی انسانانو لره
(٣٢) یقینا داسی نده قسم دی په سپوږمۍ باندی
(٣٣) او په شپه باندی کله چه شاه وګرځوی
(٣٤) او په سهار باندی کله چه بنه روښانه شی
(٣٥) یقینا دا اور د سقر یو له لویو بلاګانو څخه دی
(٣٦) ویرونکی دی بنی ادمو لره
(٣٧) هغه چا لره چه غواړی ستاسو نه چه
مخکښی شی او یا روسته شی

(٣٨) هر نفس به په هغه څه باندی چه کړی
ئی وی ګانه کړی شوی وی
(٣٩) مګر خاوندان د ښی لاسونو
(٤٠) په جنتونو کښی به وی تپوسونه به کوی
(٤١) د مجرمانو نه
(٤٢) څه خیز داخل کړئ تاسی په سقر (اور)
کښی
(٤٣) دوی به وائی نه ؤ مونږ د لمونځ
کونکو نه
(٤٤) او نه ؤ مونږ خوراک ورکونکی
مسکین ته
(٤٥) او ؤ مونږ چه مشغولیدو په عبثو
(خبرو) کښی سره د مشغولتیا کونکو نه
(٤٦) او ؤ مونږ چه تکذیب مو کوؤ د ورځی د جزاء
(٤٧) تر دی پوری چه راغی مونږ ته مرګ

فَمَا تَنفَعُهُمْ شَفَٰعَةُ ٱلشَّٰفِعِينَ ﴿٤٨﴾ فَمَا لَهُمْ عَنِ ٱلتَّذْكِرَةِ مُعْرِضِينَ
﴿٤٩﴾ كَأَنَّهُمْ حُمُرٌ مُّسْتَنفِرَةٌ ﴿٥٠﴾ فَرَّتْ مِن قَسْوَرَةٍۭ ﴿٥١﴾ بَلْ يُرِيدُ
كُلُّ ٱمْرِئٍ مِّنْهُمْ أَن يُؤْتَىٰ صُحُفًا مُّنَشَّرَةً ﴿٥٢﴾ كَلَّا ۖ بَل لَّا يَخَافُونَ
ٱلْءَاخِرَةَ ﴿٥٣﴾ كَلَّآ إِنَّهُۥ تَذْكِرَةٌ ﴿٥٤﴾ فَمَن شَآءَ ذَكَرَهُۥ ﴿٥٥﴾
وَمَا يَذْكُرُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ ۚ هُوَ أَهْلُ ٱلتَّقْوَىٰ وَأَهْلُ ٱلْمَغْفِرَةِ ﴿٥٦﴾

ترتيبها ٧٥ — سُورَةُ القِيَامَةِ — آياتها ٤٠

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

لَآ أُقْسِمُ بِيَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ ﴿١﴾ وَلَآ أُقْسِمُ بِٱلنَّفْسِ ٱللَّوَّامَةِ ﴿٢﴾ أَيَحْسَبُ
ٱلْإِنسَٰنُ أَلَّن نَّجْمَعَ عِظَامَهُۥ ﴿٣﴾ بَلَىٰ قَٰدِرِينَ عَلَىٰٓ أَن نُّسَوِّىَ بَنَانَهُۥ ﴿٤﴾ بَلْ
يُرِيدُ ٱلْإِنسَٰنُ لِيَفْجُرَ أَمَامَهُۥ ﴿٥﴾ يَسْـَٔلُ أَيَّانَ يَوْمُ ٱلْقِيَٰمَةِ ﴿٦﴾ فَإِذَا بَرِقَ ٱلْبَصَرُ
﴿٧﴾ وَخَسَفَ ٱلْقَمَرُ ﴿٨﴾ وَجُمِعَ ٱلشَّمْسُ وَٱلْقَمَرُ ﴿٩﴾ يَقُولُ ٱلْإِنسَٰنُ يَوْمَئِذٍ
أَيْنَ ٱلْمَفَرُّ ﴿١٠﴾ كَلَّا لَا وَزَرَ ﴿١١﴾ إِلَىٰ رَبِّكَ يَوْمَئِذٍ ٱلْمُسْتَقَرُّ ﴿١٢﴾ يُنَبَّؤُا۟ ٱلْإِنسَٰنُ
يَوْمَئِذٍۭ بِمَا قَدَّمَ وَأَخَّرَ ﴿١٣﴾ بَلِ ٱلْإِنسَٰنُ عَلَىٰ نَفْسِهِۦ بَصِيرَةٌ ﴿١٤﴾ وَلَوْ أَلْقَىٰ
مَعَاذِيرَهُۥ ﴿١٥﴾ لَا تُحَرِّكْ بِهِۦ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِۦٓ ﴿١٦﴾ إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُۥ
وَقُرْءَانَهُۥ ﴿١٧﴾ فَإِذَا قَرَأْنَٰهُ فَٱتَّبِعْ قُرْءَانَهُۥ ﴿١٨﴾ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهُۥ ﴿١٩﴾

(٤٨) نو نفع نه ورکوی دوی ته سفارش د سفارش کونکو

(٤٩) نو څه وجه ده دوی لره چه د نصیحت نه مخ اړوی دوی

(٥٠) ګویا که چه دوی خره دی نفرت کونکی

(٥١) چه تیختلی کوی د زمری نه

(٥٢) بلکه غواړی هر سړی د دوی نه چه ورکړی شی ده ته پاڼی خوری شوی

(٥٣) هیڅکله نده داسی بلکه نه ویریږی دوی له اخرت څخه

(٥٤) نه ده داسی (چه دوی ئی وائی چه دا قران سحر دی) بیشکه دا قران نصیحت دی

(٥٥) پس څوک چه غواړی نو پند دی واخلی له دغی (قران څخه)

(٥٦) او پند نه اخلی دوی (له قرانه) مګر که اراده وکړی الله تعالی همدغه الله تعالی اهل د ویری دی (چه وویریږو تری) او لایق د ببښنی کولو دی

## د القیامة سورت

(١) داسی نه ده قسم کوم په ورځ دقیامت

(٢) او داسی نه ده قسم کوم په نفس ملامته کونکی باندی

(٣) ایا ګمان کوی انسان چه هیچیری به جمع نه کړو مونږ هډوکی د هغه

(٤) ولی نه بلکه قدرت لرو مونږ په دی چه برابر کړو بندونه د ګوتو د ده

(٥) بلکه اراده لری انسان چه انکار وکړی د (هغی شیانو نه) چه د ده مخی ته دی

(٦) تپوس کوی کله به وی ورځ د قیامت

(٧) کله چه خړی شی سترګی (له هیبته)

(٨) او توره شی سپوږمی

(٩) او جمع کړی شی لمر او سپوږمی

(١٠) وائی به انسان په دغی ورځ چه چیرته دی ځای د تیختی

(١١) چیرته نشته نشته بچ کیدل

(١٢) ستا رب ته په دغی ورځ قراری دی د ټولو

(١٣) خبر به ورکړی شی انسان ته په دغی ورځ په هغی عمل چه مخکی ئی لیږلی دی او په هغی چه روسته ئی پریښی وی

(١٤) بلکه انسان په خپل ځان باندی لیدونکی دی

(١٥) اګر چه وړاندی کوی عذرونه خپل

(١٦) مه ښوروه ژبه خپله په دی قران سره چه تادی کوی په دی سره

(١٧) یقینا زمونږ په ذمه باندی جمع کول د دی دی او لوستل د دی

(١٨) نو هر کله چه مونږ لولو دی قران لره نو ته متابعت کوه د لوستلو د دی

(١٩) بیا یقینا زمونږ په ذمه باندی وضاحت کول دی

كَلَّا بَلْ تُحِبُّونَ ٱلْعَاجِلَةَ ﴿٢٠﴾ وَتَذَرُونَ ٱلْآخِرَةَ ﴿٢١﴾ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ ﴿٢٢﴾
إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٌ ﴿٢٣﴾ وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍۭ بَاسِرَةٌ ﴿٢٤﴾ تَظُنُّ أَن يُفْعَلَ بِهَا فَاقِرَةٌ ﴿٢٥﴾
كَلَّآ إِذَا بَلَغَتِ ٱلتَّرَاقِيَ ﴿٢٦﴾ وَقِيلَ مَنْ ۜ رَاقٍ ﴿٢٧﴾ وَظَنَّ أَنَّهُ ٱلْفِرَاقُ ﴿٢٨﴾ وَٱلْتَفَّتِ
ٱلسَّاقُ بِٱلسَّاقِ ﴿٢٩﴾ إِلَىٰ رَبِّكَ يَوْمَئِذٍ ٱلْمَسَاقُ ﴿٣٠﴾ فَلَا صَدَّقَ وَلَا صَلَّىٰ
﴿٣١﴾ وَلَٰكِن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ﴿٣٢﴾ ثُمَّ ذَهَبَ إِلَىٰٓ أَهْلِهِۦ يَتَمَطَّىٰٓ ﴿٣٣﴾ أَوْلَىٰ لَكَ
فَأَوْلَىٰ ﴿٣٤﴾ ثُمَّ أَوْلَىٰ لَكَ فَأَوْلَىٰٓ ﴿٣٥﴾ أَيَحْسَبُ ٱلْإِنسَٰنُ أَن يُتْرَكَ سُدًى ﴿٣٦﴾
أَلَمْ يَكُ نُطْفَةً مِّن مَّنِيٍّ يُمْنَىٰ ﴿٣٧﴾ ثُمَّ كَانَ عَلَقَةً فَخَلَقَ فَسَوَّىٰ ﴿٣٨﴾ فَجَعَلَ مِنْهُ
ٱلزَّوْجَيْنِ ٱلذَّكَرَ وَٱلْأُنثَىٰٓ ﴿٣٩﴾ أَلَيْسَ ذَٰلِكَ بِقَٰدِرٍ عَلَىٰٓ أَن يُحْـِۧيَ ٱلْمَوْتَىٰ ﴿٤٠﴾

## سُورَةُ الإِنسَانِ

ترتيبها ٧٦ — آياتها ٣١

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

هَلْ أَتَىٰ عَلَى ٱلْإِنسَٰنِ حِينٌ مِّنَ ٱلدَّهْرِ لَمْ يَكُن شَيْـًٔا مَّذْكُورًا ﴿١﴾
إِنَّا خَلَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ مِن نُّطْفَةٍ أَمْشَاجٍ نَّبْتَلِيهِ فَجَعَلْنَٰهُ سَمِيعًۢا
بَصِيرًا ﴿٢﴾ إِنَّا هَدَيْنَٰهُ ٱلسَّبِيلَ إِمَّا شَاكِرًا وَإِمَّا كَفُورًا ﴿٣﴾
إِنَّآ أَعْتَدْنَا لِلْكَٰفِرِينَ سَلَٰسِلَا۟ وَأَغْلَٰلًا وَسَعِيرًا ﴿٤﴾ إِنَّ
ٱلْأَبْرَارَ يَشْرَبُونَ مِن كَأْسٍ كَانَ مِزَاجُهَا كَافُورًا ﴿٥﴾

(٢٠) چیرته داسی نه ده بلکه مینه کوی تاسو د دنیا سره
(٢١) او پریږدی اخرت
(٢٢) ځنی مخونه به په دغه ورځ تازه وی
(٢٣) خپل رب ته به کتونکی وی
(٢٤) او ځنی مخونه به په دغه ورځ بدرنګه وی
(٢٥) ګمان به کوی چه کیدای به شی د هغی سره لوی افت چه ملاماتونکی به وی
(٢٦) هیچیری داسی نده کله چه ورسیږی روح مریٔ ته
(٢٧) او وویلی شی چه څوک دی دم اچونکی
(٢٨) او ګمان به وکړی چه یقینا دا وخت د جدائی دی
(٢٩) او یو ځای به شی یوه پنډیٔ د بلی پنډیٔ سره
(٣٠) ستا رب ته په دغه ورځ ورتلل دی
(٣١) نو تصدیق ئی نه دی کړی او نه ئی لمونځ کړی دی
(٣٢) او لیکن تکذیب ئی کړی دی او مخ اړولی دی
(٣٣) بیا لاړ خپل کورته لوئی کونکی
(٣٤) نو تباهی ده تالره نو تباهی ده
(٣٥) بیا تباهی ده تالره نو تباهی ده
(٣٦) ایا ګمان کوی انسان چه پریخودلی کیږی به بیکاره
(٣٧) ایا نه ؤ دی تکره د منیٔ چه اچولی شی په رحم کښی
(٣٨) بیا شوه تکره د وینی نو جوړ ئی کړو او برابر ئی کړه
(٣٩) نو جوړ ئی کړو د هغی نه جوړی نارینه او زنانه
(٤٠) ایا نه دی دغه ذات قدرت لرونکی په دی چه ژوندی به کړی تول مړی

## د الدهر سورت

(١) یقینا راغلی دی په انسان باندی یو وخت د زمانی نه چه نه ؤ دی یوشی یاد کړی شوی
(٢) بیشکه پیداکړی دی مونږ انسان له نطفی څخه چه ګډه وډه شوی ده (د نارینه او د ښځی) ازمایو ئی نو و ګرځوو مونږ دغه (انسان) اوریدونکی او لیدونکی
(٣) یقینا ښودلی ده مونږ ده ته لار یا به وی شکرګذار او یا به وی ناشکره
(٤) یقینا تیار کړی دی مونږ د کافرانو لپاره زنځیرونه او طوقونه او اور بل کړی شوی
(٥) یقینا نیکان خلک به څښی د پیالو ډکو نه چه ګډون د هغی به د کافور سره وی
(٦) دا یوه چینه ده چه څښی به هغی لره بندګان د الله روانوی به هغی لره په روانولو سره

عَيْنًا يَشْرَبُ بِهَا عِبَادُ ٱللَّهِ يُفَجِّرُونَهَا تَفْجِيرًا ﴿٦﴾ يُوفُونَ بِٱلنَّذْرِ وَيَخَافُونَ
يَوْمًا كَانَ شَرُّهُۥ مُسْتَطِيرًا ﴿٧﴾ وَيُطْعِمُونَ ٱلطَّعَامَ عَلَىٰ حُبِّهِۦ مِسْكِينًا
وَيَتِيمًا وَأَسِيرًا ﴿٨﴾ إِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ ٱللَّهِ لَا نُرِيدُ مِنكُمْ جَزَآءً وَلَا شُكُورًا
﴿٩﴾ إِنَّا نَخَافُ مِن رَّبِّنَا يَوْمًا عَبُوسًا قَمْطَرِيرًا ﴿١٠﴾ فَوَقَىٰهُمُ ٱللَّهُ شَرَّ ذَٰلِكَ
ٱلْيَوْمِ وَلَقَّىٰهُمْ نَضْرَةً وَسُرُورًا ﴿١١﴾ وَجَزَىٰهُم بِمَا صَبَرُوا۟ جَنَّةً وَحَرِيرًا
﴿١٢﴾ مُّتَّكِـِٔينَ فِيهَا عَلَى ٱلْأَرَآئِكِ لَا يَرَوْنَ فِيهَا شَمْسًا وَلَا زَمْهَرِيرًا ﴿١٣﴾
وَدَانِيَةً عَلَيْهِمْ ظِلَٰلُهَا وَذُلِّلَتْ قُطُوفُهَا تَذْلِيلًا ﴿١٤﴾ وَيُطَافُ عَلَيْهِم بِـَٔانِيَةٍ
مِّن فِضَّةٍ وَأَكْوَابٍ كَانَتْ قَوَارِيرَا۠ ﴿١٥﴾ قَوَارِيرَا۟ مِن فِضَّةٍ قَدَّرُوهَا تَقْدِيرًا ﴿١٦﴾
وَيُسْقَوْنَ فِيهَا كَأْسًا كَانَ مِزَاجُهَا زَنجَبِيلًا ﴿١٧﴾ عَيْنًا فِيهَا تُسَمَّىٰ سَلْسَبِيلًا
﴿١٨﴾ ۞ وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَٰنٌ مُّخَلَّدُونَ إِذَا رَأَيْتَهُمْ حَسِبْتَهُمْ لُؤْلُؤًا مَّنثُورًا
﴿١٩﴾ وَإِذَا رَأَيْتَ ثَمَّ رَأَيْتَ نَعِيمًا وَمُلْكًا كَبِيرًا ﴿٢٠﴾ عَٰلِيَهُمْ ثِيَابُ سُندُسٍ
خُضْرٌ وَإِسْتَبْرَقٌ وَحُلُّوٓا۟ أَسَاوِرَ مِن فِضَّةٍ وَسَقَىٰهُمْ رَبُّهُمْ شَرَابًا
طَهُورًا ﴿٢١﴾ إِنَّ هَٰذَا كَانَ لَكُمْ جَزَآءً وَكَانَ سَعْيُكُم مَّشْكُورًا ﴿٢٢﴾ إِنَّا
نَحْنُ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ ٱلْقُرْءَانَ تَنزِيلًا ﴿٢٣﴾ فَٱصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ وَلَا تُطِعْ
مِنْهُمْ ءَاثِمًا أَوْ كَفُورًا ﴿٢٤﴾ وَٱذْكُرِ ٱسْمَ رَبِّكَ بُكْرَةً وَأَصِيلًا ﴿٢٥﴾

(٧) پوره کوی دوی نذرونه او ویریږی د هغی ورځ نه چه شر ئی ښکاره او خور دی

(٨) او دوی خوراک ورکوی سره د مینی نه مسکین یتیم او بندی ته

(٩) یقینا مونږ طعام درکو تاسو ته د الله تعالی لپاره نه غواړو مونږ ستاسو نه بدله او نه شکراداکول

(١٠) یقینا مونږ ویریږو د رب خپل نه د (عذاب) د هغی ورځی نه چه ترخه ده او ډیره سخته به وی

(١١) نو وبه ساتی دوی لره الله تعالی د شر او سختئ د دغی ورځی نه او وربه کړی دوی ته تازگی اوخوشحالی

(١٢) او بدله به ورکړی دوی ته په سبب د صبر د دوی جنتونه او ریښم

(١٣) تکیه وهونکی به وی په هغی کښی په پالنگونو باندی او نه به وینی په هغی کښی گرمی او نه ویخنی

(١٤) او حال دا چه نږدی به وی پر دوی باندی سیوری د هغی او مسخری (ټیټي) کړی شوی به وی میوی د هغی په تابعدارئ سره

(١٥) او گرځولی به شی په دوی باندی لوخی د سپینو زرو او گلاسونه چه وی به هغه شیشه

(١٦) داسی شیشه چه جوړه شوی به وی د سپینو زرو نه اندازه کوی به هغی لره په خاص اندازه

(١٧) اوسکلی کیږی به په دوی باندی په هغی کښی پیالی چه وی به گډون د هغی زنجبیل

(١٨) چینه ده په جنت کښی چه نوم ئی اینښودلی شوی دی په سلسبیل سره

(١٩) او گرځی به پر دغی جنتیانو باندی هلکان تل پاتی شوی (په خپله ځوانئ باندی) کله چه ته ووینی هغی لره نو گمان به وکړی په هغی باندی ملغلری خوری وری

(٢٠) او کله چه ته ووینی هغه ځای نو اوبه وینی نعمتونه او بادشاهی لویه

(٢١) د پاسه د دوی به جامی وی د نریو وریښمو چه شنه به وی او د پیړو وریښمو او اچولی کیږی به دوی ته باهوگان د سپینو زرو او څښی به په دوی باندی رب د دوی څښل ښه پاکیزه

(٢٢) یقینا دا ده تاسو لره بدله او دی کوشش ستاسو قبول کړی شوی

(٢٣) یقینا مونږ نازلو په تا باندی قران لږلږ نازلول

(٢٤) نو صبر کوه په فیصله د رب خپل او مه منه خبره له دوی ځنی د هیڅ گناهگار اوناشکره

(٢٥) او یادوه نوم د رب خپل سبا او بیگاه

وَمِنَ ٱلَّيۡلِ فَٱسۡجُدۡ لَهُۥ وَسَبِّحۡهُ لَيۡلٗا طَوِيلًا ﴿٢٦﴾ إِنَّ
هَٰٓؤُلَآءِ يُحِبُّونَ ٱلۡعَاجِلَةَ وَيَذَرُونَ وَرَآءَهُمۡ يَوۡمٗا ثَقِيلٗا ﴿٢٧﴾ نَّحۡنُ
خَلَقۡنَٰهُمۡ وَشَدَدۡنَآ أَسۡرَهُمۡۖ وَإِذَا شِئۡنَا بَدَّلۡنَآ أَمۡثَٰلَهُمۡ تَبۡدِيلًا
﴿٢٨﴾ إِنَّ هَٰذِهِۦ تَذۡكِرَةٞۖ فَمَن شَآءَ ٱتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ سَبِيلٗا ﴿٢٩﴾
وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمٗا ﴿٣٠﴾
يُدۡخِلُ مَن يَشَآءُ فِي رَحۡمَتِهِۦۚ وَٱلظَّٰلِمِينَ أَعَدَّ لَهُمۡ عَذَابًا أَلِيمَۢا ﴿٣١﴾

ترتيبها ٧٧ — سُورَةُ المُرۡسَلَاتِ — آياتها ٥٠

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلۡمُرۡسَلَٰتِ عُرۡفٗا ﴿١﴾ فَٱلۡعَٰصِفَٰتِ عَصۡفٗا ﴿٢﴾ وَٱلنَّٰشِرَٰتِ نَشۡرٗا ﴿٣﴾
فَٱلۡفَٰرِقَٰتِ فَرۡقٗا ﴿٤﴾ فَٱلۡمُلۡقِيَٰتِ ذِكۡرًا ﴿٥﴾ عُذۡرًا أَوۡ نُذۡرًا ﴿٦﴾ إِنَّمَا
تُوعَدُونَ لَوَٰقِعٞ ﴿٧﴾ فَإِذَا ٱلنُّجُومُ طُمِسَتۡ ﴿٨﴾ وَإِذَا ٱلسَّمَآءُ فُرِجَتۡ
﴿٩﴾ وَإِذَا ٱلۡجِبَالُ نُسِفَتۡ ﴿١٠﴾ وَإِذَا ٱلرُّسُلُ أُقِّتَتۡ ﴿١١﴾ لِأَيِّ يَوۡمٍ أُجِّلَتۡ
﴿١٢﴾ لِيَوۡمِ ٱلۡفَصۡلِ ﴿١٣﴾ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا يَوۡمُ ٱلۡفَصۡلِ ﴿١٤﴾ وَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ
لِّلۡمُكَذِّبِينَ ﴿١٥﴾ أَلَمۡ نُهۡلِكِ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿١٦﴾ ثُمَّ نُتۡبِعُهُمُ ٱلۡأٓخِرِينَ
﴿١٧﴾ كَذَٰلِكَ نَفۡعَلُ بِٱلۡمُجۡرِمِينَ ﴿١٨﴾ وَيۡلٞ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُكَذِّبِينَ ﴿١٩﴾

﴿٢٦﴾ او په څه برخه د شپې کښې سجده کوه هغه (الله) ته او پاکي بیانوه هغه لره په شپه اوږده کښې

﴿٢٧﴾ یقینا دا هغه کسان دي چه مینه کوي له دونیا سره او پرېږدي روسته د ځان نه ورځ درنه

﴿٢٨﴾ مونږ پیدا کړي دي دوی او کلک کړي دي مونږ بندونه د دوی او هر کله چه وغواړو مونږ نو بدل کښې به راولو د دوی په شان بدل

﴿٢٩﴾ یقینا دا نصیحت دي نو څوک چه غواړي ود نیسي خپل رب ته لار

﴿٣١﴾ او نه شي غوختلې تاسو یو شي مګر هغه چه وغواړي الله تعالی یقینا الله تعالی دی پوهه او حکمتونو والا داخلوی هغه څوک چه و غواړي په رحمت خپل کښې او ظالمان تیار کړي دي (الله) د هغوی لپاره عذاب دردونکی

## د المرسلات سورت

﴿١﴾ قسم دی په هغی بادونو باندی چه لیږلی شوی دی پرله پسی

﴿٢﴾ قسم دی په هغی هواګانو باندی چه ماتول کوی ماتول

﴿٣﴾ نو قسم دی په هغی بادونو باندی چه خورول کوی خورول

﴿٤﴾ نو جداکونکی وی جدا کول

﴿٥﴾ پس قسم دی په هغی ملایکو باندی چه راښکته کونکی دی د وحی

﴿٦﴾ لپاره د عذر او لپاره د ویرولو

﴿٧﴾ یقینا هغه چه وعده ئی کیدی شی تاسو سره خامخا واقع کیدونکی دی

﴿٨﴾ نو هرکله چه ستوری بی نوره کړی شی

﴿٩﴾ او کله چه اسمان څیری کړی شی

﴿١٠﴾ او کله چه غرونه والوځولی شی

﴿١١﴾ او هر کله چه د پیغمبرانو وقت وټاکلی شی (د شهادت لپاره)

﴿١٢﴾ کومی ورځی ته روسته کړی شوی دی

﴿١٣﴾ ورځ د فیصلی ته

﴿١٤﴾ اوڅه شی پوهه کړی ئی ته چه څه ده ورځ د فیصلی

﴿١٥﴾ تباهی ده په دغه ورځ تکذیب کونکو لره

﴿١٦﴾ ایا نه دی هلاک کړی مونږ مخکنی خلق

﴿١٧﴾ بیا ورپسی کړه ما په هغی پسی نور (مجرمان) خلک

﴿١٨﴾ همداسی کار کو مونږ له ټولو مجرمانو سره

﴿١٩﴾ تباهی ده په دغی ورځ تکذیب کونکو لره

﴿٢٠﴾ ایا مونږ نه ئی پیدا کړی تاسو لره د سپکو اوبو نه

أَلَمْ نَخْلُقكُّم مِّن مَّآءٍ مَّهِينٍ ﴿٢٠﴾ فَجَعَلْنَٰهُ فِي قَرَارٍ مَّكِينٍ ﴿٢١﴾ إِلَىٰ قَدَرٍ
مَّعْلُومٍ ﴿٢٢﴾ فَقَدَرْنَا فَنِعْمَ ٱلْقَٰدِرُونَ ﴿٢٣﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٢٤﴾
أَلَمْ نَجْعَلِ ٱلْأَرْضَ كِفَاتًا ﴿٢٥﴾ أَحْيَآءً وَأَمْوَٰتًا ﴿٢٦﴾ وَجَعَلْنَا فِيهَا رَوَٰسِيَ
شَٰمِخَٰتٍ وَأَسْقَيْنَٰكُم مَّآءً فُرَاتًا ﴿٢٧﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٢٨﴾
ٱنطَلِقُوٓاْ إِلَىٰ مَا كُنتُم بِهِۦ تُكَذِّبُونَ ﴿٢٩﴾ ٱنطَلِقُوٓاْ إِلَىٰ ظِلٍّ ذِي ثَلَٰثِ
شُعَبٍ ﴿٣٠﴾ لَّا ظَلِيلٍ وَلَا يُغْنِي مِنَ ٱللَّهَبِ ﴿٣١﴾ إِنَّهَا تَرْمِي بِشَرَرٍ
كَٱلْقَصْرِ ﴿٣٢﴾ كَأَنَّهُۥ جِمَٰلَتٌ صُفْرٌ ﴿٣٣﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٣٤﴾
هَٰذَا يَوْمُ لَا يَنطِقُونَ ﴿٣٥﴾ وَلَا يُؤْذَنُ لَهُمْ فَيَعْتَذِرُونَ ﴿٣٦﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ
لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٣٧﴾ هَٰذَا يَوْمُ ٱلْفَصْلِ جَمَعْنَٰكُمْ وَٱلْأَوَّلِينَ ﴿٣٨﴾ فَإِن كَانَ
لَكُمْ كَيْدٌ فَكِيدُونِ ﴿٣٩﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٤٠﴾ إِنَّ ٱلْمُتَّقِينَ فِي
ظِلَٰلٍ وَعُيُونٍ ﴿٤١﴾ وَفَوَٰكِهَ مِمَّا يَشْتَهُونَ ﴿٤٢﴾ كُلُواْ وَٱشْرَبُواْ هَنِيٓـًٔا
بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٤٣﴾ إِنَّا كَذَٰلِكَ نَجْزِي ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٤٤﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ
لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٤٥﴾ كُلُواْ وَتَمَتَّعُواْ قَلِيلًا إِنَّكُم مُّجْرِمُونَ ﴿٤٦﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ
لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٤٧﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱرْكَعُواْ لَا يَرْكَعُونَ ﴿٤٨﴾ وَيْلٌ
يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٤٩﴾ فَبِأَيِّ حَدِيثٍ بَعْدَهُۥ يُؤْمِنُونَ ﴿٥٠﴾

(٢١) نو مونږ بیا وساتلی هغه په ځای د قرار مضبوط کښې

(٢٢) تر نیټې مقررې پورې

(٢٣) پس قدرت لرو مونږ (په دغې کارونو باندې) نو ښه قادران یو مونږ

(٢٤) تباهي ده په دغې ورځ تکذیب کونکو لره

(٢٥) ایا نه ده ګرځولې مونږ زمکه راغونډونکې

(٢٦) ژوندو لره او مړو لره

(٢٧) او پیدا کړې دي مونږ په دغې زمکه کښې غرونه دنګ او سکو مونږ په تاسې باندې اوبه خوږې

(٢٨) تباهي ده په دغې ورځ تکذیب کونکو لره

(٢٩) لاړشې تاسو هغې شي ته چه تاسو د هغې تکذیب کو

(٣٠) لاړشې هغې سورې ته چه خاوند د درې خانونو دی

(٣١) چه نه یخ دی او نه دفع کوی لمبې د اور

(٣٢) یقینا دغه اور ویشتل کوی په داسې بڅرکو (سرو سکروټو) سره چه په شان د بنګلو دی

(٣٣) ګویا که چه هغه اوښان دی زیړ

(٣٤) تباهي ده په دغې ورځ تکذیب کونکو لره

(٣٥) دا هغه ورځ ده چه دوی به خبرې نه شي کولی

(٣٦) او نه به اذن کیږي دوی ته چه بهانې پیش کړي

(٣٧) تباهي ده په دغې ورځې تکذیب کونکو لره

(٣٨) دا ورځ د فیصلې ده راجمع به کړو مونږ تاسو او مخکنې خلک

(٣٩) نو که چیرته وی تاسو سره کوم مکر چل (په دفع کولو د عذاب کښې) نو وکړئ دغه چل ول زما په مقابل کښې

(٤٠) تباهي ده په دغه ورځ تکذیب کونکو لره

(٤١) یقینا متقیان به په سیورو او چینو کښې وي

(٤٢) او په میوو کښې به وی هغه میوی چه دوی ئې غواړي

(٤٣) خورئ او سکئ په خوشحالئ سره په سبب د هغې عملونو چه تاسو کول

(٤٤) یقینا دغسې بدله ورکوو مونږ ښایسته عمل کونکو ته

(٤٥) تباهي ده په دغې ورځ تکذیب کونکو لره

(٤٦) خورئ او مزې واخلئ تاسو لږه موده یقینا تاسو مجرمان ئې

(٤٧) تباهي ده په دغې ورځ د تکذیب کونکو لپاره

(٤٨) او کله چه وویلې شي دوی ته چه رکوع کوئ نو دوی رکوع نه کوی

(٤٩) تباهي ده په دغې ورځ تکذیب کونکو لره

(٥٠) نو په کومه یوه خبره به روسته د دینه دوی ایمان راوړي

سُورَةُ النَّبَإِ — ترتيبها ٧٨ — آياتها ٤٠

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

عَمَّ يَتَسَاءَلُونَ ﴿١﴾ عَنِ النَّبَإِ الْعَظِيمِ ﴿٢﴾ الَّذِي هُمْ فِيهِ مُخْتَلِفُونَ ﴿٣﴾
كَلَّا سَيَعْلَمُونَ ﴿٤﴾ ثُمَّ كَلَّا سَيَعْلَمُونَ ﴿٥﴾ أَلَمْ نَجْعَلِ الْأَرْضَ مِهَادًا ﴿٦﴾
وَالْجِبَالَ أَوْتَادًا ﴿٧﴾ وَخَلَقْنَاكُمْ أَزْوَاجًا ﴿٨﴾ وَجَعَلْنَا نَوْمَكُمْ سُبَاتًا
﴿٩﴾ وَجَعَلْنَا اللَّيْلَ لِبَاسًا ﴿١٠﴾ وَجَعَلْنَا النَّهَارَ مَعَاشًا ﴿١١﴾ وَبَنَيْنَا
فَوْقَكُمْ سَبْعًا شِدَادًا ﴿١٢﴾ وَجَعَلْنَا سِرَاجًا وَهَّاجًا ﴿١٣﴾ وَأَنْزَلْنَا
مِنَ الْمُعْصِرَاتِ مَاءً ثَجَّاجًا ﴿١٤﴾ لِنُخْرِجَ بِهِ حَبًّا وَنَبَاتًا ﴿١٥﴾ وَجَنَّاتٍ
أَلْفَافًا ﴿١٦﴾ إِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ كَانَ مِيقَاتًا ﴿١٧﴾ يَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّورِ
فَتَأْتُونَ أَفْوَاجًا ﴿١٨﴾ وَفُتِحَتِ السَّمَاءُ فَكَانَتْ أَبْوَابًا ﴿١٩﴾ وَسُيِّرَتِ
الْجِبَالُ فَكَانَتْ سَرَابًا ﴿٢٠﴾ إِنَّ جَهَنَّمَ كَانَتْ مِرْصَادًا ﴿٢١﴾ لِلطَّاغِينَ
مَآبًا ﴿٢٢﴾ لَابِثِينَ فِيهَا أَحْقَابًا ﴿٢٣﴾ لَا يَذُوقُونَ فِيهَا بَرْدًا وَلَا شَرَابًا
﴿٢٤﴾ إِلَّا حَمِيمًا وَغَسَّاقًا ﴿٢٥﴾ جَزَاءً وِفَاقًا ﴿٢٦﴾ إِنَّهُمْ كَانُوا
لَا يَرْجُونَ حِسَابًا ﴿٢٧﴾ وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا كِذَّابًا ﴿٢٨﴾ وَكُلَّ شَيْءٍ
أَحْصَيْنَاهُ كِتَابًا ﴿٢٩﴾ فَذُوقُوا فَلَنْ نَزِيدَكُمْ إِلَّا عَذَابًا ﴿٣٠﴾

# د النبأ سورت

(١) له څه شی څخه پوښتنه کوی دوی یوله بله
(٢) پوښتنه کوی د لوئی خبری
(٣) هغه چه دوی په کښی اختلاف کوی
(٤) هیچیری نه ده په کار زر ده دوی ته به
معلومه شی
(٥) بیا هیچیری نه ده په کار زرده دوی ته
به معلومه شی
(٦) ایا نه ده گرځولی مونږ زمکه فرش
(٧) او غرونه میخونه
(٨) او پیدا کړی ئی مونږ تاسو لره جوړی
(٩) او گرځولی دی مونږ خوب ستاسو ارام
(٩) او گرځولی ده مونږ شپه جامه
(١١) او گرځولی ده مونږ ورځ وخت د گټلو
د روزی
(١٢) او جوړ کړی دی مونږ د پاسه له تاسو
نه اوه (اسمانونه) مضبوط
(١٣) او پیدا کړی دی مونږ ډیوه روښانه
(١٤) او راورولی دی مونږ د درنو وریځو نه
اوبه رابهیدونکی
(١٥) لپاره د دی چه را اوباسو په هغی سره
دانی او بوټی
(١٦) او باغونه گڼ (گور)
(١٧) یقینا ورځ د فیصلی ده وخت مقرر
(١٨) په هغی ورځ چه پوکی اوکړی شی په
شپیلی کښی نو راځی به تاسو ډلی ډلی
(١٩) او ښیری به شی اسمان نو شی به
دروازی دروازی
(٢٠) او روان به کړل شی غرونه نو شی به
لکه سراب (شگو گل)
(٢١) یقینا جهنم دی ځای د انتظار
(٢٢) لپاره د سرکشانو دی ځای د ورتلو
(٢٣) اوسیری به په هغی کښی ډیری زمانی
(٢٤) نه به څکی دوی په هغی کښی یخنی
او نه د څښلو څیزونه
(٢٥) مگر خوټکیدلی اوبه او وینی او زوی
(٢٦) بدله ده پوره
(٢٧) یقینا دوی ؤ چه نه ئی لرلو امید د
حساب
(٢٨) او دروغجن ئی گڼل ایاتونه زمونږ په
دروغجن گڼلو سره
(٢٩) او هر یو څیزمونږ راگیر کړی دی په
لیکلو سره
(٣٠) نو اوڅکی چیری نه زیاتوو مونږ تاسو
لره مگر عذاب

إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ مَفَازًا ﴿٣١﴾ حَدَآئِقَ وَأَعْنَٰبًا ﴿٣٢﴾ وَكَوَاعِبَ أَتْرَابًا ﴿٣٣﴾ وَكَأْسًا
دِهَاقًا ﴿٣٤﴾ لَّا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا وَلَا كِذَّٰبًا ﴿٣٥﴾ جَزَآءً مِّن رَّبِّكَ عَطَآءً
حِسَابًا ﴿٣٦﴾ رَّبِّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ٱلرَّحْمَٰنِ لَا يَمْلِكُونَ
مِنْهُ خِطَابًا ﴿٣٧﴾ يَوْمَ يَقُومُ ٱلرُّوحُ وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ صَفًّا لَّا يَتَكَلَّمُونَ
إِلَّا مَنْ أَذِنَ لَهُ ٱلرَّحْمَٰنُ وَقَالَ صَوَابًا ﴿٣٨﴾ ذَٰلِكَ ٱلْيَوْمُ ٱلْحَقُّ فَمَن
شَآءَ ٱتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ مَـَٔابًا ﴿٣٩﴾ إِنَّآ أَنذَرْنَٰكُمْ عَذَابًا قَرِيبًا يَوْمَ
يَنظُرُ ٱلْمَرْءُ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ وَيَقُولُ ٱلْكَافِرُ يَٰلَيْتَنِى كُنتُ تُرَٰبًۢا ﴿٤٠﴾

## سُورَةُ النَّازِعَاتِ

ترتيبها ٧٩ — آياتها ٤٦

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلنَّٰزِعَٰتِ غَرْقًا ﴿١﴾ وَٱلنَّٰشِطَٰتِ نَشْطًا ﴿٢﴾ وَٱلسَّٰبِحَٰتِ سَبْحًا
﴿٣﴾ فَٱلسَّٰبِقَٰتِ سَبْقًا ﴿٤﴾ فَٱلْمُدَبِّرَٰتِ أَمْرًا ﴿٥﴾ يَوْمَ تَرْجُفُ ٱلرَّاجِفَةُ
﴿٦﴾ تَتْبَعُهَا ٱلرَّادِفَةُ ﴿٧﴾ قُلُوبٌ يَوْمَئِذٍ وَاجِفَةٌ ﴿٨﴾ أَبْصَٰرُهَا
خَٰشِعَةٌ ﴿٩﴾ يَقُولُونَ أَءِنَّا لَمَرْدُودُونَ فِى ٱلْحَافِرَةِ ﴿١٠﴾ أَءِذَا كُنَّا
عِظَٰمًا نَّخِرَةً ﴿١١﴾ قَالُوا۟ تِلْكَ إِذًا كَرَّةٌ خَاسِرَةٌ ﴿١٢﴾ فَإِنَّمَا هِىَ زَجْرَةٌ
وَٰحِدَةٌ ﴿١٣﴾ فَإِذَا هُم بِٱلسَّاهِرَةِ ﴿١٤﴾ هَلْ أَتَىٰكَ حَدِيثُ مُوسَىٰٓ ﴿١٥﴾

(٣١) يقينا متقيانو لره ځای د کاميابۍ دی
(٣٢) باغونه او انګور
(٣٣) او ځوانی جينکی همزولی د دوی
(٣٤) او پيالی ډکی
(٣٥) نه به اوری دوی په هغی کښی بی فايدی خبری او نه دروغ
(٣٦) په داسی حال کښی چه دا بدله ده له طرفه د رب ستا نه او بخشش ډير
(٣٧) رب د اسمانونو او زمکو دی او د هغی شی چه په مينځ د هغی کښی دی رحمان ذات دی دوی به اختيار نه لری له دغه (الله) سره د خبرو کولو
(٣٨) په هغی ورځ چه اودريږی روح او ملايکی صفونه صفونه خبری به نه شی کولی مګر هغه څوک چه اجازت کړی وی هغی ته مهربان ذات او ويلی وی حقه خبره
(٣٩) دغه ورځ ده حقه نو څوک چه غواړی نو ودنيسی رب خپل ته لار د ورتلو
(٤٠) يقينا مونږ ويره درکړی ده تاسو ته د عذاب نږدی نه په هغه ورځ چه وبه وينی هر سړی هغه عمل چه مخکی ليږلی دی لاسونو د ده او وائی به کافر های ارمان دی چه وی زه خاوری

## د النازعات سورت

(١) قسم دی په هغی ملايکو باندی چه راکاږی روح د کافرانو لره په سختۍ سره
(٢) او قسم دی په هغی ملايکو باندی چه اوباسی روح (د مؤمنانو لره په) اسانتيا سره
(٣) او قسم دی په هغی ملايکو باندی چه لامبووهی لامبو وهل
(٤) بيا مخکی کيدونکی وی حکم د الله ته په مخکی کيدلو سره
(٥) بيا انتظام کونکی دی د ځنو کارونو
(٦) په هغی ورځ چه وبه لړځيږی لړځيدونکی
(٧) رابشی ورپسی روسته راتلونکی
(٨) زړونه به په دغه ورځ درزيدونکی وی
(٩) سترګی د هغوی به ذليله او ښکته وی
(١٠) وائی دوی ايا مونږ به واپس کيدونکی يو زوړ حالت ته
(١١) ايا کله چه وګرځو مونږ هډوکی زاړه رژيدونکی
(١٢) وائی دوی دا په دغه وخت کښی دوباره راتلل دی تاوانی
(١٣) نو بيشکه دا خو چغه يوه ده
(١٤) پس ناڅاپه وی به دغه (خلق ټول) په مخ د زمکی
(١٥) ايا راغلی ده تاته خبره د موسی عليه السلام

إِذْ نَادَىٰهُ رَبُّهُۥ بِٱلْوَادِ ٱلْمُقَدَّسِ طُوًى ﴿١٦﴾ ٱذْهَبْ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ إِنَّهُۥ طَغَىٰ ﴿١٧﴾
فَقُلْ هَل لَّكَ إِلَىٰٓ أَن تَزَكَّىٰ ﴿١٨﴾ وَأَهْدِيَكَ إِلَىٰ رَبِّكَ فَتَخْشَىٰ ﴿١٩﴾ فَأَرَىٰهُ
ٱلْـَٔايَةَ ٱلْكُبْرَىٰ ﴿٢٠﴾ فَكَذَّبَ وَعَصَىٰ ﴿٢١﴾ ثُمَّ أَدْبَرَ يَسْعَىٰ ﴿٢٢﴾ فَحَشَرَ
فَنَادَىٰ ﴿٢٣﴾ فَقَالَ أَنَا۠ رَبُّكُمُ ٱلْأَعْلَىٰ ﴿٢٤﴾ فَأَخَذَهُ ٱللَّهُ نَكَالَ ٱلْـَٔاخِرَةِ وَٱلْأُولَىٰٓ
﴿٢٥﴾ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّمَن يَخْشَىٰٓ ﴿٢٦﴾ ءَأَنتُمْ أَشَدُّ خَلْقًا أَمِ ٱلسَّمَآءُ ۚ بَنَىٰهَا
﴿٢٧﴾ رَفَعَ سَمْكَهَا فَسَوَّىٰهَا ﴿٢٨﴾ وَأَغْطَشَ لَيْلَهَا وَأَخْرَجَ ضُحَىٰهَا ﴿٢٩﴾
وَٱلْأَرْضَ بَعْدَ ذَٰلِكَ دَحَىٰهَآ ﴿٣٠﴾ أَخْرَجَ مِنْهَا مَآءَهَا وَمَرْعَىٰهَا ﴿٣١﴾
وَٱلْجِبَالَ أَرْسَىٰهَا ﴿٣٢﴾ مَتَٰعًا لَّكُمْ وَلِأَنْعَٰمِكُمْ ﴿٣٣﴾ فَإِذَا جَآءَتِ ٱلطَّآمَّةُ
ٱلْكُبْرَىٰ ﴿٣٤﴾ يَوْمَ يَتَذَكَّرُ ٱلْإِنسَٰنُ مَا سَعَىٰ ﴿٣٥﴾ وَبُرِّزَتِ ٱلْجَحِيمُ
لِمَن يَرَىٰ ﴿٣٦﴾ فَأَمَّا مَن طَغَىٰ ﴿٣٧﴾ وَءَاثَرَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا ﴿٣٨﴾ فَإِنَّ ٱلْجَحِيمَ
هِىَ ٱلْمَأْوَىٰ ﴿٣٩﴾ وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِۦ وَنَهَى ٱلنَّفْسَ عَنِ ٱلْهَوَىٰ
﴿٤٠﴾ فَإِنَّ ٱلْجَنَّةَ هِىَ ٱلْمَأْوَىٰ ﴿٤١﴾ يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلسَّاعَةِ أَيَّانَ مُرْسَىٰهَا
﴿٤٢﴾ فِيمَ أَنتَ مِن ذِكْرَىٰهَآ ﴿٤٣﴾ إِلَىٰ رَبِّكَ مُنتَهَىٰهَآ ﴿٤٤﴾ إِنَّمَآ أَنتَ مُنذِرُ
مَن يَخْشَىٰهَا ﴿٤٥﴾ كَأَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَهَا لَمْ يَلْبَثُوٓا۟ إِلَّا عَشِيَّةً أَوْ ضُحَىٰهَا ﴿٤٦﴾

## سُورَةُ عَبَسَ

ترتيبها ٨٠ — آياتها ٤٢

﴿١٦﴾ کله چه اواز وکړه هغه ته رب د هغی
په میدان کښی چه طوا دی
﴿١٧﴾ لاړ شه فرعون ته یقینا هغه سرکشی
کړی ده
﴿١٨﴾ نو ووایه ایا ته غواړی چه پاک شی
﴿١٩﴾ او لار وښایم تاته په طرف د رب ستا
نو او به ویریږی
﴿٢٠﴾ نو وئی خودله هغه ته نښه لویه
﴿٢١﴾ نو تکذیب ئی وکړه او نافرمانی ئی وکړه
﴿٢٢﴾ بیا ئی شاه وګرځوله چه کوشش ئی کولو
﴿٢٣﴾ نو راجمع ئی کړه ساحران او اواز ئی وکړه
﴿٢٤﴾ نو وئی ویل چه زه رب یم ستاسو اوچت
﴿٢٥﴾ نو ونیوه ده لره الله تعالی په سزا د
اخرت او د دونیا سره
﴿٢٦﴾ یقینا په دی کښی عبرت دی هغه چالره
چه ویریږی
﴿٢٧﴾ ایا تاسو ډیر کلک پیدایش والا ئی یا
اسمان چه جوړ کړی دی الله
﴿٢٨﴾ پورته کړی ئی دی چت د هغی نو
برابر کړی ئی دی
﴿٢٩﴾ او تورتم کړی ئی ده شپه د هغی او
ښکاره کړی ئی دی څاښت د هغی
﴿٣٠﴾ او زمکه ئی روسته د هغی نه غوړولی
ده هغه
﴿٣١﴾ راویستلی ئی دی دهغی نه اوبه د هغی
ګیاګانی او ورشو د هغی
﴿٣٢﴾ او غرونه ودرولی دی الله تعالی
﴿٣٣﴾ لپاره د فایدی ستاسو او لپاره د څاروو ستاسو
﴿٣٤﴾ نو کله چه راشی هنګامه او بلا لویه
﴿٣٥﴾ په دغه ورځ به یادوی انسان هغه عمل
چه ده کړی وی
﴿٣٦﴾ او ښکاره به کړی شی جهنم هغه چاته
چه وینی ئی
﴿٣٧﴾ نو هغه څوک چه کړی ئی ده سرکشی
﴿٣٨﴾ او غوره کړی ئی دی ژوند دنیوی
﴿٣٩﴾ نو یقینا جهنم دا ځای د ورتلو د هغه دی

﴿٤٠﴾ او هغه څوک چه ویره ئی کړی ده د
اودریدلو د رب خپل نه او منع کړی ئی دی
ځان خپل د خواهش نه
﴿٤١﴾ نو یقینا جنت دا ځای د ورتللو د هغه دی
﴿٤٢﴾ تپوس کوی دوی ستا نه په باره
د قیامت کښی چه کله به وی اودریدل دهغی
﴿٤٣﴾ په څه کښی ئی ته د یاداشت د هغی نه
﴿٤٤﴾ خاص ستا رب ته انتهاء د علم د قیامت ده
﴿٤٥﴾ یقینا ته ویرونکی د هغه چا ئی چه
ویریږی د قیامت نه
﴿٤٦﴾ ګویا چه دوی په کومه ورځ ووینی
قیامت (ګمان به کوی) چه نه ؤ حصار شوی
دوی مګر په اندازه د مازیګری او یا په
اندازه د څاښت

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

عَبَسَ وَتَوَلَّىٰٓ ﴿١﴾ أَن جَآءَهُ ٱلْأَعْمَىٰ ﴿٢﴾ وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّهُۥ يَزَّكَّىٰٓ ﴿٣﴾ أَوْ
يَذَّكَّرُ فَتَنفَعَهُ ٱلذِّكْرَىٰٓ ﴿٤﴾ أَمَّا مَنِ ٱسْتَغْنَىٰ ﴿٥﴾ فَأَنتَ لَهُۥ تَصَدَّىٰ ﴿٦﴾
وَمَا عَلَيْكَ أَلَّا يَزَّكَّىٰ ﴿٧﴾ وَأَمَّا مَن جَآءَكَ يَسْعَىٰ ﴿٨﴾ وَهُوَ يَخْشَىٰ ﴿٩﴾ فَأَنتَ
عَنْهُ تَلَهَّىٰ ﴿١٠﴾ كَلَّآ إِنَّهَا تَذْكِرَةٌ ﴿١١﴾ فَمَن شَآءَ ذَكَرَهُۥ ﴿١٢﴾ فِى صُحُفٍ مُّكَرَّمَةٍ
﴿١٣﴾ مَّرْفُوعَةٍ مُّطَهَّرَةٍۭ ﴿١٤﴾ بِأَيْدِى سَفَرَةٍ ﴿١٥﴾ كِرَامٍۭ بَرَرَةٍ ﴿١٦﴾ قُتِلَ ٱلْإِنسَٰنُ
مَآ أَكْفَرَهُۥ ﴿١٧﴾ مِنْ أَىِّ شَىْءٍ خَلَقَهُۥ ﴿١٨﴾ مِن نُّطْفَةٍ خَلَقَهُۥ فَقَدَّرَهُۥ ﴿١٩﴾ ثُمَّ
ٱلسَّبِيلَ يَسَّرَهُۥ ﴿٢٠﴾ ثُمَّ أَمَاتَهُۥ فَأَقْبَرَهُۥ ﴿٢١﴾ ثُمَّ إِذَا شَآءَ أَنشَرَهُۥ ﴿٢٢﴾ كَلَّا لَمَّا
يَقْضِ مَآ أَمَرَهُۥ ﴿٢٣﴾ فَلْيَنظُرِ ٱلْإِنسَٰنُ إِلَىٰ طَعَامِهِۦٓ ﴿٢٤﴾ أَنَّا صَبَبْنَا ٱلْمَآءَ صَبًّا
﴿٢٥﴾ ثُمَّ شَقَقْنَا ٱلْأَرْضَ شَقًّا ﴿٢٦﴾ فَأَنۢبَتْنَا فِيهَا حَبًّا ﴿٢٧﴾ وَعِنَبًا وَقَضْبًا ﴿٢٨﴾
وَزَيْتُونًا وَنَخْلًا ﴿٢٩﴾ وَحَدَآئِقَ غُلْبًا ﴿٣٠﴾ وَفَٰكِهَةً وَأَبًّا ﴿٣١﴾ مَّتَٰعًا لَّكُمْ
وَلِأَنْعَٰمِكُمْ ﴿٣٢﴾ فَإِذَا جَآءَتِ ٱلصَّآخَّةُ ﴿٣٣﴾ يَوْمَ يَفِرُّ ٱلْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ ﴿٣٤﴾
وَأُمِّهِۦ وَأَبِيهِ ﴿٣٥﴾ وَصَٰحِبَتِهِۦ وَبَنِيهِ ﴿٣٦﴾ لِكُلِّ ٱمْرِئٍ مِّنْهُمْ يَوْمَئِذٍ شَأْنٌ
يُغْنِيهِ ﴿٣٧﴾ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ مُّسْفِرَةٌ ﴿٣٨﴾ ضَاحِكَةٌ مُّسْتَبْشِرَةٌ ﴿٣٩﴾ وَوُجُوهٌ
يَوْمَئِذٍ عَلَيْهَا غَبَرَةٌ ﴿٤٠﴾ تَرْهَقُهَا قَتَرَةٌ ﴿٤١﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْكَفَرَةُ ٱلْفَجَرَةُ ﴿٤٢﴾

# د عبس سورت

﴿١﴾ تندی تریو کړه (محمد عليه السلام) او مخ ئی واړوه
﴿٢﴾ د دی وجی نه چه راغی ورته ړوند
﴿٣﴾ او څه شی پوهه کړی ئی ته کیدای شی چه هغه به ځان پاکوی
﴿٤﴾ یابه نصیحت قبول کړی نو نفع به ورکړی ده ته نصیحت
﴿٥﴾ هغه څوک چه بی پروا کړی ئی دی ځان
﴿٦﴾ نو ته هغی ته ورمخکی کیږی
﴿٧﴾ او نیشته په تا باندی ګناه که دی پاک نشی
﴿٨﴾ او هغه څوک چه راغی تاته په داسی حال کښی چه منډی وهی
﴿٩﴾ او هغه ویریږی
﴿١٠﴾ نو ته د هغی نه غفلت کوی
﴿١١﴾ داسی نه ده پکار یقینا دا نصیحت دی
﴿١٢﴾ نو د چا چه خوښه شی نو دا دی یاد کړی
﴿١٣﴾ لیکلی شوی دی په پاڼو عزتمندو کښی
﴿١٤﴾ پورته کړی شوی دی پاکی ساتلی شوی دی
﴿١٥﴾ په لاسونو د لیکونکو ملایکو
﴿١٦﴾ عزتمند او نیکان
﴿١٧﴾ تباه دی شی انسان څومره غټ کافر دی
﴿١٨﴾ د څه شی نه الله پیدا کړی دی
﴿١٩﴾ د نطفی نه ئی پیدا کړی دی نو بیا ئی اندازه کړی دی
﴿٢٠﴾ بیا ئی لار ورته اسانه کړی ده
﴿٢١﴾ بیا ئی مړکړی نو قبر ته ئی بوځی
﴿٢٢﴾ بیا کله چه وغواړی نو را اوچت به کړی ده لره
﴿٢٣﴾ یقینی ده چه نه دی پوری کړی ده حکم د الله لره
﴿٢٤﴾ نو اودی ګوری انسان خوراک خپل ته
﴿٢٥﴾ یقینا راتوی کړی مونږ اوبه په راتویولو سره
﴿٢٦﴾ بیا اوچوله مونږ زمکه په چولو سره
﴿٢٧﴾ نو زرغون کړی مونږ په هغی کښی دانی
﴿٢٨﴾ او انګور او ترکاری
﴿٢٩﴾ او خونه او کجوری
﴿٣٠﴾ او باغونه ګڼ ﴿٣١﴾ او میوی او ګیا
﴿٣٢﴾ لپاره د فایدی ستاسو او لپاره د څارو ستاسو
﴿٣٣﴾ کله چه راشی غوږونه کڼونکی (څیز)
﴿٣٤﴾ په دغی ورځ به تختی هر سړی د ورور خپل نه
﴿٣٥﴾ او د مور نه او د پلار خپل نه
﴿٣٦﴾ او د ښځی خپلی نه او د ځامنو خپلو نه
﴿٣٧﴾ لپاره د هر سړی به په دغه ورځ یو فکر وی چه مشغوله کړی به ئی وی
﴿٣٨﴾ ځنی مخونه به په دغی ورځ رڼا کونکی وی ﴿٣٩﴾ خندا به کوی خوشحاله به وی
﴿٤٠﴾ او ځنی مخونه به په دغی ورځ په هغی باندی دوړی وی
﴿٤١﴾ پټ کړی به وی هغی لره توروالی
﴿٤٢﴾ دغه کسان دوی کافران فاجران دی

# د التکویر سورت

(١) کله چه لمر ونغښتلی شی
(٢) او کله چه ستوری خړ شی
(٣) او هر کله چه غرونه روان شی
(٤) او هر کله چه د لسو میاشتو بلاربی
اوښی خوشی کړی شی
(٥) او هر کله چه ځنګلی ځناور راجمع
کړی شی
(٦) او هر کله چه دریابونه ډک کړی شی
(٧) او هر کله چه ارواح د بدنونو سره
یوځای کړی شی
(٨) او هرکله چه د ژوندئ خښی کړی شوی
جینئ نه تپوس وکړی شی
(٩) چه په کومه ګناه وژلی شوی ده
(١٠) او هر کله چه عملنامی راخوری کړی شی
(١١) او هر کله چه د اسمان نه پوستکی
ویستلی شی
(١٢) او هر کله چه جهنم بله لمبه کړی شی
(١٣) او کله چه جنت نږدی کړی شی
(١٤) پوهه به شی هر نفس په هغی شی چه
حاضر کړی ئی وی
(١٥) نو داسی نه ده قسم کوم په ستورو
پټیدونکو باندی
(١٦) چه روان دی او ښکاره کیږی د شپی
(١٧) او قسم دی په شپه باندی کله چه شاه کړی
(١٨) او قسم دی په سبا باندی کله چه ساه واخلی
(١٩) یقینا دا خامخا وینا د رسول عزتمند ده
(٢٠) خاوند دقوت دی په نزد د خاوند د
عرش د مرتبی والا دی
(٢١) منلی شوی دی هلته امین دی
(٢٢) او نه دی ملګری ستاسو لیونی

سُورَةُ التَّكْوِيرِ — ترتیبها ٨١ — آیاتها ٢٩

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

إِذَا ٱلشَّمْسُ كُوِّرَتْ (١) وَإِذَا ٱلنُّجُومُ ٱنكَدَرَتْ (٢) وَإِذَا ٱلْجِبَالُ
سُيِّرَتْ (٣) وَإِذَا ٱلْعِشَارُ عُطِّلَتْ (٤) وَإِذَا ٱلْوُحُوشُ حُشِرَتْ
(٥) وَإِذَا ٱلْبِحَارُ سُجِّرَتْ (٦) وَإِذَا ٱلنُّفُوسُ زُوِّجَتْ (٧) وَإِذَا
ٱلْمَوْءُۥدَةُ سُئِلَتْ (٨) بِأَيِّ ذَنۢبٍ قُتِلَتْ (٩) وَإِذَا ٱلصُّحُفُ نُشِرَتْ
(١٠) وَإِذَا ٱلسَّمَآءُ كُشِطَتْ (١١) وَإِذَا ٱلْجَحِيمُ سُعِّرَتْ (١٢) وَإِذَا ٱلْجَنَّةُ
أُزْلِفَتْ (١٣) عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّآ أَحْضَرَتْ (١٤) فَلَآ أُقْسِمُ بِٱلْخُنَّسِ (١٥)
ٱلْجَوَارِ ٱلْكُنَّسِ (١٦) وَٱلَّيْلِ إِذَا عَسْعَسَ (١٧) وَٱلصُّبْحِ إِذَا تَنَفَّسَ (١٨)
إِنَّهُۥ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ (١٩) ذِى قُوَّةٍ عِندَ ذِى ٱلْعَرْشِ مَكِينٍ (٢٠) مُّطَاعٍ
ثَمَّ أَمِينٍ (٢١) وَمَا صَاحِبُكُم بِمَجْنُونٍ (٢٢) وَلَقَدْ رَءَاهُ بِٱلْأُفُقِ ٱلْمُبِينِ
(٢٣) وَمَا هُوَ عَلَى ٱلْغَيْبِ بِضَنِينٍ (٢٤) وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَيْطَٰنٍ رَّجِيمٍ (٢٥)
فَأَيْنَ تَذْهَبُونَ (٢٦) إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعَٰلَمِينَ (٢٧) لِمَن شَآءَ مِنكُمْ أَن
يَسْتَقِيمَ (٢٨) وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ (٢٩)

سُورَةُ الانفطار — ترتیبها ٨٢ — آیاتها ٢٩

(٢٣) او یقینا لیدلی دی (محمد عليه السلام) هغه
(جبریل عليه السلام) په کنارو روښانه کښی
(٢٤) او نه دی په وحی بیانولو کښی بخل
کونکی
(٢٥) او نه ده دا وینا د شیطان رټلی شوی
(٢٦) نو کوم خوا ځئ تاسو
(٢٧) نه دی دا مګر نصیحت دی لپاره د ټولو خلکو
(٢٨) لپاره د هغه چا چه غواړی ستاسو نه چه
برابر روان شی
(٢٩) او نه شئ غوختلی تاسو مګر هله چه
وغواړی الله تعالی چه رب د ټولو خلقو دی

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

إِذَا ٱلسَّمَآءُ ٱنفَطَرَتۡ ١ وَإِذَا ٱلۡكَوَاكِبُ ٱنتَثَرَتۡ ٢ وَإِذَا ٱلۡبِحَارُ
فُجِّرَتۡ ٣ وَإِذَا ٱلۡقُبُورُ بُعۡثِرَتۡ ٤ عَلِمَتۡ نَفۡسٞ مَّا قَدَّمَتۡ
وَأَخَّرَتۡ ٥ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡإِنسَٰنُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ ٱلۡكَرِيمِ ٦ ٱلَّذِي
خَلَقَكَ فَسَوَّىٰكَ فَعَدَلَكَ ٧ فِيٓ أَيِّ صُورَةٖ مَّا شَآءَ رَكَّبَكَ ٨
كَلَّا بَلۡ تُكَذِّبُونَ بِٱلدِّينِ ٩ وَإِنَّ عَلَيۡكُمۡ لَحَٰفِظِينَ ١٠ كِرَامٗا
كَٰتِبِينَ ١١ يَعۡلَمُونَ مَا تَفۡعَلُونَ ١٢ إِنَّ ٱلۡأَبۡرَارَ لَفِي نَعِيمٖ ١٣ وَإِنَّ
ٱلۡفُجَّارَ لَفِي جَحِيمٖ ١٤ يَصۡلَوۡنَهَا يَوۡمَ ٱلدِّينِ ١٥ وَمَا هُمۡ عَنۡهَا بِغَآئِبِينَ
١٦ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا يَوۡمُ ٱلدِّينِ ١٧ ثُمَّ مَآ أَدۡرَىٰكَ مَا يَوۡمُ ٱلدِّينِ
١٨ يَوۡمَ لَا تَمۡلِكُ نَفۡسٞ لِّنَفۡسٖ شَيۡـٔٗاۖ وَٱلۡأَمۡرُ يَوۡمَئِذٖ لِّلَّهِ ١٩

ترتيبها ٨٣ — سُورَةُ ٱلۡمُطَفِّفِينَ — آياتها ٣٦

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَيۡلٞ لِّلۡمُطَفِّفِينَ ١ ٱلَّذِينَ إِذَا ٱكۡتَالُواْ عَلَى ٱلنَّاسِ يَسۡتَوۡفُونَ ٢
وَإِذَا كَالُوهُمۡ أَو وَّزَنُوهُمۡ يُخۡسِرُونَ ٣ أَلَا يَظُنُّ أُوْلَٰٓئِكَ أَنَّهُم
مَّبۡعُوثُونَ ٤ لِيَوۡمٍ عَظِيمٖ ٥ يَوۡمَ يَقُومُ ٱلنَّاسُ لِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٦

## د الانفطار سورت

١ هرکله چه اسمان وچوی
٢ او هرکله چه ستوری راولیږی تیت په تیت
٣ او هر کله چه دریابونه و بیولی شی
٤ او هر کله چه قبرونو والا راپورته کړی شی
٥ پوهه به شی هر نفس په هغی عمل چه مخکی ئی لیږلی وی او یا ئی روسته پریخی وی
٦ ای انسانه څه شی مغروره کړی ئی ته په رب خپل باندی چه عزتمند ذات دی
٧ داسی ذات چه پیدا کړی ئی ته نو برابر ئی کړی او نیغ قد والا ئی کړی
٨ په هر شکل چه هغی غوختل نو ته ئی جوړ کړی ئی
٩ هیچیری داسی نه ده پکار بلکه تاسو تکذیب کوئ د ورځی د جزاء
١٠ او یقینا په تاسو باندی مقرر دی حفاظت کونکی ملایکی
١١ عزتمند لیکونکی
١٢ پوهیږی په هغه څه چه تاسوئی کوئ
١٣ یقینا نیکان خلک به خامخا په نعمتونو کښی وی
١٤ اویقینا بدکار خلق به خامخا په اور کښی وی
١٥ ننوځی به هغی ته په ورځ دجزاء
١٦ او نه دی دوی د هغی نه پتیدونکی
١٧ او څه شی پوهه کړی ئی ته چه څه ده ورځ د جزاء
١٨ بیا څه شی پوهه کړی ئی ته چه څه ده ورځ د جزاء
١٩ هغه ورځ چه نه به مومی اختیار هیڅ نفس د بل نفس لره د هیڅ شی او ټول اختیار په دغه ورځ کښی خاص الله تعالی لره دی

## د المطففین سورت

١ تباهی ده لپاره د کمی کونکو
٢ هغه کسان چه پیمانه اخلی د خلکو نه نو پوره ئی اخلی
٣ او کله چه پیمانه ورکوی هغوی لره او یا تول کوی هغوی له نو کمی کوی
٤ ایا گمان نه کوی دغه خلق چه یقینا دوی به دوباره راپورته کړی شی
٥ لوئی ورځی ته
٦ هغه ورځ چه اوبه دریږی خلق رب العلمین ته
٧ هیچیری داسی نه ده پکاریقینا عملنامه د بدکارانو خامخا په سجین کښی ده

كَلَّآ إِنَّ كِتَٰبَ ٱلْفُجَّارِ لَفِى سِجِّينٍ ﴿٧﴾ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا سِجِّينٌ ﴿٨﴾ كِتَٰبٌ
مَّرْقُومٌ ﴿٩﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿١٠﴾ ٱلَّذِينَ يُكَذِّبُونَ بِيَوْمِ ٱلدِّينِ ﴿١١﴾
وَمَا يُكَذِّبُ بِهِۦٓ إِلَّا كُلُّ مُعْتَدٍ أَثِيمٍ ﴿١٢﴾ إِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِ ءَايَٰتُنَا قَالَ أَسَٰطِيرُ
ٱلْأَوَّلِينَ ﴿١٣﴾ كَلَّا ۖ بَلْ ۜ رَانَ عَلَىٰ قُلُوبِهِم مَّا كَانُوا۟ يَكْسِبُونَ ﴿١٤﴾ كَلَّآ إِنَّهُمْ
عَن رَّبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّمَحْجُوبُونَ ﴿١٥﴾ ثُمَّ إِنَّهُمْ لَصَالُوا۟ ٱلْجَحِيمِ ﴿١٦﴾ ثُمَّ يُقَالُ
هَٰذَا ٱلَّذِى كُنتُم بِهِۦ تُكَذِّبُونَ ﴿١٧﴾ كَلَّآ إِنَّ كِتَٰبَ ٱلْأَبْرَارِ لَفِى عِلِّيِّينَ
﴿١٨﴾ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا عِلِّيُّونَ ﴿١٩﴾ كِتَٰبٌ مَّرْقُومٌ ﴿٢٠﴾ يَشْهَدُهُ ٱلْمُقَرَّبُونَ
﴿٢١﴾ إِنَّ ٱلْأَبْرَارَ لَفِى نَعِيمٍ ﴿٢٢﴾ عَلَى ٱلْأَرَآئِكِ يَنظُرُونَ ﴿٢٣﴾ تَعْرِفُ فِى
وُجُوهِهِمْ نَضْرَةَ ٱلنَّعِيمِ ﴿٢٤﴾ يُسْقَوْنَ مِن رَّحِيقٍ مَّخْتُومٍ ﴿٢٥﴾
خِتَٰمُهُۥ مِسْكٌ ۚ وَفِى ذَٰلِكَ فَلْيَتَنَافَسِ ٱلْمُتَنَٰفِسُونَ ﴿٢٦﴾ وَمِزَاجُهُۥ
مِن تَسْنِيمٍ ﴿٢٧﴾ عَيْنًا يَشْرَبُ بِهَا ٱلْمُقَرَّبُونَ ﴿٢٨﴾ إِنَّ ٱلَّذِينَ
أَجْرَمُوا۟ كَانُوا۟ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ يَضْحَكُونَ ﴿٢٩﴾ وَإِذَا مَرُّوا۟ بِهِمْ
يَتَغَامَزُونَ ﴿٣٠﴾ وَإِذَا ٱنقَلَبُوٓا۟ إِلَىٰٓ أَهْلِهِمُ ٱنقَلَبُوا۟ فَكِهِينَ ﴿٣١﴾
وَإِذَا رَأَوْهُمْ قَالُوٓا۟ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ لَضَآلُّونَ ﴿٣٢﴾ وَمَآ أُرْسِلُوا۟ عَلَيْهِمْ
حَٰفِظِينَ ﴿٣٣﴾ فَٱلْيَوْمَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مِنَ ٱلْكُفَّارِ يَضْحَكُونَ ﴿٣٤﴾

﴿٨﴾ او څه شی پوهه درکړیده تاته چه څه شی دی سجین
﴿٩﴾ دفتر (رجستر) دی لیکلی شوی
﴿١٠﴾ تباهی ده په دغه ورځ تکذیب کونکو لره
﴿١١﴾ هغه کسان چه تکذیب کوی د ورځی د جزاء
﴿١٢﴾ او تکذیب نه کوی د دغی ورځ مګر هر د حد نه تیریدونکی ډیر ګناهګار
﴿١٣﴾ کله چه ولوستلی شی په هغه باندی ایاتونه زمونږ نو هغه وائی دا خو دروغ قصی دی د مخکنو خلکو
﴿١٤﴾ هیچیری داسی نه ده بلکه زنګ راغلی دی په زړونو د دوی په سبب د هغی عملونو چه دوی کول
﴿١٥﴾ یقینا داسی ده چه دا خلق د خپل رب نه په دغه ورځ به په پردو کښی وی
﴿١٦﴾ بیا یقینا دوی ضرور داخلیدونکی دی اور ته
﴿١٧﴾ بیا به وویلی شی دا هغه څیز دی چه تاسو د هغی تکذیب کوو
﴿١٨﴾ یقینا داسی ده یقینا عملنامه د نیکانو خلکو خامخا په علیین کښی ده
﴿١٩﴾ او څه شی پوهه کړی ئی ته چه څه دی علیین
﴿٢٠﴾ دفتر دی لیکلی شوی
﴿٢١﴾ حاضریږی هغی ته مقربین (د الله تعالی)
﴿٢٢﴾ یقینا نیکان خلک به خامخا په نعمتونو کښی وی
﴿٢٣﴾ په پالنګونو باندی به وی ګوری به
﴿٢٤﴾ پیژنی به ته په مخونو د هغوی کښی تازګی د نعمتونو
﴿٢٥﴾ سکلی کیږی به په هغوی باندی د خالصو شرابو مهر وهلی شوو نه
﴿٢٦﴾ چه مهر به ئی مشک وی نو په دیکښی دی مینه وکړی مینه کونکی
﴿٢٧﴾ او ګډون د هغی به د تسنیم نومی چینی نه وی
﴿٢٨﴾ چینه ده چه سکی به د هغی نه نزدی خلق (الله تعالی ته)
﴿٢٩﴾ یقینا هغه کسان چه جرمونه ئی کړی دی ؤ دوی چه په مؤمنانو پوری مسخری کولی
﴿٣٠﴾ او هرکله چه تیریدل به په هغوی باندی نو سترګک به ئی وهه
﴿٣١﴾ او هر کله چه به واپس شو خپلو کورونو ته نو واپس کیدل به خوشحالی کونکی
﴿٣٢﴾ او کله چه به ئی دوی ولیدل نو ویل به ئی چه یقینا دا کسان خامخا ګمراهان دی
﴿٣٣﴾ او نه دی لیږلی شوی دوی په هغوی باندی څوکئ کونکی
﴿٣٤﴾ نو نن ورځ به مؤمنان په کافرانو پوری خندا کوی
﴿٣٥﴾ په پالنګونو باندی به وی ګوری به
﴿٣٦﴾ ایا بدله ورکړی شوی کافرانو ته د هغی عملونو چه دوی کول

عَلَى ٱلْأَرَآئِكِ يَنظُرُونَ ﴿٣٥﴾ هَلْ ثُوِّبَ ٱلْكُفَّارُ مَا كَانُوا۟ يَفْعَلُونَ ﴿٣٦﴾

سُورَةُ الانشِقَاق — ترتيبها ٨٤ — آياتها ٢٥

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

إِذَا ٱلسَّمَآءُ ٱنشَقَّتْ ﴿١﴾ وَأَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ ﴿٢﴾ وَإِذَا ٱلْأَرْضُ مُدَّتْ
﴿٣﴾ وَأَلْقَتْ مَا فِيهَا وَتَخَلَّتْ ﴿٤﴾ وَأَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ ﴿٥﴾ يَٰٓأَيُّهَا
ٱلْإِنسَٰنُ إِنَّكَ كَادِحٌ إِلَىٰ رَبِّكَ كَدْحًا فَمُلَٰقِيهِ ﴿٦﴾ فَأَمَّا مَنْ أُوتِىَ
كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ ﴿٧﴾ فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا ﴿٨﴾ وَيَنقَلِبُ
إِلَىٰٓ أَهْلِهِۦ مَسْرُورًا ﴿٩﴾ وَأَمَّا مَنْ أُوتِىَ كِتَٰبَهُۥ وَرَآءَ ظَهْرِهِۦ ﴿١٠﴾ فَسَوْفَ
يَدْعُوا۟ ثُبُورًا ﴿١١﴾ وَيَصْلَىٰ سَعِيرًا ﴿١٢﴾ إِنَّهُۥ كَانَ فِىٓ أَهْلِهِۦ مَسْرُورًا ﴿١٣﴾
إِنَّهُۥ ظَنَّ أَن لَّن يَحُورَ ﴿١٤﴾ بَلَىٰٓ إِنَّ رَبَّهُۥ كَانَ بِهِۦ بَصِيرًا ﴿١٥﴾ فَلَآ أُقْسِمُ
بِٱلشَّفَقِ ﴿١٦﴾ وَٱلَّيْلِ وَمَا وَسَقَ ﴿١٧﴾ وَٱلْقَمَرِ إِذَا ٱتَّسَقَ ﴿١٨﴾
لَتَرْكَبُنَّ طَبَقًا عَن طَبَقٍ ﴿١٩﴾ فَمَا لَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٢٠﴾ وَإِذَا قُرِئَ
عَلَيْهِمُ ٱلْقُرْءَانُ لَا يَسْجُدُونَ ۩ ﴿٢١﴾ بَلِ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ يُكَذِّبُونَ
﴿٢٢﴾ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يُوعُونَ ﴿٢٣﴾ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٢٤﴾
إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ ﴿٢٥﴾

# د الانشقاق سورت

﴿١﴾ هرکله چه اسمان وچوی
﴿٢﴾ او غوږ ئی یخی دی حکم د رب خپل
ته او لایقه ده چه غوږ کیږدی
﴿٣﴾ او کله چه زمکه وغوړولی شی
﴿٤﴾ او (بهر) وغورځوی هغه څه چه په
هغی کښی دی او خالی شی
﴿٥﴾ او غوږ ئی یخی دی حکم د رب خپل ته
او لایق ده چه غوږ کیږدی
﴿٦﴾ ای انسانه یقینا ته مشقت ویستونکی ئی
(په رسیدلو کښی) خپل رب ته مشقت کول
نو مخامخ کیدونکی ئی د هغی سره
﴿٧﴾ نو هغه څوک چه ورکړیشی عملنامه د
هغی په ښی لاس د هغه کښی
﴿٨﴾ نو زر دی چه حساب به ورسره وکړی
شی اسان حساب
﴿٩﴾ او اوبه ګرځی خپل اهل ته خوشحاله
کړی شوی
﴿١٠﴾ او هغه څوک چه ورکړی شی عملنامه
د هغی روستو د شاه د هغی نه
﴿١١﴾ نو زر دی چه غواړی به هلاکت خپل
﴿١٢﴾ او داخل به شی اور تیز ته
﴿١٣﴾ یقینا دی ؤ په خپل کور کښی خوشحاله
﴿١٤﴾ یقینا ده ګمان کولو چه اوبه نه ګرځی
الله تعالی ته
﴿١٥﴾ بلکه یقینا رب د ده دی ده لره لیدونکی
﴿١٦﴾ نو داسی نه ده قسم کوم په سرخئ د
ماښام باندی
﴿١٧﴾ او په شپه باندی او په هغه څه چه
راجمع کړی وی (هغی لره شپی په خپلو
تیارو کښی)
﴿١٨﴾ او په سپوږمی باندی کله چه پوره شی
﴿١٩﴾ خامخا ځئ به تاسو یو حالت ته روسته
د بل حالت نه
﴿٢٠﴾ نو څه وجه ده دوی لره چه ایمان نه راوړی
﴿٢١﴾ او کله چه ولوستلی شی په دوی باندی
قران نو سجده نه کوی
﴿٢٢﴾ بلکه هغه کسان چه کافران دی دوی خو
تکذیب کوی
﴿٢٣﴾ او الله تعالی پوهه دی په هغی ځیزونو
چه دوی ئی په زړونو کښی ساتی
﴿٢٤﴾ نو زیری ورکړه دوی ته په عذاب
دردناک سره
﴿٢٥﴾ مګر هغه کسان چه ایمان ئی راوړی
دی او عملونه ئی کړیدی نیک دوی لره
ثوابونه دی بی انتهاء

# د البروج سورت

سُورَةُ البُرُوجِ
ترتيبها ٨٥ — آياتها ٢٢

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلسَّمَآءِ ذَاتِ ٱلۡبُرُوجِ (١) وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡمَوۡعُودِ (٢) وَشَاهِدٖ وَمَشۡهُودٖ
(٣) قُتِلَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡأُخۡدُودِ (٤) ٱلنَّارِ ذَاتِ ٱلۡوَقُودِ (٥) إِذۡ هُمۡ عَلَيۡهَا
قُعُودٞ (٦) وَهُمۡ عَلَىٰ مَا يَفۡعَلُونَ بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ شُهُودٞ (٧) وَمَا نَقَمُواْ
مِنۡهُمۡ إِلَّآ أَن يُؤۡمِنُواْ بِٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَمِيدِ (٨) ٱلَّذِي لَهُۥ مُلۡكُ
ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدٌ (٩) إِنَّ ٱلَّذِينَ
فَتَنُواْ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ ثُمَّ لَمۡ يَتُوبُواْ فَلَهُمۡ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَلَهُمۡ
عَذَابُ ٱلۡحَرِيقِ (١٠) إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُمۡ
جَنَّٰتٞ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۚ ذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡكَبِيرُ (١١) إِنَّ بَطۡشَ
رَبِّكَ لَشَدِيدٌ (١٢) إِنَّهُۥ هُوَ يُبۡدِئُ وَيُعِيدُ (١٣) وَهُوَ ٱلۡغَفُورُ ٱلۡوَدُودُ (١٤)
ذُو ٱلۡعَرۡشِ ٱلۡمَجِيدُ (١٥) فَعَّالٞ لِّمَا يُرِيدُ (١٦) هَلۡ أَتَىٰكَ حَدِيثُ ٱلۡجُنُودِ
(١٧) فِرۡعَوۡنَ وَثَمُودَ (١٨) بَلِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فِي تَكۡذِيبٖ (١٩) وَٱللَّهُ مِن
وَرَآئِهِم مُّحِيطُۢ (٢٠) بَلۡ هُوَ قُرۡءَانٞ مَّجِيدٞ (٢١) فِي لَوۡحٖ مَّحۡفُوظِۭ (٢٢)

سُورَةُ الطَّارِقِ
ترتيبها ٨٦ — آياتها ١٧

(١) قسم دی په اسمان چه خاوند د برجونو دی
(٢) او په هغی ورځ چه وعده ئی کړی شوی ده
(٣) او (قسم دی) په هغی ورځ چه حاضریږی (چه ورځ د جمعی ده) اوپه هغی ورځی چه (خلک ورته) حاضریږی (چه ورځ د عرفی) ده
(٤) هلاک شول کنستونکی د خند قونو (داور)
(٥) اور ډیر خشاک والا
(٦) کله چه دوی د هغی په خوا کښی ناست ؤ
(٧) او دوی په هغی کارونو چه کول ئی د مؤمنانو سره تماشه کونکی ؤ
(٨) او بد نه ګڼلو دوی د هغوی نه مګر دا چه هغوی ایمان راوړی ؤ په الله تعالی چه زوراور ستایلی شوی دی
(٩) هغه ذات چه هغی لره بادشاهی د اسمانونو او د زمکی ده او الله تعالی په هر څیز باندی شاهد دی
(١٠) یقینا هغه کسان چه تکلیفونه ئی ورکړی دی مؤمنانو سړو او مؤمنانو ښځو ته بیا ئی نه دی ویستلی توبه نو دوی لره عذاب د جهنم دی او دوی لره عذاب دی د اور سوځونکی
(١١) یقینا هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی او عملونه ئی کړی دی نیک دوی لره جنتونه دی بهیږی لاندی د هغی نه نهرونه دا کامیابی لویه ده
(١٢) یقینا نیول د رب ستا خامخا ډیر سخت دی
(١٣) یقینا هغه اول پیدایش کوی او دوباره هم
(١٤) او هغه دی ښښنه کونکی مینه کونکی
(١٥) خاوند د عرش دی لوی شان والا دی
(١٦) کونکی دی د هغه څه چه وئی غواړی
(١٧) یقینا راغلی دی تاته خبر د لښکرو
(١٨) د فرعون او ثمودیانو
(١٩) بلکه هغه کسان چه کفر ئی کړی دی په تکذیب کښی دی
(٢٠) او الله تعالی د دوی د هر طرف راګیرونکی دی
(٢١) بلکه دا قران دی لوی شان والا
(٢٢) (لیکلی شوی دی) په لوح محفوظ کښی

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلسَّمَآءِ وَٱلطَّارِقِ ﴿١﴾ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا ٱلطَّارِقُ ﴿٢﴾ ٱلنَّجۡمُ ٱلثَّاقِبُ ﴿٣﴾ إِن كُلُّ
نَفۡسٖ لَّمَّا عَلَيۡهَا حَافِظٞ ﴿٤﴾ فَلۡيَنظُرِ ٱلۡإِنسَٰنُ مِمَّ خُلِقَ ﴿٥﴾ خُلِقَ مِن مَّآءٖ
دَافِقٖ ﴿٦﴾ يَخۡرُجُ مِنۢ بَيۡنِ ٱلصُّلۡبِ وَٱلتَّرَآئِبِ ﴿٧﴾ إِنَّهُۥ عَلَىٰ رَجۡعِهِۦ لَقَادِرٞ ﴿٨﴾
يَوۡمَ تُبۡلَى ٱلسَّرَآئِرُ ﴿٩﴾ فَمَا لَهُۥ مِن قُوَّةٖ وَلَا نَاصِرٖ ﴿١٠﴾ وَٱلسَّمَآءِ ذَاتِ ٱلرَّجۡعِ ﴿١١﴾
وَٱلۡأَرۡضِ ذَاتِ ٱلصَّدۡعِ ﴿١٢﴾ إِنَّهُۥ لَقَوۡلٞ فَصۡلٞ ﴿١٣﴾ وَمَا هُوَ بِٱلۡهَزۡلِ ﴿١٤﴾ إِنَّهُمۡ
يَكِيدُونَ كَيۡدٗا ﴿١٥﴾ وَأَكِيدُ كَيۡدٗا ﴿١٦﴾ فَمَهِّلِ ٱلۡكَٰفِرِينَ أَمۡهِلۡهُمۡ رُوَيۡدَۢا ﴿١٧﴾

ترتيبها ٨٧ — سُورَةُ الأَعۡلَىٰ — آياتها ١٩

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

سَبِّحِ ٱسۡمَ رَبِّكَ ٱلۡأَعۡلَى ﴿١﴾ ٱلَّذِي خَلَقَ فَسَوَّىٰ ﴿٢﴾ وَٱلَّذِي قَدَّرَ فَهَدَىٰ
﴿٣﴾ وَٱلَّذِيٓ أَخۡرَجَ ٱلۡمَرۡعَىٰ ﴿٤﴾ فَجَعَلَهُۥ غُثَآءً أَحۡوَىٰ ﴿٥﴾ سَنُقۡرِئُكَ
فَلَا تَنسَىٰٓ ﴿٦﴾ إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُۚ إِنَّهُۥ يَعۡلَمُ ٱلۡجَهۡرَ وَمَا يَخۡفَىٰ ﴿٧﴾ وَنُيَسِّرُكَ
لِلۡيُسۡرَىٰ ﴿٨﴾ فَذَكِّرۡ إِن نَّفَعَتِ ٱلذِّكۡرَىٰ ﴿٩﴾ سَيَذَّكَّرُ مَن يَخۡشَىٰ ﴿١٠﴾
وَيَتَجَنَّبُهَا ٱلۡأَشۡقَى ﴿١١﴾ ٱلَّذِي يَصۡلَى ٱلنَّارَ ٱلۡكُبۡرَىٰ ﴿١٢﴾ ثُمَّ لَا يَمُوتُ
فِيهَا وَلَا يَحۡيَىٰ ﴿١٣﴾ قَدۡ أَفۡلَحَ مَن تَزَكَّىٰ ﴿١٤﴾ وَذَكَرَ ٱسۡمَ رَبِّهِۦ فَصَلَّىٰ ﴿١٥﴾

## د الطارق سورت

(١) قسم دی په اسمان او په راتلونکی د شپی باندی
(٢) او څه شی پوهه کړی ته چه څه دی راتلونکی د شپی
(٣) ستوری دی ځلیدونکی
(٤) نشته هیڅ نفس مګر شته دی په هغی باندی ساتنه کونکی
(٥) نو اود ګوری انسان چه د څه نه پیدا کړی شوی دی
(٦) پیدا کړی شوی دی د اوبو توپ وهونکو نه
(٧) چه راوځی د مینځ د ملا او د سینی نه
(٨) یقینا الله تعالی په واپس کولو د هغی باندی قادر دی
(٩) په هغه ورځ چه ښکاره به شی رازونه
(١٠) نو نه به وی هغه لره هیڅ طاقت او نه مددګار
(١١) او قسم دی په اسمان چه خاوند د راګرځیدلو دی
(١٢) او قسم دی په زمکه چه خاوند د چاودلو ده
(١٣) یقینا خامخا (دا قران) وینا ده بیلونکی
(١٤) او نه ده دا ټوقه
(١٥) یقینا دوی چلونه کوی چلونه
(١٦) او زه هم تدبیر کوم تدبیر
(١٧) نو مهلت ورکړه کافرانو لره مهلت ورکړه دوی لره لږه موده

## د الاعلی سورت

(١) پاکی وایه د نوم د رب ستا چه اوچت دی
(٢) هغه ذات چه پیدایش ئی کړی دی نو برابر کړی ئی دی
(٣) او هغه ذات چه اندازه ئی کړی ده نو هدایت ئی کړی دی
(٤) او هغه ذات چه راویستلی ئی دی بوټی د خریدلو
(٥) نو بیا ئی ګرځولی دی هغه بوس تور
(٦) یقینا مونږ لولو تاته قران نو نه به هیریږی ستا نه
(٧) مګر هغه چه وغواړی الله تعالی یقینا هغه عالم دی په ښکاره او په هغی باندی چه پټ دی
(٨) اسانوو تاته لار د اسانی
(٩) نو پند ورکړه ته که فایده رسوی نصیحت او پند
(١٠) زر دی چه نصیحت به قبول کړی هغه څوک چه ویریږی
(١١) او په ډډه به اوسیږی د دی نه بدبخت
(١٢) هغه چه داخلیږی به اور لوی ته

(١٣) بیا به نه مړکیږی په هغی کښی او نه به
ژوندی وی
(١٤) یقینا کامیاب دی هغه څوک چه ځان ئی
پاک کړه
(١٥) او یادوی نوم د رب خپل پس لمونځ کوی
(١٦) بلکه غوره کوی تاسو ژوند دنیوی
(١٧) او اخرت غوره دی او همیشه دی
(١٨) یقینا دا په کتابونو مخکنو کښی شته دی
(١٩) چه کتابونه د موسی او ابراهیم علیهم
السلام دی

## د الغاشیة سورت

(١) یقینا راغلی دی تاته خبر د افت پټونکی
(٢) ځنی مخونه به په دغی ورځ ذلیله وی
(٣) محنت کونکی او ستړی به وی
(٤) داخلیږی به اور سخت ګرم ته
(٥) سکلی کیږی به په هغوی باندی د چینی
خوټکیدونکی نه
(٦) نه به وی د دوی خوراک مګر د
ازغی دار بوټو نه
(٧) چه نه سربول کوی او نه فایده ورکوی
د لوږی نه
(٨) اوځنی مخونه به په دغی ورځ تر او تازه وی
(٩) په وجه د عمل خپل به خوشحاله وی
(١٠) په جنت اوچت کښی به وی
(١١) نه به اوری په هغی کښی بی فایدی خبری
(١٢) په هغی کښی به چینه وی روانه
(١٣) په هغی کښی به تختونه وی اوچت کړی
شوی
(١٤) او ګلاسونه کیخودلی شوی
(١٥) او تکیه ګانی به وی صفونه
(١٦) او قالینی به وی خوری کړی شوی

بَلْ تُؤْثِرُونَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا ﴿١٦﴾ وَٱلْـَٔاخِرَةُ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰٓ ﴿١٧﴾ إِنَّ
هَـٰذَا لَفِى ٱلصُّحُفِ ٱلْأُولَىٰ ﴿١٨﴾ صُحُفِ إِبْرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ ﴿١٩﴾

### سُورَةُ الغَاشِيَةِ
ترتيبها ٨٨ — آياتها ٢٦

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَـٰنِ ٱلرَّحِيمِ

هَلْ أَتَىٰكَ حَدِيثُ ٱلْغَـٰشِيَةِ ﴿١﴾ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ خَـٰشِعَةٌ ﴿٢﴾
عَامِلَةٌ نَّاصِبَةٌ ﴿٣﴾ تَصْلَىٰ نَارًا حَامِيَةً ﴿٤﴾ تُسْقَىٰ مِنْ عَيْنٍ ءَانِيَةٍ ﴿٥﴾
لَّيْسَ لَهُمْ طَعَامٌ إِلَّا مِن ضَرِيعٍ ﴿٦﴾ لَّا يُسْمِنُ وَلَا يُغْنِى مِن جُوعٍ ﴿٧﴾
وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاعِمَةٌ ﴿٨﴾ لِّسَعْيِهَا رَاضِيَةٌ ﴿٩﴾ فِى جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ﴿١٠﴾
لَّا تَسْمَعُ فِيهَا لَـٰغِيَةً ﴿١١﴾ فِيهَا عَيْنٌ جَارِيَةٌ ﴿١٢﴾ فِيهَا سُرُرٌ مَّرْفُوعَةٌ ﴿١٣﴾
وَأَكْوَابٌ مَّوْضُوعَةٌ ﴿١٤﴾ وَنَمَارِقُ مَصْفُوفَةٌ ﴿١٥﴾ وَزَرَابِىُّ مَبْثُوثَةٌ ﴿١٦﴾
أَفَلَا يَنظُرُونَ إِلَى ٱلْإِبِلِ كَيْفَ خُلِقَتْ ﴿١٧﴾ وَإِلَى ٱلسَّمَآءِ كَيْفَ
رُفِعَتْ ﴿١٨﴾ وَإِلَى ٱلْجِبَالِ كَيْفَ نُصِبَتْ ﴿١٩﴾ وَإِلَى ٱلْأَرْضِ كَيْفَ
سُطِحَتْ ﴿٢٠﴾ فَذَكِّرْ إِنَّمَآ أَنتَ مُذَكِّرٌ ﴿٢١﴾ لَّسْتَ عَلَيْهِم
بِمُصَيْطِرٍ ﴿٢٢﴾ إِلَّا مَن تَوَلَّىٰ وَكَفَرَ ﴿٢٣﴾ فَيُعَذِّبُهُ ٱللَّهُ ٱلْعَذَابَ
ٱلْأَكْبَرَ ﴿٢٤﴾ إِنَّ إِلَيْنَآ إِيَابَهُمْ ﴿٢٥﴾ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا حِسَابَهُم ﴿٢٦﴾

(١٧) ایا دوی نه ګوری اوښانو ته چه څرنګ
پیدا کړی شوی دی
(١٨) او اسمان ته چه څرنګ اوچت کړی
شوی دی
(١٩) او غرونو ته چه څرنګ ودرولی شوی دی
(٢٠) او زمکی ته چه څرنګ غوړولی شوی ده
(٢١) نو پند ورکړه ته یقینا ته نصیحت
کونکی ئی
(٢٢) نه ئی ته په دوی باندی څوکیدار مقرر
کړی شوی
(٢٣) مګر هغه څوک چه مخ ئی واړو او کفر
ئی وکړه
(٢٤) نو عذاب به ورکړی الله تعالی هغی لره
عذاب لوی
(٢٥) یقینا زمونږ طرف ته راګرځیدل د دوی دی
(٢٦) بیا یقینا په مونږ باندی حساب کول د دوی دی

ترتيبها ٨٩ — سُورَةُ الفَجْرِ — آياتها ٣٠

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلْفَجْرِ ﴿١﴾ وَلَيَالٍ عَشْرٍ ﴿٢﴾ وَٱلشَّفْعِ وَٱلْوَتْرِ ﴿٣﴾ وَٱلَّيْلِ إِذَا يَسْرِ
﴿٤﴾ هَلْ فِي ذَٰلِكَ قَسَمٌ لِّذِي حِجْرٍ ﴿٥﴾ أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِعَادٍ
﴿٦﴾ إِرَمَ ذَاتِ ٱلْعِمَادِ ﴿٧﴾ ٱلَّتِي لَمْ يُخْلَقْ مِثْلُهَا فِي ٱلْبِلَٰدِ ﴿٨﴾
وَثَمُودَ ٱلَّذِينَ جَابُوا۟ ٱلصَّخْرَ بِٱلْوَادِ ﴿٩﴾ وَفِرْعَوْنَ ذِي ٱلْأَوْتَادِ ﴿١٠﴾
ٱلَّذِينَ طَغَوْا۟ فِي ٱلْبِلَٰدِ ﴿١١﴾ فَأَكْثَرُوا۟ فِيهَا ٱلْفَسَادَ ﴿١٢﴾ فَصَبَّ
عَلَيْهِمْ رَبُّكَ سَوْطَ عَذَابٍ ﴿١٣﴾ إِنَّ رَبَّكَ لَبِٱلْمِرْصَادِ ﴿١٤﴾ فَأَمَّا
ٱلْإِنسَٰنُ إِذَا مَا ٱبْتَلَىٰهُ رَبُّهُۥ فَأَكْرَمَهُۥ وَنَعَّمَهُۥ فَيَقُولُ رَبِّيٓ أَكْرَمَنِ
﴿١٥﴾ وَأَمَّآ إِذَا مَا ٱبْتَلَىٰهُ فَقَدَرَ عَلَيْهِ رِزْقَهُۥ فَيَقُولُ رَبِّيٓ أَهَٰنَنِ ﴿١٦﴾
كَلَّا ۖ بَل لَّا تُكْرِمُونَ ٱلْيَتِيمَ ﴿١٧﴾ وَلَا تَحَٰٓضُّونَ عَلَىٰ طَعَامِ
ٱلْمِسْكِينِ ﴿١٨﴾ وَتَأْكُلُونَ ٱلتُّرَاثَ أَكْلًا لَّمًّا ﴿١٩﴾
وَتُحِبُّونَ ٱلْمَالَ حُبًّا جَمًّا ﴿٢٠﴾ كَلَّآ إِذَا دُكَّتِ ٱلْأَرْضُ دَكًّا
دَكًّا ﴿٢١﴾ وَجَآءَ رَبُّكَ وَٱلْمَلَكُ صَفًّا صَفًّا ﴿٢٢﴾ وَجِاىٓءَ يَوْمَئِذٍۭ
بِجَهَنَّمَ ۚ يَوْمَئِذٍ يَتَذَكَّرُ ٱلْإِنسَٰنُ وَأَنَّىٰ لَهُ ٱلذِّكْرَىٰ ﴿٢٣﴾

# د الفجر سورت

﴿١﴾ قسم دی په وخت د صبا باندی
﴿٢﴾ او په لسو شپو باندی
﴿٣﴾ او په جفت او طاق باندی
﴿٤﴾ او په شپه باندی چه کله روانه شی
﴿٥﴾ یقینا شته په دی کښی پوره حصه عقل والاو لره
﴿٦﴾ ایا ته نه ګوری چه څرنګ کار وکړه رب ستا د عادیانو سره
﴿٧﴾ چه ارم دی ستنو والا
﴿٨﴾ هغه خلق چه نه دی پیدا شوی د هغوی په شان په ټولو ښارونو کښی
﴿٩﴾ او ثمودیان هغه چه تراشلی ئی ګټی په لمنو د غرونو کښی
﴿١٠﴾ او فرعون چه د میخونو والا ؤ
﴿١١﴾ هغه کسان چه سرکشی ئی کړی وه په ښارونو کښی
﴿١٢﴾ نو بیا ئی ډیر کړی ؤ په هغی کښی فساد
﴿١٣﴾ نو راولیږله په هغوی باندی رب ستا کوړه د عذاب
﴿١٤﴾ یقینا رب ستا خامخا په ځای د انتظار کښی دی
﴿١٥﴾ نو هر چه انسان دی هرکله چه ازمینت وکړی په ده باندی رب د ده نو عزت ورکړی ده لره او نعمتونه ورکړی ده لره نو دی وائی رب زما عزت راکړو ما لره
﴿١٦﴾ او هر کله چه ازمینت وکړی په ده باندی نو تنګه کړی په ده باندی روزی د ده نو دی وائی چه رب زما سپک والی وکړه زما
﴿١٧﴾ هیچیری داسی نه ده بلکه نه کوی تاسو عزت د یتیم
﴿١٨﴾ او نه ورکوی تیزی تاسو په خوراک د مسکین باندی
﴿١٩﴾ او خوری تاسو مال د میراث په خوړلو ټولو سره
﴿٢٠﴾ او مینه کوی تاسو له مال سره مینه ډیره
﴿٢١﴾ هیچیری داسی نه ده پکار هرکله چه همواره شی زمکه په پوره همواریدلو سره
﴿٢٢﴾ او راشی رب ستا او ملایکی صفونه صفونه
﴿٢٣﴾ او رابه وستلی شی په دغه ورځ جهنم لره په دغه ورځ به نصیحت قبلوی انسان او د کوم ځای نه به وی ده لره نصیحت
﴿٢٤﴾ وائی به دی های ارمان دی چه عمل می مخکی رالیږلی وی لپاره د دی ژوند خپل
﴿٢٥﴾ نو په دغی ورځ نه شی ورکولی څوک په شان د عذاب دهغه هیڅوک

(٢٦) او نه شي کولی څوک تړل د هغې
پشان تړل هيڅوک
(٢٧) اى نفسه يقين کونکيه
(٢٨) وګرځه طرف د رب خپل ته په داسې
حال کښې چه ته به خوشحاله ئې (د رب
خپل نه) او هغه به راضي وى (ستا نه)
(٢٩) نو داخل شه په بندګانو زما کښې
(٣٠) او داخل شه جنت زما ته

## د البلد سورت

(١) داسې نه ده قسم کوم په دې ښار باندې
(٢) او حال دا چه ته به خلاص شې په دې
ښار کښې
(٣) او قسم دى په پلار او په هغې باندې چه
ده زيږولى دى
(٤) يقينا خامخا مونږ پيدا کړى دى انسان په
مشقت کښې
(٥) ايا ګمان کوى (انسان کافر) چه قادره به
نشي په ده باندې هيڅوک
(٦) وائى هغه چه ما خرڅ کړى مال خورا ډير
(٧) ايا ګمان کوى دا چه نه دى ليدلى دى هيچا
(٨) ايا نه دى ورکړى مونږ ده ته دوه سترګې
(٩) او ژبه او دوه شونډې
(١٠) او ښودلې دى مونږ ده ته دوه لارې
(١١) نو نه دى ختلى دى په کنډاو باندې
(١٢) او څه شې پوهه کړى ئې ته چه څه دى
کنډو
(١٣) خلاصول د ښټ دى
(١٤) او يا طعام ورکول په هغې ورځ کښې
چه خاوند د لوږې وى
(١٥) يتيم ته چه خاوند دخپلوى وى
(١٦) يا غريب ته چه خاوند دخاورو وى
(١٧) بيا وى له هغې کسانو څخه چه ايمان ئې
راوړى وى او وصيت کوى يو بل ته په

يَقُولُ يَٰلَيْتَنِي قَدَّمْتُ لِحَيَاتِي (٢٤) فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُعَذِّبُ عَذَابَهُۥٓ أَحَدٌ (٢٥)
وَلَا يُوثِقُ وَثَاقَهُۥٓ أَحَدٌ (٢٦) يَٰٓأَيَّتُهَا ٱلنَّفْسُ ٱلْمُطْمَئِنَّةُ (٢٧) ٱرْجِعِيٓ
إِلَىٰ رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً (٢٨) فَٱدْخُلِي فِي عِبَٰدِي (٢٩) وَٱدْخُلِي جَنَّتِي (٣٠)

### سُورَةُ ٱلْبَلَدِ
ترتيبها ٩٠ — آياتها ٢٠

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

لَآ أُقْسِمُ بِهَٰذَا ٱلْبَلَدِ (١) وَأَنتَ حِلٌّۢ بِهَٰذَا ٱلْبَلَدِ (٢) وَوَالِدٍ وَمَا وَلَدَ
(٣) لَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ فِي كَبَدٍ (٤) أَيَحْسَبُ أَن لَّن يَقْدِرَ عَلَيْهِ
أَحَدٌ (٥) يَقُولُ أَهْلَكْتُ مَالًا لُّبَدًا (٦) أَيَحْسَبُ أَن لَّمْ يَرَهُۥٓ أَحَدٌ
(٧) أَلَمْ نَجْعَل لَّهُۥ عَيْنَيْنِ (٨) وَلِسَانًا وَشَفَتَيْنِ (٩) وَهَدَيْنَٰهُ
ٱلنَّجْدَيْنِ (١٠) فَلَا ٱقْتَحَمَ ٱلْعَقَبَةَ (١١) وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا ٱلْعَقَبَةُ (١٢)
فَكُّ رَقَبَةٍ (١٣) أَوْ إِطْعَٰمٌ فِي يَوْمٍ ذِي مَسْغَبَةٍ (١٤) يَتِيمًا ذَا مَقْرَبَةٍ
(١٥) أَوْ مِسْكِينًا ذَا مَتْرَبَةٍ (١٦) ثُمَّ كَانَ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَتَوَاصَوْا۟
بِٱلصَّبْرِ وَتَوَاصَوْا۟ بِٱلْمَرْحَمَةِ (١٧) أُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلْمَيْمَنَةِ (١٨) وَٱلَّذِينَ
كَفَرُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا هُمْ أَصْحَٰبُ ٱلْمَشْـَٔمَةِ (١٩) عَلَيْهِمْ نَارٌ مُّؤْصَدَةٌۢ (٢٠)

### سُورَةُ ٱلشَّمْسِ
ترتيبها ٩١ — آياتها ١٥

صبر باندې او وصيت کوى يو بل ته په
شفقت مهرباني باندې
(١٨) دغه کسان خاوندان د ښي لاس دى
(١٩) او هغه کسان چه کافران شوى دى په
اياتونو زمونږ هم دوى خاوندان د کيڼ لاس
دى
(٢٠) وى به په دوى باندې اور رابند کړى
شوى

## د الشمس سورت

(١) قسم دى په لمر باندې او په رڼا دهغې باندې
(٢) او قسم دى په سپوږمۍ باندې کله چه
راځى په دغې لمر پسې
(٣) او قسم دى په ورځ باندې کله چه
ښکاره کړى لمر

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلشَّمْسِ وَضُحَىٰهَا ﴿١﴾ وَٱلْقَمَرِ إِذَا تَلَىٰهَا ﴿٢﴾ وَٱلنَّهَارِ إِذَا جَلَّىٰهَا ﴿٣﴾
وَٱلَّيْلِ إِذَا يَغْشَىٰهَا ﴿٤﴾ وَٱلسَّمَآءِ وَمَا بَنَىٰهَا ﴿٥﴾ وَٱلْأَرْضِ وَمَا طَحَىٰهَا
﴿٦﴾ وَنَفْسٍ وَمَا سَوَّىٰهَا ﴿٧﴾ فَأَلْهَمَهَا فُجُورَهَا وَتَقْوَىٰهَا ﴿٨﴾ قَدْ
أَفْلَحَ مَن زَكَّىٰهَا ﴿٩﴾ وَقَدْ خَابَ مَن دَسَّىٰهَا ﴿١٠﴾ كَذَّبَتْ ثَمُودُ
بِطَغْوَىٰهَآ ﴿١١﴾ إِذِ ٱنۢبَعَثَ أَشْقَىٰهَا ﴿١٢﴾ فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ ٱللَّهِ
نَاقَةَ ٱللَّهِ وَسُقْيَٰهَا ﴿١٣﴾ فَكَذَّبُوهُ فَعَقَرُوهَا فَدَمْدَمَ
عَلَيْهِمْ رَبُّهُم بِذَنۢبِهِمْ فَسَوَّىٰهَا ﴿١٤﴾ وَلَا يَخَافُ عُقْبَٰهَا ﴿١٥﴾

## سُورَةُ اللَّيْلِ

ترتيبها ٩٢ — آياتها ٢١

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلَّيْلِ إِذَا يَغْشَىٰ ﴿١﴾ وَٱلنَّهَارِ إِذَا تَجَلَّىٰ ﴿٢﴾ وَمَا خَلَقَ ٱلذَّكَرَ وَٱلْأُنثَىٰٓ ﴿٣﴾
إِنَّ سَعْيَكُمْ لَشَتَّىٰ ﴿٤﴾ فَأَمَّا مَنْ أَعْطَىٰ وَٱتَّقَىٰ ﴿٥﴾ وَصَدَّقَ بِٱلْحُسْنَىٰ ﴿٦﴾
فَسَنُيَسِّرُهُۥ لِلْيُسْرَىٰ ﴿٧﴾ وَأَمَّا مَنۢ بَخِلَ وَٱسْتَغْنَىٰ ﴿٨﴾ وَكَذَّبَ بِٱلْحُسْنَىٰ
﴿٩﴾ فَسَنُيَسِّرُهُۥ لِلْعُسْرَىٰ ﴿١٠﴾ وَمَا يُغْنِى عَنْهُ مَالُهُۥٓ إِذَا تَرَدَّىٰٓ ﴿١١﴾ إِنَّ عَلَيْنَا
لَلْهُدَىٰ ﴿١٢﴾ وَإِنَّ لَنَا لَلْءَاخِرَةَ وَٱلْأُولَىٰ ﴿١٣﴾ فَأَنذَرْتُكُمْ نَارًا تَلَظَّىٰ ﴿١٤﴾

﴿٤﴾ اوقسم دی په شپه باندی کله چه پټ کړی لمر

﴿٥﴾ او قسم دی په اسمان او په هغه چا چه جوړ کړی ئی دی اسمان

﴿٦﴾ او قسم دی په زمکه او په هغه چا چه غوړولی ئی ده زمکه

﴿٧﴾ او قسم دی په نفس باندی او په هغه چا چه برابر کړی ئی دی هغه

﴿٨﴾ نو خودلی ئی ده هغه ته لار د بدی او د تقوا

﴿٩﴾ یقینا کامیاب دی هغه ښوک چه پاک ئی کړو خپل ځان

﴿١٠﴾ او یقینا تاوانی شوه هغه ښوک چه پټ ئی کړو خپل نفس لره (په ګناهونو کښی)

﴿١١﴾ د دروغو نسبت وکړو ثمودیانو په سبب د سرکشی خپلی

﴿١٢﴾ کله چه را اوچت شو بدبخت د هغوی

﴿١٣﴾ نو وویل دوی ته رسول د الله تعالی (لحاظ وکړی) د اوښی د الله تعالی او د وا ر د اوبو دهغی

﴿١٤﴾ نو دوی تکذیب وکړه د هغی نو زخمی (قتل) ئی کړه اوښه نو سخت عذاب راولیږه په دوی باندی رب د دوی په سبب د ګناه د دوی نو برابر ئی کړل هغه په ټولو باندی

﴿١٥﴾ او نه ویریږی الله تعالی د عقوبت او هلاکت د دوی ځخه

## د الليل سورت

﴿١﴾ قسم دی په شپه باندی کله چه پټ کړی (هرشی په تیاره کښی)

﴿٢﴾ او قسم دی په ورځ باندی کله چه روښانه شی

﴿٣﴾ او قسم دی په هغی ذات چه پیدا کړی ئی دی نارینه او زنانه

﴿٤﴾ یقینا عملونه (کوشونه) ستاسو قسم قسم دی (مختلف دی)

﴿٥﴾ نو هغه ښوک چه ورئی کړو حق او تقوا ئی وکړه

﴿٦﴾ او رښتیا ئی وګڼله ښایسته خبره

﴿٧﴾ نو خامخا اسانه به کړو هغه ته لار داسانی

﴿٨﴾ او هغه ښوک چه شومتیا ئی وکړه او ځان ئی بی پروا کړه

﴿٩﴾ او دروغجن ئی وګڼله ښایسته خبره

﴿١٠﴾ نو روان به کړو هغه لره په لار د سختی

﴿١١﴾ او فایده به ورنکړی ده ته مال د ده کله چه هلاک شی په کنده کښی

﴿١٢﴾ یقینا پر مونږ باندی خامخا هدایت کول او سمه لاره ښودل دی

﴿١٣﴾ او یقینا مونږ لره اختیار د قیامت او د دنیا دی

لَا يَصْلَىٰهَآ إِلَّا ٱلْأَشْقَى ﴿١٥﴾ ٱلَّذِى كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ﴿١٦﴾ وَسَيُجَنَّبُهَا
ٱلْأَتْقَى ﴿١٧﴾ ٱلَّذِى يُؤْتِى مَالَهُۥ يَتَزَكَّىٰ ﴿١٨﴾ وَمَا لِأَحَدٍ عِندَهُۥ مِن
نِّعْمَةٍ تُجْزَىٰٓ ﴿١٩﴾ إِلَّا ٱبْتِغَآءَ وَجْهِ رَبِّهِ ٱلْأَعْلَىٰ ﴿٢٠﴾ وَلَسَوْفَ يَرْضَىٰ ﴿٢١﴾

## سُورَةُ الضُّحَىٰ

ترتيبها ٩٣ — آياتها ١١

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلضُّحَىٰ ﴿١﴾ وَٱلَّيْلِ إِذَا سَجَىٰ ﴿٢﴾ مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَىٰ ﴿٣﴾
وَلَلْءَاخِرَةُ خَيْرٌ لَّكَ مِنَ ٱلْأُولَىٰ ﴿٤﴾ وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ
فَتَرْضَىٰٓ ﴿٥﴾ أَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيمًا فَـَٔاوَىٰ ﴿٦﴾ وَوَجَدَكَ ضَآلًّا
فَهَدَىٰ ﴿٧﴾ وَوَجَدَكَ عَآئِلًا فَأَغْنَىٰ ﴿٨﴾ فَأَمَّا ٱلْيَتِيمَ فَلَا تَقْهَرْ
﴿٩﴾ وَأَمَّا ٱلسَّآئِلَ فَلَا تَنْهَرْ ﴿١٠﴾ وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ ﴿١١﴾

## سُورَةُ الشَّرْحِ

ترتيبها ٩٤ — آياتها ٨

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

أَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ ﴿١﴾ وَوَضَعْنَا عَنكَ وِزْرَكَ ﴿٢﴾ ٱلَّذِىٓ
أَنقَضَ ظَهْرَكَ ﴿٣﴾ وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ ﴿٤﴾ فَإِنَّ مَعَ ٱلْعُسْرِ يُسْرًا ﴿٥﴾ إِنَّ
مَعَ ٱلْعُسْرِ يُسْرًا ﴿٦﴾ فَإِذَا فَرَغْتَ فَٱنصَبْ ﴿٧﴾ وَإِلَىٰ رَبِّكَ فَٱرْغَب ﴿٨﴾

﴿١٤﴾ نو ویره درکوم تاسو ته د اور نه چه لمبی وهی
﴿١٥﴾ نه به داخلیږی هغی ته مګر بدبخت سړی
﴿١٦﴾ هغه کس چه دروغجن ئی ګڼلی وی (حق لره) او مخ ئی اړولی وی
﴿١٧﴾ او خامخا بچ به وساتلی شی د هغی نه ډیر ویریدونکی (تقوادار)
﴿١٨﴾ هغه کس چه ورکوی مال خپل د دی لپاره چه ځان پاک کړی
﴿١٩﴾ او نه وی د هیچا د ده سره څه احسان چه بدله ئی ورکړی
﴿٢٠﴾ مګر لټول د مخ د رب خپل چه اوچت دی
﴿٢١﴾ او زر دی چه خوشحاله به شی

## د الضحی سورت

﴿١﴾ قسم دی په وخت د څاښت باندی
﴿٢﴾ او په شپه باندی کله چه تیاره شی
﴿٣﴾ نه دی پریښی تالره رب ستا او نه ئی درسره دښمنی کړی ده
﴿٤﴾ او خامخا اخرت غوره دی تالره د دنیا نه
﴿٥﴾ زر دی چه دربه کړی تاته رب ستا نو خوشحاله به شی
﴿٦﴾ ایا نه ئی وی موندلی یتیم نو ځای ئی درکړو
﴿٧﴾ او موندلی ئی وی ناخبره نو پوهه ئی کړی ته
﴿٨﴾ نو موندلی ئی وی ته محتاج نو مالدارئی کړی
﴿٩﴾ نو هر چه یتیم دی نو غصه ورته مه کوه
﴿١٠﴾ او هر چه سوال کونکی دی نو رټنه مه ورکوه
﴿١١﴾ او هر چه نعمت د رب ستا دی نو د هغی اظهار کوه

## د الشرح سورت

﴿١﴾ ایا نه ده پرانستلی مونږ تالره سینه ستا
﴿٢﴾ او سپک کړی دی مونږ ستانه بوج ستا
﴿٣﴾ هغه چه درنه کړی ئی وه ملا ستا
﴿٤﴾ او پورته کړی دی مونږ تا لره ذکر ستا
﴿٥﴾ یقینا د سختی سره اسانتیا وی
﴿٦﴾ یقینا د سختی سره اسانتیا وی
﴿٧﴾ نو کله چه فارغ شی ته (ای محمده له تبلیغه) نو ځان ستړی کړه
﴿٨﴾ او خاص خپل رب ته رغبت کوه

## د التين سورت

(١) قسم دی په انځر او په خونه باندی
(٢) او قسم دی (په غر) چه نوم ئی طور سینین دی
(٣) او قسم دی په دی ښار امان ورکونکی باندی
(٤) یقینا مونږ پیدا کړی دی انسان په ډیر ښایسته جوړخت سره
(٥) بیا وګرځوو مونږ دی لاندی د لاندو نه
(٦) مګر هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی او عملونه ئی کړی دی نیک نو د دوی لپاره ثوابونه دی بی انتهاء
(٧) نو څه ځیز دروغجن ګرځولی شی تا روسته د دی نه د جزاء په باره کښی
(٨) ایا نه دی الله تعالی ښه لوی فیصله کونکی د ټولو حاکمانو نه

## دالعلق سورت

(١) ولوله په مدد د نوم د رب ستا هغه ذات چه پیدایش ئی کړی دی
(٢) پیداکړی ئی دی انسان د تکړی د وینی نه
(٣) لوله ته همیشه او رب ستا د عزت والا دی
(٤) هغه ذات دی چه تعلیم ئی ورکړی دی په قلم سره
(٥) تعلیم یی ورکړی دی انسان ته د هغی څه چه دا پری نه پوهیده
(٦) یقینا حقه ده داخبره چه (ځنی) انسان خامخا سرکشی کوی
(٧) د دی وجی نه چه ځان مالدار وینی
(٨) یقینا ستا رب ته ګرځیدل دی
(٩) ایا ته وینی هغه کس چه منع کول کوی
(١٠) بنده لره کله چه لمونځ کوی
(١١) ایا ته وینی که چیرته دی په هدایت باندی وی

سُورَةُ التِّين — ترتیبها ٩٥ — آیاتها ٨

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

وَالتِّينِ وَالزَّيْتُونِ (١) وَطُورِ سِينِينَ (٢) وَهَٰذَا الْبَلَدِ الْأَمِينِ (٣)
لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ (٤) ثُمَّ رَدَدْنَاهُ أَسْفَلَ سَافِلِينَ
(٥) إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ فَلَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ (٦)
فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعْدُ بِالدِّينِ (٧) أَلَيْسَ اللَّهُ بِأَحْكَمِ الْحَاكِمِينَ (٨)

سُورَةُ الْعَلَق — ترتیبها ٩٦ — آیاتها ١٩

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ (١) خَلَقَ الْإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ (٢) اقْرَأْ وَرَبُّكَ
الْأَكْرَمُ (٣) الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ (٤) عَلَّمَ الْإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ (٥) كَلَّا إِنَّ
الْإِنسَانَ لَيَطْغَىٰ (٦) أَن رَّآهُ اسْتَغْنَىٰ (٧) إِنَّ إِلَىٰ رَبِّكَ الرُّجْعَىٰ (٨) أَرَأَيْتَ
الَّذِي يَنْهَىٰ (٩) عَبْدًا إِذَا صَلَّىٰ (١٠) أَرَأَيْتَ إِن كَانَ عَلَى الْهُدَىٰ (١١) أَوْ أَمَرَ
بِالتَّقْوَىٰ (١٢) أَرَأَيْتَ إِن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ (١٣) أَلَمْ يَعْلَم بِأَنَّ اللَّهَ يَرَىٰ (١٤) كَلَّا لَئِن
لَّمْ يَنتَهِ لَنَسْفَعًا بِالنَّاصِيَةِ (١٥) نَاصِيَةٍ كَاذِبَةٍ خَاطِئَةٍ (١٦) فَلْيَدْعُ نَادِيَهُ
(١٧) سَنَدْعُ الزَّبَانِيَةَ (١٨) كَلَّا لَا تُطِعْهُ وَاسْجُدْ وَاقْتَرِب ۩ (١٩)

(١٢) یا حکم کوی په تقوا سره
(١٣) ایا ته وینی که چیرته دی تکذیب کوی او مخ اړوی
(١٤) ایا دی نه پوهیری چه یقینا الله تعالی لیدل کوی
(١٥) هیچیری داسی نه ده پکار که چیرته دی منع نه شوه خامخا اوبه نیسو مونږ دی د ویختو د تندی نه
(١٦) داسی تندی چه دروغجن او ګناهکار دی
(١٧) نو راودی بلی خپل مجلس لره
(١٨) زر دی چه مونږ به هم راوبلو ملایکی سختی د عذاب
(١٩) نه ده داسی لکه چه دوی ئی وائی تابعداری مه کوه د ده او سجده لمونځ کوه او (خپل رب ته) نږدی شه

## د القدر سورت

(١) یقینا مونږ نازل کړی دی دا قران په شپه د قدر کښی

(٢) او څه شی پوهه کړی ئی ته چه څه ده شپه د قدر

(٣) شپه د قدر غوره ده د زرو میاشتو نه

(٤) راکوځیږی ملایکی او روح په دغی شپه کښی په حکم د رب خپل لپاره د هر کار ټاکلی شوی

(٥) شپه د امن (سلامتیا) ده دا تر ختلو د صبا پوری

## د البینة سورت

(١) نه ؤ هغه کسان چه کفر ئی کړی ؤ د اهل کتابو نه او مشرکان پریخودونکی تر دی پوری چه راغی دوی ته دلیل ښکاره

(٢) رسول له طرفه د الله تعالی نه چه لولی صحیفی پاکی

(٣) چه په هغی کښی کتابونه دی پوخ مضمون والا

(٤) او نه دی ډلی ډلی شوی هغه کسان چه ورکړی شوی ؤ ورته کتاب مګر روسته د هغی نه چه راغی دوی ته دلیل ښکاره

(٥) او حکم نه ؤ شوی دوی ته مګر د دی چه بندګی وکړی الله تعالی لره خالص کونکی وی هغی لره بندګی کلک په توحید باندی او پابندی دی کوی د لمونځونو او ورکوی دی زکات او دا دین دی محکم

سُورَةُ الْقَدْرِ — ترتيبها ٩٧ — آياتها ٥

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

إِنَّا أَنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ (١) وَمَا أَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ (٢)
لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِّنْ أَلْفِ شَهْرٍ (٣) تَنَزَّلُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ
فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِم مِّن كُلِّ أَمْرٍ (٤) سَلَامٌ هِيَ حَتَّىٰ مَطْلَعِ الْفَجْرِ (٥)

سُورَةُ الْبَيِّنَةِ — ترتيبها ٩٨ — آياتها ٨

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

لَمْ يَكُنِ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ وَالْمُشْرِكِينَ مُنفَكِّينَ
حَتَّىٰ تَأْتِيَهُمُ الْبَيِّنَةُ (١) رَسُولٌ مِّنَ اللَّهِ يَتْلُو صُحُفًا مُّطَهَّرَةً (٢)
فِيهَا كُتُبٌ قَيِّمَةٌ (٣) وَمَا تَفَرَّقَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ إِلَّا مِن
بَعْدِ مَا جَاءَتْهُمُ الْبَيِّنَةُ (٤) وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ
لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ ۚ وَذَٰلِكَ دِينُ
الْقَيِّمَةِ (٥) إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ وَالْمُشْرِكِينَ
فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَالِدِينَ فِيهَا ۚ أُولَٰئِكَ هُمْ شَرُّ الْبَرِيَّةِ (٦) إِنَّ
الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أُولَٰئِكَ هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّةِ (٧)

(٦) یقینا هغه کسان چه کفر ئی کړی دی د کتابیانو او مشرکانو نه په اور د جهنم کی به وی همیشه به وی په هغی کښی دغه کسان دوی بدترین دی د خلکو نه

(٧) یقینا هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی او عملونه ئی کړی دی نیک د سنت برابر دغه کسان دوی ډیر غوره دی د مخلوق نه

(٨) بدله د دوی په نزد درب د دوی جنتونه د همیشوالی دی چه بهیږی به لاندی د هغی نه ولی همیشه به وی په هغی کښی راضی به وی الله تعالی د دوی نه او دوی به راضی وی د الله تعالی نه او دا د هغه چا لپاره چه ویره کوی د رب خپل نه

## د الزلزال سورت

(١) کله چه وخوځولی شی زمکه (تولـه) پـه خوزولو سره

(٢) او راوباسی زمکه بوجونه خپل

(٣) او وبه وائی انسان چه څه وشو دی لره

(٤) پدغه ورځ بیانوی به خبرونه خپل

(٥) په دی وجه چه ستا رب حکم کړی دی هغی ته

(٦) په دغه ورځ به راوځی خلک (دقبرونو نه) مختلفی ډلی دی لپاره چه وخودلی شی دوی ته عملونه د دوی

(٧) نـو چا چـه عمل کـړی دی پـه مقدار د ذری نیکی وبه وینی هغی لره

(٨) او چا چـه عمل کـړی دی پـه مقدار د ذری بد وبه وینی هغه

## د العادیات سورت

(١) قسم دی پـه منډه وهونکو اسـونو باندی چه اواز ویستونکی دی له سینو څخه

(٢) پس بیا اور ویستونکی دی په خپو وهلو سره

(٣) پس قسم دی په لوټ مارکونکو (اسونو باندی) په وخت د صبا کښی

(٤) نو اوچتوی په هغی سره دوړی

(٥) نـو ورننـوځی پـه هغـی سره پـه ډلـه د دښمن کښی

جَزَآؤُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ جَنَّٰتُ عَدْنٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ
فِيهَآ أَبَدًا ۖ رَّضِىَ ٱللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا۟ عَنْهُ ۚ ذَٰلِكَ لِمَنْ خَشِىَ رَبَّهُۥ (٨)

سُورَةُ الزَّلْزَلَةِ — ترتيبها ٩٩ — آياتها ٨

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

إِذَا زُلْزِلَتِ ٱلْأَرْضُ زِلْزَالَهَا (١) وَأَخْرَجَتِ ٱلْأَرْضُ أَثْقَالَهَا
(٢) وَقَالَ ٱلْإِنسَٰنُ مَا لَهَا (٣) يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا (٤)
بِأَنَّ رَبَّكَ أَوْحَىٰ لَهَا (٥) يَوْمَئِذٍ يَصْدُرُ ٱلنَّاسُ أَشْتَاتًا
لِّيُرَوْا۟ أَعْمَٰلَهُمْ (٦) فَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا
يَرَهُۥ (٧) وَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُۥ (٨)

سُورَةُ الْعَادِيَاتِ — ترتيبها ١٠٠ — آياتها ١١

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

وَٱلْعَٰدِيَٰتِ ضَبْحًا (١) فَٱلْمُورِيَٰتِ قَدْحًا (٢) فَٱلْمُغِيرَٰتِ صُبْحًا
(٣) فَأَثَرْنَ بِهِۦ نَقْعًا (٤) فَوَسَطْنَ بِهِۦ جَمْعًا (٥) إِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ
لِرَبِّهِۦ لَكَنُودٌ (٦) وَإِنَّهُۥ عَلَىٰ ذَٰلِكَ لَشَهِيدٌ (٧) وَإِنَّهُۥ لِحُبِّ
ٱلْخَيْرِ لَشَدِيدٌ (٨) ۞ أَفَلَا يَعْلَمُ إِذَا بُعْثِرَ مَا فِى ٱلْقُبُورِ (٩)

(٦) یقینا انسان خامخا ناشکره دی

(٧) او یقینا هغه په دی باندی خامخا ګواه دی

(٨) او یقینا هغه د وجی د محبت د مال نـه ډیر سخت دی

(٩) ایا پس نـه پوهیږی (دا انسان) کلـه چه راپورتـه کړی شـی هغه څـه چـه پـه قبرونـو کښی دی

(١٠) او ښکاره به کړی شی هغه څه چه په سینو کښی دی

(١١) یقینا رب د دوی په دوی باندی په دغی ورځ خامخا خبردار دی

وَحُصِّلَ مَا فِي ٱلصُّدُورِ ﴿١٠﴾ إِنَّ رَبَّهُم بِهِمۡ يَوۡمَئِذٖ لَّخَبِيرُۢ ﴿١١﴾

ترتيبها ١٠١ — سُورَةُ القَارِعَةِ — آياتها ١١

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

ٱلۡقَارِعَةُ ﴿١﴾ مَا ٱلۡقَارِعَةُ ﴿٢﴾ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا ٱلۡقَارِعَةُ
﴿٣﴾ يَوۡمَ يَكُونُ ٱلنَّاسُ كَٱلۡفَرَاشِ ٱلۡمَبۡثُوثِ ﴿٤﴾
وَتَكُونُ ٱلۡجِبَالُ كَٱلۡعِهۡنِ ٱلۡمَنفُوشِ ﴿٥﴾ فَأَمَّا
مَن ثَقُلَتۡ مَوَٰزِينُهُۥ ﴿٦﴾ فَهُوَ فِي عِيشَةٖ رَّاضِيَةٖ
﴿٧﴾ وَأَمَّا مَنۡ خَفَّتۡ مَوَٰزِينُهُۥ ﴿٨﴾ فَأُمُّهُۥ هَاوِيَةٞ
﴿٩﴾ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا هِيَهۡ ﴿١٠﴾ نَارٌ حَامِيَةُۢ ﴿١١﴾

ترتيبها ١٠٢ — سُورَةُ التَّكَاثُرِ — آياتها ٨

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

أَلۡهَىٰكُمُ ٱلتَّكَاثُرُ ﴿١﴾ حَتَّىٰ زُرۡتُمُ ٱلۡمَقَابِرَ ﴿٢﴾ كَلَّا سَوۡفَ
تَعۡلَمُونَ ﴿٣﴾ ثُمَّ كَلَّا سَوۡفَ تَعۡلَمُونَ ﴿٤﴾ كَلَّا لَوۡ تَعۡلَمُونَ
عِلۡمَ ٱلۡيَقِينِ ﴿٥﴾ لَتَرَوُنَّ ٱلۡجَحِيمَ ﴿٦﴾ ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا
عَيۡنَ ٱلۡيَقِينِ ﴿٧﴾ ثُمَّ لَتُسۡـَٔلُنَّ يَوۡمَئِذٍ عَنِ ٱلنَّعِيمِ ﴿٨﴾

## د القارعة سورت

(١) ټکونکی (د زړونو)

(٢) څه دی ټکونکی (دزړونو)

(٣) او څه شی پوهه کړی ئی ته چه څه دی ټکونکی د زړونو

(٤) هغه ورځ چه شی به خلک پشان د پتنګانو خواره واره

(٥) او شی به غرونه په شان د وړی ډاندس کړی شوی

(٦) نو هغه څوک چه درانه وی عملونه د تلو د هغوی

(٧) نو هغه به په ژوند خوشحاله کښی وی

(٨) او هغه څوک چه سپک وی عملونه د تلو د هغوی

(٩) نو ځای د ورګرځیدو د هغوی به هاویه وی

(١٠) او ته څه شی پوهه کړی ئی چه هغه څه شی دی

(١١) اور دی سخت ګرم

## د التکاثر سورت

(١) غافله کړی ئی تاسو لره فخر کولو (په ډیروالی باندی)

(٢) تر هغی پوری چه ورځئ تاسو قبرونو ته

(٣) هیچیری داسی نه ده پکار زر دی چه تاسو به پوهه شئ

(٤) بیا هیچیری داسی نه ده پکار زر دی چه تاسو به پوهه شی

(٥) نه ده داسی که تاسو پوهیدلی په علم یقین سره

(٦) قسم دی خامخا وبه وینئ تاسو جهنم

(٧) بیا به خامخا تاسو ووینی هغه په سترګو د یقین سره

(٨) بیا خامخا تپوس به وکړی شی ستاسو نه په دغه ورځ په باره د نعمتونو کښی

سُورَةُ العَصْر

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

وَالْعَصْرِ ﴿١﴾ إِنَّ الْإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ ﴿٢﴾ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا
وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ ﴿٣﴾

سُورَةُ الهُمَزَة

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

وَيْلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةٍ ﴿١﴾ الَّذِي جَمَعَ مَالًا وَعَدَّدَهُ ﴿٢﴾
يَحْسَبُ أَنَّ مَالَهُ أَخْلَدَهُ ﴿٣﴾ كَلَّا ۖ لَيُنبَذَنَّ فِي الْحُطَمَةِ ﴿٤﴾
وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْحُطَمَةُ ﴿٥﴾ نَارُ اللَّهِ الْمُوقَدَةُ ﴿٦﴾ الَّتِي تَطَّلِعُ
عَلَى الْأَفْئِدَةِ ﴿٧﴾ إِنَّهَا عَلَيْهِم مُّؤْصَدَةٌ ﴿٨﴾ فِي عَمَدٍ مُّمَدَّدَةٍ ﴿٩﴾

سُورَةُ الفِيل

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصْحَابِ الْفِيلِ ﴿١﴾ أَلَمْ يَجْعَلْ كَيْدَهُمْ
فِي تَضْلِيلٍ ﴿٢﴾ وَأَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْرًا أَبَابِيلَ ﴿٣﴾ تَرْمِيهِم
بِحِجَارَةٍ مِّن سِجِّيلٍ ﴿٤﴾ فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَّأْكُولٍ ﴿٥﴾

## د العصر سورت

﴿١﴾ قسم دی په زمانه

﴿٢﴾ چه یقینا انسان خامخا په تاوان کښې دی

﴿٣﴾ مګر هغه کسان چه ایمان ئی راوړی دی او عملونه ئی کړی دی نیک (د سنت برابر) او وصیت کوی یوبل ته په حق باندی او وصیت کوی یوبل ته په صبر کولو باندی

## د الهمزة سورت

﴿١﴾ هلاکت دی لپاره د هر غیبت کونکی او عیب ګر لره

﴿٢﴾ هغه چه جمع کوی مال او حسابوی هغه

﴿٣﴾ ګمان کوی چه یقینا مال د ده به همیشه وساتی ده لره

﴿٤﴾ هیڅیری داسی نه ده خامخا وبه غورځولی شی په حطمه کښې

﴿٥﴾ او څه شی پوهه کړی ئی ته چه څه ده حطمه

﴿٦﴾ اور د الله تعالی دی چه بل کړی شوی دی

﴿٧﴾ هغه اور چه ورخیژی په زړونو باندی

﴿٨﴾ یقینا دا اور په دوی باندی رابند کړی شوی دی

﴿٩﴾ په ستنو اوږدو کښې

## د الفیل سورت

﴿١﴾ ایا نه ګوری ته چه څرنګ کار وکړو رب ستا د فیلانو والاو سره

﴿٢﴾ ایا ونه ګرځوو (الله) چل د دوی په زیانمنی ګمراهی کښې

﴿٣﴾ او راوئی لیږل په هغوی باندی مرغان دلی دلی

﴿٤﴾ ویشتل ئی دوی لره په کانو سره چه جوړ شوی ؤ د ختو نه چه په اور باندی پخه شوی وه

﴿٥﴾ نو وئی ګرځول دوی لره په شان د وښو خوړلی شوو

## د قريش سورت

(١) تعجب پکار دی په محبت د قريشو (د دنياسره)

(٢) مينه د هغوی د سفر د ژمی سره او سفرد اوړی سره

(٣) نو بندگی دی خاص کړی دوی رب د دی کور لره

(٤) هغه ذات چه خوراک ئی ورکړی دی دوی ته د لوگی نه او امن ئی ورکړی دی دوی ته د ويرې نه

## د الماعون سورت

(١) ايا خبر ئی په هغه کس چه دروغجن گڼی دين لره

(٢) نو داخو هغه کس دی چه ديکه ورکوی يتيم لره

(٣) او تيزی نه ورکوی په خوراک د مسکين باندی

(٤) نو تباهی ده لمونځ کونکو لپاره

(٥) هغه کسان چه دوی د خپلو لمونځونو نه ناخبره دی

(٦) هغه کسان دی چه ځان ښودنه کوی (په عملونو خپلو سره)

(٧) او منع کوی د فايدی څيز لره

سُورَةُ قُرَيْشٍ — ترتيبها ١٠٦ — آياتها ٤

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

لِإِيلَافِ قُرَيْشٍ ﴿١﴾ إِيلَافِهِمْ رِحْلَةَ الشِّتَاءِ وَالصَّيْفِ
﴿٢﴾ فَلْيَعْبُدُوا رَبَّ هَٰذَا الْبَيْتِ ﴿٣﴾ الَّذِي أَطْعَمَهُم
مِّن جُوعٍ وَآمَنَهُم مِّنْ خَوْفٍ ﴿٤﴾

سُورَةُ الْمَاعُونِ — ترتيبها ١٠٧ — آياتها ٧

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

أَرَأَيْتَ الَّذِي يُكَذِّبُ بِالدِّينِ ﴿١﴾ فَذَٰلِكَ الَّذِي
يَدُعُّ الْيَتِيمَ ﴿٢﴾ وَلَا يَحُضُّ عَلَىٰ طَعَامِ الْمِسْكِينِ ﴿٣﴾
فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّينَ ﴿٤﴾ الَّذِينَ هُمْ عَن صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ
﴿٥﴾ الَّذِينَ هُمْ يُرَاءُونَ ﴿٦﴾ وَيَمْنَعُونَ الْمَاعُونَ ﴿٧﴾

سُورَةُ الْكَوْثَرِ — ترتيبها ١٠٨ — آياتها ٣

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ ﴿١﴾ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ ﴿٢﴾
إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ ﴿٣﴾

## د الكوثر سورت

(١) يقينا درکړی دی مونږ تاته ډير د فايدی څيز

(٢) نو لمونځ کوه رب خپل لره او قرباني کوه

(٣) يقينا دښمن ستا دی خاص هغه بی خيره (او هلاک)

سُورَةُ الكَافِرُون — ترتيبها ١٠٩ — آياتها ٦

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْكَٰفِرُونَ ﴿١﴾ لَآ أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ ﴿٢﴾
وَلَآ أَنتُمْ عَٰبِدُونَ مَآ أَعْبُدُ ﴿٣﴾ وَلَآ أَنَا۠ عَابِدٌ مَّا عَبَدتُّمْ ﴿٤﴾
وَلَآ أَنتُمْ عَٰبِدُونَ مَآ أَعْبُدُ ﴿٥﴾ لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِىَ دِينِ ﴿٦﴾

سُورَةُ النَّصر — ترتيبها ١١٠ — آياتها ٣

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

إِذَا جَآءَ نَصْرُ ٱللَّهِ وَٱلْفَتْحُ ﴿١﴾ وَرَأَيْتَ ٱلنَّاسَ
يَدْخُلُونَ فِى دِينِ ٱللَّهِ أَفْوَاجًا ﴿٢﴾ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ
وَٱسْتَغْفِرْهُ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ تَوَّابًۢا ﴿٣﴾

سُورَةُ المَسَد — ترتيبها ١١١ — آياتها ٥

بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

تَبَّتْ يَدَآ أَبِى لَهَبٍ وَتَبَّ ﴿١﴾ مَآ أَغْنَىٰ عَنْهُ مَالُهُۥ وَمَا
كَسَبَ ﴿٢﴾ سَيَصْلَىٰ نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ ﴿٣﴾ وَٱمْرَأَتُهُۥ
حَمَّالَةَ ٱلْحَطَبِ ﴿٤﴾ فِى جِيدِهَا حَبْلٌ مِّن مَّسَدٍۭ ﴿٥﴾

## د الکافرون سورت

١ ته ووایه ای کافرانو

٢ زه بندګی نه کوم د هغه څه چه تاسو ئی بندګی کوی

٣ او نه تاسو بندګی کوی د هغی څه چه زه ئی بندګی کوم

٤ او نه زه بندګی کونکی یم د هغه څه چه تاسو ئی بندګی کوی

٥ او نه تاسو بندګی کونکی ئی د هغه څه چه زه ئی بندګی کونکی یم

٦ ستاسو لپاره خپل دین دی او زما لپاره خپل دین دی

## د النصر سورت

١ کله چه راشی مدد د الله تعالی او فتح (دمکی)

٢ او وینی ته خلکو لره چه داخلیږی په دین د الله تعالی کښی ډلی‌ډلی

٣ نو پاکی وایه سره د ستائنی او د حمد د رب ستا نه او بښنه غواړه د هغه نه یقینا هغه ډیر قبلونکی دی

## د المسد سورت

١ مات هلاک دی شی دواړه لاسونه د ابی لهب او پخپله دی هم هلاک شوه

٢ دفع به نه کړی له ده څخه مال د ده او هغه څه چه ده ګټلی ؤ

٣ زر دی چه ننه به وځی اور ته چه خاوند د لمبو دی

٤ او ښځه د هغه چه اوچتونکی د خشاک ده

٥ په څټ د هغی کښی رسئ ده د پوستکی د کجورو

## د الاخلاص سورت

(١) ته ووایه شان دا دی چه الله تعالی یو دی

(٢) الله بی پروا دی

(٣) نه ئی دی ځیږولی هیڅوک او نه دا د چانه ځیږیدلی دی

(٤) او نشته دغه (الله تعالی) لره برابر سیال هیڅوک

## د الفلق سورت

(١) ووایه ته زه پناه غواړم په رب د صبا (ځیرونکی د تیاری باندی)

(٢) له شره د هغی شی چه پیدا کړی ئی دی

(٣) او له شره د تیاری شپی نه کله چه تکه توره شی

(٤) او لـه شره د هغوساحرانو ښځو نه چه پوکی کونکی دی په غوټو کښی

(٥) او د شر د حسد کونکی نه کله چه حسد ښکاره کړی

سُورَةُ الإِخْلَاصِ — ترتيبها ١١٢ — آياتها ٤

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ (١) اللَّهُ الصَّمَدُ (٢) لَمْ يَلِدْ
وَلَمْ يُولَدْ (٣) وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدٌۢ (٤)

سُورَةُ الفَلَقِ — ترتيبها ١١٣ — آياتها ٥

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ (١) مِن شَرِّ مَا خَلَقَ (٢) وَمِن
شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ (٣) وَمِن شَرِّ النَّفَّٰثَٰتِ فِى
الْعُقَدِ (٤) وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ (٥)

سُورَةُ النَّاسِ — ترتيبها ١١٤ — آياتها ٦

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ (١) مَلِكِ النَّاسِ (٢) إِلَٰهِ
النَّاسِ (٣) مِن شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ (٤) الَّذِى
يُوَسْوِسُ فِى صُدُورِ النَّاسِ (٥)
مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ (٦)

## د الناس سورت

(١) ووایه ته چه زه پناه غواړم په رب د انسانانو سره

(٢) په بادشاه د ټولو خلکو

(٣) په معبود د ټولو خلکو

(٤) له شره د وسوسی اچونکی تښتیدونکی (شیطان نه)

(٥) هغه (شیطان) چه وسوسی اچوی په سینو د انسانانو کښی

(٦) د پیریانو او انسانانو نه

## د مسلمان د ژوند په ارتباط مهم او ضروري سوالونه

١ **مسلمان به د کوم ځای نه عقیده اخلي؟** دالله تعالی د کتاب او د رسول ﷺ د صحیح احادیثو نه، هغه نبي ﷺ چه د خپلو خواهشاتو نه خبرې نه کوی لکه څرنګ چې الله تعالی فرمايي: ﴿إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ﴾ سورة النجم ٤ ، **ترجمه :** نه دی خبرې د هغی مګر وحی چه ورته کيږی، او دابه د صحابهٔ کرامو او د نورو سلفو صالحينو د فهم او پوهی موافق وی.

٢ **کله چه زمونږ په يو څيز کښی اختلاف پيدا شی نو کوم شی ته به رجوع کوو؟** سپيڅلی شريعت ته به رجوع کوو، او د اختلاف په وخت کی به په قرآن او حديث باندی فيصله کوو، لکه څرنګه چه الله تعالی فرمائی : ﴿فَإِن تَنَٰزَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى ٱللَّهِ وَٱلرَّسُولِ﴾ سورة النساء ١٥٩ ، **ترجمه :** که چيرته اختلاف پيدا شی ستاسو په يو څيز کی، نو الله تعالی او پيغمبر ﷺ ته يی واپس کړئ، اورسول الله ﷺ فرمائی: « **تَرَكْتُ فِيكُمْ أَمْرَيْنِ لَنْ تَضِلُّوا مَا تَمَسَّكْتُمْ بِهِمَا : كِتَابَ اللّٰهِ ، وَسُنَّةَ نَبِيِّهِ** » الموطا. په تاسو کښی ما دوه شيان پريښی دی چيرته به تاسو ګمراه نه شئ که تاسو په هغی باندي منګولی ولګولی، يو د الله تعالی کتاب دی او بل د هغه د نبی ﷺ سنت دی.

٣ **په قيامت کښی به کومه ډله د نجات او فلاح حقداره وی؟** رسول الله ﷺ فرمايلی: « **وَتَفْتَرِقُ أُمَّتِي عَلَى ثَلَاثٍ وَسَبْعِينَ مِلَّةً كُلُّهُمْ فِي النَّارِ إِلا مِلَّةً وَاحِدَةً. قَالُوا : وَمَنْ هِيَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ؟ قَالَ : مَا أَنَا عَلَيْهِ وَأَصْحَابِي** » الترمذي. **ترجمه :** زما أمت به په درې اويا ډلو باندی تقسيمږی، ټولی به په اور کښی وی مګر يوه ډله، صحابه وو عرض وکړ: چه دا به کومه ډله وی يا رسول الله؟ نو رسول الله ﷺ وفرمايل: دا هغه ډله ده چه په هغی مسلک او منهج باندی روانه وی، کوم باندی چه زه او زما صحابهٔ کرام دی. امام احمد او ترمذی روايت کړيدی.

نو حق مسلک هغه دی چه رسول الله ﷺ او د هغه صحابهٔ کرام پرې روان وو، که ته نجات غواړې او د الله تعالی په دربار کښی د خپل عمل د قبليدو اميد لرې، نو د هغوی تابعداری وکړه، او د بدعتونو نه ځان محفوظ وساته.

٤ **د نيک عمل د قبليدو شرطونه کوم دی؟** ١) په الله تعالی باندی ايمان راوړل، او وحدانيت يی منل ځکه چه د مشرک عمل الله تعالی نه قبلوی. ٢) اخلاص: چه عمل خالص د الله تعالی لپاره وی. ٣) د رسول الله ﷺ تابعداری، چه د هغه د شريعت موافق وی، پس د الله تعالی عبادت او بندګی به په هغه طريقه باندی کيدلی شی، چه هغه روا او مشروع کړی ده، او که په دی کښی يو شرط هم کم شی نو بيا عمل مردود او برباد دی.

الله تعالی فرمائی : ﴿وَقَدِمْنَآ إِلَىٰ مَا عَمِلُوا۟ مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنَٰهُ هَبَآءً مَّنثُورًا﴾ سورة الفرقان ٢٣ ، **ترجمه :** او قصد کړی دی مونږ هغه عمل ته چه دوی کړی دی پس وبه ګرځوو هغی دوړه خوره (الوځولی شوی).

٥ **د اسلام ددين څو مرتبې دی؟** درې مرتبې دی، اسلام، إيمان، او احسان .

٦ **اسلام څه ته وائی، اوڅو بناګانی لری؟** اسلام د الله د توحيد منل، او هغی ته په اطاعت سره عاجزی او انقياد کول، او د شرک او مشرکانو نه بيزاره کيدلو ته وايی.

او بناګانی يی پنځه دی چه د رسول الله ﷺ پدی حديث کښی ذکر شوی دی : « **بُنِيَ الإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ : شَهَادَةِ أَنْ لا إِلَهَ إِلا اللّٰهُ وَأَنَّ مُحمداً رَسُولُ اللّٰهِ ، وَإِقَامِ الصَّلَاةِ ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ ، وَحَجِّ الْبَيْتِ ، وَصَوْمِ رَمَضَانَ** » متفق عليه. **ترجمه :** اسلام د پنځو شيانو نه جوړ شوی دی: دا ګواهی کول چه بغير د يو الله تعالی بل څوك دعبادت حقدار او وړ نشته، او محمد ﷺ د الله استازی دی، د لمانځه پابندی کول، زکات ورکول، د بيت الله شريفي حج کول، اود رمضان د مياشتی روژه نيول.

٧ **ايمان څه ته وائی، فرضونه او ارکان يی څو دی؟** ايمان اقرار دی په ژبه، تصديق دی په زړه کښی، او عمل دی په اندامونو باندی، چه په نيک عمل سره زياتيږی، او په ګناه او

معصیت سره کمیږی، الله تعالی فرمائی : ﴿لِيَزْدَادُوٓاْ إِيمَٰنًا مَّعَ إِيمَٰنِهِمْ﴾ ترجمه : ترڅو چه له خپل ایمان سره یي (نور) ایمان زیات شی ، او رسول الله ﷺ فرمائی : «الإيمان بِضْعٌ وَسبعون شُعْبَةً، أعلاها قَوْلُ لا إله إلا الله وأدْناها إماطةُ الأذى عن الطَّريق والحياء شُعْبَةٌ من الإيمان» مسلم **ترجمه :** ایمان څه د پاسه اویا څانگی او شعبی لری، چه اوچته یی کلمه طیبه ده او ټیټه یی د لاری نه ضرری شی لری کول دی، حیا هم د ایمان یوه څانگه ده. امام مسلم روایت کړیدی.

لکه څرنگه چه یو مسلمان په خپل نفس کښی، د نیکو عملونو د موسم نه وروسته، د عبادت او نیکو عملونو سره، په قوت او نشاط سره مینه او شوق محسوسوی، او د گناهونو نه وروسته سستی او تنبلی محسوسوی، او دا د ایمان د زیادت او کمی له امله وی، الله تعالی فرمائی : ﴿وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ طَرَفَيِ ٱلنَّهَارِ وَزُلَفًا مِّنَ ٱلَّيۡلِۚ إِنَّ ٱلۡحَسَنَٰتِ يُذۡهِبۡنَ ٱلسَّيِّـَٔاتِ﴾ سورة هود ۱۱۴ ، **ترجمه :** مونځ د ورځی په دواړو خواو کښی او د شپی په ځینو ساعتونو کښی اداء کړه، بیشکه چه نیك کارونه بد کارونه له منځه وړي.

**او ایمان شپږ فرضونه او ارکان لري:** کوم چه د رسول الله ﷺ په دی مبارک حدیث کښی ذکر شوی چه جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ ته یی جواب ورکولو: «أنْ تُؤْمِنَ باللّه، ومَلائكته، وكُتُبه، ورُسله، واليوم الآخر، والقَدرِ خيره وشَرِّه» البخاري. ترجمه : چه ته ایمان ولری په الله تعالی باندی، د هغی په ملایکو، او کتابونو باندی، او د الله تعالی په پیغمبرانو باندی، او ایمان ولری په دوباره ژوند، او په تقدیر د شر او خیر باندی. ، او په بعضو روایاتوکښی ورسره ملاقات د الله تعالی هم ذکر شوی.

**۸ د (لاإله إلا الله) څه معنی ده ؟** د غیر الله نه د عبادت نفی کول، او یواځی الله تعالی لره د هغی ثابتول.

**۹ آیا الله تعالی زمونږ سره دی؟** هو، الله تعالی د علم، حفاظت، او احاطی په اعتبار زمونږ سره دی، لیکن د ذات په اعتبار الله تعالی دعرش دپاسه دی، او هیڅ مخلوق په هغه باندی احاطه نه شی کولی، او ذات د الله تعالی د مخلوق د ذات سره هیڅ قسم اختلاط نه لری او د نزدیکت سره سره هغه اوچت دی، او د اوچتوالی سره سره هغه نږدی دی (لیکن په اعتبار د علم او قدرت سره)..

**۱۰ آیا الله تعالی په سترگو لیدلی کیږی؟** ټول امت په دی متفق دی، چه په دنیا کښی څوک الله تعالی لیدلی نه شی، لیکن اهل سنت وجماعت په دی متفق دی، چه مؤمنان به په محشر او جنت کښی د الله تعالی ملاقات کوی، لکه څرنگه چه الله تعالی فرمائی : ﴿وُجُوهٌ يَوۡمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ ٢٢ إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٌ﴾ سورة القيامة (۲۲- ۲۳) ترجمه : ځنی مخونه به په دغی ورځ تر او تازه وی، او خپل رب ته به کتونکی وی.

**۱۱ د الله تعالی د نومونو او صفتونو د پیژندلو فائده څه ده؟** اولنی فرضی حکم چه الله تعالی په خپلو بندگانو باندی فرض کړی دی هغه دالله تعالی معرفت دی، کله چه خلک الله تعالی وپیژنی نو بیا به ورله صحیح عبادت وکړی، الله تعالی فرمائی : ﴿فَٱعۡلَمۡ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ وَٱسۡتَغۡفِرۡ لِذَنۢبِكَ﴾ سورة محمد 19 ، ترجمه : نو پوه شه چه بیشکه له الله څخه پرته بل برحق معبود نشته او له خپلی گناه څخه بخښنه وغواړه.

نو په پراخه نعمت باندی د الله تعالی ستاینه کول سبب د امید دی، او په سخت عذاب سره یی ستایل سبب د خوف او ویری دی، او دنعمت ورکول خاص الله لره گرځول دشکر سبب گرځی.

**د الله تعالی په نومونو او صفتونو باندی د عبادت مقصد:** د هغی په نومونو او صفتونو باندی علم راوستل دی، او په معنی باندی یی پوهیدل او عمل کول دی، نو د الله تعالی ځنی نومونه او صفتونه داسی دی چه کوم بنده ګان پری وستایلی شی نو هغه د ستاینی وړ وی لکه صفت د علم، رحمت، او عدل، او ځه داسی دی چه په هغی باندی د بنده ستایل عیب او ګناه ده لکه صفت د الوهیت، جبروت، او تکبر، او د بنده لپاره هم داسی صفتونه شته چه هغه ورسره مناسب او لایق دی او په هغی باندی ورته امر شوی لکه صفت د بندګی (عبدیت)، فقر، حاجت، ذلت، او سؤال کول، لیکن په دغی صفتونو باندی الله تعالی موصوفول ناروا دی.او الله تعالی ته بهترین بندګان هغه دی چه هغه صفتونو سمبال وی چه د الله تعالی خوښ وی، او بد ترین بندګان ورته هغه دی چه داسی صفتونه ولری چه د الله تعالی خوښ نه وی.

**١٢ دالله تعالی اسماء الحسنی کوم دی** ؟ الله تعالی ﷻ فرمائی : ﴿وَلِلَّهِ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَىٰ فَادْعُوهُ بِهَا﴾ او د الله تعالی لپاره ښایسته نومونه دی نو په هغی باندی یی راوبلی. او رسول ﷺ فرمائی : « **إِنَّ لِلَّهِ تِسْعَةً وَتِسْعِينَ اسْمًا مِائَةً إِلا وَاحِدًا مَنْ أَحْصَاهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ** » متفق علیه. یقینا د الله تعالی لپاره یوکم سلَ (٩٩) نومونَه دی چا چه زده کړه (او عمل یی پری وکړ) نو جنت ته به داخل شی. **او د(احصاء) معنی : 1)** د هغی الفاظ زده کول او شمیرل ئی **2)** د هغی په معنی او مراد باندیځان پوهه کول او بیا پری ایمان راوړل ، نو کله چه (**ٱلْحَكِيمُ**) نوم ذکر کړی نو خپل ټول کارونه باید الله ته وسپاری ځکه چه ټول کارونه د الله د حکمت موافق کیږی، او کله چه (**ٱلْقُدُّوسُ**) ذکر کړی نو هغه په خپل ذهن کښی دا راولی چه الله تعالی د هر عیب او نقصان نه پاک دی. **3)** په هغی باندی د الله تعالی رابلل او هغه بیا په دوه قسمه دی : **أ)** د ستاینی او عبادت په طور دعا. **ب)** دسؤال او د غوختلو په طور دعا. او که څوک په غور سره په قرآن کریم او په صحیح احادیثو کښی نظر وکړی نو کولی شی چه د دغی نومونو شمیر تری معلوم کړی، چه هغه په لاندی ډول دي:

| د الله تعالی نومونه | د هغی معنـــــــی |
|---|---|
| اَللَّهُ | په خپل ټولو مخلوقاتو باندی د عبادت حقدار دی ، او هغه داسی معبود دی چه صرف هغی ته عاجزی سجده او رکوع کیدای شی ، او صرف هغی ته ټول عبادتونه کیدای شی . |
| الرَّحْمَنُ | دا هغه نوم دی چه د الله تعالی په پراخه رحمت باندی دلالت کوی او دا چه رحمت ئی ټولو بندګانو ته شامل دی او دا نوم په الله تعالی پوری خاص دی او په مخلوق باندی د دی اطلاق جایز نه دی . |
| الرَّحِيمُ | په مؤمنانو باندی په دنیا او اخرت کښی مهربانه دی او ښونکی دی ، ځکه چه هغوی ته ئی په دونیا کښی دخپل عبادت ښوونه کړی ده ، او په اخرت کښی به پری د جنتونو مهربانی وکړی . |
| العَفُوُّ | هغه ذات چه ګناهونه محوه کوی او تیریږی تری او بنده ته پری عذاب نه ورکوی اګر که هغه د عذاب مستحق هم وی. |
| الغفور | هغه ذات چه د بنده په ګناه باندی پرده اچوی او نه یی رسوا کوی او عذاب ورله نه ورکوی. |
| الغفار | دا یو نوم دی چه د الله تعالی په ډیر مغفرت باندی دلالت کوی خپل ګناهګار بنده ته چه استغفار غواړی. |
| الرّءوفُ | د رافت نه اخستل شوی دی نهایت زیات رحمت ته ویلی کیږی ، چه په دونیا کښی ټولو مخلوقاتو ته شامل دی او په اخرت کښی د ځنو لپاره چه هغه مؤمنان دی. |
| الحَلِيمُ | هغی ذات ته وائی چه په عذاب ورکولو کښی تلوار نه کوی سره د قدرت نه بلکه مخ تری اړوی او کله چه مخلوق ببننه وغواړی نو معافی ورته کوی. |
| التَّوابُ | دهغی ذات ته وائی چه په بندګانو کښی چاته وغواړی نو د توبی توفیق ورته ورکوی او بیا ئی تری قبلوی . |

| | |
|---|---|
| السِّتِيرُ | هغه ذات چه په بنده باندی پرده اچوی او په مخلوقاتو کښی یی نه رسوا کوی ، او هغه ذات چه د خپل بنده لپاره دا خوښوی چه په خپل ځان او په بل انسان باندی پرده واچوی او چه خپل شرمګاه پټ کړی. |
| الغَنِيُّ | هغه ذات چه د خپل ذات او د خپلو صفاتو دپوره کامل والی له امله چیرته هم په مخلوقاتو کښی چا ته نه محتاجیږی ، او نور ټول مخلوقات د ده انعاماتو ته محتاج وی . |
| الكَرِيمُ | د ډیر خیر احسان او ورکولو والا ذات ، چه څه وغواړی هغه ورکوی هغه بندګانو ته چه خوښه ئی شی په سوال سره او په غیر د غوښتلو نه ئی هم ورکوی، ګناهونه معافوی او عیبونه پټوی. |
| الأَكْرَمُ | هغه ذات چه په سخاوت او کرم کښی نهایت ته رسیدلی وی چه په دغی سخا کښی ورله مثال نه وی ، نو ټول خیر د هغی له طرفه دی مؤمنانو ته په خپل فضل سره بدله ورکوی او اعراض کونکو ته په خپل عدل سره مهلت ورکوی او بیا ورسره محاسبه کوی . |
| الوَهَّابُ | ډیر ورکونکی د تحفو دی په غیر د عوض نه ، په غیر د غرضه ورکونکی دی ، او په غیر د غوښتلو نه انعام کونکی دی . |
| الجَوَادُ | ډیر ورکونکی (دنعمتونو ) او د ډیری مهربانۍ والا ذات دی ، او خصوصا د هغی په سخا او مهربانۍ کښی د مؤمنانو لپاره ډیره لویه برخه ده. |
| الوَدودُ | مینه لری د خپلو دوستانو سره او د هغوی سره په مغفرت کولو او نعمتونو ورکورکولو باندی مینه کوی ، نو د هغوی نه راضی کیږی عملونه ورله قبلوی او په زمکه کښی ورله مقبولیت نصیب کوی . |
| المُعْطي | ورکوی چاله چه وغواړی د خپلو خزانو نه ، لیکن د ده د دوستانو لپاره د ده په خزانو کښی ډیره لویه برخه ده او صرف همدغه ذات دی چه هر هغه شی چه ده پیدا کړی دی هغی ته ئی شکل ورکړی دی. |
| الواسِعُ | د ډیرو صفتونو والا ذات دی هیڅوک د ده په ټولو صفت باندی کما حقه احاطه نه شی کولی ، د ډیر لوی عظمت او قدرت والا ذات دی ، د پراخه مغفرت رحمت ، مهربانۍ او احسان والا ذات دی . |
| المُحْسِنُ | هغه ذات دی چه په خپل ذات نومونو ، صفتونو او کارونو کښی د کامل حسن او خایست والا ذات دی ، او خپل مخلوق یی په خایسته انداز پیدا کړی دی ، او د خپلو مخلوقاتو سره ډیر احسان کونکی دی . |
| الرَّازِقُ | هغه ذات چه ټولو مخلوقاتو ته رزق ورکوی، او د مخلوقاتو د پیدایښت نه ئی مخکی د دوی رزق مقرر کړی دی، او د هغوی د رزق د تکمیلولو کفالت ئی کړی اګر که ډیره موده روسته هم وی . |
| الرَّزَّاقُ | دا نوم دلالت کوی چه الله تعالی خپل مخلوق ته ډیر په کثرت سره رزق ورکوی ، نو الله تعالی خپل مخلوق ته د هغوی د غوښتلو نه مخکی رزق ورکوی ، بلکه خپل مخلوق ته د هغوی د ګناهونو باوجود هم رزق ورکوی . |
| اللَّطِيفُ | هغه ذات چه په ډیرو وړو او دقیقو شیانو باندی علم لری ، هیڅ شی تری پناه کیدای نشی ، او په ډیر خفیه طریقی سره خپل مخلوق ته خیر او فایده رسوی د هغه ځای نه چه د هغوی پری ګمان نه وی . |
| الخَبِيرُ | هغه ذات چه د ټولو شیانو په باطن او ظاهر دواړو باندی د هغی علم احاطه کړی ده. |
| الفَتَّاحُ | هغه ذات دی چه د خپلی بادشاهی رحمتونو او رزق خزانی ئی د خپل حکمت د تقاضا موافق د( مخلوق ) پر مخ خلاصی کړیدی . |
| العَلِيمُ | هغه ذات چه علم ئی په ظاهری باطنی پټو او ښکاره ، ماضی حال آو مستقبل ،او په ټولو شیانو باندی احاطه کړی ده ، او هیڅ شی تری پناه کیدای نه شی . |
| البَرُّ | هغه ذات چه په خپل مخلوق باندی ډیر پراخه احسانات کوی ، دومره نعمتونه ئی کړی پری چه څوک ئی حسابولی نشی او نه پری ګیره اچولی شی ، هغه په خپله وعده کښی صادق دی ، هغه ذات دی چه دخپلو بندګانو د ( ګناهونو نه ) تیریږی ، نصرت ورسره کوی او حفاظت یی کوی ، لږ عمل ورله هم قبلوی او بیا ئی ډیروی . |
| الحَكِيمُ | هغه ذات چه په ډیر مناسب ځایونو کښی شیان وضع کوی ، او په تدبیر کښی ئی هیڅ خلل او نقصان نشی راتلای . |

| | |
|---|---|
| الحَكَمُ | هغه ذات چه د خپلو مخلوقاتو په مينځ کښې په انصاف سره فيصله کوی ، په چا ظلم نه کوی، او هغه ذات دی چه خپل عزت مند کتاب ئی د خلکو په مابين کښې د فيصلو لپاره راليږلی دی . |
| الشَّاكِرُ | هغه ذات چه څوک ورله اطاعت کوی نو د هغی صفت کوی ، او د عملونو بدلی ورکوی اګر که ډير کم هم وی ، چه څوک ورله د نعمتونو شکر ادا کوی نو په دونيا کښې ورله نعمتونه نور هم زياتوی ، او په اخرت کښې ورله بدله ورکوی . |
| الشَّكُورُ | هغه ذات چه د بندګانو لږ عمل ورسره زياتيږی ، نو د هغی بدله ورله څو چنده زياته ورکوی ، نو الله تعالی هغی انسان ته ثواب ورکوی چه د الله تعالی د نعمتونو شکر ادا کوی ، او عملونه ورله قبلوی . |
| الجَمِيلُ | هغه ذات چه په خپل ذات نومونو او صفتونو کښې د کامل خايست خاوند دی ، او په مخلوق کښې چه کوم خايست دی هغه هم د الله تعالی له خوانه دی . |
| المَجِيدُ | هغه ذات چه په اسمانونو او زمکه کښې ورله لوئی عزت او اوچتوالی دی . |
| الوَلِيُّ | هغه ذات دی چه دمخلوقاتو په کارونو او د خپلی بادشاهۍ په تدبير باندی قائم دی ، او د خپلو دوستانو امداد کونکی دی . |
| الحَمِيدُ | هغه ذات دی چه په خپلو خايسته نومونو صفتونو او کارونو باندی ستايلی شوی د ی ، هغه ذات دی چه په خوشحالۍ تکليف ، په سختۍ او راحت کښې ستايلی کيږی ، او يواځی همدغه ذات مطلقا د حمدونو او ستاينی حقدار دی ځکه چه په صفتونو د کمال سره موصوف دی . |
| المَوْلَى | رب دی بادشاه دی سيد دی او دخپلو دوستانو لپاره امدادی او معين دی . |
| النَّصِيرُ | هغه ذات دی چه په خپل نصرت سره مضبوطوی هغه څوک چه ئی وغواړی ، د چا سره چه امداد وکړی نو په هغی باندی څوک زورور نشته، او څوک چه ذليله کړی نو د هغی لپاره څوک امدادی نشته. |
| السَّمِيعُ | هغه ذات دی چه په هر پټ څيز، مشوره ، په جهر او اعلان باندی د هغی اوريدلو احاطه کړی ، بلکه په ټولو اوازونو که هغه ډير باريکه وی او که لوی وی هم احاطه کړيده ، او څوک چه تری غواړی نو د هغی دعا قبلوی . |
| البَصِيرُ | هغه ذات دی چه ليدلو ئی په غيبی او ښکاره عالم کښې په ټولو موجوداتو باندی احاطه کړيده ، که هغه پټ وی او که ښکاره ، که ډير کوچنی وی او يا ډير لوی . |
| الشَّهِيدُ | په خپلو مخلوقاتو باندی څارونکی دی ، په خپل وحدانيت او عدل باندی ئی شهادت کړی دی ، او د موحدينو مؤمنانو پيغمبرانو عليهم السلام او د ملايکو په صداقت باندی هم ګواه دی . |
| الرَّقِيبُ | د خپل مخلوق په حال باندی اګاه دی ، په خپل علم کښې يي د هغوی عملونه راګير کړی ، د يو کتونکی معمولی کتل تری هم نه فوت کيږی ، او نه تری د زړونو وسوسی فوتيږی . |
| الرِّفِيقُ | په خپلو کارونو کښې ډير نرمی کونکی دی ، په پيداکولو او اوامرو کښې عجله او تلوار نه کوی ، او دخپلو بندګانو سره داسانتيا او نرمۍ معامله کوی ، په غير د طاقته هغوی ته تکليف نه ورکوی ، او نرمی کونکی بنده ئی خوښ دی |
| القَرِيبُ | ټولو مخلوقاتو ته د علم او قدرت په لحاظ سره ، او مؤمنانو بندګانو ته د مدد کولو او لطف په اعتبار سره ډير نږدی دی ، او هغه سره د دغی نزديکت نه د عرش د پاسه دی ليکن په اعتبار د ذات سره د مخلوق سره اختلاط نه لری . |
| المُجِيبُ | هغه ذات دی چه د خپل علم او دحکمت د تقاضا موافق د دعاکونکو دعاګانی او د سوال کونکو سوالونه قبلوی. |
| المُقِيتُ | هغه ذات دی چه رزق ئی پيدا کړی دی او بيا ئی مخلوق ته د رزق د رسولو کفالت په غاړه اخستی دی ، او هغه په دغی رزق او د خپلو مخلوقاتو په عملونو باندی په غير د کوم نقصان نه نګاهبان دی . |
| الحَسِيبُ | هغه ذات دی چه د خپلو بندګانو لپاره په دنيوی او دينی کارونو کښې چه د دوی لپاره اهميت لری کافی دی ، او د مؤمنانو لپاره په دغی کفايت کښې پوره برخه ده ، او الله تعالی به د هغوی سره د دنيا په عملونو کښې حساب کوی . |

| | |
|---|---|
| المُؤْمِنُ | د خپلو رسولانو او پیغمبرانو او د هغوی د پیروانو تصدیق کونکی دی ، ځکه چه د هغوی په صداقت باندی شهادت کونکی دی، او بیا ئی پری دلایل قایم کړی، په دونیا او اخرت کښی چه هر امن دی د هغی ورکونکی الله تعالی دی، او هغه په سبب د خپل امن باندی مؤمنانو ته د ظلم عذابونو او د قیامت د لویی ویری نه امان ورکړی دی . |
| المَنانُّ | د ډیری ورکړی، او د لوی انعام خاوند دی، او په خپلو مخلوقاتو باندی یی ډیر زیات احسانات کړی دی. |
| الطَّيِّب | د هر قسم عیبونو او نقصان نه پاک دی ، او صرف الله تعالی هغه ذات دی چه د هغی لپاره مطلق کمال او خایست دی ، او په خپل مخلوق باندی د ډیر خیر خاوند دی ، او الله تعالی هغه عملونه او صدقات قبلوی چه پاک او حلال وی او خالص د الله تعالی لپاره وی . |
| الشَّافِي | هغه ذات دی چه زړونو او بدنونو ته د مرضونو نه شفا ورکوی ، او د مخلوق په لاس کښی صرف هغه دوا ده چه الله تعالی ورله میسره کړی ده او هر چه علاج او شفا ده هغه صرف د الله تعالی په لاس کښی ده . |
| الحَفيظُ | هغه ذات دی چه په خپل فضل سره د بندګانو او د هغوی د عملونو حفاظت او ساتنه کوی ، او په خپل قدرت سره د ټولو مخلوقاتو خاص رعایت او ساتنه کوی . |
| الوَكيلُ | هغه ذات دی چه د مخلوقاتو زموار او وکیل دی او د هغوی د پیدایښت او تدبیر انتظام ئی کړی دی ، او هغه د خپلو مخلوقاتو د ایجاد او مدد لپاره کافی دی ، او هغه د هغی مؤمنانو لپاره ښه پوره دی چه د عمل کولو نه ورته مخکی خپل کارونه سپاری ، او یا د عمل په دوران کښی تری مرسته غواړی ، او کله چه ورته الله تعالی توفیق ورکړی نو دوی د الله تعالی حمد او شکر ادا کوی ، او د ابتلا نه روسته په خپله برخه او تقسیم باندی راضی وی . |
| الخَلاَّقُ | دا هغه نوم دی چه د الله په ډیرو پیدا کولو باندی دلالت کوی ، الله تعالی د همیشه لپاره پیداکونکی دی او په دی لوی وصف باندی تراېده پوری موصوف دی . |
| الخَالِقُ | هغه ذات دی چه په غیر د مثال نه د ټولو مخلوقاتو نا اشنا پیداکونکی دی. |
| البَارِئُ | هغه ذات چه ټول هغه مخلوقات چه د هغی د پیدا کولو اراده ئی کړی ده هغه ئی موجود کړی دی او وجود ته ئی راوستلی دی. |
| المُصَوِّرُ | هغه ذات دی چه خپل مخلوق ئی په هغی شکل او صورت باندی پیدا کړی چه الله تعالی ورله د خپل حکمت د تقاضا موافق غوره کړی ؤ . |
| الرَّبُّ | هغه ذات دی چه په خپلو نعمتونو باندی د مخلوقاتو تربیت کوی او په تدریج سره ئی لویوی ، او هغه ذات دی چه د خپلو دوستانو داسی تربیت کوی چه په هغی سره د هغوی زړونه اصلاح کیږی ، او هغه پیداکونکی اختیار مند او سید دی . |
| العَظيمُ | هغه ذات دی چه په ذات نومونو او صفتونو کښی ورله کامله لوئی او عظمت دی ، له دی امله ئی په خلکو باندی واجب کړی چه د الله تعالی لوئی ته قایل شی او د هغی د اوامرو احکامو او نهی پوره تعظیم وکړی . |
| القَاهِرُ<br>القَهَّارُ | هغه ذات چه خپل بندګان ورته ذلت ښکاره کوی ، او ټول بندګان ئی عبید او مریان ګرځولی دی ، په خپلو بندګانو اوچت او زورور دی ، ټول خلک ورته عاجزی کوی ، او ټول مخونه ورته تابعدار دی ، او قهار د قاهر مبالغه ده . |
| المُهَيمِنُ | هغه ذات چه په نورو شیانو باندی قایم دی حفاظت ئی کوی او په هغی باندی شاهد دی ، او احاطه ئی پری کړی ده |
| العَزِيزُ | هغه ذات دی چه ټول اقسام د عزت ورله ثابت دی ، د هغی لپاره د قوت عزت دی څوک پری غالبه نشته ، د دفاع عزت ورله هم ثابت دی هیچا ته ئی حاجت نشته ، د قهر او غلبی عزت ورله هم دی نو هیڅ شی په غیر د هغی د حکم نه حرکت نشی کولی . |

| | |
|---|---|
| الجَبَّارُ | هغه ذات دی چه د نافذونکی ارادی خاوند دی ، او نور ټول مخلوقات ورته مغلوبه دی ، د ده لوئی ته عاجزی کونکی دی ، حکم ته ئی تابع دی ، مات شوی څیز روغوی ، فقیر مالداره کوی ، ګران شی اسانوی ، او مریض روغوی . |
| المُتَكَبِّرُ | لوی ذات دی د هر قسم ناکاره صفت او عیب نه پاک دی ، د بندګانو د ظلم نه بالاتر دی ، په سرکشانو مخلوقاتو باندی زورور دی ، موصوف دی په صفت د کبریاء او لوئی باندی که څوک ورسره په هغی کښی جګړه کوی نو هلاک به ئی کړی او عذاب به ورله ورکړی . |
| الكَبِيرُ | په ذات صفتونو او کارونو کښی ډیر لوی دی ، د هغی نه بل هیڅوک لوی نشته ، بلکه ټول مخلوقات د هغی لویوالی او د جلالیت په مقابل کښی ډیر کوچنی دی . |
| الحَيِيُّ | هغه ذات دی چه په صفت د حیاء باندی موصوف دی چه د هغی د جلالیت او لوئی سره مناسب وی ، او د الله تعالی حیاء د کرم سخا نیکی او لوئی نه عبارت ده . |
| الحَيُّ | هغه ذات دی چه د هغی لپاره کامل او ابدی ژوند دی ، او داسی بقا ده ورله چه د هغی لپاره نه اول شته او نه ورله اخیر شته ، او په وجود کښی هر قسم ژوند د الله تعالی له طرفه دی . |
| القَيُّومُ | هغه ذات دی چه په خپله قائم دی او د مخلوقاتو نه بی پروا دی ، او د ټولو هغو مخلوقاتو لپاره چه په اسمانونو او زمکه کښی موجود دی د هغی لپاره قایمونکی دی ، نو ټول مخلوقات ورته محتاج دی . |
| الوَارِثُ | د خلکو د پناه کیدو نه روسته موجود دی ، او ټول مخلوقات ورته د مرګ نه روسته را ګرځیدونکی دی ، او ټول هغه څه چه زمونږ سره دی هغه یو امانت دی یوه ورځ به خپل اصلی مالک ته واپس کیږی . |
| الديَّانُ | هغه ذات دی چه ټول مخلوقات ورته تابع دی ، چه خپلو بندګانو ته د هغو کارونو بدله ورکوی چه کوی ئی ، که نیک عملونه وی دوچنده بدله ورکوی ، او که ګناهونه وی نو د هغی سزا ورکوی او یا ئی ورته معاف کوی . |
| المَلِكُ | هغه ذات دی چه امر منع کول او غلبه صرف د هغی لپاره ده ، په خپل حکم سره په مخلوقاتو کښی تصرف کونکی دی ، د الله تعالی د بادشاهی په قایمولو کښی په هغی باندی د هیچا احسان نشته . |
| المَالِكُ | دهغی بادشاهی اصلی ده او د حقداری له امله ده ، چه کله ئی مخلوق پیدا کولو نو دهغه لپاره هم بادشاهی وه او ما سوا د هغه نه هیڅوک موجود نه و ، او چه کله ټول مخلوقات پناه کیږی نو بیا به هم بادشاهی د الله تعالی لپاره وی . |
| المَلِيكُ | دا هغه نوم دی چه په مطلقه بادشاهی باندی دلالت کوی او دا د ملک نه ډیر بلیغ دی . |
| السُّبوحُ | د هر قسم عیب او نقصان نه پاک دی ځکه چه دا هغه ذات دی چه د هغی لپاره کامل صفتونه دی او د مطلق جمال خاوند دی . |
| القُدُّوسُ | د هر قسم عیب او نقصان نه پاک دی ځکه چه د مطلق کمال په صفتونو باندی یواځی ستایلی شوی دی نو د هغی لپاره مثالونه نه شی بیانیدی. |
| السَّلامُ | په ذات صفتونو نومونو او کارونو کښی د هر قسم عیب او نقصان نه سالم دی او په دونیا او اخرت کښی هرقسم سلامتیا د الله تعالی له خوا ده . |
| الحَقُّ | هغه ذات چه د هغی په وجود نومونو صفتونو په الوهیت او خدائی کښی هیڅ قسم شک نشته ، حق معبود دی او د هغی نه په غیر بل معبود برحق نشته. |
| المُبِينُ | هغه ذات دی چه په وحدانیت حکمتونو او رحمت کښی ئی امر واضح دی ، او خپلو بندګانو ته ئی د هدایت لار روښانه کړی تر څوچه پری روان شی ، او د ګمراهی لار ئی ښودلی تر څو چه خلک تری ځان وساتی . |
| القَوِيُّ | هغه ذات چه د پوره قدرت او کاملی ارادی ښتن دی . |
| المَتِينُ | د ډیر سخت قدرت او قوت خاوند دی ، هغی ته په خپلو کارونو کښی مشقت تکلیف ستړي والی نه پیښیږی |

| | |
|---|---|
| القَادِرُ | په هر شی باندی قدرت لری په زمکه او اسمانونو کښی ئی څوک نشی کمزوری کولی ، او د هر شی تقدیر او اندازه ئی لګولی ده . |
| القَدِير | د ا په معنی کښی د القادر په شان دی لیکن په دی صفت کښی د الله په مدح کښی مبالغه ده . |
| المُقْتَدِرُ | دا یو نوم دی چه د الله تعالی د قدرت په مبالغه باندی دلالت کوی په نافذولو د تقدیرونو او پیداکولو کښی په هغه طریقه او کیفیت چه د الله تعالی په مخکنی علم کښی موجود ؤ . |
| العلِي<br>الأعلى | هغه ذات چه د هغی لپاره د شان قهر او د ذات اوچتوالی دی ، او هر څیز د هغی د قهر او د بادشاهی لاندی دی او هیڅوک پری اوچت نشته . |
| المُتعَالُ | هغه ذات چه د هغی د لویی په مقابل کښی هر شی ذلیل دی ، هیڅ شی د هغی نه بالا تر نشته ، بلکه هر شی د هغی نه لاندی دی ، او د هغی د قهر او د بادشاهی نه لاندی دی . |
| المُقَدِّمُ | هغه ذات دی چه ځنی شیان مخکی کوی او د خپل مشیت او د حکمت موافق ئی په یو مناسب ځای کښی ځای کوی ، او ځنی مخلوق په ځنو باندی د خپل علم موافق مخکی کوی . |
| المُؤخرُ | هغه ذات دی چه ټول شیان په خپلو مناسبو ځایونو کښی ځای په ځای کوی ، او د خپل حکمت د تقاضا موافق ځنی څیزونه مخکی کوی او ځنی روسته کوی ، او کله د خپلو بندګانو نه عذاب روسته کوی تر څو چه توبه اوباسی او الله تعالی ته راوګرځی . |
| المُسَعِّرُ | هغه ذات دی چه د څیزونو په قیمت تاثیر او اهمیت کښی زیاتوالی راولی او یا ئي کموی ، نو د الله تعالی د حکمت او علم د تقاضا موافق شیان کله قیمته کیږی او کله ارزانیږی . |
| القَابِضُ | هغه ذات دی چه روحونه اخلی ، او د ځنو بندګانو نه د ابتلا او امتحان په خاطر د خپل حکمت او قدرت د تقاضا موافق رزق بندوی . |
| البَاسِطُ | هغه ذات دی چه د خپلو بندګانو لپاره د خپلی سخا او کرم موافق رزق پراخه کوی ، نو په دغی سره هغوی‌د خپل حکمت موافق ازمائی ، او لاسونه د توبی د قبلولو لپاره اوږدوی . |
| الأَوَّلُ | هغه ذات دی چه مخکی تری هیڅوک نشته ، بلکه ټول مخلوقات د الله په پیدایښت باندی وجود ته راغلی دی ، او د الله تعالی د وجود لپاره ابتدا نشته . |
| الآخِرُ | هغه ذات دی چه روسته تری هیڅ شی نشته ، صرف د الله تعالی ذات به باقی وی او نور ټول هغه مخلوقات چه په زمکه کښی دی هغه به فانی کیږی ، بیا به ټول مخلوق الله ته واپس کیږی ، او د الله تعالی د وجود انتهاء نشته . |
| الظَّاهِرُ | د هر شی د پاسه دی ، هیڅ شی تری اوچت نشته ، او په هر شی باندی زورور دی او احاطه ئی پری کړی ده . |
| البَاطِنُ | هغه ذات دی چه د هغی نه بل څوک نږدی نشته ، نو دغه الله تعالی ډیر نږدی او راګیرونکی دی او په دونیا کښی د خلکو د نظر نه پناه دی . |
| الوِتْرُ | واحد ذات دی هیڅ شریک ورله نشته ، او داسی یو ذات دی چه هیڅ مثال ورله نشته . |
| السَّيِّدُ | هغه ذات دی چه په خلکو یی کامل اختیار او سیادت دی او د هغوی مالک او تربیت کونکی دی او ټول مخلوقات ئی بندګان دی . |
| الصَّمَدُ | هغه ذات دی چه په سید والی کښی کامل دی ، هغه ذات چه ټول مخلوقات ورته د خپل لوی احتیاج له امله په خپلو حاجتونو کښی رجوع کوی ، او هغه ذات دی چه خلکو ته طعام ورکوی او هغه د چا طعام ته ضرورت نه لری . |
| الوَاحِدُ<br>الأَحَدُ | هغه ذات دی چه په ټولو اقسامو د کمال کښی واحد دی څوک ورسره شریک نشته ، او د هغی په شان څوک نشته ، او دا د دی خبری تقاضا کوی چه الله تعالی یواځی د عبادت حقدار دی او شریک ورله نشته . |
| الإِلَهُ | معبود برحق دی ، یواځی هغه د عبادت حقدار دی او څوک ورسره په عبادت کښی شریک نشته . |

**١٣ آیا دالله په نومونو او صفتونو کښی څه فرق دی؟** د الله تعالی نومونه او صفتونه په دی کښی مشترک دی، چه په دواړو باندی پناه نیول او قسم کول جائز دی، لیکن فرقونه پکښی ډیر دی چه اهم یی دا دی: **اول:** دبندګی او دعا کولو په اعتبار کښی سره مختلف دی، د الله تعالی نومونو ته، نسبت د بندګی کولی شی، لکه عبد الکریم لیکن صفت ته یی نه شی کولی، نو داسی نه شی ویلی عبد الکرم، لکه څرنګه چه د الله رابلل په نومونو باندی جایز دي لکه یا کریم، لیکن په صفتونو باندی یی رابلل جایز نه دی لکه یا کرم الله.
**دوهم:** د الله تعالی د نومونو او اسماوو نه صفتونه مشتق (اخیستل) کیږی، لکه رحمن چه د رحمت صفت تری مشتق کیږی، او دصفتونو څخه نومونه نه مشتق کیږی، لکه استواء، داسی څوک نه شی ویلی چه د الله په نومونوکی یو نوم (مستوی) دی. **دریم:** د الله تعالی د افعالو (کارونو) څخه داسی نومونه نه اخیستل (مشتق) کیږی چی قران او حدیث کي نه وي راغلی، لکه د الله تعالی په فعلونو کښی یو فعل غضب دی نو څوک داسی نه شی ویلی، چه د الله یو نوم غاضب دی. او صفتونه دافعالو څخه مشتق کیدای شی، نو د الله تعالی لپاره صفت د غضب شته، ځکه چه غضب د الله دافعالو څخه دی.

**١٤ په ملایکو باندی د ایمان څه مقصد دی؟** د دوی په وجود باندی مضبوط ایمان او عقیده ساتل، چه ملایکی د الله مخلوق او بنده ګان دی، لکه څرنګه چه الله تعالی فرمائی :
﴿وَقَالُواْ ٱتَّخَذَ ٱلرَّحۡمَٰنُ وَلَدٗاۗ سُبۡحَٰنَهُۥۚ بَلۡ عِبَادٞ مُّكۡرَمُونَ ٢٦ لَا يَسۡبِقُونَهُۥ بِٱلۡقَوۡلِ وَهُم بِأَمۡرِهِۦ يَعۡمَلُونَ﴾.
سورة الأنبياء (٢٦-٢٧) **ترجمه:** او وایی دوی: چه مهربان ذات (ځان لره) زوی نیولی دی، خدای (له دغو نسبتونو څخه) پاك دی، بلکه دغه (کسان چه ورته د معبودانو حیثیت ورکول کیږي) د خدای عزتمند (او مقرب) بندګان دی. هیڅکله دوی د هغه له دستور څخه مخکښی خبری نه کوي او یواځی د هغه په حکم عمل کوي.
**او په ملایکو باندی د ایمان څلور مقصده دی: ١)** د هغوی په وجود باندی ایمان راوړل **٢)** د هغوی په نومونو باندی ایمان راوړل **٣)** دهغوی په صفتونو باندی ایمان راوړل **٤)** د هغوی په کارونو باندی ایمان راوړل، کوم چه هغوی ته سپارلی شوی دی، لکه ملک الموت (هغه پرښته چه روحونه قبضوی).

**١٥ د قرآن کریم تعریف څه دی؟** قران د الله تعالی کلام دی چه تلاوت یی عبادت بللی کیږی، د الله نه شروع شوی، او الله ته به واپس کیږی، چه الله پری په حقیقی توګه په حرفونو او اواز (صوت) سره خبری کړی، او جبرئیل عَلَيۡهِ السَّلَامُ د الله تعالی نه دا قرآن اوریدلی، او بیا یی نبی ﷺ ته رسولی، او ټول اسمانی کتابونه همداسی دی.

**١٦ آیا مونږ د نبي ﷺ د احادیثو څخه بغیر یواځی په قرآن باندی کفایت کولی شو؟** نه، الله تعالی په سنت باندی د عمل کولو حکم کړی دی، د دی دواړو نه په یو باندی اکتفاء کول جائز نه دی الله تعالی فرمائی : ﴿وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمۡ عَنۡهُ فَٱنتَهُواْۚ﴾
ترجمه: او هغه څیز چه درکړی دی تاسو ته پیغمبر ﷺ نو هغه واخلئ او هغه څیز چه تاسو یی تری منع کړی یاست نو د هغی نه منع شئ.
بلکه سنت د قرآن عظیم الشان تفسیر او وضاحت کوی، رسول الله ﷺ فرمایلی :
**« أَلا إِنِّي أُوتيتُ الْكِتَابَ وَمِثْلَهُ مَعَهُ ، أَلا يُوشِكُ رَجُلٌ شَبْعَانٌ عَلَى أَرِيكَتِهِ يَقُولُ : عَلَيْكُمْ بِهَذَا الْقُرْآنِ ، فَمَا وَجَدْتُمْ فِيهِ مِنْ حَلالٍ فَأَحِلُّوهُ ، وَمَا وَجَدْتُمْ فِيهِ مِنْ حَرَامٍ فَحَرِّمُوهُ »** أحمد وأبو داود.
بیشکه ماته قرآن راکړی شوی او د هغه په شان ورسره بل هم چه هغه سنت دی، او

خبردار نږدی ده چه یو موږ سړی چه په تخت باندی به ناست وی، او وائی به: تاسو یواځی دا قرآن مضبوط ونیسئ، چه کله مو پکښي حلال ومونډل هغه حلال وګڼئ، او چه کوم څه مو پکښی حرام ومونډل هغه حرام وګڼئ. امام احمد او ابوداود روایت کړیدی.

۱۷ **په رسولانو (پیغمبرانو) باندی د ایمان څه مقصد دی؟** مضبوط تصدیق کول چه الله تعالی په هرامت کښی پیغمبران رالیږلی، چه خلک یواځی د الله عبادت ته راوبلی، اود نورو معبودانو د عبادت نه انکار وکړی، او دا عقیده ساتل چه انبیاء علیهم السلام ټول ربښتینی، نیکان، رشد والا، عزتمند، متقیان، امانت ګر، هدایت کونکی، او هدایت والا دی، او دوی هغه پیغام او رسالت خلکو ته رسولی چه په کوم باندی الله تعالی رالیږلی وو.

۱۸ **د رسول الله ﷺ د شفاعت قسمونه څو دی؟** د ټولو نه لوی شفاعت د محشر په میدان کښی د رسول ﷺ **لوی شفاعت دی**، د پنځوس زره کاله انتظار نه روسته، چه د خلکو په منځ کي فیصله وشی، نو رسول الله ﷺ به شفاعت وکړی، دی لپاره چه الله جل شانه د فیصلي کولو لپاره تشریف راوړی، او دا شفاعت په رسول الله ﷺ پوری خاص دی، او دغی قسم ته مقام محمود هم وائی، چه د رسول الله ﷺ سره یی وعده شوی ده.

**دوهم قسم :** د رسول الله ﷺ شفاعت د جنت د دروازی په خلاصولو او بیرته کولوکښی، نو اول کس چه د جنت دروازه به خلاصوی، هغه رسول الله ﷺ دی، او په امتونو کښی به اول د رسول الله ﷺ امت جنت ته ځی. **دریم قسم :** د رسول الله ﷺ شفاعت د هغه چا لپاره، چه د جهنم فیصله پری شوی وی، او د جهنم څخه به نجات حاصل کړی. **څلورم قسم :** د رسول الله ﷺ شفاعت، د هغی موحدینو ګناهګارو مؤمنانو لپاره چه جهنم ته ننوتلی وی، چه د هغی نه راووځی. **پنځم قسم :** د رسول الله ﷺ شفاعت، د ځنی جنتیانو د درجو د اوچتولو لپاره، او دا وروستنی دری قسمه شفاعت یواځی په رسول الله ﷺ پوری خاص نه دی، لیکن رسول الله ﷺ پکښی مخکی دی، بیا وروسی انبیاء علیهم السلام ملایکی او نور اولیاء کرام او شهیدان دی. **شپږم قسم :** د رسول الله ﷺ شفاعت د ځنی خلکو لپاره چه بی حسابه او کتابه جنت ته داخل شی. **اوم قسم :** د رسول الله ﷺ شفاعت، د ځنی کافرانو لپاره چه عذاب پری کم او سپک شی، او دا قسم شفاعت په رسول الله ﷺ پوری خاص دی، چه د خپل تره ابوطالب لپاره به یی کوی. بیا به الله تعالی په خپل رحمت سره بغیر د چا د شفاعت **اتم قسم :** نه بی حسابه هغه کسان د اور نه را اوباسی چه په توحید باندی وفات شوی وی چه د هغی حساب یواځی الله ته معلوم دی او جنت ته به یی داخل کړی.

۱۹ **آیا د ژوندو خلکو نه د مدد او د شفاعت طلب کیدای شی؟** هو، لیکن د دنیا په هغه کارونو کښی چه طاقت یی لری، په دی شرط چه حاضر وی، او شریعت د بل چا سره دمدد کولو ترغیب ورکړی دی، الله تعالی فرمائی : ﴿وَتَعَاوَنُوا۟ عَلَى ٱلْبِرِّ وَٱلتَّقْوَىٰ﴾ **ترجمه :** تاسو د یو بل سره په نیکۍ او تقوا کښی مدد وکړئ، او رسول الله ﷺ فرمائی : « **وَاللَّهُ فِي عَوْنِ الْعَبْدِ مَا كَانَ الْعَبْدُ فِي عَوْنِ أَخِيهِ** » مسلم. الله تعالی تر هغی پوری د یو بنده سره کمک کوی تر څو پوری چه دغه بنده د خپل وړور په مدد کښی وی. او د داسی شفاعت ډیر فضیلت راغلی دی کوم ته چه واسطه ویل کیږی، لکه څرنګه چه الله تعالی فرمائی : ﴿مَّن يَشْفَعْ شَفَـٰعَةً حَسَنَةً يَكُن لَّهُۥ نَصِيبٌ مِّنْهَا﴾ سورة النساء (۸۵) **ترجمه :** څوک چه نیک سفارش وکړی نو د هغی لپاره به پکښی هم برخه وی، او رسول الله ﷺ فرمائی : « **اشْفَعُوا تُؤْجَرُوا** » البخاري. تاسو سفارش وکړئ اجر به درته درکړی شی.

**لیکن د دغی شفاعت لپاره شرطونه دی : ۱)** د ژوندی سړی نه به مدد او شفاعت غوښتلی کیږی ځکه چه مړی څیل ځان ته فایده نشی رسولی نو بل ته به څه فایده ورسوی ، او بل دا چه د مړی نه شفاعت طلب کول دعا ده او مړی د رابلونکی دعا نه اوری الله تعالی فرمائی : ﴿وَٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ مَا يَمۡلِكُونَ مِن قِطۡمِيرٍ ۝١٣ إِن تَدۡعُوهُمۡ لَا يَسۡمَعُواْ دُعَآءَكُمۡ وَلَوۡ سَمِعُواْ مَا ٱسۡتَجَابُواْ لَكُمۡۖ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يَكۡفُرُونَ بِشِرۡكِكُمۡ﴾ سورة فاطر (۱۳-۱٤) **ترجمه :** او هغه کسان چه رابلئ یی تاسو (په حاجتونو کښی) په غیر د الله نه، هغوی د (نری) پردی د هدوکی د کجوری اختیار نه لری، که تاسو رابلی هغوی لره نو نه اوری بلنه ستاسو، او که (بالفرض) واوری بلنه ستاسو نو نه شی درکولی جواب ستاسو، او په ورځ د قیامت کښی به کفر وکړی په شرک ستاسو . او د مړو نه ولی دا خلک سوال او غوښتنه کوی، او حال دا چه هغه په خپله د ژوندی دعا ته محتاج دی، ځکه چه د مړی تعلق د دنیا نه د ده په مرګ سره ختم شوی دی، مګر چه څوک ورته دعا کوی د هغی ثواب او اجر ورته رسیږی ، لکه څرنګ چه رسول الله ﷺ فرمائی « **مَنْ مَاتَ وَهُوَ يَدْعُو مِنْ دُونِ اللَّهِ نِدًّا دَخَلَ النَّارَ** » البخاري. څوک چه مړشی په داسی حال کښی چه د الله تعالی نه سوا بل شریک رابلی نو جهنم ته به داخل شی. (ند): شریک ته وائی. **۲)** کوم څه چه ورته ویلی کیږی په هغي باید پوه شی **۳)** د چا نه چه طلب کیدای شی هغه به حاضر وی **٤)** په هغه څه کښی به وی چه طاقت یی لری **٥)** په دنیاوی کارونو کښی به وی **٦)** په جایز روا او بی ضرره کارونو کښی به وی.

**۲۰ وسیله په څو قسمه ده؟** په دوه قسمه ده : **اول : جایز او شرعی وسیله** چه هغه بیا په دری قسمه ده: **۱)** د الله په نومونو او صفتونو باندي. **۲)** په نیک عمل باندی وسیله نیول، لکه د نبی ﷺ په محبت اویا د هغی په تابعداری لکه څرنګه چه د غار د خاوندانو په قصه کښی راغلی. **۳)** د یو نیک انسان په دعاء باندی وسیله نیول، په دی شرط چه ژوندی او حاضر وی.

**دوهم قسم : ناروا او شرکی وسیله** : دغه وسیله بیا په دوه قسمه ده: **۱)** د نبی ﷺ یا د یو ولی په مرتبه او جاه باندی وسیله نیول، لکه داسی ویل: (أي الله تعالی زه ستا نه د نبی ﷺ د مرتبی په خاطر حاجت غواړم)، او یا داسی ووائی: زه د حسین په خاطر ستا نه حاجت غواړم)، دا خبره صحیح ده، چه د الله په نزد باندی د رسول الله ﷺ مرتبه ډیره لویه ده، او همدارنګه د نورو نیکانو او بزرګانو مرتبه هم، لیکن صحابه یی کرام چه په نیکو کارونو باندی ډیر حرصناک وو، چه کله به سوکړه او وچ کالی راغله، نو الله تعالی ته یی د نبی ﷺ په جاه او مرتبه باندی چیرته هم وسیله نه ده نیولی، سره د دی نه چه قبر یی د هغوی په منځ کښی موجود وو، بلکه د حضرت عباس رضی الله عنه دعاء چه درسول الله ﷺ تره وو په وسیله کښی پیش کوله. **۲)** دا چه د الله تعالی نه یو حاجت وغواړی په داسی حال کی چه په نبی او یا په ولی باندی قسم وکړی، مثلا داسی ووائی، (اللهم إنی أسالک بولیک فلان او بحق نبیک فلان) أی الله زه ستا نه د فلانی ولی او د فلانی نبی په حق باندی دا حاجت غواړم، ځکه چه په مخلوق باندی قسم کول ناروا دی، او بیا الله ته په مخلوق باندی قسم ورکول ډیر زیات حرام او ناروا دی، او بل د بنده لپاره په الله تعالی باندی په مجرد نیک عمل او اطاعت کولو باندی کوم حق نشته.

**۲۱ په ورځ داخرت باندی د ایمان څه مطلب دی؟** د قیامت په راتلو باندی مضبوطه عقیده او ایمان ساتل، او په هغی کښی په مرګ باندی، او د هغی نه په وروستنی حالاتو باندی ایمان لرل هم شامل دی، لکه: د قبر عذاب، نعمتونه، سوال او جواب، شپیلی وهل، د الله په

مخکی د خلکو ودریدل، د عملنامو تقسیمیدل، پل صراط، او د تلی ودرول، حوض، او د رسول الله ﷺ شفاعت، او بیا جهنم یا جنت ته تلل هم شامل دی.

**٢٢ د قیامت لوئی علامي کومي دی؟** رسول الله ﷺ فرمائی : « **إِنَّهَا لَنْ تَقُومَ حَتَّى تَرَوْنَ قَبْلَهَا عَشْرَ آيَاتٍ فَذَكَرَ الدُّخَانَ وَالدَّجَّالَ وَالدَّابَّةَ وَطُلُوعَ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا وَنُزُولَ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ وَيَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ وَثَلَاثَةَ خُسُوفٍ خَسْفٌ بِالْمَشْرِقِ وَخَسْفٌ بِالْمَغْرِبِ وَخَسْفٌ بِجَزِيرَةِ الْعَرَبِ وَآخِرُ ذَلِكَ نَارٌ تَخْرُجُ مِنَ الْيَمَنِ تَطْرُدُ النَّاسَ إِلَى مَحْشَرِهِمْ** » مسلم. یقینا قیامت به تر هغی پوری نه قائمیږی چه تر ځو پوری تاسو د هغی نه مخکی لس علامی نه وی لیدلی، نو رسول الله ﷺ بیا دا علامی ذکر کړی: د لوګی (دود)، دجال، دحیوان راوتل، او د مغرب نه د لمر راختل، د عیسی علیه السلام راکوزیدل، یاجوج ماجوج، دری کرتی د زمکی کیناستل، یو ځل په مشرق کښی یو ځل په مغرب کښی او یو ځل په جزیرة العرب کښی، او په اخر کښی به د یمن نه اور راووځی چه خلک به محشر ته راجمع کوی.

**٢٣ په ټولو کښی لویه فتنه کومه ده چه په خلکو به راځی؟** رسول الله ﷺ فرمائی « **مَا بَيْنَ خَلْقِ آدَمَ إِلَى قِيَامِ السَّاعَةِ أَمْرٌ أَكْبَرُ مِنَ الدَّجَّالِ** » مسلم ، د ادم علیه السلام د پیدایښت نه نیولی تر قیامت پوری د دجال نه بله لویه فتنه نشته.او دجال د انسانانو نه یو سړی دی چه په اخری زمانه کښی به راځی د دواړو سترګو په مینځ کښی به یی (ک ف ر) لیکل شوی وی چه هر مؤمن به یی لولی، او د ده ښی سترګه شیری (پوچه) ده لکه د انګورو د وچی دانی په څیر، او کله چه راشی نو اول به د نیکی دعوه کوی بیا به د نبوت دعوه وکړی او بیا به د خدائی دعوه وکړی. خلکو ته به دعوت ورکړی نو خلک به یی دروغجن وبولی او خبره به ورله رد کړی، نو د خلکو نه به لاړ شی په داسی حال کښی چه دخلکو مالونه به دجال پسی لاړ شی، کله چه دا خلک سبا کړی نو هیڅ به ورسره نه وی، بیا به راشی خلکو ته به دعوت ورکړی نو خلک به یی خبره ومنی او تصدیق به یی وکړی، نو اسمان ته به حکم وکړی نو باران به ووریږی، زمکی ته به حکم وکړی چه زرغونه شه نو هغه به رازرغونه شی. خلکو ته به راشی په داسی حال کښی چه اوبه او اور به ورسره وی نو د هغه اور به یخی اوبه وی او دغه اوبه به په حقیقت کښی اور وی. نو د مؤمن لپاره پکار دی چه د هر لمانځه په اخیر کښی د دجال د فتنی نه په الله تعالی پوری پناه وغواړی، او که دجال ورسره مخامخ شی نو د سورة کهف اولنی ایاتونه دی پری ووائی، او د فتنی د ویری له امله دی د هغه د مخامخ کیدو نه اجتناب وکړی، رسول الله ﷺ فرمائی « **مَنْ سَمِعَ بِالدَّجَّالِ فَلْيَنْأَ عَنْهُ، فَوَاللَّهِ إِنَّ الرَّجُلَ لَيَأْتِيهِ وَهُوَ يَحْسِبُ أَنَّهُ مُؤْمِنٌ فَيَتَّبِعُهُ مِمَّا يَبْعَثُ بِهِ مِنَ الشُّبُهَاتِ** » أبو داود. چا چه د دجال خبر واوریده نو هغه دی تری په ډډه شی، زما دی په الله تعالی باندی قسم وی چه یو سړی به دجال ته راشی د هغه به دا خیال وی چه زه خو مؤمن یم لیکن د دجال دشبهاتو له وجی به دهغی تابعداری وکړی. او په زمکه کښی به څلویښت ورځی تیروی یوه ورځ به د کال په شان وی، او بله ورځ به د میاشت په شان وی، او بله ورځ به د هفتی په شان تیریږی، او نوری ورځی به زمونږد عامو ورځو په شان تیریږی. او بغیر دمکی او مدینی نه به هری زمکی او ښار ته ننوځی، بیا به عیسی علیه السلام راکوز شی او دجال به قتل کړی.

**٢٤ آیا جنت او جهنم اوس موجود دی؟** الله تعالی جنت او جهنم د خلکو د پیدایش نه مخکی پیدا کړی دی، او نابود کیږی نه، او د جنت لپاره یی خلک پیدا کړی په خپل رحمت

او فضل سره، او د جهنم لپاره یې خلک پیدا کړی چه د هغی د عدل تقاضی ده، او ټولو ته هغه کار اسان کړی شوی دی د کوم لپاره چه پیدا شوی دی.

۲۵ **په تقدیر باندی د ایمان څه مطلب د ی؟** دا مضبوطه عقیده او ایمان ساتل چه هر خیر او شر د الله تعالی په فیصله او اندازه باندی واقع کیږی، او یقینا الله تعالی خامخا دهغه کارکونکی دی چه اراده ورته وکړ ی، رسول الله ﷺ فرمائی : **« لوأنّ اللّه عذّب أهل سماواته وأهل أرضه عذّبهم وهو غير ظالم لهم، ولو رحمهم كانت رحمته خيرا لهم من أعمالهم، ولو أنفقت مثل أحد ذهبا في سبيل اللّه ما قبله اللّه منك حتّى تؤمن بالقدر وتعلم أنّ ما أصابك لم يكن ليخطئك، وأنّ ما أخطأك لم يكن ليصيبك ولو متّ على غير هذا لدخلت النّار »**. أحمد. که چیرته الله تعالی ټولو د اسمانونو او ځمکو والاو ته عذاب ورکړی، نو الله تعالی به پری ظلم نه وی کړی، او که الله تعالی پری رحم وکړی، نو هغه ورلـه د دوی د عملونو نه ډیر بهتر دی، او که چیرته د احد د غره قدری سره زر د الله په لار کښی خرچ کړئ، نو الله تعالی یی درنه تر هغی پوری نه قبلوی، تر څو پوری مو په تقدیر باندی ایمان نه وی را وړی، او په دی باندی پوهه شه چه کوم څه تا ته رسیږی، نو هغه هیڅکله ستا نه چپیدلای نه شی، او کوم څه چه ستا نه چپ شی، هغه چیرته هم تا ته رسیدلای نه شی، او که چیرته د دی نه بغیر په بله عقیده باندی وفات شی، نو اور او جهنم ته به داخل شی . امام احمد او ابوداود روایت کړیدی.

**او په تقدیر باندي په ایمان کښی څلور خبری دی: ۱)** دا ایمان او عقیده ساتل چه الله تعالی په هر څه باندی اجمالی او تفصیلی علم لری. **۲)** دا ایمان ساتل چه الله تعالی دا هر څه په لوح محفوظ کی لیکلی دی، رسول الله ﷺ فرمائی : **« كتب اللّه مقادير الخلائق قبل أن يخلق السّماوات والأرض بخمسين ألف سنة »** مسلم. الله تعالی د ټولو مخلوقاتو تقدیر او اندازه د اسمانونو او ځمکو د پیدایش نه پنځوس زره کاله وړاندی لیکلی ده. امام مسلم روایت کړیدی. **۳)** د الله تعالی په نافذونکی اراده او مشیت باندی ایمان لرل، هغه اراده چه هیڅ ځوک یی ردولی نه شی، او د الله تعالی په هغه قدرت باندی ایمان چه ځوک یی کمزوری کولی نه شی، او هغه څه چه الله تعالی یی وغواړی کیږی، او چه کوم څه ونه غواړی هغه نه شی کیدای. **۴)** دا عقیده ساتل چه الله تعالی د ټولو مخلوقاتو موجودونکی دی، او نور ټول شیان د الله تعالی پیدایش او مخلوق دی.

۲۶ **آیا انسان د دین او دنیا په کارونو کښی اختیار مند دی او حقیقی قدرت او اراده لری؟** انسان په دی ژوند کښی د اختیار او ارادی خاوند دی، لیکن د الله تعالی د مشیت او ارادی نه وتلی نه شی الله تعالی فرمائی : ﴿ وَمَا تَشَاءُونَ إِلَّا أَن يَشَاءَ اللَّهُ ﴾ سورة التكوير ۲۹ ، **ترجمه :** او تاسونه شئ غوښتلی یوخیز مگر هغه چه وغواړی الله تعالی چه هغه رب د ټولو مخلوقاتو دی، او رسول الله ﷺ فرمائی : **«اعملوا فكلّ ميسّر لما خلق له»** متفق علیه، عمل وکړئ هر چاته هغه عمل اسان کړی شوی چه د کوم لپاره پیدا شوی دی .

یقینا الله تعالی مونږ ته عقل غوږونه او سترگی راکړی، چه د ښو او بدو کارونو په مینځ کښی پری تمیز وکړو، پس آیا داسی یو عاقل انسان به وی چه غلا کوی او بیا وائی، چه دا کار الله تعالی زما لپاره مقررکړی وو، او که چیرته داسی ووائی نو خلک ورله دغه عذر نه قبلوی، او ورته وایی به چه دا سزا ستا لپاره مقرر شویده، پس یو گناهگار انسان که په تقدیر باندی عذر پیش کړی نو دا عذر یی مقبول نه دی ﴿ سَيَقُولُ الَّذِينَ أَشْرَكُوا لَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا أَشْرَكْنَا وَلَا آبَاؤُنَا وَلَا حَرَّمْنَا مِن شَيْءٍ ۚ كَذَٰلِكَ كَذَّبَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِم ﴾. سورة الانعام ۱۴۸ **ترجمه :** زر دی چه وائی به مشرکان که خوښه وی د الله تعالی نو شرک به نه وی کړی مونږ او

نه پلارانو زمونږ او نه به حرام کړی وی مونږ څه شی، دغسی نسبت د دروغو کړی هغه کسانو چه د دوی نه مخکی وو.

**٢٧ احسان څه ته وائی؟** نبی ﷺ د هغی صحابی په جواب کښی فرمایلی وو، چه د احسان تپوس یی تری کړی وو: **« أَنْ تَعبُدَ اللَّهَ كَأَنَّكَ تَراه، فَإِنَّكَ إِنْ لا تَراه فَإِنَّهُ يَراكَ »** مسلم، چه ته د الله تعالی داسی عبادت وکړی لکه ته چه هغه مخامخ وینی، او که ته یی نه وینی نو الله تعالی خو تا وینی، دا حدیث متفق علیه دی لیکن لفظ د حدیث د مسلم دی.

**٢٨ توحید په څو قسمه دی؟** په دری قسمه دی: **١) دربوبیت توحید**: چه هغه د الله تعالی د یووالی نه عبارت دی د هغی په کارونو کښی، لکه: پیدا کول، رزق ورکول، ژوندی کول، او مړه کول، او د مکی کافرانو دا قسم توحید د رسول الله ﷺ د بعثت او پیغمبری نه مخکی هم منه. **٢) د الوهیت توحید** : چه هغه د الله یو والی دی په عبادت کښی، لکه: لمونځ نذر قربانی رکوع سجده او داسی نور، او د ټولو پیغمبرانو د رالیږلو او د کتابونو د نازلیدلو مقصد صرف دا دی، چه خلک بندگی او عبادت یواځی د الله لپاره خاص کړی. **٣) داسماء او صفاتو توحید**: یعنی د الله لپاره هغه نومونه او صفتونه ثابتول چه الله تعالی د خپل ځان لپاره ثا بت کړی، او یا ورله نبی ﷺ ثابت کړی وی، په غیر د تحریف، تعطیل، کیفیت او مشابهت بیانولو نه.

**٢٩ ولی (د الله دوست) څوک کیدلای شی؟** هغه مؤمن چه نیک او تقوادراه وی، لکه څرنګه چه الله تعالی فرمائی : ﷻ: ﴿أَلَآ إِنَّ أَوۡلِيَآءَ ٱللَّهِ لَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ ٦٢ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَكَانُواْ يَتَّقُونَ﴾ سورة یونس (٦٢..٦٣) **ترجمه** : خبردار د الله تعالی په دوستانو به ویره نه وی او نه به دوی غمجن وی، دا هغه کسان دی چه ایمان یی راوړی او پرهیز ګاران وو، او رسول الله ﷺ فرمائی، **« إِنَّما وَلِيِّيَ اللَّهُ وَصالِحُ الْمُؤْمِنِين »** متفق علیه. یقینا زما دوست الله تعالی دی او نیکان مؤمنان دی.

**٣٠ په مونږ باندی د رسول الله ﷺ د صحابه و په هکله څه کول لازم دی؟** د هغوی سره محبت، د هغوی د ذکرکیدو په وخت کښی (رضی الله عنهم) ویل، د زړه او ژبی سلامتیا، د هغوی د فضیلتو او خوبیانو نشرول، د هغوی د بدی ویلو اود هغه څه نه ځان ساتل چه د هغوی په مینځ کښی واقع شوی، هغوی د خطاګانو نه معصوم نه دی، لیکن مجتهدین وو، څوک چه د اجتهاد په وجه حق ته رسیدلی وی، نو د هغه لپاره دوه اجرونه دی، او که څوک په اجتهاد کښی خطا شوی وی نو د هغه لپاره یو اجردی، او إن شاء الله خطا یی معاف کړی شوی ده، او د هغوی دومره فضیلتونه او خوبیانی دی چه ګناهونه او خطاګانی ورله محوه کوی که چیرته تری صادر شوی هم وی، آیا سمندر په معمولی نجاست باندی ګنده کیږی، چه کله پکښی پریوځی؟ او صحابه کرام ځنی په ځنو باندی فضیلت لری نو په ټولو کښی غوره صحابه عشره مبشره دی یعنی هغه لس صحابه چه په یوځای ورته د جنت زیری راغلی دی : چه نومونه یی دا دی : نو غوره پکښی ابوبکر دی بیا عمر بیا عثمان بن عفان بیا علی بیا طلحة ، زبیر عبدالرحمن بن عوف سعد بن ابی وقاص ، سعید ، ابوعبیدة بن الجراح ، بیا ټول مهاجرین صحابه غوره دی ، بیا چه څوک د مهاجرینو او انصارو نه د بدر په غزا کښی شریک شوی وی ، بیا نور ټول انصار صحابه او بیا باقی ټول صحابه کرام رضي الله عنهم اجمعين ، رسول الله ﷺ فرمائی : **« لا تَسُبُّوا أَصْحابِي فَوالَّذِي نَفْسِي بِيَدِه لَوْ أَنَّ أَحَدَكُمْ أَنْفَقَ مِثْلَ أُحُد ذَهَبًا ما أَدْرَكَ مُدَّ أَحَدِهِمْ وَلا نَصِيفَه »** متفق علیه. (زما صحابه وو ته کنځلي (رد بد) مه وائی زما دی په هغه ذات باندی قَسم وی چه زما نفس د هغه په لاس کښی دی که په تاسو کښی یو تن د احد د غره په

اندازه سره زر خرڅ کړی نو د هغوی د یو(مد) یعنی پیمانی په اندازه ثواب هم نه شی حاصلولی او نه هم د نیم (مد) په اندازه، الله تعالی دی د هغوی نه راضي شی. او رسول الله ﷺ فرمائی « مَنْ سَبَّ أَصْحَابِي فَعَلَيْه لَعْنَةُ اللهِ وَالمَلائِكَةِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِيْنَ » الطبراني ، څوک چه زما صحابه کرامو ته کنځلی کوی نو په هغی د ی د الله تعالی ملایکو او د ټولو مخلوقاتو لعنت وی.

**٣١ آیا زمونږ لپاره د رسول الله ﷺ په مدح صفت او ستاینی بیانولو کښی مبالغه او د خپل حد نه تجاوز کول جایز دی، د هغی اندازی او مقام نه زیات چه الله تعالی ورته ورکړی دی؟** په دی کښی هیڅ شک نشته چه زمونږ پیغمبر ﷺ په ټولو مخلوقاتو کښی اشرف، افضل او بهتر دی، لیکن مونږ به دهغه په مدح، صفت، او شان کښی د خپل حد نه زیاتی نه کوو، لکه څرنګه چه نصاراوو د عیسی علیه السلام په ستاینه کښی زیاتی کړی ؤ، ځکه چه رسول الله ﷺ په خپله مونږ د افراط او د خپل حد نه د تجاوز کولو نه منع کړی یو، لکه څرنګه چه هغه فرمائی : « لا تُطْرُونِي كَمَا أَطْرَتِ النَّصَارَى ابْنَ مَرْيَمَ فَإِنَّمَا أَنَا عَبْدُه، فَقُولُوا : عَبْدُ اللَّهِ وَرَسُولُهُ »البخاري. تاسو زما په شان کښی افراط او زیاتی مه کوئ، لکه څرنګه چه عیسایانو د مریم علیها السلام په ځوی کښی مبالغه او د خپل حد نه تجاوز کړی وو، یقینا زه د هغه بنده یم، نو ووائی چه زه د الله تعالی بنده او پیغمبر یم . امام بخاری روایت کړیدی.او ( اطراء ) د چا په صفت او ستاینه کښی د خپل حد نه زیاتی او مبالغی ته ویلی کیږی .

**٣٢ آیا اهل کتاب مؤمنان دی؟** یهود نصاری او د نورو دینونو والا ټول کافران دی، اګرکه دوی په خپل اصلی دین باندی ایمان هم لری، لیکن که د رسول الله ﷺ د راتلو نه روسته دوی خپل دین پری نږدی نو دوی بیا مسلمانان نشی کیدای لکه څرنګه چه الله تعالی فرمائی : ﴿فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي ٱلْآخِرَةِ مِنَ ٱلْخَٰسِرِينَ﴾ سورة العمران ٨٥ **ترجمه :** نو هیڅ کله به قبول نه کړیشی د هغه نه، او هغه به په اخرت کښی د تاوانیانو (زیان کارانو) نه وی.
او که مسلمان د هغوی په کفر باندی عقیده ونه ساتی او یا د هغوی د دین په باطلوالی کښی شک کوی نو دا انسان بیا کافر دی، ځکه چه دی انسان د الله تعالی او د پیغمبر ﷺ د حکم خلاف کار وکړو الله تعالی فرمائی : ﴿وَمَن يَكْفُرْ بِهِۦ مِنَ ٱلْأَحْزَابِ فَٱلنَّارُ مَوْعِدُهُۥ﴾ سورة هود ١٧ ، **ترجمه :** او چا چه د مختلفو ډلو نه په دی کتاب کفر وکړه نو د وعدی ځای یی جهنم دی.او رسول الله ﷺ فرمائی : « وَالذِيْ نَفْسُ محمد بيده لا يَسْمَعُ بِيْ أَحَدٌ من هذه الأُمَّةِ يَهُوديٌّ ولا نَصْرَانِيٌّ ثُمَّ لا يُؤْمِنُ بِيْ إلا دَخَلَ النَّارَ » مسلم. زما دی په هغه ذات قسم وی چه زما ژوند د هغه په لاس کښی ده نه خبریږی زما نه په دی امت کښی کوم یهودی او نه کوم نصرانی او بیا په ما باندی ایمان نه راوړی مګر اور ته به داخل شی.

**٣٣ ایا په کافر باندی ظلم کول جایز دی؟ عدل او انصاف کول واجب دی** لکه څرنګ چه **الله تعالی** سبحانه وتعالى : ﴿إِنَّ ٱللَّهَ يَأْمُرُ بِٱلْعَدْلِ وَٱلْإِحْسَٰنِ﴾ یقینا الله تعالی حکم کړیدی په انصاف کولو او نیکی باندی **او** ظلم کول ناروا عمل دی لکه څرنګه چه الله تعالی په حدیث قدسی کښی فرمائی : « إِنِّي حرَّمْتُ الظُّلْمَ عَلَى نَفْسِي وجعلْتُه بينكُم محرَّمًا فَلا تَظَالَمُوا » مسلم. یقینا ما په خپل ځان باندی ظلم حرام کړی دی او ستاسو په مینځ کښی مو حرام کړی دی نو یو په بل باندی ظلم مه کوئ.او مظلوم انسان به په ورځ د قیامت کښی د ظالم نه خپله بدله اخلی لکه څرنګ چه رسول الله ﷺ فرمائی : « أَتَدْرُونَ مَنِ الْمُفْلِس » قـالُوا : الْمُفْلِسُ فِينَا مَنْ لا دِرْهَمَ لَه وَلا مَتَاعَ، فَقَالَ : « إِنَّ الْمُفْلِسَ مِنْ أُمَّتِي يَأْتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِصَلاةٍ وصِيَامٍ وزَكَاةٍ ويَأْتِي قَدْ شَتَمَ هَذَا وقَذَفَ هَذَا وأَكَلَ مَالَ هَذَا وسَفَكَ دَمَ هَذَا وضَرَبَ هَذَا فَيُعْطَى هَذَا مِنْ حَسَنَاتِهِ وهَذَا مِنْ حَسَنَاتِهِ فَإِنْ فَنِيَتْ حَسَنَاتُهُ قَبْلَ أَنْ يُقْضَى

**مَا عَلَيْهِ أُخِذَ مِنْ خَطَايَاهُمْ فَطُرِحَتْ عَلَيْهِ ثُمَّ طُرِحَ فِي النَّارِ**» مسلم. ایا تاسو پوهیږئ چه مفلس څوک دی نو دوی وویل چه په مونږ کښی مفلس او مسکین هغه څوک دی چه درهم او سامان نه لری ، نو رسول الله ﷺ وفرمایل : زما په امت کښی مفلس انسان هغه دی چه په ورځ د قیامت کښی په لمونځونو روژواو زکاتونو باندی راتګ وکړی ، لیکن په داسی حال کښی راشی چه یو انسان ته ئی کنځلی کړی وی ،په بل باندی ئی بهتان لګولی وی ، او د بل انسان ئی مال خوړلی وی ، او څوک ئی قتل کړی وی او بل ئی وهلی وی ، نو د ده د نیکو عملونو نه به دی انسان او هغی بل ته ورکړی شی ، که چیرته د ده نیک عملونه ختم شی مخکی د هغی نه چه د ده ظلم او پور پری خلاص نشی نو د هغی مظلومانو ګناهونه به په دی باندی بار شی نو بیا به په اور کښی واچولی شی . بلکه لار قصاص او بدله اخستل دی تر دی چه د حیواناتو په مابین کښی به هم وی .

((او کافران د معاملی په اعتبار سره په دوه قسمه دی: **اول: د عهد خاوندان،** او هغه بیا په دری قسمه دی: **أ) اهل ذمه (ذمیان):** او دا هغه کسان دی چه جزیه (دپیسو بدله) ورکوی، او د دوی لپاره به ابدی حفاظت وی، ځکه چه دوی د مسلمانانو سره عهد کړی چه په دوی به د الله تعالی او د رسول الله ﷺ حکم تطبیقیږی، ځکه چه دوی د مسلمانانو په ملک کښی اوسیږی او د وی به د نورو اوسیدونکو په شان ګڼلی کیږی. **ب) د صلح والا:** دا هغه کسان دی چه د مسلمانانو سره یی د دوی په ملک کښی په اوسیدلو باندی صلحه او اتفاق کړی وی، او په دوی باندی به اسلامی احکام نه تطبیقیږی کوم چه په ذمیانو باندی جاری کیږی، لیکن دوی به د مسلمانانو د جنګ نه ځان ساتی لکه د نبی ﷺ په زمانه کښی چه کوم یهود وو. **ج) امان والا (مستامن):** دا هغه کفار دی چه د مسلمانانو ملک ته د یو حاجت لپاره راغلی وی او د اوسیدلو اراده پکښی نه لری، لکه استازی (قاصدان)، تاجران، پناه غوښتونکی، او نور زائرین او یا داسی نور. د دوی حکم دا دی چه نه به قتلیږی او نه به تری څوک مال اخلی، او نه به تری جزیه طلب کیږی، او پناه غوښتونکی ته به د اسلام دعوت ورکړی شی، که چیرته یی اسلام قبول کړه خو ډیره ښه ده، او که چیرته خپل ملک ته د واپس کیدو طلب وکړی نو واپس به کړی شی، او ضرر به ورته نه رسوی.

**دوهم : حربی کافران :** او دا هغه کسان دی چه دهغوی سره د ذمیانو تړون او پیمان نه وي شوی، او نه د مسلمانانو سره د امان او عهد تړون ورسره وی. او دوی هم ډیر قسمونه لری: یو هغه کسان دی چه د مسلمانانو سره د جنګ په حالت کښی دی، او د دوی په مقابل کښی دسیسی او تدبیرونه جوړوی، او هغه کسان چه د مسلمانانو سره یی د جنګ اعلان کړی دی، او یا د دوی د دښمنانو سره مرسته کوی، نود داسی کافرانو سره به جنګ کیدای شی او قتل کیږي به )).

۳٤ **بدعت څه ته وائی؟** حافظ ابن رجب فرمائی : دبدعت څخه مراد هغه عمل دی چه نوی پیدا شوی وی، او په دین او شریعت کښی پری کوم دلیل وجود نه لری، او هغه کار چه شریعت کښی ورله اصل او دلیل وی هغی ته بدعت نه ویلی کیږی، اګر که هغه لغوی بدعت هم وی.

۳٥ **آیا په دین کښی نیك بدعت او ناکاره بدعت شته؟** ډیر آیاتونه او احادیث وارد شوی، چه په شرعی مفهوم سره د بدعت مذمت په کښی بیان شوی دی، یعنی هغه: عمل چه نوی پیدا شوی وی، او په شریعت کښی ورله دلیل نه وی، لکه څرنګه چه رسول الله ﷺ فرمائی : « **وَمَنْ عَمِلَ عَمَلًا لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ** » متفق علیه، چاچه داسی عمل وکړه چه مونږ پری حکم نه وی کړی نو هغه مردود دی .

او رسول الله ﷺ فرمائی : « **فَإِنَّ كُلَّ مُحْدَثَةٍ بِدْعَةٌ وَكُلَّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ** » أحمد. یقینا هر نوی کار په دین کی بدعت دی، او هر بدعت گمراهی ده، مسلم روایت کوی، او امام مالک رحمه الله د شرعی بدعت په معنی کی فرمائی : من ابتدع في الإسلام بدعة يراها حسنة فقد زعم أن محمدًا ﷺ خان الرسالة، لأن الله ﷻ يقول: ﴿ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ وَأَتۡمَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ نِعۡمَتِي﴾ سورة المائدة 3 ،. چاچه په دین کښی بدعت ایجاد کړه او هغی ته ښه کار وائی نو یقینا ده گمان وکړه چه رسول الله ﷺ په خپل رسالت کښی خیانت کړی دی، ځکه چه الله تعالی فرمائی : نن ورځ ما ستاسو دین کامل کړه او خپل نعمت می درباندی پوره کړه.

او د لغوی بدعت په مدح او صفت کښی ځینی احادیث راغلی، او دا هغه عمل دی، چه شریعت د هغی د کولو ترغیب ور کړی وی، خو بیا پریښودلی شوی وی، نو نبی ﷺ دی ته ترغیب ورکړی چی نورو ته دهغه یادونه وشی، رسول الله ﷺ فرمائی : « **مَنْ سَنَّ فِي الإِسْلامِ سُنَّةً حَسَنَةً فَلَهُ أَجْرُهَا وَأَجْرُ مَنْ عَمِلَ بِهَا بَعْدَهُ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَنْقُصَ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْءٌ** » مسلم. چاچه په اسلام کښي نیکه او غوره لاره پرانیسته، نو دهغه لپاره ددی عمل اجر، او دهغو کسانو اجر ورکول کیږی چی پری عمل کوی، بیله دی ډي دهغوی داجر نه څه کم شی. امام مسلم روایت کړیدی.

او دعمر رضی الله عنه وینا هم په دی معنی سره ده « **نِعْمَتُ الْبِدْعَةُ هَذِه** » دا خو ډیره ښه طریقه ده، یعنی د تراویح لمونځ ته یی اشاره وکړه، چه هغه خو رواَ وو، ځکه چه رسول الله ﷺ خلکو ته د هغی ترغیب ور کړی وو، او خپله یی هم دری شپی وکړه، بیا یی د دی ویری نه پریښوده چه فرض نه شی، نو عمربن الخطاب رضی الله عنه د تراویح لمونځ وکړه، او خلک یي پری را جمع کړه، ځکه چه د تشریع زمانه ختمه شوی وه، او وحی خو د رسول الله ﷺ په وفات سره بنده شوی وه.

**٣٦ منافقت په څو قسمه دی؟** منافقت په دوه قسمه دی: **١) اعتقادی اولوی منافقت :** هغه دیته وائی چه یو کس اسلام ښکاره کړی او کفر یی پټ کړی وی، او دا قسم منافقت انسان د اسلام نه خارجوی، او چه کله په همدی منافقت حالت کی وفات شی نو په کفر باندی مړشو، الله تعالی فرمائی : ﴿إِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ فِي ٱلدَّرۡكِ ٱلۡأَسۡفَلِ مِنَ ٱلنَّارِ﴾ سورة نساء ١٤٥ ، **ترجمه :** یقینا منافقین به په لاندی طبقه د اور کښی وی. دمنافقانو دصفاتو دادی: چه دوی د الله او د مؤمنانو سره دوکه کوی، او مؤمنانو پوری مسخری کوی، او کله چه ځانته شی د الله تعالی احکام پیمالوی، او د مسلمانانو په مقابل کښی د کفارو سره مرسته او نصرت کوی، او په خپلو نیکو عملونو سره ددنیا ناخیزه گټه لاس ته راوړی.

**٢) عملی او وړوکی منافقت:** چه په دغی منافقت باندی څوک د اسلام څخه نه خارجیږی، لیکن دغه انسان په خطر کښی دی که توبه تری ونه باسی، نو کیدای شی چه په لوی منافقات باندی اخته شی، او دی قسم منافقت لپاره هم ډیری علامی دی: کله چه خبری کوی نو دروغ وائی، او چه وعده وکړی په هغی کښی خلاف کوی، او چه جگړه کوی نو کنځلی کوی، او چه کله عهد وکړی نو په هغی کښی دوکه کوی، او چه څوک ورسره امانت کیږدی نو خیانت پکښی کوی، له دی امله صحابه کرام به د عملی منافقت نه ویریدل، لکه ابن ابی ملیکه وایی: ما دیرش صحابه کرام موندلی وو چه هغوی به په خپل ځان باندی د منافقت نه ویریدل، او ابراهیم التيمي وایی: چه ما کله خپله وینا دعمل سره نده مقایسه کړی مگر دا چه زه به ویریدم چه عمل به می دوینا خلاف وی، حسن بصری فرمائی : دمنافقت څخه یواځی مومن ویره لری، او دهغه څخه یواځی منافق په امن کی وی

او پروا یې نه لري، او حضرت عمر رضی الله عنه حذیفه رضی الله عنه ته وویل: زه تاته په الله باندې قسم درکوم، آیا رسول الله ﷺ زه په منافقینو کښې حساب کړی یم، هغه ورته فرمائې چه نه، او ستا نه روسته زه د بل چا تزکیه نه کوم .

نو ای مسلمانه وروره! د دې منافقانه صفاتونه خپل ځان وژغوره، او د خپل ځان سره دخپلو اعمالو محاسبه وکړه.

**٣٧ د الله تعالی په نزد د ټولو نه لویه ګناه کومه ده؟** لویه ګناه د الله تعالی سره شرک کول دي، لکه څرنګه چه الله تعالی فرمائې :﴿ إِنَّ ٱلشِّرۡكَ لَظُلۡمٌ عَظِيمٞ ﴾ سورة لقمان 13 ، **ترجمه :** یقینا شرک خامخا لوی ظلم دی. اود رسول الله ﷺ نه تپوس وشو چه کومه ګناه ډیره لویه ده نو هغه وفرمایل: « **أَنْ تجْعَلَ لله ندًّا وهُوَ خَلَقَكَ** » متفق علیه. چه ته د الله تعالی لپاره شریک جوړ کړې او حال دا دی چه ته اللهَ تعالی پیدا کړی ئې.

**٣٨ شرک په څو قسمه دی؟** شرک په دوه قسمه دی: **١)** لوی شرک: دا هغه شرک دی چه انسان پرې د اسلام نه خارجیږي، او الله داسې مشرک ته مغفرت نه کوی، لکه څرنګه چه الله تعالی فرمائې ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغۡفِرُ أَن يُشۡرَكَ بِهِۦ وَيَغۡفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُۚ ﴾ سورة النساء١١٦ ، **ترجمه :** یقینا الله تعالی بخښنه نه کوي چه شریک ونیولی شي د ده سره، او چا ته چه وغواړي هغه دشرك نه ما سوا نور ګناهونه بخښي. **او بیا لوی شرک په څلور قسمه دی: ا)** په دعاء او رابللو کښې شرک، **ب)** په اراده او قصد کښې شرک، **ج)** په اطاعت کښې شرک کول، لکه د عالمانو اطاعت کول په حرامولو د هغه شیانو کښې چه الله تعالی حلال کړي وی، او یا د هغوی اطاعت کول په حلالولو د هغه شیانو کښې چه الله تعالی حرام کړي وی **د)** په محبت کښې شرک کول لکه د یو چا سره دالله په شان محبت او مینه کول، **٢) وړوکی شرک:** چه څوک پرې د اسلام نه نه خارجیږي، او وړوکی شرك په دوه قسمه دی : **١) ښکاره** ، برابره خبره ده که د وینا سر تعلق لري لکه په مخلوق باندې قسم کول ، او یا د (ماشاء الله و شئت ) ویل ، یعنی که د الله خوښه شي او ستا خوښه وی او یا ( لولا الله وفلان ) ویل یعنی که الله تعالی او فلانی سړی نه وی ، او که د عمل سره تعلق لری ، لکه د دفع کولو او یا د لرې کولو په خاطر د کړۍ او د بندونو اچول ، او یا د نظرد ویرې له امله په غاړه کښې د تعویذونو اچول ، او یا په مرغانو نومونو ، الفاظو ځایونو باندې بدفالی نیول .

**٢)** پټ ، لکه په نیتونو ارادو او مقصدونو کښې شرک کول شو ، لکه ریا کاری او شهرت.

**٣٩ د لوی او وړوکی شرک په مینځ کښې څه فرق دی؟** لوی شرک انسان د اسلام څخه خارجوی، او همیشه لپاره به په جهنم کښې وی، او وړوکی شرک انسان د اسلام څخه نه محروموی، او په جهنم کښې به همیشه لپاره نه پاتی کیږی، او لوی شرک د انسان ټول عملونه بربادوی، او وړوکی شرک ټول عملونه نه بربادوی، لیکن هغه عمل بربادوی چه وړوکی شرک ورسره ملګری شی. لیکن دا مسئله اختلافی ده چه وړوکی شرک بغیر د توبې څخه لکه د لوی شرک په څیر نه معاف کیږی، او که د لویو ګناهونو په شان د الله تعالی د ارادې او مشیت دلاندې دی؟ په هر حال وړوکی شرك ډیر خطرناك دی.

**٤٠ آیا د وړوکی شرک د دفع کیدو لپاره څه علاج او اسباب شته، او که واقع شی نو بیا د هغې لپاره څه کفاره شته؟** هو په خپل عمل سره د الله تعالی رضامندی طلب کول، او که چیرته لړه وی نو هغه به په دعا سره معاف کیږی، لکه څرنګه چه رسول الله ﷺ فرمائې :

« **أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا هَذَا الشِّرْكَ، فَإِنَّهُ أَخْفَى مِنْ دَبِيْبِ النَّمْلِ. فَقِيْلَ لَهُ :وَكَيْفَ نَتَّقِيْهِ وَهُوَ أَخْفَى مِنْ دَبِيْبِ النَّمْلِ**

**يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: قُولُوا: اللَّهُمَّ إِنَّا نَعُوذُ بِكَ مِنْ أَنْ نُشْرِكَ بِكَ شَيْئًا نَعْلَمُهُ وَنَسْتَغْفِرُكَ لِمَا لا نَعْلَمُهُ** » أحمد. اى خلکو دشرک نه ځان وساتئ ځکه چه شرک د میږی د مزل نه هم پټ دی، نو چا ورته وویل: نو مونږ تری څرنګه ځان وساتو حال دا چه هغه د میږی د رفتار نه هم پټ دی؟ نو رسول الله ﷺ وفرمایل: داسی ووائی: ای الله مونږ په تاسره پناه غواړو د هغی شرک نه چه مونږ پری پوهیږو او له تا نه بخښنه غواړو دهغی شرک نه چه مونږ پری نه پوهیږو.

او د قسم کفاره د لاإله إلا الله ویل دی لکه څرنګه چه رسول الله ﷺ فرمائی: « **مَنْ حَلَفَ بِاللَّاتِ وَالعُزَّى فَلْيَقُلْ: لا إِلَهَ إِلا الله** » متفق عليه. چا چه په لات او عزی باندی قسم وکړه نو لا إله إلا الله دی ووائی، او د بدفالی کفاره په دی حدیث کښی ذکر ده چه رسول الله ﷺ فرمائی: « **مَنْ رَدَّتْهُ الطِّيرَةُ مِنْ حَاجَةٍ فَقَدْ أَشْرَكَ**». **قَالُوا: فَمَا كَفَّارَةُ ذَلِكَ؟ قَالَ: «أَنْ تَقُولَ: اللَّهُمَّ لا خَيْرَ إِلا خَيْرُكَ، وَلا طَيْرَ إِلا طَيْرُكَ، وَلا إِلَهَ غَيْرُكَ** » أحمد. رسول الله ﷺ فرمائی څوک چه بدفالی نیول د خپل حاجت نه منع کړی نو ده شرک وکړه، ا صحابو وویل: د هغی کفاره څه ده؟ نو رسول ﷺ وفرمایل: داسی ویل: ای الله ستا د خیر نه بل خیر نشته، او بدفالی یواځی ستا په امر ده، او ستا نه سوا بل معبود برحق نشته.

**٤١ کفر په څو قسمه دی؟** کفر په دوه قسمه دی: **۱) لوی کفر**: چه انسان پری د اسلام نه خارجیږی، او دغه بیا پنځه قسمونه لری: **الف)**: د تکذیب کفر. **ب)**: داستکبار کفر (یعنی د لوئی کولو د وجی نه کفرکول). **ج)**: د شک کولو کفر. **د)**: او د اعراض کولو کفر. **هـ)**: او د منافقت کفر. **۲) وړوکي کفر**: اودا هغه دګناه کفر دی چه انسان پری د اسلام څخه نه وځی، لکه دمسلمان قتل کول او وژل.

**٤٢ د نذر (منبنتی) څه حکم دی؟** رسول الله ﷺ نذر بد ګڼلی دی فرمائی: « **إِنَّهُ لا يَأْتِي بِخَيْرٍ** » البخاري. نذر په خیرباندی راتګ نه کوی، امام بخاری روایت کړیدی، دا په هغه صورت کښی چه نذر دالله تعالی لپاره وی، او که چیرته د الله تعالی لپاره نه وی، نو هغه خو بیا حرام دی، پوره کول یی جایز نه دی.

**٤٣ ایا فالبین او کاهن(ترویتی یا کوډګر) ته تلل جایز دی؟** هغه ته تلل جایز نه دی، او که څوک ورته د نفع طلب کولو په خاطرورشی، لیکن د هغوی د علم غیب ددعوا تصدیق نه کوی، نو څلویښت ورځی لمونځ یی نه قبلیږی، لکه چه رسول الله ﷺفرمایلی: « **مَنْ أَتَى عَرَّافًا فَسَأَلَهُ عَنْ شَيْءٍ لَمْ تُقْبَلْ لَهُ صَلاةٌ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً** » مسلم، چه څوک فالبین ته ورغی او د یو څیز طلب یی تری وکړه، نو څلویښت ورځی لمونځ یی نه قبلیږی، مسلم روایت کوی، او که څوک کاهن او فالبین ته ورشی او په غیب دانی کښی د هغی د خبرو تصدیق وکړی، نو په هغه کتاب او دین باندی چه په محمد ﷺ نازل شوی دی کافر شو، لکه چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی: « **مَنْ أَتَى عَرَّافًا أَوْ كَاهِنًا فَصَدَّقَهُ بِمَا يَقُولُ فَقَدْ كَفَرَ بِمَا أُنْزِلَ عَلَى مُحَمَّدٍ** » أبو داود، څوک چه کاهن او یا عراف (فالبین) ته ورشی او د هغی د خبرو تصدیق وکړی نو په هغی کتاب چه په محمد ﷺ باندی نازل شوی دی کافر شو، ابوداود روایت کوی.

**٤٤ په کوم وخت کښی د ستوورو نه د باران طلب کول لوی شرک ګرځی، او په کوم وخت کښی وړوکی شرک ګرځی؟** کله چه څوک دا عقیده ولری، چه د ستوورو لپاره د باران په ورولو کښی تاثیر دی، په غیر د ارادی د الله تعالی نه، او همداراز د باران د پیدا کولو او ورولو نسبت ستوورو ته کوی، نو دا لوی شرک دی.او کله چه څوک دا عقیده ولری چه په دی ستوری کښی تاثیر دی لیکن د الله تعالی په حکم باندی، او الله تعالی دا ستوری د باران

د ورولو لپاره یو سبب ګرځولی دی، او الله تعالی دا عادت جاری کړی دی، چه باران د دغی ستوری د ښکاره کیدو په وخت کښی راوریږی، نو دا عقیده حرامه ده اودا وړوکی شرک دی، ځکه چه دغی انسان دا ستوری په غیر د شرعی او حسی دلیل نه او په غیر د صحیح عقل نه یو سبب وګرځوو. او که څوک پری د کال مختلف موسمونه او یا پری د باران د وریدلو وختونه معلوموی نو دا کار جایز دی.

٤٥ **د حاکمانو او امیرانو په خپل رعیت باندی څه حق دی؟** په راحت او سختی کښی د هغوی اطاعت کول، او د هغوی د خبرو منل، او په هغوی باندی بغاوت او خروج نه کول، اګر که ظلم هم وکړی، او ښیری به ورته نه کوی، او د هغوی د اطاعت نه به لاس نه اخلی، او د هغوی اطاعت به د الله تعالی اطاعت ګڼو، تر هغه پوری چه په ګناه باندی یی حکم نه وی کړی، او د هغوی لپاره به د نیك عمل، خیر، او عافیت دعا ګانی کوو، او که په ګناه باندی حکم وکړی نو بیا په ګناه کولو کښی د هغوی تابعداری ناروا ده، اوپه نیکو کارونو کښی یی تابعداری کول واجب او لازم ده، لکه څرنګه چه رسول الله ﷺ فرمائی : « **تَسْمَعُ وَتُطِيعُ لِلأَمِيرِ وَإِنْ ضُرِبَ ظَهْرُكَ وَأُخِذَ مَالُكَ فَاسْمَعْ وَأَطِعْ** » مسلم. د امیر خبره به منی او تابعداری به ورله کوی اګر که ملا دی ووهلی شی او مال درنه هم واخستل شی، نو خبره ورله منه او اطاعت یی کوه.

٤٦ **آیا په شریعت ( احکامو او نواهی ) کښی د الله تعالی د حکمت په باب تپوس کول جایز دی؟** هو لیکن په دی شرط چه ایمان او عمل به د حکمت او علت په معرفت پوری نه غوټه کوی، بلکه د دی لپاره به وی چه د مؤمن د زیاتی ثابت قدمی لپاره سبب وګرځی، لیکن پوره تسلیمیدل او د علت نه معلومول د عبودیت په کمال، او په الله تعالی او د هغی په کامل حکمت باندی د ایمان دلیل دی، لکه څرنګه شان او حال چه د صحابه کرامو رضي الله عنهم ؤ.

٤٧ **د الله تعالی د دی وینا څه مطلب دی** ﴿مَّآ أَصَابَكَ مِنۡ حَسَنَةٖ فَمِنَ ٱللَّهِۖ وَمَآ أَصَابَكَ مِن سَيِّئَةٖ فَمِن نَّفۡسِكَ﴾**؟** سورة النساء ٧٩، هر هغه څه چي تاته له ښیګنی او نعمت رسیدلی دی هغه د الله له طرفه دی او هر هغه څه چي تاته له بدی یا مصیبت څخه رسیدلی دی هغه ستا دخپل ځان له طرفه دی.

مراد د (حسنة) څخه نعمتونه دی، او د (سیئة) څخه بدی مصیبت مراد دی، او دا ټول د الله له طرفه مقدر او مقرر دی، نو د حسنة اضافت الله ته وشو ځکه چه الله تعالی پری احسان کړی دی، او سیئة (بدی او مصیبت) دی، نو هغه الله تعالی د یوه حکمت لپاره پیدا کړی ده، نو په اعتبار د دغی حکمت سره د غه مصیبت هم د الله تعالی د احساناتو څخه دی، ځکه چه الله تعالی کله هم بدی نه کوی، بلکه د الله تعالی ټول کارونه ښایسته دی، رسول الله ﷺ فرمائی : « **وَالْخَيْرُ كُلُّهُ فِي يَدَيْكَ وَالشَّرُّ لَيْسَ إِلَيْكَ** » مسلم ، خیر ټول ستاپه لاس کښی دی، او شر تاته نه رسیږی. امام مسلم روایت کړیدی، نو د بند ګانو کارونه د الله تعالی مخلوق دی، او په عین وقت کښی هغه د بند ګانو کسب دی، الله تعالی فرمائی : ﴿فَأَمَّا مَنۡ أَعۡطَىٰ وَٱتَّقَىٰ ۝٥ وَصَدَّقَ بِٱلۡحُسۡنَىٰ ۝٦ فَسَنُيَسِّرُهُۥ لِلۡيُسۡرَىٰ ۝٧ وَأَمَّا مَنۢ بَخِلَ وَٱسۡتَغۡنَىٰ ۝٨ وَكَذَّبَ بِٱلۡحُسۡنَىٰ ۝٩ فَسَنُيَسِّرُهُۥ لِلۡعُسۡرَىٰ﴾ سورة الليل ، نو چا چه حق ادا کړی او پرهیزګاری یی وکړه، او په نیکه ( خبره ) یی تصدیق وکړ، نو زر ده چه اسانه به کړو هغه ته لپاره دهوسایی، خو چا چه بخیلي وکړه او ځان یی بی نیازه او بی پروا وبله، او نیکه خبره یی دروغ وبلله، نو د هغه لپاره به د سختی لپاره اسانه کړو .

٤٨ **آیا داسی ویل جایز دی چه فلانی شهید دی؟** په یو معین انسان باندی د شهادت حکم کول داسی دی، لکه په انسان باندی د جنتی حکم کول، او د اهل سنت والجماعت مذهب دا دی: چه یو معین مسلمان ته نه شو ویلی چه دا جنتی دی اویا جهنمی دی، مګر هغه څوک

چه رسول الله ﷺ پرې د جنتي او يا د جهنمي حکم کړی وی، لیکن مونږ به په دی حکم کښی توقف کوو، نو د چا لپاره به په جنت او جهنم باندی حکم او شهادت نه کوو مګر چه کله پوه شو، ځکه چه حقیقت زمونږ نه پټ دی، او زمونږ په هغه حالت باندی علم نشته چه په کوم باندی دغه انسان وفات شوی، او اعتبار د عملونو په اخری خاتمی سره دی، لیکن مونږ د نیک انسان لپاره د جنت امید ساتو، او ګناهګار باندی د جهنم د عذاب نه ویرېږو.

**٤٩** **آیا یو معین مسلمان ته کافر ویل جایز دی؟** نه، یو مسلمان ته کافر یا منافق او یا مشرک ویل تر هغه وخت پوری جایز نه دی، چه ترڅو پوری د هغه نه داسی یو کار صادر شوی نه وی، چه د هغی په کفر باندی دلالت کوی، او د هغی دزړه حال الله ته حواله کوو.

**٥٠** **آیا په غیر د کعبی نه د بل ځای نه طواف کول جایزدی؟** نه، بل داسی ځای په ځمکه کښی نشته چه د هغی نه طواف کول جایز وی، او د بل هیڅ شریف ځای مشابه کول د کعبی سره جایز نه دی، او که څوک د بل ځای نه د تعظیم په خاطر طواف کوی نو لویه ګناه یی کړیده.

**٥١** **الله تعالی چیرته دی؟** په عرش باندی د پاسه دی، لکه څرنګه چه رسول الله ﷺ د وینځی نه تپوس وکړه، چه الله تعالی چیرته دی، هغی ورته جواب ورکړ چه بره (اوچت) دی، نو رسول الله ﷺ د هغی مالک ته حکم وکړه: چه دغه وینځه ازاده کړه ځکه چه هغه ایمانداره ده. امام مسلم روایت کړیدی.

نو الله تعالی اوچت دی، او په عرش باندی یی استواء کړیده، څرنګه چه د هغه د شان سره مناسب وی، او د استواء معنی ده اوچتوالی او بره کیدل او استقرار (ځای په ځای کیدل) لکه څرنګه چه الله تعالی فرمائی : ﴿ لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ ﴾ سورة الشورى ١١ ، **ترجمه** : د الله تعالی په شان هیڅ څوک نشته او هغه اوریدونکی او لیدونکی دی.

**٥٢** **د توبی حکم څه دی؟ او څرنګه قبلیږی؟** د توبی ویستل سمدستي واجب دی، او په ګناه کښی واقع کیدل د انسان په طبیعت کښی شته ځکه چه انسان معصوم نه دی، رسول الله ﷺ فرمائی « **كُلُّ ابْنِ آدَمَ خَطَّاءٌ وَخَيرُ الْخَطَّائِينَ التَّوَّابُونَ** » الترمذي. هر بنی ادم ګناهګار دی لیکن غوره ګنهګاران هغه دی چه توبه او باسی، ترمذی روایت کوی، او همدا راز رسول الله ﷺ فرمائی : « **لَوْلَمْ تُذْنِبُوا لَذَهَبَ اللَّهُ بِكُمْ وَلَجَاءِ بِقَوْمٍ يُذْنِبُونَ فَيَسْتَغْفِرُونَ اللَّهَ فَيَغْفِرُ لَهُمْ** » مسلم. که تاسو ګناه ونه کړی الله به تاسو بوځی، او بل قوم به راولی، چه ګناهونه وکړی، او بیا بخښنه وغواړی د الله تعالی نه، تر څو چه الله ورته بخښنه و کړی. مسلم روایت کوی، لیکن مشکل دا دی چه انسان په خپله ګناه باندی همیشوالی کوی، او په توبه کښی روسته والی کوی، الله تعالی فرمائی : ﴿ إِنَّمَا ٱلتَّوۡبَةُ عَلَى ٱللَّهِ لِلَّذِينَ يَعۡمَلُونَ ٱلسُّوٓءَ بِجَهَٰلَةٖ ثُمَّ يَتُوبُونَ مِن قَرِيبٖ فَأُوْلَٰٓئِكَ يَتُوبُ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡ ﴾ سورة النساء ١٧ ، **ترجمه** : بیشکه چي پر الله باندی د هغو کسانو لپاره دتوبی قبولول دي چي دناپوهی له امله بد کارونه کوي بیا ژرتوبه کوي نو الله ددوی توبه قبلوي.

**٥٣** **آیا د ټولو ګناهونو نه د توبی ویستل صحیح کیږی؟ او د کوم وخت پوری د توبي ویستل قبلیږی؟ او توبه کونکی له څه بدله او اجر دی ؟** د توبی ویستل د ټولو ګناهونو نه صحیح دی، او توبه تر هغی وخت پوری قبلیږی چه تر څو لمر د مغرب نه نه وی راختلی، او د زنکدن حالت نه وی شروع شوی، او د توبی ویستونکی اجر او بدله دا ده، چه ګناهونه به یی په نیکی باندی بدل شی که هر څومره زیات هم وی.

# د زړه عملُونه القلوبِ

الله تعالی زړه پیداکړ او بیا ئی د جسم لپاره بادشاه وګرځو او ټول اندامونه ئی د هغی لپاره د فوج په شان وګرځول ، کله چه بادشاه ښه شی نو ټول رعیت هم ښه شی لکه څرنګ چه رسول الله ﷺ فرمائی: « **وإنَّ في الجسَد مُضْغَة إذا صَلحت صَلح الجسَدُ كلُه ، وإذا فَسدَتْ فَسدَ الجسَدُ كُلُّهُ ألا وهي القَلْب** » متفق عليه. په بدن کښی یوه ټکړه ده که چیرته هغه ښه شی نو ټول بدن ښه شی ورسره او که چیرته هغه خراب شی نو ټول بدن ورسره خراب شی چه هغه زړه دی ، او دغه زړه د ایمان تقوا ، او کفر او د نفاق ځای دی ، لکه څرنګ چه هغه فرمائی : « **التَّقْوَى هَاهُنَا . وَيُشِيرُ إِلَى صَدْرِهِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ .** » مسلم. تقوا دی ځای کښی ده او دری ځله یي خپلی سینی ته اشاره وکړه.

او ایمان د عقیدی وینا او عمل نه جوړ شوی دی ، یعنی د زړه عقیده د ژبی وینا او همدا راز د زړه او د اندامونو د عمل نه جوړشوی څیز دی ، نو په زړه کښی ایمان او تصدیق راشی ، نو په نتیجه کښی یی په ژبه اقرار راشی ، او بیا زړه عمل شروع کړی چه هغه محبت ویره او امید دی ، نو په ژبه باندی ذکر د قران کریم تلاوت شروع شی ، او اندامونه عمل شروع کړی لکه سجده رکوع او یا نور نیک عملونه چه الله ته پری انسان نږدی کیږی ، نو جسد د زړه تابع دی هیڅ شی په زړه کښی قراری نه پیدا کوی مګر د هغی اثر په بدن باندی شروع شی .

**او د زړه د عملونو نه مراد :** هغه دی چه دهغی ځای زړه دی او د هغی سره تعلق لری ، چه په ټولو کښی لوی عمل په الله تعالی باندی ایمان راوړل ، په خپل اختیار سره د هغی تصدیق کول او بیا پری اقرار کول ، او همدا راز د هغی سره په زړه کښی د الله تعالی سره محبت ساتل ، د هغی نه ویریدل ، امید ساتل ، الله تعالی ته راګرځیدل ، توکل پری کول ، صبر یقین ، او ویره کول او یا داسی نور .

او د زړه د عملونو ضد ته د زړه مرض وائی ، د اخلاص ضد ریا کاری ده ، د یقین ضد شک دی ، د محبت ضد بغض کول دی ، کله چه مونږ د زړونو د اصلاح کولو نه غافله شو نو ګناهونه پری انبار شی نو د هلاکت کندی ته ئی ورسوی لکه څرنګ چه رسول الله ﷺ فرمائی : « **إنَّ العبْدَ إذا أخطَأَ خطيْئَةً نُكتت في قَلْبه نُكتَةٌ فإنْ هُو نزَع واسْتغْفر وتَاب صُقلَتْ فإنْ عادَ زيْدَ فيهَا وإنْ عادَ زيْدَ فيهَا حتَّى تَعلو فيْه فهُوَ الرّانُ الذّيْ ذكرَ الله : ﴿ كَلَّا بَلْ رَانَ عَلَىٰ قُلُوبِهِم مَّا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴾** » الترمذي. یقینا کله چه بنده یوه ګناه وکړی نو په زړه یی یو تور داغ ولګیږی که چیرته دغه بنده دغه ګناه لری کړی او یا مغفرت وغواړی او توبه اوباسی نو زړه یی صفا شی او که چیرته بیا ګناه ته واپس شی نو په هغی داغ کښی زیاتوالی پیداشی تر دی چه په زړه باندی غالبه شی نو دغه هغه زنګ دی چه الله تعالی په قران کښی ذکر کړی دی (( هیچری داسی نده بلکه زنګ جوړ کړی په زړونو د دوی باندی هغی عملونو چه دوی کړیدی )) او رسول الله ﷺ فرمائی : « **تُعرَضُ الْفِتَنُ عَلَى الْقُلُوبِ كَالْحَصِيرِ عُودًا عُودًا فَأَيُّ قَلْبٍ أُشْرِبَهَا نُكِتَ فِيهِ نُكْتَةٌ سَوْدَاءُ وَأَيُّ قَلْبٍ أَنْكَرَهَا نُكِتَ فِيهِ نُكْتَةٌ بَيْضَاءُ حَتَّى تَصِيرَ عَلَى قَلْبَيْنِ عَلَى أَبْيَضَ مِثْلِ الصَّفَا فَلَا تَضُرُّهُ فِتْنَةٌ مَا دَامَتِ السَّمَوَاتُ وَالْأَرْضُ وَالْآخَرُ أَسْوَدُ مُرْبَادًّا كَالْكُوزِ مُجَخِّيًا لَا يَعْرِفُ مَعْرُوفًا وَلَا يُنْكِرُ مُنْكَرًا إِلَّا مَا أُشْرِبَ مِنْ هَوَاهُ** » مسلم. په زړه باندی فتنی داسی راځی لکه پزکی چه بند په بند اودلی کیږی نو هر زړه چه دغه فتنی پکښی داخلی شی نو تور داغ پکښی پیدا شی ، او هر زړه چه د دغو فتنو نه انکار وکړی نو په هغی کښی سپین داغ پیدا شی ، تر دی چه د دوو زړونو په شان شی ، یا د صفا کانړی په شان شی چه ډیر زیات سپین شی چه بیا ورته هیڅ فتنه ضرر نشی رسولی تر څو چه اسمانونه او زمکه موجود وی ، او بل ډیر

زيات تور دنسكورى كوزى په شان چه نه نيک عمل پيژنى او نه د ناروا عمل نه انكار كوى مگر هغه چه د خپلو خواهشاتو له امله يې نه منى »

هغه عبادت چه د زړه سره تعلق لرى د هغى پيژندل د نورو اندامونو د عبادت نه ډير ضرورى او واجب دى ، ځكه چه د زړه عبادت اصل دى او د نورو اندامونو عبادت د هغى يو شاخ دى ، او د يو مكملونكي او پوره كونكي ځيز حيثيت لرى بلكه د هغې يوه ثمره ده ، رسول الله ﷺ فرمايى: « إِنَّ اللهَ لا يَنْظُرُ إِلى صُوَرِكُمْ وَأَمْوالِكُمْ، وَلَكِنْ يَنْظُرُ إِلى قُلُوبِكُمْ وَأَعْمَالِكُمْ » مسلم. الله تعالى ستاسو شكلونو او مالونو ته نه گورى ليکن ستاسو زړونو او عملونو ته نظر كوى . نو زړه د تدبر او فكركولو ځاى دى ، له دى امله الله ته غوره والى په اعتبار د هغى ايمان يقين او اخلاص سره دى چه په زړه كښى يې ځاى نيولى دى ، حسن بصرى رحمه الله فرمائى : زما دى په الله تعالى قسم وى چه ابوبكر رضى الله عنه په نورو صحابه كرامو باندى د ډيرو لمونځونو او روژو له امله نه دى مخكى شوى ، ليكن د هغى ايمان له امله په نورو باندى مخكى شو چه كوم د هغى په زړه كى قرار نيولى ؤ .

د زړه عملونه د اندامونو په عملونو باندى د يو ځو وجو له امله فضيلت او غوره والى لرى:(1) چه كله د زړه عمل خراب شى نو بيا د اندامونو عمل هم برباد شى لكه په يو عمل كښى رياكارى كول (2) د زړه عمل اساس او بنياد دى له دى امله كه د زړه د قصد او ارادى نه په غير يو لفظ يا يو حركت صادر شى نو په هغى باندى څوک نه نيولى كيږى . (3) د زړه عملونه د جنت د لويو مرتبو او درجو لپاره يو لوى سبب دى لكه زهد. (4) د زړه عملونه د بدن د عملونو نه ډير سخت دى ، ابن المنكدر رحمه الله فرمائى : څلويښت كاله مى خپل نفس په مشقت باندى اخته كړ تر څو چه د استقامت والا شو . (5) د تاثير په اعتبار سره ډير غوره دى لكه د الله تعالى لپاره محبت كول. (6) د زړه عملونه په اعتبار د اجر سره ډير لوى دى ، ابودرداء رضي الله عنه فرمايى : يو ساعت فكر او تدبر كول د ټولى شپى د عبادت نه غوره دى. (7) د زړه عملونه اندامونه په حركت سره راولى. (8) د زړه عملونه د اندامونو د عبادت اجر يا زياتوى او يا يې كموى ، لكه په لمانځه كښى خشوع كول. (9) د زړه عمل د اندامونو د عمل په ځاى باندى قايميږى ، لكه د مال د نشتوالى په وخت كښى د صدقى نيت كول . (10) د زړه د عبادت د اجراو ثوابونو څه حد نشته لكه صبر كول . (11) كله چه اندا مونه د عبادت نه منقطع شى او يا ترى عاجزه شى نو د زړه د عبادت اجر نه منقطع كيږى. (12) د زړه عمل د اندامونو د عمل نه مخكى او روسته دواړه وى.

**او په زړه باندى د عمل نه مخكى مختلف حالات راځى : (1) هاجس (سوچ) :** دا هغه اولنى سوچ دى چه په زړه كښى راځى. **(2)خاطرة:** دا هغه فكر دى چه په زړه كښى مضبوط شى. **(3) دنفس خبرى:** دا د هغى تردد نه عبارت دى چه د كار دكولو او تركولو په مابين كښى واقع كيږى. **(4) هم:** هغى ته ويلى كيږى چه په زړه كښى د كار دكولو جانب راجحه شى. **(5) عزم:** دا قوى قصد ته وائى او په كار باندى عزم كولو ته وايى. په دغى درى اولنو حالتونو كښى د نيكى په اراده كولو كښى اجر نشته ، او د نافرمانى په اراده كښى گناه نشته . او هر چه د نيكى هم دى نو يوه نيكى پرى ميلاويږى، ليكن كه چيرته هم د عزم درجى ته ورسيږى نو بيا په نيكى كښى اجر دى لكه څرنگ چه په نافرمانى كښى گناه ده. ځكه چه د طاقت سره اراده كول مستلزم ده د وجود د هغى كار چه اراده ئې شوى ده الله تعالى فرمايى: ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ يُحِبُّونَ أَن تَشِيعَ ٱلۡفَٰحِشَةُ فِى ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴾، يقينا هغه كسان چه خوښوى خپريدل د بى حيايى په هغو كسانو كښى چه

مؤمنان دی نو د هغوی لپاره دردونکی عذاب دی ، او رسول الله ﷺ فرمایی: « **إذا التقى المسلمَان بِسَيفَيهِما فالقَاتلُ والمقتُولُ في النَّار ، فقلت : يا رسول الله ، هذَا القاتلُ فما بَالُ المقتُولِ ؟ قالَ : إنه كانَ حَرِيصًا على قتلِ صَاحِبه** » البخاري . کله چه دوه مسلمانان د خپلو تورو سره یو د بل سره مخامخ شی نو قاتل او مَقتول به دواړه په اور کښی وی ، نو ما ورته وویل (راوی) : ای د الله تعالی پیغمبره دا یو خو قاتل دی نو مقتول ولی جهنم ته ځی ؟ نو پیغمبر ﷺ ورته وویل : چه هغه د خپل ملګری په قتل باندی حریص ؤ .

**که چیرته معصیت او ګناه پریږدی نو هغه بیا په څلور قسمه دی : 1)** چه د الله تعالی د ویری له امله یی پریخی وی نو په دی باندی ورته اجر ورکول کیږی. **2)** چه د خلکو د ویری له امله یی پریخی وی نو دا بیا ګناه ده ځکه چه د ګناه پریخودل عبادت دی نو دا د الله تعالی لپاره پکار وی ..**3)** چه د عاجزه کیدو له امله یی پریخی وی پرته د اسبابو د استعمال نه نو دا هم د قوی ارادی له امله ګناه ده. **4)** چه د اسبابو د استعمال سره بیا هم د عاجزه کیدو له امله ګناه ونه کړی نو په دی حالت کښی دا بیا هم پوره ګناهګار دی ، ځکه چه د قوی ارادی او عزم سره چه کله څوک د یو ممکنه کار کوشش وکړی نو د هغی مثال د هغه چا دی چه په پوره کار باندی ئی راتلل کړی وی ، لکه څرنګ چه په حدیث کښی تیر شو ، او کله چه د عمل سره عزم ملګری شی نو د هغی له امله دغی کار کونکی ته پوره سزا ورکول کیږی برابره خبر ه ده که دغه عمل روسته وی او که مخکی ، نو که څوک یو ناروا کار وکړی او بیا د توان موندلو په وخت کښی د هغی قوی اراده او عزم لری نو دغه انسان د ګناه پوره عزم لرونکی بلل کیږی نو په دغی اراده ورته پوره سزا ورکول کیږی اګر که دغه عمل بیا ونکړی .

## د زړه ځنی عملونه:

**نیت :** نیت ارادی او قصد ته وائي او په غیر د نیت نه هیڅ عمل نه قبلیږی، پیغمبر ﷺ فرمائی : « **إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ وإنَّمَا لِكُلِّ امْرِيءٍ مَا نَوَى** » متفق علیه، دار او مدار د عملونو په نیت سره دی او د هر سړی لپاره هغه عَمل دیً چه نیت یی ورله کړی دی . عبد الله بن مبارک فرمائی/: ډیر کرتی یو کوچنی عمل به وی لیکن د نیت له امله ډیر زیات شی او ډیر کرتی یو لوی عمل به وی لیکن د نیت له امله ډیر کوچنی وګرځی او فضیل رحمه الله فرمائی /: الله تعالی له تاسو څخه صحیح نیت او اراده غواړی ، نو که عمل د الله تعالی لپاره وی نو هغی ته بیا اخلاص وایی ، او اخلاص دی ته وائي چه عمل خالص د الله تعالی لپاره وی او د مخلوق حصه پکښی نه وی ، او که عمل د مخلوق لپاره وی نو هغی ته بیا ریا او منافقت وائی .

**فائدة:** ټول خلک تباه دی مګر عالمان ، او ټول عالمان هم هلاک د ی مګر هغه چه په خپل علم عمل کوی ، عمل کونکی هم ټول هلاک دی مګر د اخلاص والا، د هغی بنده اولنی وظیفه چه د الله تعالی د اطاعت اراده لری د نیت زده کول دی ،بیا د صدق او د اخلاص د حقیقت د پیژندلو نه روسته په عمل سره د هغی صحیح کول دی ،نو هر عمل په غیر د صحیح نیت نه سترې والی دی ، او په غیر د اخلاص نه نیت بیا ریاکاری ده ، او اخلاص په غیر د ایمان راوړلو نه برباد دی .

**عملونه په دری قسمه دی: 1) ګناهونه او معصیت:** په ښه نیت او ارادی سره ګناهونه کول نیکی نشی کیدای لیکن که د ناکاره او پلیت نیت سره ګناه دوچنده کیږی . **2) مباح کارونه :** په مباح کارونو کښی نیت ډیر لوی اثر لری او که څوک وغواړی نو په عبادت باندی ئی بدلولی شی.**3) نیک عملونه:** نیک عملونه په صحیح کیدلو او د اجر په زیاتیدلو

کښې په نیت پورې ارتباط لري ،که چیرته د ریاکارۍ اراده پکښې وکړي نو دا بیا نافرماني او وړوکې شرک ګرځي او کله لوی شرک ته هم رسیږي ، نو دا بیا په درې قسمه دي[۱]: **1)** چه په عبادت باندې باعث په اصل کښې خلکو ته ځان ښودنه او ریاکارۍ وي نو دا بیا شرک دی او عبادت باطل دی. **2)** چه په ابتدا کښې عمل د الله تعالی لپاره وي لیکن روسته پکښې ریاکارۍ داخل شي، نو که چیرته په دې حالت کښې د عبادت اخر په اول باندې مرتب نه وي لکه صدقه نو د عبادت اول صحیح دی او اخر ئې باطل دی ،او که د عبادت اخرې حصه په اول باندې مرتب وي لکه لمونځ نو د دې لپاره دوه حالته دي : **أ)** چه د ریاکارۍ د ختمولو کوشش وکړي نو په دغه صورت کښې ریا کارې ضرر نشي رسولی . **ب)** چه په ریاکارۍ باندې مطمئن شي نو بیا ټول عبادت باطل دی.

**3)** چه ریاکارۍ د عمل کولو نه روسته راشي نو دا بیا وسوسه ده په عبادت او عمل کونکي باندې څه اثر نه لري ، او د ریا نور پټ اقسام هم شته چه پیژندل او بیا دهغې نه ځان ژغورل ډیر ضروري دي .

او که چیرته د نیک عمل کول د دونیا د حاصلولو په نیت او قصد سره وي ، نو د هغې اجر او ګناه د نیت کولو په مقدار باندې ده چه د هغې لپاره درې حالته دي . **1)** چه د نیک عمل لپاره باعث صرف دونیا وي ، لکه یو سړی د مال دحاصلولو لپاره د خلکو امامت کوي نو دغه سړی ګناهګار دی لکه څرنګ چه رسول الله ﷺ فرمائي : « **مَنْ تَعَلَّمَ عِلْمًا مِمَّا يُبْتَغَى بِهِ وَجْهُ اللَّهِ عَزَّوَجَلَّ لا يَتَعَلَّمُهُ إِلا لِيُصِيبَ بِهِ عَرَضًا مِنَ الدُّنْيَا لَمْ يَجِدْ عَرْفَ الْجَنَّةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ** » أبو داود .

---

۱) رسول الله ﷺ فرمائي : « څوک چه د نیک کار اراده وکړي او بیا ئې عملي نه کړي نو الله تعالی به ورله یوه پوره نیکي ولیکي، او که څوک د نیک کار اراده وکړي او بیا پرې عمل وکړي نو الله تعالی به ورله د لسو نه نیولي تر اوه سوه پورې نیکي ولیکي او یا د هغې نه نور هم زیات، او که څوک د ګناه اراده وکړي او بیا ئې ونه کړي نو الله تعالی به ورله یوه کامله نیکي ولیکي، او که چیرته د ګناه اراده وکړي او بیا ئې وکړي نو الله تعالی به ورله یوه ګناه ولیکي » متفق علیه. او رسول الله ﷺ فرمائي : « د دې امت مثال د څلورو کسانو په شان دی: یو هغه سړی چه الله تعالی ورته مال او علم ورکړی وي، او د مال په لګولو کښې په خپل علم باندې عمل کوي په صحیح او مناسب ځای کښې مال خرچ کوي، او یوسړی چه الله تعالی ورته علم ورکړی وي او مال ئې ورله نه وي ورکړی، نو هغه دا ارمان کوي که الله تعالی ماته مال راکړی وي نو ما به هم د دغې سړي په شان مصرف کړی وي، نو رسول الله ﷺ وفرمائل : چه دا دواړه په ثواب او اجر کښې برابر دي، او یو هغه سړی دی چه الله تعالی ورته مال ورکړی وي لیکن علم ئې ورته نه وي ورکړی، نو هغه ګډوډ شوی وي په خپل مال کښې او په صحیح ځای کښې ئې نه مصرفوي، او بل هغه سړی دی چه الله تعالی ورته نه مال ورکړی وي او نه علم، نو هغه دا ارمان کوي : که چیرته ماته مال راکړی شوی وي نو ما به هم د دې سړي په شان مصرف کړی وي، نو رسول الله ﷺ وفرمائل : « دا دواړه په ګناه کښې برابر دي». الترمذي. نود حدیث نه معلومه شوه چه دوهم او څلورم ته د نیت او تمنی له امله دغه جزا او سزا ورکړی شوه، چه هغه د دې حدیث نه معلومیږي :(( که زما لپاره د غسې مال وي نو ما به هم د هغې په شان عمل کړی وي )) نو هر یو په اجر او ګناه کښې د خپل ملګري سره ضم کړی شو . ابن رجب رحمه الله د دې حدیث په شرحه کښې فرمائي : (( فهما في الاجر سواء )) یعنې دا حدیث دلالت کوي چه دوي په اجر کښې برابر دي په غیر د تفاضل او دوه چنده کیدو نه ځکه چه زیاتیدل د اجر په عمل پورې خاص دي او عمل د نیت نه ماسوی بل شی دی ، ځکه که دوي په ټولو وجوهو کښې برابر شي نو هغه څوک چه د نیکۍ اراده ئې کړې وي او عمل ئې نه وي کړی نو د هغې لپاره پکار ده چه لس نیکۍ ولیکلی شي او دا د ټولو نصوصو خلاف دی .

ځو ک چه علم زده کړی هغه چه د الله تعالی رضا پری حاصلیږی لیکن هغه ئی نه زده کوی مګر د دونیا د حاصلولو په خاطر نو دغه سړی به د جنت بوی هم ونه مومی . **2)** چه د الله تعالی او د دنیا دواړو لپاره یو عمل کوی نو دغه انسان د ناقص ایمان او اخلاص والا دی لکه یو انسان د تجارت او دحج د ادا کولو په غرض حج کوی نو ثواب ئی د اخلاص په اندازه دی . **3)** چه عمل خالص د الله لپاره وی لیکن د نیک عمل د کولو د استعانت په خاطر عوض واخلی نو د دغی انسان اجر کامل دی د عوض د اخستلو له امله د ده ثواب نه کمیږی رسول الله ﷺ فرمائی : **« إِنَّ أَحَقَّ مَا أَخَذْتُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا كِتَابُ اللَّهِ »** البخاري. **ډیر** حقدار هغه چه تاسو پری بدله اخلئ د الله تعالی کتاب دی . پوهه شه چه مخلَص عمل کونکی یو څو مرتبی لری : **1)** ښکته مرتبه : چه د ثواب د حاصلولو او د عذاب نه د ویریدلو په خاطر یو نیک عمل کوی . **2)** درمیانه مرتبه : چه د الله د شکر د ویستلو او د هغی د امر د عملی کولو په خاطر عمل کوی . **3)** اوچته مرتبه : چه د الله تعالی د محبت تعظیم لویوالی او د هیبت له امله یو نیک عمل کوی او دغه د صدیقینتو خلکو مرتبه ده .[1]

**توبة:** دتوبی ویستل په دوامداره توګه په انسان باندی فرض ده ، او په ګناه کښی واقع کیدل د انسان طبیعت دی رسول الله ﷺ فرمائی: **« كُلُّ ابْنِ آدَمَ خَطَّاءٌ وَخَيْرُ الْخَطَّائِينَ التَّوَّابُونَ »** الترمذي، و ټول انسانان ګناهګاران دی او غوره ګناهګاران توبه ویستونکی خلک دی . او رسول الله ﷺ فرمائی : **« لَوْلَمْ تُذْنِبُوا لَذَهَبَ اللَّهُ بِكُمْ وَلَجَاءَ بِقَوْمٍ يُذْنِبُونَ فَيَسْتَغْفِرُونَ اللَّهَ فَيَغْفِرُ لَهُمْ »** مسلم، که تاسو ګناهونه نه کولی نو الله تعالی به تاسو ختم کړی وی او داسی قوم به ئی راوستی وی چه ګناهونه وکړی او بیا د الله تعالی نه مغفرت وغواړی تر څو چه الله تعالی ورته مغفرت وکړی . او د توبی روسته کول او په یوه ګناه باندی همیشوالی کول د ا ډیره لویه غلطی ده ، او شیطان دا غواړی چه د اوو دامونو نه په یوه دام کښی په انسان باندی غالبه شی، او که چیرته په یوه کښی عاجزه شی نو بیا بل ته انتقال کوی، چه هغه په راتلونکی ډول دی **1)** د شرک او کفر دام دی **2)** که په دی کښی پری غالب نه شی، نو په عقیدوی بدعاتو کښی یی اخته کوی، او د رسول الله ﷺ او د صحابه کرامو د اطاعت او تابعداری نه یی بندوی **3)** او که د دی وس یی و نه شی نو په کبیره یعنی لویو ګناهونو باندی یی اخته کړی**4)** او که د هغی وس یی ونه شی، نو په وړو ګناهونو باندی یی اخته کړی **5)** او که د هغی وس یی هم ونه شی نو بیا یی په مباحو یعنی بی ثوابه کارونو باندی مبتلا کړی او د نیکو کارونو نه یی مشغوله کړی. **6)** او که د هغی وس یی پری ونه شی نو د لږ ثواب والا په کارونو یی اخته کړی او د نورو اهمو نیکو کارونو نه یی غافله

[1] موسی عليه السلام فرمائی : ﴿ وَعَجِلْتُ إِلَيْكَ رَبِّ لِتَرْضَىٰ ﴾ ، زه په تلوار سره راغلم تاته ای ربه زما چه ته رانه راضی شی ، نو موسی عليه السلام د الله تعالی د ملاقات له امله د عجلی او تلوار نه کار واخسته تر څو چه هغه تری راضی شی ، او دا کار صرف د هغی د امر د عملی کولو په خاطر نه ؤ ، او همدا راز د مور او پلار سره احسان هم دی : **ښکته مرتبه** چه ته د مور او پلار سره د نافرمانی د سزا له ویری او د احسان د اجر د طلبولو په خاطر نیکی کوی **درمیانه مرتبه** چه ته د الله تعالی د اطاعت او د مور او پلار د احسان د بدل په خاطر د هغوی سره نیکی کوی ځکه چه ستا تربیت ئی کړیدی او هغوی په دنیا کښی ستا د وجود او راتلو سبب وګرځیده **اوچته مرتبه** چه ته د الله تعالی دهغی امر د تعظیم او لویوالی له امله د هغوی سره نیکی کوی چه الله تعالی تاته د هغوی په نیکی باندی کړیدی او یا د الله تعالی د محبت او لوئی له امله د هغوی سره احسان کوی .

کړی 7) او که په دی تولو کښی یی پری وس ونه شی، نو **بیا خپلی لښکری** او فوج د انسانانو نه وی او که د پیریانو نه وی، په متقیانو او نیکانو خلکو باندی مسلط کړی.

**ګناهونه په دوه قسمه دی: 1) کبائر( لوی ګناهونه ):** دا هغه ګناهونه دی چه حد پکښی مقرر شوی وی، او یا پری اخروی وعید او ویره راغلی وی، او یا پری د غضب لعنت ذکر شوی وی او یاپری د ایمان دنفی کیدو تخویف راغلی وی. **2) صغائر (واړه ګناهونه):** دا د دغی ذکر شوو ګناهونو نه سوی نور ګناهونه دی. او ځنی داسی اسباب شته چه واړه ګناهونه پری کبیره ګرځی چه اهم ئی دا دی: په وړو ګناهونو باندی همیشوالی کول او د هغی تکرارول ، یا ئی معمولی ګڼل او یا د هغی په کولو باندی افتخار کول او یا په مجالسو کښی د هغی یادول او ښکاره کول.

**د توبی د قبلیدو لپاره ځنی شرطونه دی: 1)** د ګناه نه بندیدل. **2)** په تیرو ګناهونو باندی خپیمانه کیدل. **3)** مضبوط عزم او اراده کول چه په اینده کښی به ګناه نه کوی ، او که چیرته ګناه د چا د حق سره تعلق لری نو خپل خاوند ته حق ورکول ډیر ضروری دی.(۱)

**د توبی په اعتبارسره خلک څلور طبقی دی : 1)** هغه توبه ویستونکی انسان چه د اخری عمر پوری په خپله توبه مضبوط ولاړ وی ، او بیا ګناه ته د واپس کیدلو اراده نه لری ، مګر هغه خطاګانی چه بشر تری ځان نشی ساتلی ، او دغه په توبه کښی استقامت دی ، او د دغسی توبی خاوند نیکو کارونو ته مخکی کیدونکی وی ، او دغسی توبی ته نصوح ( اخلاص منده ) توبه ویله کیږی ، او دا مطمئنه نفس دی. **2)** هغه توبه ویستونکی چه په اساسی او بنیادی نیکو عملونو کښی د استقامت والا وی ، لیکن د ځنو ګناهونو نه ځان نه شی ساتلی قصدا ئی نه کوی لیکن غیر اختیاری او په غیر د ارادی نه چه پری کله مبتلا شی نو صادریږی تری ، او چه هر کله تری دغه ګناهونه وشی نو نفس ئی ملامته کوی ، او خپیمانه شی او د دغی ګناهونو د اسبابو نه د ځان د ساتلو مضبوطه اراده او عزم وکړی ، نو دغی ته نفس لوامه یعنی ملامته کونکی نفس وائی. **3) هغه انسان چه توبه اوباسی** لیکن د څه وخته پوری په خپله توبه کلک وی بیا پری په ځنو ګناهونو کښی خواهشات غالبه شی نو اقدام پری وکړی ، لیکن د دغی ګناهونو سره د نیکو عملونو پابند هم وی ، او د ځنو ګناهونو نه د قدرت او رغبت باوجود هم ځان ساتی ، لیکن ځنی خواهشاتو مجبوره کړی وی چه کله هغه پوره شی نو بیا خپیمانه وی ، لیکن د خپل ځان سره د دغی ګناه نه د توبی ویستلو وعده کوی ، نو دغی ته مسئول نفس وائی ، او د تاخیر له امله د دغی نفس عاقبت ډیر خطر ناک دی ځکه چه کیدای شی چه د توبی د ویستلو نه

---

۱) رسول الله ﷺ فرمائی : (( د الله تعالی په نزد عملنامی په دری قسمه دی : یو هغه دیوان او عملنامه ده چه الله تعالی د هغی هیڅ پروا نه ساتی ، او بله هغه عملنامه ده چه الله تعالی د هغی نه هیڅ شی نه پریږدی ، او بل هغه دیوان او عملنامه ده چه الله تعالی ئی نه معاف کوی ، هغه دیوان چه الله تعالی ئی نه معاف کوی هغه شرک دی الله تعالی فرمائی:﴿ إِنَّهُۥ مَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدۡ حَرَّمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِ ٱلۡجَنَّةَ وَمَأۡوَىٰهُ ٱلنَّارُۖ ﴾ یقینا چا چه شرک وکړه د الله تعالی سره نو یقینا الله تعالی په هغی باندی جنت حرام کړیدی او ځای د اوسیدو ئی جهنم دی ، او هغه دیوان چه الله تعالی ئی څه پروا نه ساتی د انسان هغه ظلم دی چه په خپل ځان ئی کړی وی چه هغه د بنده او د الله تعالی په مابین کښی وی ، نو یقینا که د الله تعالی خوښه شی نو د هغی معافی به وکړی او تیربه شی تری ، او هغه دیوان او عملنامه چه الله تعالی تری هیڅ شی نه معاف کوی هغه د بنده ګانو په خپل منځ کښی یو بل باندی ظلم دی ، نو په هغی کښی به قصاص لازمی وی . د دی حدیث روایت امام احمد کړیدی لیکن حدیث ضعیف دی .

مخکی مړ شی او اعتبار خاتمی لره دی . **4)** چه توبه اوباسی او تر څه وخته پوری په خپله توبه کلک وی لیکن بیا ګناهونو ته په داسی حال کښی واپس شی چه پکښی ننوتلی وی چه نه ئی بیا د توبی د ویستلو اراده وی او نه په خپلو ګناهونو خفګان ښکاره کوی ، او دغی ته نفس امارة باسوء وائی یعنی هغه نفس چه په ګناهونو باندی امر کوی ، او په دغی نفس باندی د غلطی خاتمی ویره وی .

**صدق (رشتیا):** صدق د زړه د ټولو عملونو اساس او بنیاد دی او دا په شپږو معناګانو استعمالیږی: **1)** په وینا کښی صداقت. **2)** په اراده او قصد کښی صداقت **3)** په عزم کولو کښی صداقت. **4)** د عزم په پوره کولو کښی صداقت. **5)** په عمل کښی صداقت په دی شان سره چه ظاهر د باطن سره موافق وی لکه په لمانځه کښی خشوع او عاجزی کول. **6)** د دین په ټولو مقاماتو کښی صداقت ، او دا په ټولو کښی اوچته او عزتمنده درجه ده ، لکه په خوف طمع تعظیم زهد رضا توکل مینه او همدا راز د زړه په ټولو عملونو کښی صداقت او رشتیاوالی . څوک چه په دغی ټولو ذکر شوو کارونو کښی په صداقت باندی موصوف شی نو هغی ته بیا صدیق ویلی کیږی ځکه چه ده په صداقت کښی د مبالغی څخه کار واخستلو رسول الله ﷺ فرمائی : « **عَلَيْكُمْ بِالصِّدْقِ فَإِنَّ الصِّدْقَ يَهْدِى إِلَى الْبِرِّ وَإِنَّ الْبِرَّ يَهْدِى إِلَى الْجَنَّةِ وَمَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَصْدُقُ وَيَتَحَرَّى الصِّدْقَ حَتَّى يُكْتَبَ عِنْدَ اللَّهِ صِدِّيقًا** » متفق علیه. د صداقت نه ګټه واخلی ځکه چه صداقت او رښتیا انسان نیکئ ته رسوی او نیکی انسان جنت ته رسوی او انسان د همیشه لپاره رشتیا وائی او لټوی ئی تر څو چه د الله تعالی په نزد باندی صدیق ولیکلی شی . او په چا باندی چه حق ګډوډ شی او بیا دا د الله تعالی سره د حق په طلبولو کښی رشتینی وی او د خواهشاتو نفسانی نه پکښی ځان ساتی او ده ته به د حق پیدا کولو توفیق ورکړی شی او که پیدائی نه کړی نو دا بیا معذوره دی .

او د صداقت ضد دروغ دی او په انسان کښی اول دروغ په ژبه کښی سرایت کوی نو هغه فاسده کړی ، نو بیا د بدن نورو اندامونو ته سرایت کوی نو عمل ورله برباد کړی ، لکه څرنګ چه د ژبی وینا بربادوی ، نو په نتیجه کښی دروغ د انسان ویناګانو عملونو او ټولو احوالو ته شامل شی نو فساد پری غالبه شی .

**محبة :** د الله تعالی پیغمبر ﷺ او دعامو مؤمنانو په محبت باندی د ایمان خوند حاصلیږی رسول الله ﷺ فرمائی: « **ثَلَاثٌ مَنْ كُنَّ فِيْهِ وَجَدَ بِهِنَّ حَلَاوَةَ الإِيمَانِ : أَنْ يَكُوْنَ اللهُ وَرَسُوْلُهُ أَحَبَّ إِلَيْهِ مما سِوَاهُمَا ، وَأَنْ يحبَّ المرْءَ لا يحبُّهُ إلا لله ، وَأَنْ يَكْرَهَ أَنْ يَرْجِعَ إِلَى الْكُفْرِ بَعْدَ إِذْ أَنْقَذَهُ اللهُ مِنْهُ كَمَا يَكْرَهُ أَنْ يُلْقَى فِي النَّارِ** » متفق علیه.

دری صفتونه دی چه په چا کښی پیدا شی نو د هغی په سبب د ایمان په مزه او خوند باندی پوهه شی : چه الله تعالی او د هغی رسول الله ﷺ ورته د نورو ټولو مخلوقاتو نه ډیر غوره شی ، او د یو انسان سره محبت کوی لیکن مینه ورسره نه کوی مګر صرف د الله تعالی لپاره ، او کفر ته واپس کیدل روسته د هغی نه چه الله ورته د هغی نه نجات ورکړی دی داسی بد ګڼی لکه اورته داخلیدل . کله چه په زړه کښی د محبت ونه ښخه شی او بیا د اخلاص او د رسول الله ﷺ د متابعت په اوبو خړوب شی نو دغه ونه بیا مختلفی میوی ورکوی او د الله تعالی په اذن په هر وخت کښی فایدی رسوی .

**او دغه محبت بیا په څلور قسمه دی: 1)** د الله تعالی سره محبت : چه هغه د ایمان اساس

او بنیاد دی . **2)** د الله تعالی لپاره محبت او دوشمنی کول او دا واجب او لازم دی[1]. **3)** د الله تعالی سره په محبت کښی ځوک شریکول ؛ چه دا د الله تعالی سره په واجبی محبت کښی ځوک شریکول دی لکه د باطلو معبودانو سره د مشرکانو محبت او دا د شرک اساس او بنیاد دی. **4)** طبیعی محبت؛ لکه د مور پلاراولاد او طعام سره مینه کول او دا جایز محبت دی... د دی لپاره چه الله تعالی درسره محبت وکړي نو د دنیا سره مینه مه کوه لکه څرنګ چه رسول الله ﷺ فرمائی: « **ازْهَدْ فِي الدُّنْيَا يُحِبكَ اللهُ** » ابن ماجه. په دونیا کښی د بی رغبته له جملی څخه شه نو الله تعالی به درسره محبت وکړی .

**توکل:** د یو مقصد په حاصلولو کښی او د شر په دفع کولو کښی د خپل زړه سپارل الله تعالی ته او په هغی باندی د زړه اعتماد په داسی حال کښی چه په الله تعالی به کامل اعتماد کوی او د شرعی اسبابو نه به کار اخلی . نو په الله تعالی باندی د خپل زړه نه سپارل په توحید کښی عیب دی ، او د اسبابو پریخودل بی همتی او په عقل کښی نقصان دی ، او د توکل ځای د کار نه مخکی دی او دا دیقین ثمره ده ، او دا بیا په دری قسمه دی :

---

١) **خلک د ولاء او براء یعنی دوستی او دښمنی په اعتبار په دری قسمه دی 1) هغه ځوک چه دهغی سره به خالصه مینه او محبت کیدای شی،** داسی مینه او محبت، چه دښمنی او بغض ورسره نه وی، چه هغه خالص مؤمنان دی، لکه انبیاء علیهم السلام، او نور صدیقین، شهداء، او نیکان خلک، چه په سرکښی یی زمونږ محبوب پیغمبر محمد ﷺ دی، اوبیا دهغی بیبیانی، او صحابهٔ کرام دی.

**2) هغه ځوک چه خالصه دښمنی او بغض به ورسره کیدای شی،** داسی دښمنی، چه مینه او دوستانه پکښی نه وی، چه هغه کافران دی، اهل کتاب وی او که مشرکان، لیکن د هغوی سره عدل کول د دغی کار سره منافات او تضاد نه لری.

**3) هغه ځوک چه په یو اعتبار به ورسره مینه او محبت کیدای شی،** اوپه بل اعتبار به ورسره دښمنی او بغض کیدای شی، چه هغه ګناهګاران مؤمنان او مسلمانان دی، نو د هغوی سره به د ایمان په وجه محبت کیدای شی، او د ګناهونو او معصیت په وجه به ورسره دښمنی کیدای شی، لیکن د هغوی سره به د هغوی دایمان اوګناهونوپه مقدار دوستانه او دوشمنی کیدای شی.

**د کفارو سره دوستانه په دوه قسمه ده: 1)** هغه دوستی چه انسان پری د اسلام نه مرتد کیږی، چه هغه د هغوی سره د هغوی د دین له امله محبت دی ، (لکه د مسلمانانو په مقابل کښی د هغوی سره نصرت او کومک کول، او یا د هغوی کفر ته کفر نه ویل، او یا د هغوی په کفر کښی شک کول). **2)** هغه دوستی چه انسان پری نه مرتد کیږی لیکن ګناه کبیره او حرامه وی لکه د هغوی سره په دونیاوی کارونو کښی دار او مدار کول . لیکن کله په مسلمانانو باندی د غیر حربی کافرانو سره د ښی معاملی کولو او د هغوی سره د دښمنی کولو په مینځ کښی اشتباه واقع کیږی، نو د دی دواړو په مینځ کښی فرق پیژندل لازم او ضروری دی، نو د کافرانو سره انصاف، او د رحمت او شفقت د وجی نه د هغوی سره ښایسته معامله او اخلاق کول په غیر د باطنی محبت نه لکه د هغوی د کمزرو خلکو سره نرمی کول، او همدا راز په غیر د ویری او د ذلت نه هغوی ته نرمه خبره کول جایز او روا دی لکه څرنګه چه الله فرمائی : ﴿ لَّا يَنْهَىٰكُمُ ٱللَّهُ عَنِ ٱلَّذِينَ لَمْ يُقَٰتِلُوكُمْ فِى ٱلدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُم مِّن دِيَٰرِكُمْ أَن تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوٓاْ إِلَيْهِمْ ﴾ سورة الممتحنة : ٨] ، نه منع کوی الله تعالی تاسو د هغی کسانو نه چه جنګ یی نه دی کړی تاسو سره په دین کښی، او نه یی ویستلی تاسو د خپلو کورونو نه چه نیکی وکړی تاسو د هغوی سره او انصاف وکړی تاسو د هغوی سره.

او هر چه د هغوی سره دښمنی کول او یا ورسره بغض ساتل دا جدا خبره ده په هغی باندی الله تعالی هم امر کړی دی لکه څرنګه چه هغه فرمائی: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ عَدُوِّى وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَآءَ تُلْقُونَ إِلَيْهِم بِٱلْمَوَدَّةِ ﴾ سورة الممتحنة :١ ] ، ای مؤمنانو مه نیسئ دښمن زما او دښمن ستاسو دوستان چه وړاندی کوئ تاسو هغوی ته (خبری) د محبت. نو حاصل دا شو چه د کفارو سره په معاملاتو کښی عدل او انصاف کول ، د هغوی د بغض او د عدم محبت سره جمع کیدای شی لکه رسول الله ﷺ چه د مدینی د یهودو سره څرنګ معامله کړی وه .

**1) واجب:** په هغه څه کښې په الله تعالی باندې توکل کول چه ما سوی د الله تعالی نه پرې بل څوک قدرت نه لرې ، لکه د مریضانو روغول. **2) حرام:** دا بیا په دوه قسمه دی: **أ)شرك أكبر** (لوی شرک )، چه هغه په اسبابو باندې په کلی توګه اعتماد کول دی ، او دا عقیده ساتل چه دغه اسباب د فایدې په راجلبولو او د ضرر په دفع کولو کښې مستقل تاثیر لرې(١). **ب)شرك أصغر** (وړوکی شرک) ، لکه په یو انسان باندې د رزق په طلبولو کښې اعتماد کول لیکن دا عقیده پرې نه لرې چه هغه مستقل مؤثر دی ، لیکن د سببیت نه پرې اوچت اعتماد کوی. **3)جائز:** لکه په اخستلو او خرڅولو کښې یو څوک وکیل جوړول او په هغې څه کښې پرې اعتماد کول چه قدرت ئې لرې ، لیکن داسې ویل جایز نه دی : چه زه په الله تعالی باندې توکل کوم او بیا په تا باندې ، بلکه داسې به وائې چه ما تاته وکالت درکړې دی.

**شکر:** چه هغه د بنده په زړه کښې په اعتبار د ایمان سره، او په ژبه باندې په اعتبار د حمد سره ، او اندامونو باندې په اعتبار د عبادت سره ، د الله تعالی د نعمتونو د اثر ښکاره والی او اظهار دی .او شکر ګذاری یو مقصود لذاته صفت دی ، لکه څرنګ چه صبر د نورو څیزونو لپاره یوه وسیله ده ، او شکر په زړه ژبه او د بدن په نورو ټولو اندامونو باندې ادا کیږی ، او د شکر مطلب د الله تعالی په بندګۍ کښې د نعمتونو استعمالول دی.

**صبر:** د الله تعالی نه ماسوی بل چاته د دغې مصیبت د درد له امله شکایت نه کول او د هغې خاص کول الله تعالی لپاره د صبر مقصد دی لکه څرنګ چه الله ﷻ فرمائی: ﴿إِنَّمَا يُوَفَّى ٱلصَّٰبِرُونَ أَجۡرَهُم بِغَيۡرِ حِسَابٍ﴾ ، یقینا صبر کونکو ته به بدله ورکړې شي بی حسابه او رسول الله ﷺ فرمائی: « **وَمَنْ يَتَصَبَّرْ يُصَبِّرْهُ اللهُ وَمَا أُعْطِيَ أَحَدٌ عَطَاءً خَيْرٌ وَأَوْسَعُ مِنَ الصَّبْرِ** » متفق علیه. څوک چه د صبر کولو کوشش وکړی نو الله تعالی به ئې صابره کړی او د صبر نه بله لویه او پراخه تحفه چاته نه ده ورکړې شوې . او عمر رضي الله عنه فرمائی : زه په یو مصیبت

---

١) ایا د اسبابو استعمال د توکل سره څه منافات او تضاد لری ؟ د هغې لپاره یو څو قسمونه دی : **1)** د یو معدوم څیز د نفع راجلبول : دا بیا په درې قسمه دی : **أ)** یقینی سبب لکه د بچو د طلبولو لپاره نکاح کول ، نو د داسې سبب ترکول لیونتوب دی دیته توکل نه ویلې کیږی **ب)** هغه اسباب چه یقینی نه وی : لیکن غالبه ګمان دا وی چه مسبب په غیر د دینه نه حاصلیږی ، لکه په صحراء کښې په غیر د توښې نه د یو مسافر سفر کول ، نو د دغې انسان دغه عمل توکل نه بللې کیږی ، او هغه د توښې په اخستلو باندې مکلف دی ، ځکه چه کله رسول الله ﷺ مدینې ته هجرت کولو نو د ځان سره ئې توښه او لار ښود اخستې ؤ . **ج)** هغه اسباب چه د انسان دا خیال وی چه مسبب به پرې حاصل شي لیکن په غیر د ظاهری اعتماد نه : لکه هغه انسان چه د دقیقو شیانو د کسب کولو د طلب په لار کښې نهایت زیات د تدبیر نه کار اخلې ، نو دغه انسان هم د توکل نه نه دی بهر شوی ، بلکه د کسب ترکول توکل نه بللې کیږی ، لکه څرنګ چه عمر رضي الله عنه فرمائی: متوکل انسان هغه دی چه اول دانې په زمکه کښې وکری او بیا په الله تعالی باندې توکل وکړی.
**2)** د موجود څیز د حفاظت لپاره : څوک چه حلال رزق پیدا کړی نو دهغې ذخیره کول انسان د توکل نه نه باسی ، او بیا خاصکر چه د فامیل خاوند وی ځکه چه رسول الله ﷺ به د بني نضیرو خرما خرڅولې او د خپل خاندان لپاره به ئې د ټول کال د خوراک په خاطر ذخیره کولې . متفق علیه . **3)** د هغې ضرر د دفع کولو په خاطر چه واقع شوی نه وی : په توکل کښې د هغې اسبابو ترکول شرط نه دی چه ضرر پرې دفع کیږی ، لکه په جنګ کښې د زغرې اغوستل ، په رسۍ باندې د اوښ تړل ، او په دې ټولو کښې بیا انسان پرته د سبب نه په مسبب (الله تعالی) باندې اعتماد کوی ، او بیا د الله تعالی په قضاء او تقدیر باندې راضی هم وی . **4)** د هغې ضرر د دفع کولو په خاطر چه نازل شوی وی : هغه بیا په درې قسمه دی : **أ)** چه یقینی وی : لکه اوبه چه تنده بلکل ختموی ، نو د داسې سبب پریخودل بی له کوم شکه توکل نه بللې کیږی . **ب)** چه غالبه ګمان دا وی چه ضرر به پرې ختمیږی : لکه ښکر لګول او یا داسې نور اسباب نو د داسې اسبابو استعمال د توکل سره تضاد نه لری ، ځکه چه رسول الله ﷺ علاج کړیدی او نورو ته ئې هم په علاج کولو باندې امر کړیدی . **ج)** چه سبب وهمی او شکی وی : لکه د روغتیا په حالت کښې د داغونو لګول ، نو د داسې اسبابو استعمال د توکل سره تضاد او منافات لری .

باندی نه مبتلا کیږم مگر زما لپاره پکښی څلور نعمتونه وی ، څکه چه دغه ابتلا زما په دین کښی نه ده ، بل دا چه ډیره لویه ابتلا نه ده ، بل دا چه زه پری د رضاتوب نه محروم نشم ، بل دا چه زه پری د ثواب او اجر اراده لرم .

**صبر یو څو درجی او مرتبی لری : ادنی درجه:** چه هغه د شکایت پریخودل دی لیکن سره د بد ګڼلو نه . **درمیانه درجه :** چه هغه د شکایت پریخودل دی سره د رضایت نه . **اوچته درجه :** چه هغه په مصیبت باندی د الله حمد ادا کول دی . او کله چه په یو شخص باندی ظلم وشی او هغه ظالم ته بد دعائی (ښیری) وکړی نو ده د خپل ځان انتقام او حق واخسته او صبر ئی ونکړ .

**اوصبر په دوه قسمه دی : 1) بدني:** چه هغه په دی ځای کښی زمونږ مراد نه دی .

**2) نفساني** : چه هغه د طبیعت او خواهشاتو د غوښتلو او تقاضی نه صبر کول دی(١).

**او ټول هغه شیان چه انسان ورسره په دونیا کښی مخامخ کیږی : أ)** یا به د خواهشاتو سره موافق وی نو انسان پکښی د الله د حق په ادا کولو کښی صبر ته محتاجیږی چه هغه شکر ویستل دی ، او د الله تعالی په معصیت کښی به یو شی هم نه صرف کوی . **ب)** چه د خواهشاتو مخالف وی نو دا بیا په دری قسمه دی **: 1) د الله تعالی په اطاعت باندی صبر کول** : چه واجبی صبر پکښی د فرضی عباداتو کول دی ، او د نفلی عبادت ادا کول پکښی مستحب دی . **2)** د الله تعالی د معصیت نه صبر کول : چه په دی کښی د حرامو نه ځان ساتل واجب دی ، او د مکروهو شیانو نه پکښی ځان ساتل مستحب دی . **3) د الله تعالی په تقدیر او فیصلو باندی صبر کول :** چه واجبی صبر پکښی د شکایت نه ځان ساتل دی ، د اعتراض او د الله تعالی په تقدیر باندی د غصه کیدو نه د زړه ساتل ، او د داسی عمل او تصرف نه د اندامونو ساتل چه الله تعالی پری غصه کیږی لکه په زوره ژړاګانی او چغی وهل د ګریوانونو څیری کول اود مخونو وهل او یا داسی نور. او مستحب صبر پکښی د الله تعالی په تقدیر باندی د زړه راضی کیدل دی.

**شاکر مالداره انسان غوره دی او که صابر مسکین او فقیر سړی غوره دی؟ جواب** : کله چه مالداره انسان خپل مال د الله تعالی په اطاعت کښی مصرف کړی او یا ئی د دغی لپاره جمع کوی نو بیا دغه مالداره د فقیر نه غوره دی ، او که چیرته اکثر مال په مباحو څیزونو کښی مصرفوی نو بیا فقیر غوره دی ، لکه څرنګ چه رسول الله ﷺ فرمائی: **«الطَّاعِمُ الشَّاكِرُ بِمنزلَةِ الصَّائِمِ الصَّابِرِ»** أحمد . شکر ګذار خوراک کونکی د صبر کونکی روژه دار په شان دی .

● **رضا : چه هغه په یو څیز باندی قناعت او اکتفا کولو ته وائی** ، او د رضا ځای د کار د کولو نه روسته وی، او د الله تعالی په قضا باندی رضا د نیکانو خلکو د اوچتو مرتبو څخه ده ، او دا د محبت او توکل نتیجه او ثمره ده ، او د شر او مصیبت د لری کولو په خاطر الله تعالی ته دعا کول د رضا سره تضاد نه لری .

---

١) او دغه نوعه صبر که چیرته د خیټی او یا د شرمګاه د شهوت نه وی نو دیته بیا عفت او پاکدامنی وائی ، او که چیرته په قتال او جنګ کښی وی نو هغی ته بیا شجاعت او بهادری وائی ، او که چیرته د غصی په برداشت کولو کښی وی نو هغی ته حلم وائی ، او که چیرته د یو لوی کار د راز په ساتلو کښی وی نو هغی ته بیا د راز ساتل وائی ، او که چیرته د اساسی معیشت او زندګی نه په بی ضرورته شیانو کښی وی نو دیته زهد وائی ، او که چیرته په معمولی او کمه دونیا باندی وی نو دیته بیا قناعت وائی .

**خشوع :** **چه هغه تعظیم عاجزی او ذلت کولو ته ویلی کیږی** ، حذیفة رضی الله عنه فرمائی : چه د منافقت د خشوع نه ځان وساتی : چا ورته وویل چه د نفاق خشوع څه ته وائی ؟ چه ته بدن عاجزی کونکی ووینی په داسی حال کښی چه په زړه کښی عاجزی نه وی ؟ او حذیفة رضی الله عنه فرمائی : اول هغه څه چه تاسو به ئی په دین کښی ورک کړی هغه خشوع او عاجزی ده . او هر هغه عبادت چه خشوع پکښی روا شوی نو د دغی عبادت اجر او ثواب د دغی خشوع او عاجزی په اندازه دی ، لکه لمونځ ، رسول الله ﷺ لمونځ کونکی په هکله فرمائی : نشته د لمونځ کونکی لپاره مگر نیم اجر د لمونځ څلورمه برخه پنځمه برخه .... او لسمه برخه ، بلکه کله لمونځ کونکی ته د دغی لمونځ هیڅ ثواب نه رسیږی ځکه چه په کلی توگه ئی پکښی خشوع او عاجزی نه وی کړی .

**رجاء** (امید): **چه هغه د الله تعالی پراخه رحمت ته کتل دی او د هغی ضد ته نا امیدی وائی** ، او د الله تعالی د نعمتونو د امید په خاطر یو عمل کول د ویری او د خوف نه غوره دی ، ځکه چه دغه عمل (د انسان په زړه کښی ) په الله تعالی باندی خایسته گمان پیدا کوی ، او الله تعالی فرمائی « **أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِي بِي** » مسلم. زه د بنده سره د هغه گمان موافق چلند کوم: **او امید په دوه قسمه دی** :لویه مرتبه: چه څوک یو نیکی کوی او د الله تعالی نه پری اجر او ثواب طلب کوی ؛ عائشة رضی الله عنها فرمائی :ای رسول الله (د دی ایات نه (څوک مراد دی ) : ﴿وَٱلَّذِينَ يُؤۡتُونَ مَآ ءَاتَواْ وَّقُلُوبُهُمۡ وَجِلَةٌ﴾ او هغه کسان چه کوی هغه عملونه چه دوی ئی کوی په داسی حال کښی چه زړونه ئی ویریدونکښی وی ، ایا دا هغه کسان دی چه غلا او زنا کوی او شراب سکی ، او بیا د الله تعالی نه ویریږی ؟ نو رسول الله ﷺ وفرمایل: **لا يا بنْتَ الصِّدِيق، وَلكِنهُمْ الذِيْنَ يصلُّونَ ويَصومُونَ ويَتصدَّقُونَ، وَهُمْ يخَافُونَ ألا يُقبلَ منْهُمْ** ، ﴿أُوْلَٰٓئِكَ يُسَٰرِعُونَ فِي ٱلۡخَيۡرَٰتِ﴾ الترمذي ای د صدیق لوری لیکن د ا هغه کسان دی چه لمونځونه کوی روژی نیسی او خیراتونه ورکوی ، او بیا ویریږی چه زمونږ نه به قبول نشی ، نو دغه کسان په نیکو کارونو مخکی والی کوی .

**ادنی درجه :** گناهگار انسان چه توبه اوباسی او د الله تعالی د مغفرت امید وار وی . او هر چه هغه گناهگار انسان چه په خپله گناه باندی همیشوالی کوی او توبه نه اوباسی او بیا هم د الله تعالی د رحمت امید ساتی ، نو دیته تمنی وائی دا امید نه دی ، او دا روستنی قسم ناکاره صفت دی لیکن اولنی قسم د امید ښه دی ، نو مؤمن احسان او ویره دواړه راجمع کوی ، او د منافق په زړه کښی گناه او بی ویری کیدل دواړه راجمع شو .

**خوف** (ویره): **دا هغه غم دی چه په نفس کښی د احتمالی مصیبت له امله پیدا شی ،** که چیرته د دغی مصیبت واقع کیدل متیقن شی نو هغی ته بیا خشیت وائی او د هغی ضد ته امن وائی ، او دا د امید مقابل او ضد نه دی ، بلکه دا د رعب له امله پیدا کیږی ، او د رجا(امید) لپاره باعث مینه او رغبت دی ، او د محبت خوف او امید په مابین کښی جمعوالی ډیر ضروری دی ، امام ابن القیم رحمه الله فرمائی : د زړه مثال په رفتار کښی الله تعالی ته د مرغه په شان دی ، محبت ئی سر دی ، خوف او امید ئی دوه وزری دی ، کله چه په زړه کښی خوف او ویره قراری ونیسی نو د شهواتو او خواهشاتو ځایونه تول وسوزوی ، او دنیا وشړی. **واجبی خوف :** دا هغه ویره او خوف دی چه د واجبی کارونو د ادا کولو او د محرماتو د ترکولو لپاره یو لوی باعث گرځی. **او استحبابی خوف :** دا هغه دی چه د نفلی عباداتو د اداکولو او د مکروهاتو د ترکولو لپاره باعث گرځی. او هغه په یو څو قسمه دی:

1) پټ او د عبادت ویره نو دا لازمی خبره ده چه دغه ویره باید صرف د الله تعالی لپاره

شی ، او د هغی نه کوم شی د مخلوقاتو لپاره راګرځول شرک اکبر دی ، لکه د مشرکانو د باطلو معبودانو نه ویره کول چه کوم ضرر او مصیبت به راورسوی . **2)** ناروا او حرام خوف : چه هغه د خلکو د ویری له امله د یو فرضی حکم پریخودل او یاد یو حرام کار کول دی . **3)** جائزاو روا خوف او ویره: لکه د یو لیوه او شرمخ نه ویریدل .

**زهد: چه هغه** د یوشی نه د محبت او مینی اړول دی هغه څه ته چه د هغی نه بهتر وی ، نو د دونیا سره د مینی او محبت نه کول زړه او بدن ته راحت ورکوی ، او د هغی سره مینه او محبت غم او خفګان زیاتوی ، او د دنیا محبت د ټولو ګناهونو سر دی او د هغی سره بغض کول د ټولو عبادتونو سبب دی ، او په دنیا کښی د زهد مطلب دا دی چه ستا د زړه نه د هغی محبت وځی نه دا چه ته ئی د لاسه وباسی سره د دی نه چه ستا زړه ورپوری نښتی وی ،نو دا د جاهلانو خلکو زهد دی ، رسول الله ﷺ : « **نِعْمَ الْمَالُ الصَّالِحُ لِلْمَرْءِ الصَّالِحِ** » أحمد. ډیر ښه دی نیک مال د نیک سړی لپاره **او د مسکین سړی د مال سره پنځه حالته دی : 1)** چه د مال د اخستو نه له دی امله تیخته کوی چه بدی ئی شی او یا د هغی د شر او مشغوله کولو له امله تیخته کوی ، نو د دی حالت خاوند ته زاهد وائی . **2)** چه په حاصلولو ئی خوشحالی نه کوی لیکن داسی بده ئی هم نه ګڼی چه ضرر ورته پری ورسیږی نو د دی حالت خاوند ته راضی وائیً . **3)** چه د مال حاصلیدل ورته د نه حاصلیدو نه غوره وی ځکه چه مینه ورسره لری ، لیکن دنیاوی مینه یی دی حد ته نه رسیږی چه د مال په طلبولو ئی مجبوره کړی ، بلکه که په غیر د ستړی والی نه ورته حاصل شی نو هغه اخلی او خوشحالی پری کوی ، او که چیرته د هغی طلبولو کښی ستړیوالی ته ضرورت وی نو ځان پری نه مشغولوی ؛ او د دی حالت خاوند ته قانع وائی. **4)** چه د عاجزه کیدو له امله ئی طلب نه کوی لیکن په حقیقت کښی ورسره مینه لری ، که چیرته د هغی طلبولو ته سره د مشقته هم لار پیدا کړی نو دهغی طلب کوی نو د دی حالت خاوند ته حریص وائی. **5)** چه د کوم مال طلب کوی نو هغی ته مجبوره وی لکه وږی انسان ، برمنډ ، او یا هغه سړی چه مال تری ورک شوی وی ، نو ددی حالت والا ته مجبور او مضطر ویلی کیږی

## (د عبدالله او د عبدالنبي) په مینځ کښې آرامه مناظره او سوال او جواب

د عبدالله په نوم يو سړى ديو بل سړى سره چه نوم يى عبد النبى وو مخامخ شو، نو عبدالله په زړه کښې دا نوم بد وګڼه او و يى ويل، چه ولى يو کس بيله الله نه بل چا ته د بندګى (عبوديت) نسبت کوى، بيا يى د عبد النبى نه تپوس وکړه، آيا ته بيله الله نه بل چا عبادت کوى؟ عبد النبى جواب ورکړه چه نه، زه د بيله الله نه بل چا عبادت نه کوم، ځکه زه مسلمان يم فقط د الله تعالى عبادت او بندګى کوم.

عبدالله ترى تپوس وکړ نو بيا دى ولى داسى نوم ايښى دى، چه د عيسايانو د نومونو سره مشابهت لرى، ځکه هغوى وائى عبد المسيح، او د هغوى سره دا خبره نا اشنا نه ده ځکه چه هغوى د عيسى عليه السلام بندګى کوى، ځوک چه ستا نوم اورى نو د هغه په ذهن کښې دا خبره راځى، چه ته د محمد ﷺ بندګى کوى، او مسلمان د رسول الله ﷺ په حق کښې داسى عقيده نه لرى، بلکه د مسلمان عقيده دا ده چه نبى ﷺ د الله بنده او پيغمبر دى.

**عبد النبي وويل :** ځکه چه نبى ﷺ په ټولو انسانانو کښې غوره او بهتر دى، او د انبياء عليهم السلام سردار دى، نو ما دا نوم د برکت حاصلولو، او الله ته د نزديکت په خاطر غوره کړى دى، د رسول الله ﷺ په جاه او مرتبه باندى، پس مونږ به د رسول الله ﷺ نه شفاعت طلب کوو، ځکه چه د الله تعالى په نزد د هغه مقام او مرتبه ډيره لويه د ه، او ته دا خبره نا اشنا مه ګڼه، ځکه چه زما د ورور نوم هم عبد الحسين دى، او زما د پلار نوم هم عبد الرسول دى، او دا نومونه زمونږ په معاشره کښې د مخکى زمانى نه مشهور او مروج دى، او مونږ خپل پلرونه په دى طريقه باندى موندلى دى، نو ته په دى مسئله کښې تشدد او سختى مه کوه، او دا وړه خبره ده او دين اسان دى.

**عبدالله ورته وويل :** دا بل جرم او نا روا خبره ده، چه د مخکښى نه لويه ده، چه بيله الله نه دبل چا نه د هغه څه طلب وکړى شى، چه طاقت يى نه لرى، برابره خبره ده که دغه غوښتنه د نبى ﷺ نه وى، او که دبل چا نه وى، لکه حسين او يا نور نيکان خلک، او دغه خبره د توحيد او لا إله إلا الله د معنى خلاف ده.

زه به ځنى سوالونه تا ته پيش کړم چه تاته د دى مسئلى خطر معلوم شى، او په دى خبره زما مقصد د حق پيژندل او بيا پرى عمل کول دى، او همدا راز د باطل بيانول او بيا ترى اجتناب کول، او امر بالمعروف او نهى عن المنكر دى، او مدد صرف د الله نه غوښتلى کيږى، او توکل هم په الله تعالى باندى کيداى شى، ولا حول ولاقوة إلا بالله، لکن زه تاته د الله تعالى په دى قول باندى يادونه درکوم چه هغه فرمائى : ﴿إِنَّمَا كَانَ قَوْلَ ٱلْمُؤْمِنِينَ إِذَا دُعُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ أَن يَقُولُواْ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا﴾ سورة النور 51 ، د مسلمانانو وينا، کله چه د الله او د هغه د پيغمبر خوا ته وبلل شي چه د دوى تر مينځ حکم وکړى، پرته د دى څخه (بل څه نه وي چه ووايي: مونږ واوريدل او اطاعت مو وکړ.

او همـدا راز دا قـول دالله تعـالى : ﴿فَإِن تَنَٰزَعْتُمْ فِى شَىْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى ٱللَّهِ وَٱلرَّسُولِ إِن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ﴾ سورة النساء 59 ، کله چي مو په کوم شي کښې اختلاف راغى نو هغه الله او پيغمبر ته راجع کړئ، که په خداى او دآخرت په ورځ ايمان لرئ.

**عبدالله تپوس وکړ :** تا سو وويل چه زه د الله توحيد منم، او په کلمه د لا إله إلا الله سره ګواهى ورکوم، نو آيا تاسو د دى معنى بيانولى شئ؟

**نو عبد النبي جواب ورکړ :** توحيد ديته وائى چه ته دا عقيده وساتى چه الله تعالى موجود

دی، او صرف هغه اسمانونه او زمکی پیدا کړی، او هغه ژوندی کول او مړه کول کوی، او په مخلوقاتو کښی تصرف کونکی صرف هغه دی، او رزق هم هغه ورکوی.

**عبدالله :** که چیرته توحید صرف هم دغه وی، نو بیا خو فرعون او د هغه قوم، ابوجهل او نور هم موحدین شول، ځکه چه د دغی قسم توحید نه هیڅ چا انکار نه دی کړی، فرعون چه د خدائی دعوه یی هم کړی وه، لیکن اقرار یی کوه، او زړه کښی یی دا ایمان هم لره چه الله تعالی موجود دی، او هغه په دی عالم کښی متصرف دی، او دلیل پری د الله تعالی دا قول او وینا ده : ﴿وَجَحَدُوا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَا أَنفُسُهُمْ ظُلْمًا وَعُلُوًّا﴾ سورة النمل 14. **ترجمه :** دوی انکار وکړه د معجزاتو نه او په زړونو کښی یی یقین لره په هغی باندی.

او د فرعون دغه اقرار د غرق کیدو په وخت کښی بیا ښکاره شو.

**لیکن توحید :** د الله تعالی یو والی ته وائی په عبادت کښی، او عبادت د ټولو هغی ښکاره او پټو ویناګانو او کارونو یو جامع نوم دی چه د الله تعالی خوښ وی، او د (الله) معنی ده: برحق معبود، هغه ذات چه صرف هغه د عبادت او بندګی حقدار (وړ) دی.

**عبدالله :** آیا ته پوهیږی چه پیغمبران علیهم السلام د څه لپاره دنیا ته رالیږل شوی دی، چه اولنی رسول په کښی نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ دی؟

**عبدالنبی :** دی لپاره رالیږلی شوی دی، چه مشرکان یواځی د الله تعالی عبادت ته دعوت کړی، او د شرک نه یی وویروی.

**عبدالله :** د نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ د قوم د شرک سبب څه وو؟

**عبدالنبي :** نه پوهیږم.

**عبدالله :** الله تعالی نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ خپل قوم ته هله راولیږه چه کله هغوی د نیکانو خلکو په شان او مرتبه کښی د خپل حد نه تجاوز او مبالغه وکړه، چه هغه ود، سواع، یغوث، یعوق، او نسر وو.

**عبدالنبي :** آیا ستا مطلب دا دی چه ود، سواع، یغوث، یعوق، او نسر، د نیکانو خلکو نومونه وو، او د ظالمانو او کافرانو نومونه نه وو؟

**عبدالله :** هو دا د نیکانو خلکو نومونه وو چه د نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ قوم تری خدایان جوړ کړی وو، او عربو بیا د هغوی تابعداری وکړه، او دلیل پری د بخاری شریف حدیث دی، چه د عبدالله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه روایت دی چه فرمائی : ( هغه بتان چه د نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ په قوم کښی وو، د هغی نه روسته بیا په عربو کښی هم د هغی عبادت شروع شو، (ود) د کلب قبیلی په برخه رسیدلی وو، چه په دومة الجندل کښی اوسیدل، او هذیل قبیلی د (سواع) تعظیم کولو، او(یغوث) نومی بوت د مراد قبیلی سره وو، او بیا د هغی نه روسته بنی غطیف قبیلی ته پاتی شو، چه د سبا سره نږدی په جوف نومی ځای کښی وو، او(نسر) د حمیر د ذی الکلاع کورنی سره وو، دا د نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ په قوم کی د نیکانو خلکو نومونه وو، چه کله وفات شوه، نو شیطان دهغوی قوم ته وویل چه دا په مجلسونو کښی ودروئ، او بیا یی په همغه نومونو باندی مسمی کړئ، نو د نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ قوم دغه کار وکړه، نو هر کله چه بیا دغه موجوده خلک مړه شوه، او علم ختم شو نو د دغی بتانو عبادت او بندګی شروع شوه.

**عبدالنبي :** دا خو عجیبه خبره ده.

**عبدالله :** آیا د دی نه درته ډیره زیاته د تعجب وړ خبره وښایم؟ ته پوهه شه چه الله تعالی محمد عَلَيْهِ السَّلَامُ، یو داسی قوم ته رالیږلی وو، چه هغوی عبادتونه او حجونه کول، او خیراتونه

به یی ورکول، لیکن هغوی بـه نیکان خلـک، لکه ملایکی، عیسی عليه السلام، او نور صـالحین خلک الله ته واسطه کول، او دا به یی ویل چه مونږ د دوی نه شفاعت غواړو، چه مونږ الله تعالی ته نږدی کړی نو الله تعالی محمد عليه السلام دی لپاره راولیږه، چه د دوی د پلار ابراهیم عليه السلام د دین تجدید وکړی، او د دی نـه یی خبر کړی، چه دغه نزدیکت تقرب او عقیده، صرف د الله تعالی حق دی، او بیله الله نه دبل چا لپاره مناسب نـه دی، پس هم دا الله تعالی یوازی خالق او رازق دی، او څوک ورسره شریک نشته، او ټول اسمانونه زمکی، او هغه مخلوقات چه په دی کښی اوسیږی، ټول د الله تعالی مخلوق دی، او د الله تعالی پـه اختیار او تصرف کښی دی، بلکه هغه خدایان چه دوی ورله بندگی او عبادت کوو، هم د الله تعالی پـه اختیار کښی دی، لکه څرنگه چه دوی په خپله هم د دی خبری اقرار کوی.

**عبدالنبی :** دا خو ډیره عجیبه او خطرناکه خبره ده، آیا په دی باندی څه دلیل شته؟

**عبدالله :** پـه دی باندی ډیر دلیلونـه شته، څنی یی دا دی چـه الله تعالی فرمائی : ﴿ قُلْ مَن يَرْزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ أَمَّن يَمْلِكُ ٱلسَّمْعَ وَٱلْأَبْصَٰرَ وَمَن يُخْرِجُ ٱلْحَىَّ مِنَ ٱلْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ ٱلْمَيِّتَ مِنَ ٱلْحَىِّ وَمَن يُدَبِّرُ ٱلْأَمْرَ ۚ فَسَيَقُولُونَ ٱللَّهُ ۚ فَقُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴾ سورة یونس31 ، ووایـه (ای محمـده): څـوك تاسی تـه لـه آسمان او ځمکی څخه روزی درکوی؟ آیا څوك (ستاسي) داوریدنی او لیدنی (د پیدایښت) مالك دی؟ آیا څوك دی چه ژوندی له مړی څخه باسي او مړی لـه ژوندي څخـه باسي؟ او څوك دی چه د کارونو تدبیر کوی؟ نو دوی به ژر ووایی: الله، ووایه: نو ولی نه ویریږئ؟ او همـدا راز الله تعـالی فرمـائی : ﴿ قُل لِّمَنِ ٱلْأَرْضُ وَمَن فِيهَآ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٨٤﴾ سَيَقُولُونَ لِلَّهِ ۚ قُلْ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٨٥﴾ قُلْ مَن رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ ٱلسَّبْعِ وَرَبُّ ٱلْعَرْشِ ٱلْعَظِيمِ ﴿٨٦﴾ سَيَقُولُونَ لِلَّهِ ۚ قُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴿٨٧﴾ قُلْ مَنۢ بِيَدِهِۦ مَلَكُوتُ كُلِّ شَىْءٍ وَهُوَ يُجِيرُ وَلَا يُجَارُ عَلَيْهِ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٨٨﴾ سَيَقُولُونَ لِلَّهِ ۚ قُلْ فَأَنَّىٰ تُسْحَرُونَ ﴾ سورة المؤمنون84- 89 ، ووایه (ای محمده): ځمکه او هر هغه څه چی په هغه کښی دي چا لره دي، که چیری پوهیږئ؟ دوی بـه ووایي: الله لـره دی، ووایـه: آیا پند نـه اخلئ؟ ووایـه: څوك دی د اوو آسمانو پروردگار او د لوی عرش پروردگار؟ وایي بـه: الله لـره دي، ووایـه: آیا نـو نـه ویریږئ؟ ووایه: څوك دی چی د هر شي پاچایي د هغه پـه لاس کښی ده، او دی پناه ورکوي خو دی (په خپله) پناه ورکولو ته اړتیا نه لري، کـه پوهیږئ، دوی بـه ووایي: (دغه صفتونه) الله لره دي، ووایه: څرنگه تاسی تیر ایستل کیږئ او دحق نه اوړئ؟

او د مکی مشرکانو به تلبیه هم ویلـه پـه حج کښـی، (لبیـک اللهم لبیـک لا شریـک لـک، إلا شریکا هو لـک، تملکه وما ملک) أي ربه مونږ تاته په تابعداری سره ولاړیو، ستا شریک نشته، مگر هغه شریک چه ته یی مالـک یی او دهغه په لاس کښی اختیار نشته.

پس د مکی د مشرکان په دغه اقرار چه الله تعالی متصرف دی په مخلوقاتو کښـی، یعنی پـه توحید ربوبیت اقرار کولو سره دوی په اسلام کښی داخل نه شول، او د مشرکانو دغی عمل او ارادی، چه دوی د أنبیاء عليهم السلام، ملایکو او نیکانو خلکو نه د شفاعت طلب کوو، د دوی وینـی او مالونه حلال وگرځول، د دی وجه نه د ټولو غوښتنو دعا گانو، نذرونو، قربـانیو، او کومـک غوښتلو، او د ټولو عبادتونو، خاص کول الله تعالی لپاره ډیر ضروری دی.

**عبدالنبی :** که چیرته هغه توحید چه انبیاء علیهم السلام د هغی لپاره رالیږلی شوی دی، دا نه وی چه یو انسان دا اقرار کوی چـه الله تعالی موجود دی، او الله تعالی متصرف دی، لکه

ځرنګه چه ستا خيال دی، نو توحيد بيا څه ته وائی؟

**عبدالله :** هغه توحيد چه انبيا عليهم السلام د هغی د بيان لپاره راليږلی شوی دی، او د مکی مشرکانو د هغی د منلو نه انکار کړی وو، هغه د الله تعالی يووالی دی، په عبادت کښی، چه هيڅ قسم عبادت به د مخلوق او غير الله لپاره نه شی کيدای، لکه رابلل، نذر قربانی، مدد غوښتل، او داسی نور، او دا توحيد د(لا إله إلا الله) معنی ده، ځکه چه (إله) به د مکی د کافرانو او مشرکانو په نزد هغه چا ته ويلی کيده، چه خلکو به تری د دغی مخکنی شيانوطلب کولو، که هغه به نبی وو او که ملايکه به وه، او که ولی او يا پيری به وو، او که ونی او قبر به وو، او دا مقصد د هغوی نه وو چه إله صرف خالق رازق او مدبر ته وائی، پس دوی په دی پوهيدل چه دغه صفتونه صرف د الله تعالی لپاره خاص دی، نو کله چه نبی ﷺ راغی نو دوی يی دتوحيد کلمی ته دعوت کړل، چه لا إله إلا الله ده، يواځی لفظ ته نه بلکی د دی مقصد او معنی ته.

**عبدالنبي :** ګويا چه ستا دا خيال دی، چه د مکی قريش او کافران د لا إله إلا الله په معنی باندی د موجوده مسلمانانو نه ښه پوهيدل.

**عبدالله :** هو، حقيقت همداسی دی، ډير افسوس دی، چه هغه جاهلان کافران په دی باندی پوهيدل، چه د نبی ﷺ مقصد په کلمی طيبی سره، د الله تعالی لپاره د ټولو عبادتونو خاص کول دی، او د نورو باطلو معبودانو د عبادت نه انکار کول او بيزاره کيدل دی، ځکه هر کله چه رسول الله ﷺ هغوی ته حکم وکړه چه لا إله إلا الله ووائی، نو هغوی په جواب کښی وويل: ﴿ أَجَعَلَ الْآلِهَةَ إِلَٰهًا وَاحِدًا ۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَيْءٌ عُجَابٌ ﴾ سورة ص5 ، آيا ده ( ټول ) خدايان يوخدای ګرځولي دي ؟ په رښتيا سره چه دا دحيرانتيا خبره ده.

سره د دی نه چه هغوی په دی باندی ايمان لره، چه الله متصرف دی، ليکن تعجب د هغه مسلمان په حال دی، چه د اسلام دعوه کوی، او بيا د لا إله إلا الله هغه مقصد نه پيژنی، چه کوم باندی د مکی جاهلان هم پوهيدل، بلکه د دوی دا خيال دی، چه توحيد يواځی تلفظ کول دی په دی کلمه باندی، اګر که په معنی باندی يی نه پوهيږو، او ډير پوه انسان يی صرف دا عقيده لری، چه د کلمی معنی دا ده چه بل رازق او تدبير کونکی نشته سوا د الله تعالی نه، نو په هغه مسلمان کښی هيڅ خير نشته چه د مکی مشرکان تری د کلمی په معنی ښه پوهيږی.

**عبدالنبي :** زه خو د الله سره شرک نه کوم، بلکه دا ګواهی کوم، چه خالق او رازق صرف الله دی، مالک د نفع او ضرر صرف الله تعالی دی، او محمد ﷺ د خپل ځان لپاره هم مالک د نفع او ضرر نه دی، پاتی لا علي، حسين، او عبد القادر جيلانی، ليکن زه ګناهګار يم، او د نيکانو خلکو دالله په نزد باندی ډيره لويه مرتبه ده، پس زه د دوی په مرتبه او جاه باندی الله رابلم.

**عبدالله :** ستا د خبری جواب مخکی تير شوی، يعنی هغه کسان چه نبی ﷺ ورسره جنګ وکړه هم د دی قايل وو، او دا اقرار يی کوو، چه د دوی بتان د هيڅ شی انتظام او تدبير نه شی کولی، ليکن دوی د هغوی جاه او مرتبه الله تعالی ته په وسيله کی پيش کوله.

**عبدالنبي :** دغه آياتونه خو د هغه چا په حق کښی نازل شوی، چه د بتانو عبادت يی کوو، نو تاسو ځرنګه نيکان خلک او انبيا عليهم السلام د بتانو په شان ګڼئ؟

**عبدالله :** مخکی تير شوه، چه بعضی دغه بتان د نيکانو خلکو په نومونو باندی مسمی شوی وو، لکه د نوح عليهم السلام په زمانه کښی، او کافرانو به د هغوی نه صرف شفاعت طلب

کوو، ځکه د هغوی دا عقیده وه چه دوی د الله په نزد باندی لوی شان او مرتبه لری، او دلیل پری دا دی چه الله تعالی فرمائی : ﴿وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَ مَا نَعۡبُدُهُمۡ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَآ إِلَى ٱللَّهِ زُلۡفَىٰٓ﴾ سورة الزمر3 ، هغه کسان چه خلکو مدد گاران نیولی ما سوا د الله تعالی نه دوی وائی مونږ خو د دی عبادت نه کوو مگر دی لپاره چه مونږ الله تعالی ته نږدی کړی.

**او هر چه دا سوال دی ستا:** چه تاسو څرنگه انبیا علیهم السلام او نیکان خلک د بتانو په شان گڼی؟ نو مونږ دا جواب کوو: د مکی مشرکان چه رسول الله ﷺ ورته رالیږلی شوی وو، بعضو پکښی اولیاء کرام رابلل، چه الله تعالی د هغوی په حق کښی فرمائی : ﴿أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ يَبۡتَغُونَ إِلَىٰ رَبِّهِمُ ٱلۡوَسِيلَةَ أَيُّهُمۡ أَقۡرَبُ وَيَرۡجُونَ رَحۡمَتَهُۥ وَيَخَافُونَ عَذَابَهُۥٓۚ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحۡذُورٗا﴾ سورة الاسراء57 ، هغه (معبودان) چې (کافران یي) عبادت کوي ، په خپله خپل پروردگار ته وسیله لټوي چې کوم یویې ( د نورو په پرتله) نژدیوالی تر لاسه کړی او دهغه د رحمت هیله کوي او دهغه له عذاب څخه ویرېږي بیشکه چې ستا د پروردگار عذاب د ویرې وړ دی .

او ځنو پکښی عیسی او مریم علیهم السلام رابلل، لکه څرنگه چه الله تعالی فرمائی : ﴿وَإِذۡ قَالَ ٱللَّهُ يَٰعِيسَى ٱبۡنَ مَرۡيَمَ ءَأَنتَ قُلۡتَ لِلنَّاسِ ٱتَّخِذُونِي وَأُمِّيَ إِلَٰهَيۡنِ مِن دُونِ ٱللَّهِۖ﴾ سورة المائدة 116 ، **ترجمه** : او کله چې الله وویل: ای د مریم زوی عیسی: آیا تا خلکو ته ویلي وو چې ما او زما مور بې له الله څخه خدایان ونیسئ؟

او ځنو پکښی د ملایکو عبادت کولو، لکه چه الله تعالی فرمائی : ﴿وَيَوۡمَ يَحۡشُرُهُمۡ جَمِيعٗا ثُمَّ يَقُولُ لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ أَهَٰٓؤُلَآءِ إِيَّاكُمۡ كَانُواْ يَعۡبُدُونَ﴾ سورة سباء40 ، او هغه ورځ چې ( خدای ) دوی ټول سره راټول کړي نو پرښتو ته به ووایي : آیادوی به ستاسې عبادت کاوه؟

پس په دی آیاتونو کښی سوچ وکړه چه الله تعالی پکښی هغه چا ته هم کافر ویلی دی چه د بتانو عبادت کوی، او هغه چاته یی هم کافر ویلی دی چه د ملایکو، پیغمبرانو، او د نیکانو خلکو عبادتونه یی کول، او رسول الله ﷺ د تولو سره په غیر د کوم فرق نه یوشان جهاد کړی دی.

**عبدالنبي :** مشرکان خو د دغی خلکو نه مدد غواړی، او زه خو دا گواهی کوم، چه الله تعالی مالک د نفع او ضرر دی، زه خو صرف د الله تعالی نه دغه غواړم، او د نیکانو خلکو په لاس کښی خو څه نشته، لیکن زه دوی واسطه کوم کیداشی چه الله تعالی یی شفاعت قبول کړی.

**عبدالله :** ستا دا وینا بعینه د کفارو د وینا په شان ده او دلیل پرې دا دی ﴿وَيَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمۡ وَلَا يَنفَعُهُمۡ وَيَقُولُونَ هَٰٓؤُلَآءِ شُفَعَٰٓؤُنَا عِندَ ٱللَّهِ﴾ سورة یونس 18 ، او دوی پرته له خدای څخه د (داسي) نوروشیانو عبادت کوي چې دوی ته نه کوم نقصان رسولی شي او نه (هم) کومه گټه او وايي: دغه شیان د خدای په نزد زمونږ شفاعت کوونکی دي.

**عبدالنبي :** زه خو عبادت صرف د الله تعالی کوم، او دوی ته پناه وړل، او یا د دوی رابلل خو عبادت نه دی.

**عبدالله :** لیکن زه ستا نه تپوس کوم، آیا ته په دی باندی اقرار کوی، چه الله تعالی په تا باندی د خپل ځان لپاره د عبادت خالص کول فرض کړی دی، او دا اخلاص د هغه حق دی په تا باندی، لکه چه په دی آیت کښی ذکر دی: ﴿وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ حُنَفَآءَ﴾ سورة البينه 5 ، او ( په داسې حال کښې ) چې دوی حکم نه دی شوی مگر دا چې په زښت

اخلاص سره د الله عبادت وکړي ( او عقیده ولري ) چې دین د هغه ( لـه خوا ) دی او په عین حال کښې له شرك نه توحید راګرځیدونکی وی.
**عبدالنبي :** هو، الله په ما باندی دغه کار فرض کړی.
**عبدالله :** ته ماته وضاحت وکړه چه د عبادت خالص کول څه ته وائی؟
**عبدالنبي :** زه نه پوهیږم.
**عبدالله :** زه بـه تاتـه د هغـی وضـاحت وکړم غوږ ورتـه کیږده، الله تعالی فرمائی ﴿ ٱدۡعُواْ رَبَّكُمۡ تَضَرُّعٗا وَخُفۡيَةًۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُعۡتَدِينَ ﴾ سورة الاعراف 55 ، خپل پروردګار په عاجزی او په پټه سره وبولئ، بیشکه چي الله تیري کوونکي نه خوښوي.
پس دعا عبادت دی او که نه؟
**عبدالنبي :** بلې دعا عبادت دی، بلکه د عبادت مغز دی لکه څرنګه چه په حدیث کښی راغلی: « الدُّعاءُ هُوَالْعِبَادَةُ » أبو داود. دعاء بعینه عبادت دی.
**عبدالله :** هر کله چه تـه په دی اقرار کوی چه دعا عبادت دی، او تـه شپه او ورځ، د ویری او امید په خاطر په یو حاجت کښی الله تعالی رابلی، او بیا تـه په همدغی حاجت کښی یو نبی، یا یوه فرشته، او یا یو نیک انسان راوبلی، نو آیا تا د الله تعالی سره په دغه عبادت کښی شرک وکړه او که نه؟
**عبدالنبي :** هو، ما خو بیا شرک وکړه، او دا خو ډیره صحیح او ښکاره خبره ده.
**عبدالله :** یو بل مثال واوره، کله چه تـه د الله تعالی په دی وینا باندی پوه شوی: ﴿ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَٱنۡحَرۡ ﴾ سورة الکوثر 2 ، نو خپل پروردګار لره لمونځ وکړه او قرباني وکړه.
او بیا تـه د الله اطاعت وکړی، او قربانی هم هغه لره وکړی، نـو آیـا دا د الله تعالی عبادت دی او که نه؟
**عبدالنبي :** هو، دا خو بلکل عبادت دی.
**عبدالله :** اوس که ته د مخلوق لپاره قربانی وکړی، نبی وی او که پیری، نو آیا تا د الله تعالی سره بل څوک شریک کړه او که نه؟
**عبدالنبي :** هو، دا خو یقینی شرک دی.
**عبدالله :** ما تاته په مثال کی دعا او قربانی ذکر کړه، ځکه چه دعا په قولی عبادت کی ډیر اهم عبادت دی، او په فعلی عبادت کی قربانی اهمه ده، او عبادت یواځی په دی دواړو قسمونو پوری خاص نه دی، بلکه نور قسمونه هم لری لکه نذر، قسم کول، پناه غوښتل، لیکن د مکی مشرکانو چه د هغوی په حق کښی قرآن کریم نـازل شوی دی ایا د ملایکو، نیکانو خلکو، لات، او د نورو خلکو عبادت کوه او که نه؟
**عبدالنبي :** هو، هغوی د دغی شیانو عبادت کوو.
**عبدالله :** آیا ددوی عبادت بیله دعاء، قربانی، پناه، او مدد غوښتلو بل څه وو، ځکه دوی خو پدی اقرار کولو چه د الله تعالی بندګان یو، او د هغه په قدرت کښی یو، او خاص الله تعالی د تولو کـارونو انتظام چلونکی دی، لیکن دوی د مرتبی د وجه نـه ، او د شفاعت د طلب کولو په خاطر هغوی رابلل او هغوی ته یی پناه ور وړه او دا خبره هر چاته ښکاره ده .
**عبدالنبي :** آیا ته د رسول الله ﷺ شفاعت نه منی؟
**عبدالله :** زه د رسـول الله ﷺ شفـاعت منم او انکـار تـری نـه کـوم، بلکـه هغـه شفـاعت

کونکی دی، او شفاعت به یې الله تعالی قبلوی، او زه هم د هغه د شفاعت امید لرم، لیکن اختیار د شفاعت د الله تعالی په لاس کښې دی، لکه څرنګه چه الله تعالی فرمائی : ﴿قُل لِّلَّهِ ٱلشَّفَٰعَةُ جَمِيعٗاۖ﴾ سورة الزمر ٤٤ ، ووایه (ای محمده): چه شفاعت ټول لره دی، او شفاعت به د الله تعالی د اجازی نه روسته کیدای شی، لکه څرنګه چه الله تعالی فرمائی : ﴿مَن ذَا ٱلَّذِي يَشۡفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦۚ﴾ سورة البقره 255 ، څوك دی هغه کس چي دده په حضورشفاعت وکړي مګر دده په اجازې سره؟

او د هغه چا لپاره به شفاعت کیدای شی، چه الله تعالی تری راضی وی، لکه څرنګه چه الله تعالی فرمائی : ﴿وَلَا يَشۡفَعُونَ إِلَّا لِمَنِ ٱرۡتَضَىٰ﴾ سورة الأنبياء 28 ، دوی به شفاعت نه شی کولی مګر د هغه چا لپاره چه الله تعالی غوره کړی وی، اوالله نه غوره کوی مګر موحد، لکه څرنګه چه الله تعالی فرمائی : ﴿وَمَن يَبۡتَغِ غَيۡرَ ٱلۡإِسۡلَٰمِ دِينٗا فَلَن يُقۡبَلَ مِنۡهُ وَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ﴾ سورة العمران 85 ، او هرڅوك چي پرته له اسلام څخه بل دين ولټوی نو له ده نه به هیڅکله ونه منل شي. اوهغه به په آخرت کښي له زيانکارانو څخه وی.

نو هر کله چه ټول شفاعت د الله په اختیار کښی دی، او شفاعت به نه شی کیدی مګر وروسته د اجازی د الله تعالی نه، نبی ﷺ او نور نیکان خلک د چا لپاره شفاعت نه شی کولی مګر د هغه چا لپاره چه دالله تعالی خوښه شی، اوالله تعالی صرف د موحدینو بندګانو لپاره د شفاعت اجازت ورکوی، نو دا خبره معلومه شوه چه ټول شفاعت خاص د الله تعالی لپاره دی، نو زه د الله تعالی نه شفاعت غواړم: ای الله د رسول الله ﷺ د شفاعت نه می مه محروموی، او هغه زما لپاره شفاعت کونکی وګرځوی.

**عبدالنبي :** په دی باندی مونږ متفق یو، چه د چا نه داسی غوښتل چه طاقت یی نه لری جایز نه دی، لیکن نبی ﷺ ته الله تعالی د شفاعت اختیار ورکړی، نو هغه خو د شفاعت مالک دی، نو بنا په دی باندی زما لپاره جایزدی چه زه تری هغه شی طلب کړم چه قدرت یی لری، او دا بیا شرک نه دی.

**عبدالله :** دا خبره به هله صحیح وی چه الله تعالی تری ته منع کړی نه وی، الله تعالی فرمائی : ﴿فَلَا تَدۡعُواْ مَعَ ٱللَّهِ أَحَدٗا﴾ سورة الجن 18 ، نو له الله سره بل هیڅوك مه بولئ، او د شفاعت طلب کول خو دعا ده، او رسول الله ﷺ ته خو شفاعت الله تعالی ور کړی، او هغه په خپله ته د دی نه منع کړی ئی، چه د بل چا نه شفاعت طلب کړی، او همدا راز د نبی ﷺ نه ما سوا بل چاته هم شفاعت ور کړی شوی دی، یعنی ملایکی به شفاعت کوی، ماشومان چه د بلوغ او ځوانی نه مخکی وفات شوی وی شفاعت کوی، لکه څرنګه چه په صحیح احادیثو کښی راغلی اولیاء کرام به شفاعت کوی، نو که ته داسی وایی چه الله تعالی دوی ته د شفاعت اختیار ور کړی نو زه یی تری ځکه غواړم؟ که داسی وائی نو ته خو بیا د نیکانو خلکو د عبادت قایل شوی، او که داسی نه وائی نو دا خبره دی باطله شوه، چه الله تعالی دوی ته شفاعت ور کړی زه یی تری غواړم.

**عبدالنبي :** لیکن زه خو د الله تعالی سره شرک نه کوم، او نیکانو خلکو ته پناه وړل شرک نه دی.

**عبدالله :** آیا ته پو هیږی چه الله تعالی شرک د زنا نه ډیر زیات حرام کړی دی، او الله تعالی شرک نه بخښی؟

**عبدالنبي :** هو، زه په دی باندی اقرار کوم، او دا خبره په قرآن کښی په وضاحت سره ذکر شوی.

**عبدالله :** تا خو اوس د ځان نه هغه شرک نفی کړه چه الله تعالی حرام کړی، نو ته ما ته دا خبره واضح کړه چه هغه شرک کوم دی چه ته په کښې نه یې واقع شوی؟
**عبدالنبي :** شرک د بتانو عبادت ته ویلی کیږی، او هغوی ته د حاجت په وخت کښې رجوع کول، او یا د هغوی نه ویریدل.
**عبدالله :** د بتانو د عبادت څه مطلب دی؟ آیا ستا دا خیال دی چه د مکی مشرکانو دا عقیده لرله، چه دغه لرگی او گټی پیداکونکی دی، او رزق ورکونکی دی، او چه څوک یې رابلی نو د هغه د حاجت تدبیر کونکی دی؟ بلکه هغوی داسی عقیده نه درلوده لکه څرنگه چه مخکی ذکر شوه.
**عبدالنبي :** زه دغه عقیده نه لرم بلکه څوک چه گټو او لرگو یا قبرونو ته ورځی، او د هغی نه خپل حاجتونه غواړی، او یا د هغوی په نوم حلاله کوی، او یا دا عقیده ساتی چه دغه شیان، مونږ الله تعالی ته نږدی کوی، او یا الله تعالی د دوی په برکت زمونږ نه مصیبتونه لری کوی، پس دا د بتانو عبادت دی.
**عبدالله :** رشتیا دی وویلی، لیکن د قبرونو او گټو او مزارونو په خواکښی ستاسو طریقه هم داسی ده، او همدارنگه تاسو چه وائی شرک د بتانو عبادت ته وائی، آیا ستا مطلب دا دی، چه شرک دغی شیانو پوری خاص دی، او په نیکانو خلکو باندی اعتماد کول، او د هغوی رابلل په شرک کښی داخل نه دی؟
**عبدالنبي :** هو، زما همدا مطلب وو.
**عبدالله :** نو آیا ته د هغی آیاتونو نه، کوم خواته تېنتی چه په هغی کښی ذکر شوی چه په نیکانوخلکو توکل کول حرام دی، او یا د ملایکو سره دغسی تعلق پیدا کول، او که چا دا کار وکړه نو کفر یې وکړه، او مخکی می درته آیاتونه هم ذکر کړه.
**عبدالنبي :** لیکن هغه خلک چه ملایکی او پیغمبران یی رابلل، په دی وجه باندی کافر شوی نه وو، لیکن هغوی د دی وجه نه کافر شوی وو، چه ویل به یی چه ملایکی د الله تعالی لور گانی دی، او عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ د الله تعالی زوی دی، او مونږ خو داسی نه وایو: چه شیخ عبد القادر جیلانی د الله تعالی زوی دی، او نه دا وایو چه زینب د الله تعالی لور ده.
**عبدالله :** الله تعالی ته د اولاد نسبت کول، دا خو مستقل بل کفر دی، الله تعالی فرمائی ﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ ﴿١﴾ اللَّهُ الصَّمَدُ ﴿٢﴾ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ﴾ سورة الاخلاص 1-3 ، ووایه: دی یو الله دی، (دی) بې نیازه الله دی، نه ده ( څوك ) زیږولي او نه دی ( له چا نه ) زیږیدلی دی.
أحد: هغه چاته وائی چه مثال یی نه وی، او صمد هغه چا ته وائی، چه حاجتونو کښی ورته خلک رجوع کوی، که څوک د دی نه انکار وکړی نو هغه کافر شو، که څه هم د سورة وروستنی برخه ومنی، بیا الله تعالی فرمائی : ﴿مَا اتَّخَذَ اللَّهُ مِن وَلَدٍ وَمَا كَانَ مَعَهُ مِنْ إِلَٰهٍ ۚ إِذًا لَّذَهَبَ كُلُّ إِلَٰهٍ بِمَا خَلَقَ وَلَعَلَا بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ﴾ سورة المؤمنون 91 ، الله هیڅکله اولاد نه دی نیولی او نه له هغه سره بل خدای شته، که داسې وای نو هر خدای به هغه څه چې یې پیدا کړي وو بیولی (او بیل کړی وای او یو پر بل باندې به یې د برلاسي او غالبه کیدو هڅه کوله.
نو معلومه شوه چه د دواړو کفرونو په مینځ کښی فرق شته، او دلیل وربانډی دا دی چه هغه کسان چه د دی وجه نه کافر شوی وو چه لات یی رابله سره د دی نه چه هغه نیک انسان وو، دوی هغی ته د الله تعالی زوی نه ویلی، او هغه کسان چه د پیریانو په رابللو باندی کافر شوی

وو، دوی هم هغې ته د الله تعالی زامن نه ویلی، او همدا راز څلور مذهبونه په دې باندې متفق دي، چه څوک دا عقیده ساتي چه د الله تعالی لپاره اولاد شته نو هغه مرتد دی، او که څوک د الله تعالی سره شرک وکړي نو هغه هم مرتد دی، نو فقهاء د دواړو شرکونو په مینځ کښې فرق کوی.

**عبدالنبي :** الله تعالی فرمائي: ﴿أَلَآ إِنَّ أَوۡلِيَآءَ ٱللَّهِ لَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ﴾ سورة يونس 62 ، خبردار اوسئ، بیشکه چې د خدای په دوستانو کومه ویره نشته او نه به (هم) دوی غمجن کیږي.

**عبدالله :** مونږ هم دا عقیده لرو چه دا خبره حقه ده، لیکن د دوی عبادت باطل دی، پس مونږ د الله تعالی سره دوی په عبادت کښې نه شریکوو، او نور په تا باندې د دوی سره محبت کول او د هغې اطاعت واجب دی، او د دوی په کرامت به اقرار کوی، او د اولیاء کرامو د کرامت نه صرف بدعتیان انکار کوی، او د الله تعالی دین وسط او درمیانه دی په مابین د دوو طرفونو د افراط او د تفریط (زیاتی او کمی کولو) کښې دی، هدایت او سمه لار هم د افراط او د تفریط په منځ کښې ده، اوحق هم همداسې دی.

**عبدالنبی :** هغه کسان چه قرآن د هغوی په رد کښې نازل شوی دی، په لا إله إلا الله باندې ګواهی نه کوله، او د رسول الله ﷺ تکذیب یې کوو، او د قیامت نه منکر وو، او قرآن یې دروغجن ګڼه، او جادو به یې ورته ویلی، او مونږ خو دا ګواهی کوو چه لا إله إلا الله و أن محمدا رسول الله، او د قرآن تصدیق کوو، په قیامت ایمان لرو، لمونځونه کوو، او روژې نیسو، پس تاسو څرنګه مونږ د هغوی په شان ګڼئ؟

**عبدالله :** د عالمانو د هغه انسان په کفر کښې هیڅ اختلاف نشته، چه څوک د دین په څه حصه کښې د رسول الله ﷺ تصدیق کوی، او په څه حصه کښې یې تکذیب کوی، او همدا راز هغه څوک چه د قرآن څه حصه منی او د ځنې حصې نه انکار کوی، لکه یو سړی چه توحید منی او د لمانځه نه انکار کوی، او یا توحید او لمونځ منی لیکن د زکات د فرضیت نه انکار کوی، او یا دا ټول منی لیکن روژه نه منی، او یا دا هم مني لیکن د حج د فرضیت نه انکار کوی، د دې وجه نه کله چه څه خلکو د نبی ﷺ په زمانه کښې د حج کولو ته تیار نه شو، نو الله تعالی د هغوی په حق کښې دا آیاتونه نازل کړه: ﴿وَلِلَّهِ عَلَى ٱلنَّاسِ حِجُّ ٱلۡبَيۡتِ مَنِ ٱسۡتَطَاعَ إِلَيۡهِ سَبِيلٗاۚ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَنِيٌّ عَنِ ٱلۡعَٰلَمِينَ﴾ سورة العمران 97 ، د الله تعالی لپاره په خلکو باندې د بیت الله شریف حج کول فرض دی، هغه چا لپاره چه هغې ته د تللو طاقت لری، او هر هغه څوک چي کافرشي نو بیشکه چي خدای له ټولو عالمیانو څخه بې پروا دی.

د دې وجه نه الله تعالی د هغه انسان په کفر باندې صراحت کړی چه بعضې قرآن منی او د بعضې نه انکار کوی، او الله تعالی دا حکم کړی، چه اسلام به ټول منئ، که څوک د اسلام ځنې برخه قبلوی او ځنې نه قبلوی نو کافر شو، نوایا ته دا منی چه څوک په څه حصه د قرآن باندې ایمان لری او د څه حصې نه انکار کوی هغه کافر دی؟

**عبدالنبي :** هو زه دا منم او اقرار پرې کوم، او دا خبره په قران کریم کښې واضحه ده.

**عبدالله :** هر کله چه ته په دې اقرار کوی، چه څوک رسول ﷺ په بعضې شیانو کښې منی، او د لمونځ نه انکار کوی نو هغه په اجماع سره کافر دی، او همدا راز چه ټول دین منی لیکن قیامت نه منی، نو هغه هم کافر دی، او په دې کښې د مذهبونو هم اختلاف نشته، او داخبره په قرآن کي هم په وضاحت سره راغلی ده، پس دا خبره معلومه شوه چه توحید په

ټولو کښې لوی او اهم رکن دی، پس دا څرنګه کیدای شی، چه څوک په دغی شیانو کښی د یو نه انکار وکړی نو هغه کافر دی، اګر چه د رسول الله ﷺ په نور ټول شریعت باندی ایمان لری، او کله چه د هغی توحید نه انکار کوی چه هغه د ټولو پیغمبرانو مشترک دین دی، نو بیا نه کافر کیږی، سبحان الله دا څومره لوی او عجیبه جهالت دی، او همدارنګه په دی کښی هم سوچ او فکر وکړه چه د نبی ﷺ صحابه و چه کله د بنو حنیفه قبیلی سره جنګ کولو، نو هغوی اسلام قبول کړی وو، او کلمه د توحید او رسالت یی منله، او لمونځونه او اذانونه یی هم کول.

**عبدالنبي :** هغوی خو دا عقیده لرله چه مسیلمه پیغمبر دی، او مونږ خو دا عقیده لرو چه محمد ﷺ نه وروسته بل نبی نشته.

**عبدالله :** لیکن تاسو علی رضی الله عنه، عبد القادر جیلانی او نور پیغمبران او نیکان خلک، د الله تعالی درجی ته رسولی دی، نو هر کله چه څوک یو سړی د پیغمبر مرتبی ته ورسوی نو هغه کافر شو، وینه او مال یی حلال شو، او بیا ورته کلمه د شهادت، او لمونځ فایده نه کوی، پس څوک چه هغه ته د خدائی مرتبه ورکړی، نو هغه خو په طریق اولی سره کافر شوه، او همدا راز هغه کسان چه علی رضي الله عنه په اور باندی وسوزول، ټولو داسلام دعوه کوله، او هغوی د حضرت علی رضی الله عنه ملګری وو، او علم یی د صحابه یی کرامو نه حاصل کړی وو، لیکن د حضرت علی رضي الله عنه په شان کښی یی داسی عقیده لرله، لکه تاسو چه د عبد القادر جیلانی په شان کښی کومه عقیده لری، نو ولی صحابه وو د هغوی سره په جنګ کولو او او دهغوی په کفر باندی اجماع وکړه، آیا ستاسو دا خیال دی، چه صحابهٔ کرامو مسلمانان کافر ګڼل؟

او که ستاسو دا خیال دی چه د سید په شان کښی داسی عقیده ساتل ضرر نه لری، او دعلی رضي الله عنه په شان کښی دغه عقیده کفر دی؟ او که څوک داسی ووائی چه مخکنی خلک خو ځکه کافر شوه، چه هغوی له یوی خوا شرک کړی وو، اوله بله پلوه یی د قرآن کریم او د نبی ﷺ تکذیب کړی وو، یعنی د شرک او تکذیب په مینځ کښی یی جمع والی کړی وو، او قیامت یی هم نه منه، نو بیا دهغه باب څه مطلب دی چه ټولو علماء ذکر کړی په هر مذهب کښی: (باب حکم المرتد)، چه دا هغه مسلمان دی چه د اسلام نه یی وروسته کفر کړی وی، او بیا یی ډیر شیان ذکر کړی، چه په هر یو قسم یی مسلمان داسلام نه وځی، تر دی چه ډیری وړی خبری ییی خبری یی ذکر کړی، لکه ټوقی او مسخری کول په ژبه باندی، لکه څرنګه چه الله تعالی فرمائی : ﴿قُلۡ أَبِٱللَّهِ وَءَايَٰتِهِۦ وَرَسُولِهِۦ كُنتُمۡ تَسۡتَهۡزِءُونَ ۝٦٥ لَا تَعۡتَذِرُواْ قَدۡ كَفَرۡتُم بَعۡدَ إِيمَٰنِكُمۡۚ﴾ سورة التوبه 65 – 66 ، **ترجمه :** ووایه (ای محمده): آیا پر الله، دهغه پر آیتونو او د هغه پر پیغمبر باندې مو ټوقی کولی او ملنډې مو وهلې؟ پلمې (او عذرونه) مه کوئ، بېشکه وروسته له ایمان (راوړلو) څخه کافران شوی یئ.

نو هغه کسان چه الله تعالی د هغوی په کفر باندی صراحت وکړه، دوی د رسول الله ﷺ سره د تبوک په غزا کښی ملګری وو، دوی صرف یوه خبره کړی وه، چه دوی بیا وویل دا خو مونږ د ټوقو او ساعت تیری په خاطر کړی وه، لیکن الله تعالی پری د کفر حکم وکړه، پس څرنګه کیدای شی، چه یو انسان توحید نه منی او هغه دی مسلمان وی.

او همدا راز هغه چه د بنی اسرائیلو نه سره د پوهی نقل شوی، چه د موسی عليه السلام نه یی طلب وکړه، چه زمونږ لپاره خدای جوړ کړه لکه څرنګه چه د دوی لپاره دی، او د بعضی صحابه وو هغه

وینا چه دوی وویل زمونږ لپاره د (ذات انواط) په شان ونه وګرځوه لکه څرنګه چه د دوی لپاره ده، نو نبی ﷺ قسم وکړه چه تاسو د بنی اسرائیلو په شان وینا وکړه، ﴿ٱجۡعَل لَّنَآ إِلَٰهٗا كَمَا لَهُمۡ ءَالِهَةٞ﴾ سورة الأعراف 138 ، **ترجمه :** زمونږ لپاره خدای وګرځوه لکه څرنګه چه د هغوی لپاره خدایان دی.

**عبدالنبي :** لیکن بنی اسرائیل او هغه کسان چه د نبی ﷺ نه یی طلب کړی وو چه زمونږ لپاره (ذات انواط) ونه وګرځوه په دی خبره کافر نه شوه.

**عبدالله :** بنی اسرائیلو او هغی کسانو چه د نبی ﷺ نه یی سوال کړی وو، هغوی دغه عمل نه وو کړی او که کړی یی وی نو بیا خو کافر کیدل، او هغه کسان چه رسول الله ﷺ منع کړه که د پیغمبر ﷺ تابعداری یی نه وی کړی، اود (ذات انواط) ونه یی په تعظیم سره نیولی وی نو دوی به کافر شوی وی.

**عبدالنبي :** لیکن زما سره بل اشکال او شبهه ده، چه هغه د اسامه رضی الله عنه واقعه ده، چه کله یی هغه سړی قتل کړه چه (لا إله إلا الله) یی وویلی، او بیا رسول الله ﷺ دا کار بد وګڼه او ویی فرمایل: «**يَا أُسَامَةُ : أَقَتَلْتَهُ بَعْدَمَا قَالَ: لا إِلَهَ إلا اللَّهُ**»؟ بخاری. ای اسامه! تا دا سړی قتل کړه وروسته د هغی نه چه لا إله إلا الله یی ویلی وه، او همدارنګه د رسول الله ﷺ دا حدیث مبارک: « **أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَقُولُوا لا إِلَهَ إلا اللَّهُ** » مسلم. ماته حکم شوی چه زه د خلکو سره جنګ وکړم تر هغی پوری چه لا إله إلا الله و وائی، نو زه څرنګه ستا د وینا او په دی حدیثونو کښی جمع وکړم، ما ته لار وښیه الله تعالی دی تاته هم سمه لار وښئی.

**عبدالله :** دا خبره هر چا ته معلومه ده چه رسول الله ﷺ د یهودیانو سره په قتال او جنګ کی وو، او هغوی یی د غلامانو او وینځو په شکل بندیوان کول، سره د دی نه چه هغوی لا إله إلا الله ویل، او همدا راز صحابهٔ کرامو بنو حنیفه قتلول، او دجنګ اعلان یی ورته کړی وو، سره د دی نه چه هغوی د شهادت کلمه ویله، چه لا إله إلا الله محمد رسول الله ده، او لمونځونه یی کول، او اسلام ته یی دعوت هم ورکولو، او همدا راز حال د هغی کسانو هم وو، چه حضرت علی رضی الله عنه په اور باندی قتل کړه.

او ته دا اقرار کوی چه څوک د قیامت نه منکر شی، کافر شو او قتلیږی به، اګر چه لا إله إلا الله وائی، او که څوک د اسلام د یو رکن نه انکار وکړی، نو کافر شو او قتلیږی به، اګر که لا إله إلا الله وائی، نو بیا ولی دا کلمه هغه چا ته فایده نه کوی چه کله د فرعی مسایلو نه انکار وکړی، او چه کله د توحید نه انکار وکړی چه هغه اساس او بنیاد دی، او د انبیاء علیهم السلام مشترک دین دی، نو بیا ورته فایده کوی؟ او شاید ته د دی احادیثو په مطلب پوهه شوی نه ئی.

✱ د اسامه حدیث: چه هغه یو داسی سړی قتل کړه چه داسلام دعوه یی کړی وه، د هغه دا خیال وو چه دغه سړی د ویری او د مال د حفاظت په خاطر دا کلمه وویله، لیکن حکم دا دی چه کله څوک د اسلام اظهار وکړی، نوبیا د هغه د ضررنه ځان ساتل فرض او لازم دی، تر هغه پوری چه د دغی انسان نه د اسلام مخالفت معلوم شوی نه وی، او الله تعالی په دغه هکله دا آیت نازل کړی: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا ضَرَبۡتُمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَتَبَيَّنُواْ﴾ سورة النساء 94 ، ای مؤمنانو کله چه د الله په لار کښی سفر کوئ نو ښه زیر شئ او تحقیق کوئ. نو آیت دلیل دی په دی خبره چه د دغسی انسان د ضرر نه به ځان ساتی، او لټون تلاش او تحقیق به کوی، که چیرته وروسته بیا د دغی انسان نه د اسلام مخالف عمل ثابت شو، بیا به قتلیږی، ځکه که چیرته په قتل نه رسیدای، نو بیا خو د الله له طرفه په تحقیق کولو د امر هیڅ ضرورت نه وو.

او همدا راز د نورو احاديثو معنى او مطلب هم دغه دى، چه كوم ذكر شوه، او دليل پرى د رسول الله ﷺ دا حديث دى: « أَقَتَلْتَهُ بَعْدَ مَا قَالَ: لا إله إلا الله » ، آيا تا قتل كړ وروسته د هغى نه چه لا إله إلا الله يى و ويلى، او رسول الله ﷺ فرمائى : « أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَقُولُوا : لا إِلَهَ إِلا اللَّهُ » ما ته په دى باندى حكم شوى، چه د خلكو سره جنګ وكړم تر هغى پورى چه لا إله إلا الله ووائى، او د خوارجو (باغيانو) په حق كښى يى فرمايلى دى: « أَيْنَمَا لَقِيتُمُوهُمْ فَاقْتُلُوهُمْ » بخارى.
چه په كوم ځاى كښى ورسره مخامخ شوى نو قتل يى كړئ، سره د دى نه چه هغوى په عبادت او ذكر كښى د ټولو نه زيات وو، تر دى چه صحابهٔ كرامو به خپل ځانونو د هغوى په مقابل كښى حقير ګڼل، او علم يى د صحابه وو نه حاصل كړى وو، ليكن دغى كلمى ورته هيڅ فايده ونه كړه، او نه ورته ډيرو عبادتونو فايده وكړه، او نه ورته د اسلام دعوى فايده وكړه، او نه د قتل نه په دغى دعوى باندى بچ شوه، چه كله ترى د اسلام ضد او مخالف عمل صادر شو.
**عبدالنبي :** ته د رسول الله ﷺ د دي حديث څه جواب كوى : چه خلک به په قيامت كى دآدم عليه السلام نه امداد وغواړى، بيا دنوح عليه السلام نه، بيا د ابراهيم عليه السلام نه، او بيا د موسى عليه السلام نه، او بيا د عيسى عليه السلام نه، او ټول به عذرونه پيش كړى، تر دى چه رسول الله ﷺ ته به راشى، نو دا دليل دى چه بيله الله دبل چا نه امداد غوښتل شرک نه دى؟
**عبدالله :** ته د مسئلى په حقيقت باندى پوه شوى نه ئى، او په اشتباه كښى غورځيدلى ئى، ځكه چه د ژوندى انسان نه مدد غوښتل په داسى كار كښى چه قدرت يى پرى رسيږى مونږ د هغى نه انكار نه كوو، لكه څرنګه چه الله تعالى فرمائى : ﴿فَٱسْتَغَٰثَهُ ٱلَّذِى مِن شِيعَتِهِۦ عَلَى ٱلَّذِى مِنْ عَدُوِّهِۦ﴾ سورة القصص 15 ، پس امداد وغوښته د ده نه هغى كس چه د ده د ډلى نه وو، په هغه كس باندى چه دښمن يى وو، او لكه څرنګه چه يو انسان په جنګ كښى د خپلو ملګرو نه په هغه څه كښى كومک غواړى، چه د مخلوق په طاقت كښى وى، ليكن مونږ خو د هغى استغاثى او امداد غوښتلو نه انكار كوو، چه خلک يى د قبرونو والاو نه غواړى، او يا د خلكو نه په داسى شيانو كښى غيبانه امداد غوښتل چه وس يى نه لرى، پس خلک به په قيامت كښى دانبياء عليهم السلام نه مدد غواړى، ليكن دا به ترى غواړى چه الله ته سوال وكړى چه حساب كتاب شروع كړى، او جنتيان د ميدان محشر دويرى نه په امان كښى شى، او دا كار په دنيا او آخرت دواړو كښى جايز دى، چه يو نيک سړى چه ته ورسره كينى او خبره دى منى او ورته و وائى چه زمالپاره د الله تعالى نه دعا وغواړه لكه څرنګه چه د رسول الله ﷺ ملګرو، د نبى ﷺ نه د هغه په ژوند كښى دا مطالبه كوله، ليكن د وفات نه وروسته هيڅ كله صحابه وو د هغه نه دعا نه ده طلب كړى حاشا وكلا.
هغوى د نبى ﷺ نه هيڅ كله د قبر په خواكښى دعا نه ده طلب كړى، بلكه سلفو صالحينو او د دين مخكنيو عالمانو په هغه انسان باندى رد كړى، چه د قبر په خوا كښى الله تعالى رابلى.
**عبدالنبي :** ستا د ابراهيم عليه السلام په واقعه كښى څه نظر دى، كله چه اور ته وغورځيده جبرائيل عليه السلام ورته په هوا كښى ښكاره شو، ورته وائى: آيا ته څه حاجت غواړى؟ نو هغه ورته جواب وركوى، چه ستا نه هيڅ حاجت او كومک نه غواړم، كه چيرته د جبرائيل عليه السلام نه امداد غوښتل او استغاثه شرک وى، نو جبرائيل عليه السلام به ابراهيم عليه السلام ته نه پيش كولى.
**عبدالله :** دا شبهه د مخكنى شبهى په شان ده، او دا قصه صحيح نه ده، او كه چيرته

صحیح هم شی، نو جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته په هغه څه کښی پیشنهاد وکړه، چه قدرت یی لره، ځکه د جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ په حق کښی الله تعالی فرمائی : ﴿عَلَّمَهُۥ شَدِيدُ ٱلۡقُوَىٰ﴾ سورة النجم 5 ، ښودلی دی ده ته (دا قران) سخت قوت والا. که چیرته ورته الله تعالی اجازت کړی وی، چه دا اور واخله مشرق او یا مغرب ته یی غوځار کړه، نو د هغی نه به هم عاجزه شوی نه وی، دا د یو ما لدار انسان مثال لری، چه ډیر مال ورسره وی، او یو محتاج سړی ته د قرض ور کولو پیشکش وکړی، چه خپل حاجت پری پوره کړی، پس دغه محتاج سړی د ده قرض قبول نه کړی، او صبر وکړی تر دی چه الله تعالی ورته رزق ورکړی چه د هیڅ چا احسان پری نه وی، پس آیا دا کارد هغی شرکی استغاثی او امداد غوښتلو په شان کیدای شی چه اوس یی خلک کوی؟

**او په دی باندی هم پوه شه چه د مشرکانو شرک د موجوده وخلکو د شرک نه کم وو، د دری وجو نه:**

**اول**: دا چه هغوی به د راحت او خوشحالۍ په وخت کښی د الله سره شرک کولو، او د مصیبت او د غم په وخت کښی به یی خالص الله تعالی ته چغی او فریاد کوو، لکه څرنګه چه الله تعالی فرمائی : ﴿فَإِذَا رَكِبُواْ فِي ٱلۡفُلۡكِ دَعَوُاْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ فَلَمَّا نَجَّىٰهُمۡ إِلَى ٱلۡبَرِّ إِذَا هُمۡ يُشۡرِكُونَ﴾ سورة العنكبوت 65 ، کله چي پر بیړی (کشتی) باندي سپاره شی په ( پوره ) اخلاص الله را بولي، خو کله چي ( الله ) دوی وژغوري او وچي ته یي ورسوي ناڅاپه ورته شریکان نیسي.

او الله تعالی فرمائی : ﴿وَإِذَا غَشِيَهُم مَّوۡجٞ كَٱلظُّلَلِ دَعَوُاْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ فَلَمَّا نَجَّىٰهُمۡ إِلَى ٱلۡبَرِّ فَمِنۡهُم مُّقۡتَصِدٞۚ وَمَا يَجۡحَدُ بِـَٔايَٰتِنَآ إِلَّا كُلُّ خَتَّارٖ كَفُورٖ﴾ سورة لقمان 32 ، او کله چي دوی (دسمندر) یوه څپه لکه چترونو (یا وریځو) غوندي وپیچي (او پټ کړی) ( نو ) دوی الله رابولي او په پوره اخلاص سره دهغه عبادت کوي، خوهمدا چي دوی وچي ته وژغوري نو یوازي ددوی یوه برخه په سمي لاري پاتي کیږي او زمونږ نښاني دروغ نه بولي پرته له نا شکر کوونکي ژمني (وعده) ماتوونکي څخه.

نو هغه مشرکان چه رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورسره جهاد او قتال کړی وو، هغوی به د خوشحالۍ په وخت کښی الله او غیر الله دواړه رابلل، او د مصیبت په وخت کښی به یی صرف الله رابله، او زمونږ د زمانی مشرکان په سختی او خوشحالۍ دواړو کښی مخلوق رابلی، کله چه یو کس تنګ شی نود یا رسول الله او یا حسین چغی وهی. خو چیرته دی هغه کسان چه په دی مسأله باندی په صحیح توګه پوه شی؟

**دوهمه وجه**: هغی زړو مشرکانو به د الله تعالی سره په راببللو کښی نیکان او د الله تعالی مقربین خلک شریکول، یا به یی انبیاء علیهم السلام رابلل، یا اولیاء کرام، او یا ملایکی، او یا ګتی او ونی، چه هغه هم د الله تابعدار مخلوق دی، د الله تعالی نافرمانی نه کوی، او د دی زمانی خلک د الله تعالی سره هغه کسان رابلی چه هغه اشد او سخت فاسقان وی، نو څوک چه په نیک انسان باندی او یا په ونو او ګتو باندی داسی عقیده ساتی دا ډیره معمولی خبره ده، په نسبت دهغه چا ته چه فاسق فاجر باندی د الوهیت عقیده لری.

**دریمه وجه**: دزړو مشرکانو شرک صرف په توحید الوهیت کښی وو، او په توحید ربوبیت کښی هغوی شرک نه کوو، لیکن موجوده مشرکین په توحید الوهیت او ربوبیت دواړه کښی شرک کوی، دمثال په توګه کله وائی چه طبیعت په دی کائناتو کښی تصرف کوی.

زه په اخير کښې خپله وينا په يوه ضروری خبره او مسأله باندی ختموم، هغه دا چه په دی کښې هيڅ خلاف نشته چه توحيد بايد د زړه په اعتقاد سره وی او د ژبې په وينا سره وی، اود اندامونو په عمل سره، که په دی کښې يو کم شی نو بيا دغه سړی مسلمان نه شی کيدای، که چيرته توحيد وپيژنی او عمل پری ونه کړی نو هغه ضدی کافر دی، لکه فرعون، او ابليس، او په دی مسئله کښې ډير خلک خطا کيږی، او وائی: دا خبره خو حقه ده ليکن مونږ پری قدرت نه لرو، او زمونږ په ملک کښې د هغی کول جايز نه دی، بلکه د ټولو خلکو موافقت په کار دی، چه د شر نه يی بچ شوه، ليکن دغه مسکين بيچاره ته پته نشته، چه اکثر د کفر مشران او امامان، حق پيژنی ليکن د يو عذر د وجی نه يی پريږدی، لکه څرنګه چه الله تعالی فرمائی ﴿ٱشۡتَرَوۡاْ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ ثَمَنٗا قَلِيلٗا فَصَدُّواْ عَن سَبِيلِهِۦٓۚ إِنَّهُمۡ سَآءَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ﴾ سورة التوبه 9 ، دوی دالله دآيتونو په بدل کښې ډيره لږه بيه واخيستله او (ډير خلك يې) دهغه له لياريِ څخه منع كړي دي، بيشكه چي هغه څه چي دوی كوی بد دی.

او که چيرته ظاهرا توحيد عملی کوی ليکن پو هيږی پری نه، او عقيده پری نه ساتی نو دغه انسان بيا منافق دی، دغه بيا د خالص کافر نه ډير نا کاره دی، لکه څرنګه چه الله تعالی فرمائی : ﴿إِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ فِي ٱلدَّرۡكِ ٱلۡأَسۡفَلِ مِنَ ٱلنَّارِ﴾ سورة النساء 145 ، يقينا منافقين به په لاندی طبقه د اور کښی دی.

او دا مسئله به تا ته په هغی وخت کښی ښکاره شی، کله چه ته د خلکو په خبرو کښی سوچ او فکر وکړی، پس څه خلک داسی دی چه حق پيژنی ليکن د دنيا د حرص دوجی نه پری عمل نه کوی، لکه قارون، او يا د منصب د وجی نه لکه هامان، او يا د بادشاهۍ د وجی نه لکه فرعون، او يو شمير خلک داسی دی چه په ظاهرکښی پری عمل کوی، ليکن په پټه پری عمل نه کوی لکه منافقين، کله چه تری تپوس وکړی چه ته په زړه کښی څه عقيده لری، نو معلومات ورته نه وی.

ليکن د دی دوه وو آياتونو په مطلب باندی ځان ښه پوه کړه:

✸ **اولنی آيات**: ﴿لَا تَعۡتَذِرُواْ قَدۡ كَفَرۡتُم بَعۡدَ إِيمَٰنِكُمۡۚ﴾ سورة التوبه 66 ، پلمې (او عذرونه) مه کوئ، بيشكه وروسته له ايمان (راوړلو) څخه كافران شوی يئ.

کله چه تا ته دا خبره معلومه شوه، چه بعضی هغه کسان چه د رسول الله ﷺ په ملګرتوب کښی د روميانو غزا ته تللی وو، د يوی خبری په سبب کافران شول چه هغه يی هم د ټوقو او ساعت تيری په شکل کړی وه، نو هغه کسان چه د دنيا د حرص د وجی نه او ياد منصب د وجی نه، او يا د چا د لحاظ د دوجی نه، د کفر خبری کوی او يا پری عمل کوی، دا د هغه چا نه په کفر کښی ډير لوی دی، چه په ټوقو او ساعت تيری سره د کفر خبری کوی. ځکه چه مسخری کونکی غالبا په زړه کښی هغه عقيده نه لری چه کوم څه د خلکو خندولو لپاره په خوله باندی وائی، او هغه کسان چه د کفر خبری کوی او يا پری د خلکو د ويری او د طمع په خاطر عمل کوی، نو دشيطان وعده يی په ځای کړه لکه څرنګه چه الله تعالی فرمائی : ﴿ٱلشَّيۡطَٰنُ يَعِدُكُمُ ٱلۡفَقۡرَ وَيَأۡمُرُكُم بِٱلۡفَحۡشَآءِۖ﴾ سورة البقرة 268 ، شيطان تاسي ته د فقر او خواری وعده دركوي او په ناوړو كارونو (او بی حيائی) درته امر كوي.

او همدا راز د هغه ويرول (او وعيد) يی په ځای کړ الله فرمائی : ﴿إِنَّمَا ذَٰلِكُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ يُخَوِّفُ أَوۡلِيَآءَهُۥ﴾ سورة العمران 175 ، بيشكه دا شيطان دی چي تاسو د خپل ملګرو څخه ويروي.

او دغی انسان د الله تعالی د وعدی تصديق ونه کړ الله تعالی فرمائی : ﴿وَٱللَّهُ يَعِدُكُم مَّغۡفِرَةٗ

مِّنۡهُ وَفَضۡلٗاۗ ﴾ سورة البقرة 268 ، او الله تاسي ته د خپلي بخښني او فضل وعده کوي.
او د الله تعالى د ويرولو (وعيد) خيال يى ونه ساتى، الله تعالى فرمائى : ﴿فَلَا تَخَافُوهُمۡ وَخَافُونِ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ﴾ سورة العمران 175 ، نو ددوى څخه مه ويريږئ او زما څخه وويريږئ که ايمان لرئ.
ايا د چا چه دا حال وى نو هغه د الله تعالى د دوستى حقدار دى او که د شيطان؟
✸ **دوهم آيت:** الله تعالى فرمائى : ﴿ مَن كَفَرَ بِٱللَّهِ مِنۢ بَعۡدِ إِيمَٰنِهِۦٓ إِلَّا مَنۡ أُكۡرِهَ وَقَلۡبُهُۥ مُطۡمَئِنُّۢ بِٱلۡإِيمَٰنِ وَلَٰكِن مَّن شَرَحَ بِٱلۡكُفۡرِ صَدۡرٗا فَعَلَيۡهِمۡ غَضَبٞ مِّنَ ٱللَّهِ وَلَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٞ ﴾ سورة النحل 106، هر څوك چي دخپل ايمان راوړلو څخه وروسته كافر شو ( د خداى غضب وربانديې دى ) مګر هغه څوك چي زورپرې وكړ شو خو زړه يې په ايمان باندى مطمئن وو، خو هغه څوك چې سينه يې كفر ته پرانيسته، نو پردوى بانديې د الله غضب دى او دوى ته لوى عذاب شته.
پس الله تعالى په دى كسانو كښى هيڅ څوك معذوره نه دى ګڼلى، مګر هغه څوك چه مجبوره كړى شى، او زړه يى په ايمان باندى مطمئن وى، او نور ټول هغه كسان چه د ويرى د وجى نه كفر كوى، يا د طمع او لالچ د وجى نه كفر كوى، او يا د ملك وطن قبيلى او مال د وجى نه كفر كوى، او يا د توقى په خاطر كفر كوى، نو الله تعالى د دوى عذرونه نه قبلوى، او آيت په دى باندى هم دلالت كوى، چه اكراه او زور (زبردستى) صرف د انسان په عمل او وينا كښى راتلاى شى، او د زړه په عقيده كښى اكراه او زبر دستى نه شى راتلاى، او الله تعالى فرمائى : ﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمُ ٱسۡتَحَبُّواْ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا عَلَى ٱلۡأٓخِرَةِ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴾ سورة النحل 107 ، دغه ( عذاب ) له دې كبله دى چي دوى د دنيا ژوند په آخرت بانديې غوره كړى دى، او بيشكه خداى كافرانو خلكو ته لياره نه ښيي.
نو دا خبره واضحه شوه چه عذاب د دوى د عقيدى په وجه نه وو، او نه د جهالت او د دين نه د نفرت په وجه، بلكه سبب د عذاب د دنيا دمحبت دوجى وو چه دوى په آخرت باندى هغى ته ترجيح وركړى وه.
آيا د دي ټولو خبرو نه وروسته دا وخت اوس نه دى را رسيدلى چه ته الله ته راوګرځى، او هغه عقيده پريږدى چه ته پرى مبتلا شوى يى، ځكه چه خبره ډيره خطر ناكه ده لكه چه تا واوريده، او دا ډيره مهمه او عظيمه مسئله ده.
**عبدالنبي :** زه د الله تعالى نه بخښش او معافى غواړم، او الله ته راګرځم، او ګواهى كوم، چه د عبادت حقدار صرف الله تعالى دى، او محمد ﷺ د الله پيغمبر دى، او زه په ټولو هغى باطلو معبودانو باندى كافر كيږم چه ما يى عبادت او بندګى كوله، او د الله نه خواست كوم چه ما په هغى كښى معذوره وګڼى، او معافى راته وكړى، او د رحمت مغفرت او لطف معامله راسره وكړى، او ما په توحيد او صحيح عقيده باندى ثابت قدمه كړى، او الله تعالى دى تا له په نصيحت باندى اجر د ركړى، ځكه چه دين نصيحت دى، او الله دى په دى هم اجر دركړى چه په هغه منكراتو او غلطو عقايدو دى رد وكړه، چه په كوم باندى زه اخته شوى وم، كه چيرته په دغه حالت كښى زه د الله تعالى سره مخامخ شوى وى، نو كامياب شوى به نه وى، هغه دا چه زما نوم عبد النبى وو، اوس زيرى دركوم چه خپل نوم مى په عبد الرحمن باندى بدل كړه.
ليكن اوس زه دا هيله لرم چه ماته بعضى هغه شيان بيان كړى چه خلك پكښى زيات غلطيږى.
**عبدالله :** صحيح ده، غوږ راته كيږده.

✸ د قرآن او سنت په هكله چه كله اختلاف راشى، نو ستا شعار او تګلاره بايد دا نه وى چه

په اختلافي مسائلو پسې لاړ شي، او د فتنې او د غلط تاويل په لټه کې شي، بلکه ته بايد د رشتينو عالمانو شعار او تګلاره ځانه اختيار کړې، هغه کسان چه په متشابه مسائلو کښې فرمائي : ﴿ءَامَنَّا بِهِۦ كُلٌّ مِّنْ عِندِ رَبِّنَا﴾ ، مونږ په دې باندې ايمان لرو دا ټول زمونږ د رب له طرفه دي، او په اختلافي شيانو کښې د رسول الله ﷺ په دې حديث باندې عمل کوی: «دَعْ مَا يَرِيبُكَ إِلَى مَا لا يَرِيبُكَ» أحمد والترمذي ، **ترجمه** : هغه څه پريږده چه په تا په شک کښې غورځوی، او په هغه څه عمل وکړه چه ته پکښې شك نلرې، او په د ې حديث باندې عمل وکړه: «فَمَنِ اتَّقَى الشُّبُهَاتِ اسْتَبْرَأَ لِدِينِهِ وَعِرْضِهِ، وَمَنْ وَقَعَ فِي الشُّبُهَاتِ وَقَعَ فِي الْحَرَامِ» متفق عليه **ترجمه** : څوک چه د شبهاتو او شکمنو شيانو نه ځان وساتی نو ده خپل دين او عزت پاک او خوندی وساته، او څوک چه په شبهو کښې واقع شي، نو هغه په حرامو کې واقع شو. او د رسول الله ﷺ په دې حديث چه فرمائي : «وَالإِثْمُ مَا حَاكَ فِي صَدْرِكَ وَكَرِهْتَ أَنْ يَطَّلِعَ عَلَيْهِ النَّاسُ» مسلم. **ترجمه** : ګناه هغه ده چه ستا زړه يې بده ګڼې، او نه غواړې چه خلک پرې خبر شي. مسلم روايت کوی. او د رسول الله ﷺ په دې حديث چه فرمائي : «اسْتَفْتِ قَلْبَكَ وَاسْتَفْتِ نَفْسَكَ ثَلاثَ مَرَّاتٍ. الْبِرُّ مَا اطْمَأَنَّتْ إِلَيْهِ النَّفْسُ وَالإِثْمُ مَا حَاكَ فِي النَّفْسِ وَتَرَدَّدَ فِي الصَّدْرِ وَإِنْ أَفْتَاكَ النَّاسُ وَأَفْتَوْكَ» أحمد. د خپل زړه او ځان نه تپوس وکړه (درې ځلې يې دا وفرمائل) نيکی هغه ده چه زړه پرې مطمئن کيږی او ګناه هغه ده چه زړه ورته مطمئن نه وی، او دهغی په هکله دځان سره شك ولری، اګر که خلک درله د هغی په حلال والی فتوی هم درکړې.

✱ د خواهشاتو د تابعداری نه ځان وساته ځکه چه الله تعالی ترينه بندګان ويرولی دی، لکه څرنګه چه الله فرمائي : ﴿أَرَءَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ إِلَٰهَهُۥ هَوَىٰهُ﴾ سورة الفرقان 43 ، **ترجمه** : آيا هغه څوك دې وليد، چې د خپل نفس هوس يې خپل معبود جوړ کړ؟

✱ د خلکو او د هغوی د رايو او نظرياتو د تعصب نه ځان وساته، او د مشرانو د غلطو عقيدو او رسمونو د تعصب او تابعداری نه هم ځان وساته، ځکه چه دغه تعصب انسان د حق نه ګرځوی، او حق د مؤمن لپاره د ورک شوی څيز مثال لری هر ځای کښې چه يې پيدا کړی نو هغه يې ډير حقدار دی، الله تعالی فرمائي : ﴿وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّبِعُوا مَآ أَنزَلَ اللَّهُ قَالُوا بَلْ نَتَّبِعُ مَآ أَلْفَيْنَا عَلَيْهِ ءَابَآءَنَآ أَوَلَوْ كَانَ ءَابَآؤُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ شَيْـًٔا وَلَا يَهْتَدُونَ﴾ سورة البقرة 170 ، **ترجمه** : او کله چې مشرکانو ته وويل شي د هغه حکم پيروی وکړئ چې الله نازل کړی دی دوی وايي: نه، بلکه مونږ به د هغه څه پيروي کوو چې خپل پلرونه مونږ په هغه باندي مونديلي دي، آيا که څه هم ددوی پلرونه په څه نه پوهيدل او سمه لاره يي نه وه مونديلي؟

✱ د کفارو سره مشابهت مه کوه، ځکه چه دغه کار د ټولو مصيبتونو سر دی، لکه چه رسول الله ﷺ فرمائي : «مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ» أبو داود. **ترجمه** : څوک چه د کوم قوم سره ځان مشابه کوی نو هغه د هغه قوم د جملې نه دی، ابو داود روايت کوی.

✱ په مخلوق او غير الله باندی توکل او پروسه مه کوه، ځکه چه الله تعالی فرمائي : ﴿وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُۥٓ﴾ سورة الطلاق 3 ، **ترجمه** : څوک چه په الله باندی توکل وکړی نو الله ورله بنه پوره دی.

✱ د الله په نافرمانی او معصيت کښې د مخلوق تابعداری مه کوه، ځکه چه دالله په معصيت کښې د مخلوق تابعداری شرک دی، لکه څرنګه چه رسول الله ﷺ فرمائي : «لاَ طَاعَةَ لِمَخْلُوقٍ فِي مَعْصِيَةِ الْخَالِقِ» الترمذي. **ترجمه** : د مخلوق داطاعت له وجي دخالق ګناه کول روا ندی.

✸ په الله تعالی باندی غلط گمان مه کوه، ځکه چه الله تعالی په حدیث قدسی کښی فرمائی : « **أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِي بِي** » متفق عليه. **ترجمه :** زه دبنده دگمان په وړاندی يم.

✸ د مصيبت د دفع کولو او يا د لری کولو په خاطر، کړی او بندونه په غاړه کښی مه اچوه.

✸ د نظر د دفع کولو په خاطر تعويذونه په غاړه کښی مه اچوه، ځکه چه دغه کار شرک دی، لکه څرنگه چه رسول الله ﷺ فرمائی : « **مَنْ تَعَلَّقَ شَيْئًا وُكِلَ إِلَيْهِ** » الترمذي. چا چه تعويذ يا بل څيز په غاړه کښی واچوه نو هغی ته به وسپارلی شی، امام احمد او ترمذی روايت کوی.

✸ دکانو ونو او د زړو اثارو او د نورو ابادیو د تبرک نه ځان وساته، ځکه چه دا شرک دی.

✸ دبد پالی نيولو اود شومتيا د عقيدی نه ځان وساته، ځکه چه دا شرک دی، عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمائی : « **الطِّيَرَةُ شِرْكٌ، الطِّيَرَةُ شِرْكٌ** » ثلاثًا. أحمد وأبوداود. **ترجمه :** شومتيا او بد فالی نيول شرک دی، دری ځلی يی وفرمايل امام احمد او ابو داود روايت کوی.

✸ د هغو نجوميانو تصديق مه کوه چه دعلم غيب، او دخلکو د خوشحالی او شومتيا (سپيره والی) د علم دعوه کوی، په دی خبرو کښی د دوی تصديق کول شرک دی، ځکه چه په غيبو باندی په غير د الله تعالی نه هيڅوک نه پوهيږی.

✸ د باران نسبت ستورو او موسمی فصلونو ته مه کوه، ځکه دا کار شرک دی، بلکه د باران نسبت صرف الله ته په کار دی.

✸ په غير الله يعنی مخلوق باندی قسمونه مه کوه، اگر چه ډير لوی شان والا هم وی، لکه په پيغمبرانو يا په امانت، اويا په عزت او عهد باندی قسم کول، ځکه چه دا شرک دی، لکه څرنگه چه په حديث کښی راغلی: « **مَنْ حَلَفَ بِغَيْرِ اللَّهِ فَقَدْ كَفَرَ أَوْ أَشْرَكَ** » أحمد وأبو داود. **ترجمه :** چا چه بيله الله نه په بل چا يعنی مخلوق باندی قسم وکړه نو هغه کافر شو، او يا مشرك شو، امام احمد او ابو داود روايت کوی.

✸ زماني هواگانو، لمر، گرمی او يخنی ته کنځلی مه کوه، ځکه چه دا په حقيقت کښی الله تعالی ته کنځلی دی.

✸ چه کله درته تکليف ورسيده نو د (که چيری يا کاشکی) کلمه مه وايه، ځکه چه هغه د شيطان وسوسو او عمل ته دروازه خلاصوی، او همدارنگه دا د الله تعالی په تقدير باندی اعتراض دی، ليکن د مصيبت په وخت کښی داسی وايه: (قدر الله وما شاء فعل)، يعنی الله تعالی د دی فيصله کړی وه او الله تعالی چه څه وغواړی هغه کوی.

✸ او داسی مه وايه چه (په الله دی سلام وی) ځکه چه الله تعالی په خپله سلام دی.

✸ او په قبرونو باندی جماتونه مه جوړوه، ځکه په هغه جمات کښی چه قبر په کښی وي لمونځ کول جايز نه دی، په بخاري او مسلم کښی حديث دی چه عائشه رضی الله تعالی عنها فرمائی : چه رسول الله ص د ځکندن په سخته مرحله کښی وفرمايل : « **لَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى الْيَهُودِ وَالنَّصَارَى اتَّخَذُوا قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ يُحَذِّرُ مَا صَنَعُوا** » . د الله لعنت دی وی په يهودو او عيسايانو باندی، ځکه چه د خپلو پيغمبرانو په قبرونو به يی جماتونه جوړول، او پدی وينا سره رسول الله ﷺ خپل امت د هغی کارونو نه ويروی چه يهوديانو به کول. او عائشة رضی الله عنها فرمائی : که د رسول الله ﷺ دغه وينا نه وی نو خلکو به د هغه قبر

بسکاره کړی او اوچت کړی وی. متفق علیه، او همدا راز رسول الله ﷺ فرمائي : « **إِنَّ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ كَانُوْا يَتْخِذُونَ قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ وَصَالِحِيهِمْ مَسَاجِدَ، فَلَا تَتَّخِذُوْا الْقُبُورَ مَسَاجِدَ فَإِنِّي أَنْهَاكُمْ عَنْ ذَلِكَ** » أخرجه أبوعوانة . یقینا هغه کسان چه ستاسی نه مخکی وو هغوی به د خپلو پیغمبرانو اود نیکانو خلکو په قبرونو باندی جماتونه جوړول، نو تاسی په قبرونو باندی جماتونه مه جوړوئ یقینا زه تاسو د دغی کار نه منع کوم. ابو عوانه روایت کوی.

✸ د هغی موضوعی او دروغو روایاتو او احادیثو تصدیق مه کوه چه دروغجنو خلکو رسول الله ﷺ ته منسوب کړی، او خلك دی ته رابلی چه رسول الله ﷺ یا د نورو نیکانو خلکو په ذات باندی وسیله ونیسی، ځکه چه دغه روایات او احادیث باطل موضوعی او دروغ دی، بعضی د هغی نه په لاندی ډول دی: ۱) « توسلوا بجاهي، فإن جاهي عند الله عظيم» زما په جاه او مرتبه باندی وسیله ونیسئ ځکه چه زما شان او مرتبه د الله په نزد ډیره لویه ده. ۲) « إذا أعيتكم الأمور فعليكم بأهل القبور »، کله چه ستاسو کارونه بند شی، نو تاسی د قبرونو والاؤ نه مدد وغواړی . ۳) « إن الله يوكل ملكًا على قبر كل وليّ يقضي حوائج الناس »، یقینا الله تعالی د هر ولی په قبرباندی پرشته مقرر کړی چه د خلکو حاجتونه پوره کوی. ٤) « لو أحسن أحدكم ظنه بحجر نفعه »، که چیرته یو انسان په کمر یا تیگه باندی هم ښه گمان وکړی نو فایده به ورته ورکړی . (نو دا ټول باطل، موضوعی او دروغجن روایتونه دی ځان تری وساتئ).

✸ د هغی بدعی اجتماعگانو او محفلونو نه ځان وساته، چه خلکو ورته د دینی مناسبتونو لقب ورکړی دی، لکه د رسول الله ﷺ د میلاد، او یا د اسراء او معراج په نوم، او یا د شب برات په نوم، غونډی‌جوړول، ځکه چه دا په دین کښی بدعت او نوی پیداشوی کارونه دی، او د رسول الله ﷺ نه پری هیڅ دلیل نشته، او نه صحابهٔ کرامو دغه عمل کړی چه د نبی ﷺ سره یی مینه او محبت زمونږ نه ډیر زیات وو، او په نیکو عملونو باندی زمونږ نه ډیر زیات حرص ناک وو، او که چیرته په دغی عمل کښی ثواب وی، نو هغوی به ورته زمونږ نه مخکی پری عمل کړی وی.

# داسلام ارکان اوبناګاني
# دشهادت کلمه (لاإله إلا الله)

دا کلمه په دوه ارکانو باندی مشتمله ده : اول : **(لا إله)** چه په هغی د مخلوق نه د عبادت نفی شوی ده ، دوهم : **(إلاّ الله)** چه په هغی کښی فقط د يو الله تعالي لپاره په حقيقيي معنی سره د تولو عبادتونو اثبات دی الله ﷻ فرمائی : ﴿ وَإِذْ قَالَ إِبْرَٰهِيمُ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِۦٓ إِنَّنِى بَرَآءٌ مِّمَّا تَعْبُدُونَ ٢٦ إِلَّا ٱلَّذِى فَطَرَنِى فَإِنَّهُۥ سَيَهْدِينِ ﴾ او په هغی وخت کښی چه ووېلی ابراهيم علي ا لسلام خپل پلار او قوم ته يقينا زه بيزاره يم د هغی معبودانو نه چه تاسو ئی عبادت کوی مګر هغه ذات چه زه ئی پيدا کړی يم نو يقينا هغه به ماته لار ښائی . نو يواځی د الله تعالی بندګی کول نه کافی کيږی بلکه دا پکښی ضرِوری ده چه هغه عبادت به يواځی د الله تعالی لپاره خاص وی ، او توحيد تر هغی پوری نه صحيح کيږی چه تر څو پوری د الله تعالی د وحدانيت او د شرک او د مشرکانو نه د برائت په منځ کښی جمعوالی نه وی راغلی .

په يوه روايت کښی راغلی چه دجنت کنجی او چابی (کيلی) دتوحيد کلمه (لاإله إلاالله) ده، ليکن آيا هرڅوك چه داکلمه ووائی نو هغه د دی حقدار دی چه د جنت دروازه ورته بيرته او خلاصه شی؟

وهب ابن منبه ته ووېلی شوه: آيا د (لاإله إلا الله) کلمه دجنت کيلی نده؟ هغه ووېلی: هو ده، ليکن دهری کنجی لپاره غاښونه وی، که چيری داسی کنجی اوکيلی دی راوړه چه غاښونه ورله وی نو د جنت دروازه به درته خلاصه شی، اوکه چيری دغسی چابی نه وی نوبيا به درته خلاصه نشی.

اودرسول الله ﷺ ډير احاديث ثابت شويدی، چه د دغی کنجی دغاښونو وضاحت يی کړی، لکه دا حديث درسول الله ﷺ: **(من قال: لاإله إلاالله مخلصاً .....)** **ترجمه :** (يعني څوك چه په إخلا ص سره دا کلمه ووائی)، کله فرمائی : **(...مستيقناً بها قلبه ....)** **ترجمه :** چه په زړه کښی يی پری يقين وی، اوپه بعضو روایاتو کښی داسی دی: **(...يقولها حقا من قلبه ....)** **ترجمه :** چه په حقه او دزړه له کومی دا کلمه ووائی، اوداسی نور احاديث هم، يعنی په احاديثو کښی جنت ته ننوتلو شرط دادی چه د دی کلمی په معنی پوه شی او تر مرګه پوری په دی هغی باندی په ثابت قدمه پاتی شی، اوپه بعضی احاديثو کښی راغلی، چه دکلمی طيبی تابعداری به کوی. نو د مخکنی ذکرشوو احاديثو نه بعضو علماء د کلمی طيبی دشرطونو استنباط کړی، چه عملی کول يی لازم اوضروری دی، دی لپاره چه داکلمه دجنت کنجی او کيلی شی، اودغه شرطونه يی دغاښونو په شان وګرځی، اودغه شرطونه په لاندی ډول دی:

**1 د کلمی طيبی په معنی باندی پوهيدل : دا چه د هری خبری لپاره معنی وی** نو دالازمه اوضروری خبره ده، چه دتوحيد دکلمی په معنی باندی داسی پوهه راشی، چه د جهالت منافی او مقابل وی، نو دا کلمه بيله الله نه دبل چا نه الوهيت نفی کوی، او الله تعالی لپاره يی ثابتوی، نو ما سوا د الله تعالی نه بل معبود برحق نشته، او دليل يی دالله تعالی دا قول دی: ﴿ إِلَّا مَن شَهِدَ بِٱلْحَقِّ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴾ سورة الزخرف 86 ، **ترجمه :** مګر هغه څوك چه په حق باندی ګواهی وکړی او هغوی پوهيږی، د حق نه مراد په دی ايت کښی کلمه د توحيد يعنی لاإله إلا الله ده، اورسول الله ﷺ فرمائی « **مَنْ مَاتَ وَهُوَيَعْلَمُ أَنَّهُ لا إِلَهَ إِلا اللَّهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ** » مسلم. **ترجمه :** څوك چه مرشی په داسی حال کښی چه هغه دلا إله إلا الله په معنی باندی پوهيږی هغه به جنت ته داخل شی، مسلم روايت کوی.

**2 يقين چه د شك مقابل اومنافی وی:** يعنی دکلمی طيبی په مراد اومقصد باندی مضبوط اوقوی يقين کول، ځکه چه کلمه طيبه يوه داسی کلمه ده چه شك، ګمان او تردد نه قبلوی، بلکه د مضبوط يقين اوعقيدی تقاضا کوی، لکه څرنګه چه الله تعالی دمؤمنانو په صفت کښی فرمائی : ﴿ إِنَّمَا ٱلْمُؤْمِنُونَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوا۟ وَجَٰهَدُوا۟ بِأَمْوَٰلِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلصَّٰدِقُونَ ﴾ سورة الحجرات 15 ، **ترجمه :** بيشکه ( رښتيني ) مؤمنان هغه کسان دي چي په الله او په پيغمبر يې ايمان راوړ او بيا په شك کښي ونه لويدل، او په خپلو مالونو او ځانونو يې د الله په لياره کښې جهاد وکړ، همدوې دي رښتيني ( او پرهيز ګاران ).

نو یواځې په ژبه باندې ویل کافي ندي، بلکه دزړه یقین ورسره ضروري دی، بلکه که چیرته ورسره یقین نه وي نو دا خو بیا منا فقت دی، او رسول الله ﷺ فرمائي : « أَشْهَدُ أَنْ لا إِلَهَ إِلا اللَّهُ وَأَنِّي رَسُولُ اللَّهِ لا يَلْقَى اللَّهَ بِهِمَا عَبْدٌ غَيْرَ شَاكٍ فِيهِمَا إِلا دَخَلَ الْجَنَّةَ » مسلم. **ترجمه :** زه ګواهي ورکوم چه بېله یو الله نه بل دعبادت وړ (حقدار) نشته، او زه د الله پیغمبر یم، هیڅ یو بنده به نه وي چه دا ګواهي ووايي او شك پکښې ونلري او بیا دالله سره ملا قات سره ملاقات وکړي مګر دا چه جنت ته به داخل شي.

3 **قبلول چه د ردولو مقابل وي :** ي نو کله چه ستا پوهه او یقین راغی نو بیا پکار ده چه د دغي یقیني علم لپاره اثر هم وي ، او هغه د غي کلمي چه کومه تقاضا او غوښتنه ده د هغې قبلول دي یعني په زړه اوژبه باندې دهغه څه قبلول چه دا کلمه یې تقاضا کوي، نو ځوک چه د توحید دعوت قبول نه کړي بلکه رد یې کړي، نو دغه انسان کافر شو، فرق نلري چه دا ردول په سبب دکبر سره وي، او که په سبب دعناد اوحسد سره وي، الله تعالی دهغه کافرانو په باره کښې فرمائي چه دتکبر په وجه یې دتوحید د کلمې نه انکار کړی دی:

﴿إِنَّهُمْ كَانُوٓاْ إِذَا قِيلَ لَهُمْ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ يَسْتَكْبِرُونَ﴾ سورة الصافات 35 ، **ترجمه :** دوی همداسې وو، کله به چې دوی ته وویل شو، پرته له الله څخه بل دعبادت وړ معبود نشته، دوی به تکبر کاوه.

4 **انقیاد اوتابعداري :** او دا د ایمان یو عملي مظهر دی، او دا د الله تعالی د شریعت په عملي کولواو د ناروا اوحرامو کارونو په پرېښودلو باندې حاصلیږي، لکه څرنګه چه الله فرمائي : ﴿وَمَن يُسْلِمْ وَجْهَهُۥٓ إِلَى ٱللَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَقَدِ ٱسْتَمْسَكَ بِٱلْعُرْوَةِ ٱلْوُثْقَىٰ وَإِلَى ٱللَّهِ عَٰقِبَةُ ٱلْأُمُورِ﴾ سورة لقمان 22 ، **ترجمه :** او هر څوك چې خپل ځان الله ته وسپاري او دنيك عمل خاوند وي، بیشکه چې په ټینګه کړی یې لاس لګولی دی او د ټولو کارونو انجام خاص الله لره دی.

(او رسول الله ﷺ فرمائي : (یوکس په تاسو کښې ترهغې پوری مؤمن نه شي کیدلی، ترڅو چه خپل خواهشات زما دراوړی دین تابع نه کړي) اودا پوره او کامله تابعداري ده).

5 **دکلمې طیبې په ویلو کښې رشتینوالي او صداقت :** داسې صداقت چه د دروغو او منافقت خلاف وي، ځکه چه ځوک دا کلمه په ژبه باندې وائي او په زړه کښې یې دروغ ګڼي نو دغه انسان بیا منافق بللې کیږي، او دلیل پرې دالله تعالی دا قول دی:

﴿يَقُولُونَ بِأَلْسِنَتِهِم مَّا لَيْسَ فِي قُلُوبِهِمْ﴾ سورة الفتح 11 ، **ترجمه :** دوی په خپلو ژبو هغه څه وايي چه په زړونوکښې یې نشته.

6 **دکلمې طیبې سره محبت :** مؤمن باید د کلمې طیبې سره مینه او محبت ولري او دکلمې طیبې په غو ښتنه اوتقا ضا باندې باید ډېر په مینه او شوق سره عمل وکړي، او د کلمې طیبې د هغې ویونکو سره به مینه او محبت کوي چه پدې کلمه باندې عمل کوي، او دبنده د محبت علامه د خپل رب سره دا ده، چه یو انسان هغه څه چه الله یې خوښوي غوره او مقدم وبولي، اګر که د ده د خواهشاتو مخالف هم وي، او دالله تعالی او د پیغمبر ﷺ د دوستانو سره دوستي کول، او دهغوی د دشمنانو سره دشمني کول، او د الله تعالی دنبي ﷺ تابعداري کول، او دهغه دهدایت قبلول.

7 په اخلاص سره دکلمې طیبې ویل: چه مقصد یې په دې کلمه سره صرف د الله تعالی رضا وي، لکه څرنګ چه الله تعالی فرمائي : ﴿وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعْبُدُواْ ٱللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ حُنَفَآءَ﴾ سورة البينة 5 ، **ترجمه :** او دوی ته حکم ندی شوی مګر ددی چه په زښت اخلاص سره د الله عبادت وکړي او په عین حال کښې له شرك څخه توحید راګرځیدونکي وي.

اورسول الله ﷺ فرمائي : « فَإِنَّ اللَّهَ قَدْ حَرَّمَ عَلَى النَّارِ مَنْ قَالَ لا إِلَهَ إِلا اللَّهُ يَبْتَغِي بِذَلِكَ وَجْهَ اللَّهِ » البخاري. **ترجمه :** یقینا الله تعالی په اور باندې حرام کړی هغه ځوك چه وائي: پرته یو الله نه بل دعبادت وړ معبود نشته، پداسې حال کې چه په هغې سره دالله مخ (او رضامندي) غواړي.

## د رسالت کلمه (دا ګواهي او شاهدي کول چه محمد ﷺ د الله تعالی پیغمبر دی)

دخلکو نه په قبرونو کښی امتحان اخیستل کیږی، اود دری خبرو پو ښتنه به تری کیږی، چا چه جواب ورکړه کامیاب به شی، او چا چه جواب ورنه کړه نو هلاک او تباه به شی، او پدی سوالونو کښی یو دا دی، چه نبی دی څوک دی؟ اوجواب به نه شی ورکولی مګر هغه څوک چه الله تعالی یی ثابت قدمه کړی، او په دنیا کښی ورته الله تعالی د کلمی طیبی په شرطونو باندی د عمل کولو توفیق ورکړی وی، او د دی شهادت او ګواهی لپاره چه (محمد رسول الله) دی څلور شرطونه دی یعنی د دی لپاره چه دا شهادت او ګواهی په ورځ دقیامت کښی ویونکی ته فایده ورکړی، او هغه په لاندی ډول دی:

**1 د رسول الله ﷺ تابعداری کول په هغه څه کښی چه حکم پری کوی:** لکه څرنګه چه الله تعالی مونږ ته دهغی په تابعداری حکم کړیدی، لکه چه فرمائی : ﴿مَّن يُطِعِ ٱلرَّسُولَ فَقَدۡ أَطَاعَ ٱللَّهَ﴾ سورة النساء 80 ، **ترجمه :** څوک چه د رسول الله ﷺ تابعداری کوی، نو هغه دالله تعالی تابعداری وکړه، پس جنت ته ننوتل دنبی ﷺ په تابعداری او اطاعت پوری تړلی دی، لکه چه رسول الله ﷺ فرمائی : « **كُلُّ أُمَّتي يَدْخُلونَ الْجَنَّةَ إلا مَنْ أَبَى. قَالُوا : يَا رَسُولَ اللَّهِ : وَمَنْ يَأْبَى؟ قَالَ : مَنْ أَطَاعَنِي دَخَلَ الْجَنَّةَ وَمَنْ عَصَانِي فَقَدْ أَبَى** » البخاري، زما ټول امتیان به جنت ته ننوځی، مګر هغه څوک چه انکار وکړی، صحابه و عرض وکړه ای رسول الله: څوک دی چه انکار به وکړی، هغه وفرمائل: څوک چه زما اطاعت کوی هغه به جنت ته ننوځی، اوڅوک چه زما نا فرمانی کوی، نوهغه انکار وکړو. پس څوک چه د رسول الله ﷺ سره محبت کونکی وی نودهغه اطاعت به کوی، ځکه چه دا د محبت ثمره او نتیجه ده، څوک چه د نبی ﷺ د محبت دعوه کوی په غیر داطاعت نه نو هغه دروغجن دی.

**2 په هغه څه کښی د رسول الله ﷺ تصدیق کول چه د هغی خبر یی ورکړی:** نو څوک چه د خپل خواهش او شهوت د وجی نه د رسول الله ﷺ صحیح حدیث دروغ وګڼی، نو هغی د الله تعالی او د نبی ﷺ دواړو تکذیب وکړه، ځکه چه رسول الله ﷺ د دروغ او خطا نه معصوم دی، لکه چه الله تعالی فرمائی : ﴿وَمَا يَنطِقُ عَنِ ٱلۡهَوَىٰٓ﴾ سورة النجم 3 ، **ترجمه :** او (محمد ﷺ) خبری نه کوی دخپلو خواهشاتو نه .

**3 دهغه څه نه ځان ساتل چه رسول الله ﷺ تری منع کړی:** دشرک نه نیولی چه په ټولو کښی لویه ګناه ده، او د نورو لویو تباه کونکو ګناهونو، او همدارنګه د وړو ګناهونو اومکروهه شیانو پوری، د دی ټولو نه ځان ساتلو په اندازه، او د نبی عَلَيْهِ السَّلَام سره د محبت په اندازه په ایمان کښی زیادت راځی، او کله چه ایمان زیات شی نو الله تعالی نیک عملونه په نظر کی ورته ښایسته کوی، کفر، فسق او نور ګناهونه ورته ناکاره ښکاره کوی کوی.

**4 دالله تعالی بندګی به د رسول الله ﷺ په طریقه او نقشه باندی کیدای شی :** د الله تعالی عبادت توقیفی دی، په هغی کښی اجتهاد کول جایز نه دی، بلکه په عبادت کښی د رسول الله ﷺتابعداری واجب او فرض ده، او په دین کی دهیڅ یو کار ایجادول جایز نه دی تر څو پوری چه د رسول الله ﷺنه ثابت شوی نه وی. رسول الله ﷺفرمائی : « **مَنْ عَمِلَ عَمَلاً لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ** » مسلم، چا چه یو داسی عمل وکړ چه زمونږ امر پری نه وی شوی نو هغه مردود دی.

**فائده :** په دی پوه شه چه د رسول الله ﷺ سره محبت کول فرض دی او یواځی محبت کول کافی نه دی بلکه دا ضروری خبره چه هغه به تا ته د ټولو خلکو نه بلکه د خپل ځان نه هم زیات محبوب وی، ځکه چه څوک د چا سره محبت کوی نو هغه غوره ګڼی او د هغه سره موافقه کول غوره کوی، د نبی ﷺ سره په محبت کښی رشتینی انسان هغه دی چه د محبت علامی پکښی ښکاره شی لکه هغه پسی اقتدا کول او د هغه د قولی او فعلی سنتو تابعداری کول، او د هغه حکمونه منل او د نهی نه یی ځان ژغورل او په سختی او اسانتیا کښی او خوښی او نا خوښی کښی د هغه په اخلاقو باندی ځان سمبالول، ځکه چه تابعداری د محبت علامه او ثمره ده او په غیر د اطاعت نه د محبت تصدیق نه شی کیدای.

**او د نبی ﷺ سره د محبت ډیری علامی دی چه ځنی دادی :** د هغه ډیر یادول او درود پری ویل، ځکه چه څوک د چا سره محبت کوی نو هغه ډیر یادوی، د هغه د ملاقات سره شوق ساتل، ځکه چه هر دوست د خپل محبوب د ملاقات سره مینه لری، د رسول الله ﷺ د ذکر په وخت کښی د هغه تعظیم او احترام کول، إسحاق رحمه الله فرمائی / د نبی ﷺ صحابهٔ کرامو د هغه د وفات نه وروسته چه کله به یی هغه ذکر کولو نو دوی به عاجزی کوله، او د بدن ویښته به یی ځیره (شخ) ودریدل، او ژړل به ئی.

د هغه چا سره بغض او دشمنی کول چه د رسول ﷺ سره دشمنی کوی، او د هغه چا نه جدا کیدل چه د رسول الله ﷺ د سنتو خلاف کوی، او د هغه په دین کښی بدعتونه پیداکوی چه هغه منافقین مبتدعین دی، د هغه چا سره محبت کول چه رسول الله ﷺ ورسره محبت کاوه، لکه د رسول الله ﷺ خاندان، د هغه بیبیانی، او د هغه د مهاجرو او انصارو صحابهٔ کرامو سره مینه، او د هغه چا سره دشمنی کول چه څوک د پیغمبر ﷺ د خاندان (آل بیت) او صحابه و سره دشمنی کوی او یا ورته کنځلی کوی، د نبی ﷺ د ښایسته اخلاقو پسی اقتدا کول ځکه چه رسول الله ﷺ په ټولو مخلوقاتو کښی ښایسته اخلاقو والا انسان وو تر دی چه عائشة رضی الله عنها فرمائی : د نبی ﷺ اخلاق قرآن کریم وو یعنی هغه په خپل ځان باندی دا خبره لازمه کړی وه چه هغه کار به کوی چه قران کریم ورته په هغی باندی حکم کړی دی.

**د رسول الله ﷺ صفتونه دادی :** د ټولو خلکو نه ډیر زیات بهادر او زړور انسان وو، او ډیرشجاعت او بهادری به یی په سخت جنګ کښی معلومیدله، او د ټولو نه ډیر زیات سخی وو، او ډیره سخا او کرم به یی د رمضان په میاشت کښی کوله، او د مخلوقاتو لپاره د ټولو نه زیات خیر خوا وو، ډیر صبر ناک وو، هیڅ کله یی د خپل نفس لپاره د چا نه انتقام نه دی اخستی، د الله تعالی په حکمونو کښی ډیر سخت وو، ډیری عاجزی او درنښت (وقار) خاوند وو، د پیغلی جنی نه په حیا کښی ډیر زیات وو، او د خپل اهل بیت په هکله د ټولو خلکو نه ډیر خیرخواه وو، او د ټولو مخلوقاتو نه په رحم کښی ډیر زیات وو، ... او داسی نور صفتونه هم.

اللهم صلِّ وسلم على نبينا وآله وزوجاته وصحابته وتابعيهم ومن تبعهم بإحسان إلى يوم الدين.

## د طهارت
## (د اودس غسل او تیمم مسائل)

لمونځ د اسلام دوهم رکن دی، او بیله اودس نه نه صحیح کیږی، او پاکی په اوبو او یا خاورو باندی حاصلیږی.

**د اوبو قسمونه : ۱)** طاهر یعنی پاکی اوبه: چه دا په خپله هم پاکی وی او بل څیز لره هم پاکونکی وی، او دغه قسم او به بی اودسی لیری کوی او نجاست صفا کوی.

**۲)** پلیتی اوبه: دا هغه اوبه دی چه لږی وی او پلیتی یا نجاست ورسره ګډ شوی وی، او یا ډیری وی خو په خوند رنګ او یا بوی کښی یی تغیر راغلی وی.

**یادونه :** ډیری اوبه په هغه وخت کښی پلیتیږی چه ګندګی ورله د دری صفتونو نه په یو صفت کښی تغیر راولی، رنګ، خوند، آو بوی، او لږی اوبه چه مجرد ګندګی ورسره ګډه شی نو پلیتیږی، او د ډیرو اوبو حد چه د دوو چاټو (قلتینو) نه زیاتی شی چه تقریبا هغه (۲۱۰) لیتره اوبه دی.

**لوښی او سامان :** لوښی ټول پاک دی چه استعمالول یی جایز دی، مګر د سرو او سپینو زرو په لوښو کښی خوراک کول جآیز نه دی، او په دغه لوښو کښی اودس کول صحیح کیږی لیکن سره د ګناه، او د کافرانو د لوښو او جامو استعماول جایز دی، مګر کله چه مونږ ته یی نجاست معلوم شی نو بیا د هغی استعمال جایز نه دی.

**د مړوحیواناتو څرمنی : نجسی دی**، او مړه حیوانات په دوه قسمه دی: **۱)** چه غوښه یی حرامه وی **۲)** چه غوښه یی پاکه وی لیکن حلاله شوی نه وی، او هغه مړ حیوان چه غوښه یی پاکه وی لیکن حلال شوی نه وی نو کله چه د هغی څرمن رنګ کړی شی (وچ شی او پوخ شی) نو بیا د هغی استعمالول په وچو او جامدو شیانو کښی جایز دی لیکن په مایع شیانو کښی یی استعمالول جایز نه دی .

**استنجاء :** د مخی او یا د شا د دوو لارونه د ګندګی صفا کولو ته استنجا ویل کیږی، که چیرته دغه صفائی په اوبو سره وی نو استنجا ورته وائی او که په کاڼو کاغذ او یا په نورو شیانو سره وی نو استجمار ورته وائی، او د استجمار (استنجا) لپاره شرط دا دی چه په پاکو، مباحو، پاکونکو شیانو باندی وی، او په خوراکی شیانو باندی استنجا کول جایز نه دی، په دری کاڼو یا په زیاتو باندی استنجا کول مستحب دی، لیکن د غټو او وړو بولو د خارجیدلو په وخت کښی استنجا کول فرض دی.

کله چه یو انسان قضاء حاجت وکړی نو په غیر د ضرورت نه ورته په همدغی حالت پاتی کیدل جایز نه دی، په ګدرونو، لارو، په سیورو، د میوه دارو و نو لاندی، قضاء حاجت کول او یا په خلاصه فضا کښی قبلی ته مخ کول ناروا دی.

د هغه چا لپاره چه د قضاء حاجت اراده لری جایز نه دی چه داسی شیان د ځان سره بیت الخلا ته ننباسی چه د الله تعالی ذکر په کښی وی، او د قضاء حاجت په وخت کښی خبری کول، په ښی لاس د شرمګاه مسه کول، او په ابادی کښی قبلی ته مخ کول هم ناروا دی، او په پرینځلو او صفائی کولو کښی د شمیر طاقوالی، او همدا راز په اوبو او کاڼو دواړو باندی استنجا کول مستحب دی.

**مسواک :** په نرم مسواک سره لکه د (اراک) د ونی په لرګی سره دخولی صفائی کول مستحب دی، او د لمانځه، تلاوت، اودس، د خوب نه د راپورته کیدو په وخت کښی، مسجد یا کور ته د ننوتلو په وخت کښی، او یا د خولی د صفا کولو لپاره د مسواک استعمالول بیا سنت مؤکد دی، د مسواک د استعمال په وخت په اوداسه کښی په ښی طرف باندی شروع

کول مستحب دی، او د هغې شیانو په صفا کولو کښې چه مستحب نه وی د چپ لاس استعمالول ښه کار دی.

**داودس فرضونه :**

**داودس فرضونه شپږ دی: ۱)** دمخ پریمنځل چه خوله او پوزې ته پکښې اوبه اچول هم شامل دی. **۲)** د ګوتو نه تر څنګلو پورې دلاسونو پریمنځل. **۳)** دسر مسحه کول سره د غوږونو. **٤)** د ګټیو (بجلکو) پورې د ښپو پریمنځل. **٥)** په ترتیب سره د اندامونو پریمنځل. **٦)** متصل او په پرله پسې توګه د اندامونو پریمنځل، یعنې چه دومره تأخیر پکښې رانه شې چه مخکې اندام پکښې وچ شې.

**داودس سنت طریقې :** د مسواک استعمالول، د ورغوو پریمنځل، خولې اوپوزې ته په اوبو اچولوکښې مبالغه او زیادت کول، مګر په هغه وخت کښې چه روژه وی، د ږیرې او ګوتو خلالول، دغوږونو مسحه کول، دښې اندام پریمنځل مخکښې د چپ نه، او درې کرتې د هر اندام پریمنځل، په ښې لاس باندې خولې ته اوبه اچول او په چپ لاس باندې پوزې ته او به اچول، د اندامونو سولول (مښل)، پوره اودس کول، او د اودس نه وروسته دعاء ویل.

**د اوداسه واجبات :** د اودس په ابتداء کښې بسم الله ویل، او د هغه چا لپاره درې کرتې د لاسونو پریمنځل د ورغوو پورې چه د شپې د خوب نه راپاڅې، او دا په هغې وخت کښې چه کله خپل لاسونه د اوبو په لوښې کښې داخلوی.

**د اوداسه مکروهات :** په ډیرو یخو او یا ډیرو ګرمو اوبو باندې اودس کول، د درې کرتې نه زیات د یو اندام پریمنځل، د اندامونو نه د اوبو څنډل، او د اندامونو وچول جایز دی، د چینې په مینځ کښې غسل کول.

**یادونه:** په خوله کښې د اوبو د اچولو په وخت کښې د اوبو ښورول ضِروری دی، او د پوزې منځ ته د تنفس د لارې د اوبو داخلول هم ضروری دی.

**د اوداسه شرعی طریقة :** اودس او نور عبادتونه بیله نیت څخه نه صحیح کیږی، لکه څرنګه چه رسول الله ﷺ فرمائی : یقینا دار او مدار دعملونو په نیت سره دی، او یقینا دهر سړی لپاره هغه څه دی چه نیت یې ورله کړی وی، بخاری روایت کوی، او د نیت کولو ځای زړه دی او په ژبه باندې به یې نه وائی: (ځکه چه دابدعت دی) بیا به بسم الله ووائی، او درې کرتې به لاسونه پریمنځی، بیا به په یو لاس درې کرتې خولې او پوزې ته اوبه واچوی، بیا به مخ درې کرتې پریمنځی، اندازه یې: د سرد ویختو د شنو کیدو د ځای نه نیولی دزنې د لاندې حصې پورې په اعتبار داوږدوالی سره، اود یو غوږ نه نیولی تر بل غوږه پورې په اعتبارد عرض سره، او خیلې ږیرې ته به اوبه رسوی که چیرته ګڼه وی، او که رنګې (سپکه) وی نوبیائی وینځل لازم او ضروری دی، بیابه خپل لاسونه تر څنګلو پورې درې کرتې پریمنځی، بیا به سر د مخ د حد نه نیولی تر څټ پورې مسحه کړی، اودواړه سبابی ګوتې به د غوږونو په سورو کښې داخلې کړی، او په لویو ګوتو به د غوږونو ظاهری طرف مسحه کړی، بیا به خپلې ښپې درې واری د ګټو (بجلکو) سره پریمنځی.

یادونه: ږیره که چیرته رنګې (سپکه) وی نوبیا د ږیرې لاندې د پوستکې پریمنځل واجب دی، او که ګڼه وی نو بیا به د ږیرې ظاهری طرف پریمنځی.

او بیا به دا دعاء ووائی: ( أشهد أن لا إله إلاالله وحده لا شریک له وأشهد أن محمداً عبده ورسوله)، زه ګواهی کوم چه پرته یو الله نه بل دعبادت وړ معبود نشته، چه واحد لاشریک

ذات دی، او گواهي کوم چه محمد ﷺ دالله تعالی بنده او پیغمبر دی.
**په موزو باندی مسحه کول :** موزی د ښپو لباس دی چه د څرمن یا د بل شی نه جوړیږی، او که چیرته دغه لباس د وړیو نه جوړ شوی وی نو بیا ورته جورابی ویل کیږی، او په موزو باندی مسح کول صرف د وړوکی بی اودسیٔ په حالت کښی جایز دی.
**اود مسحی کولو شرطونه دا دی :** ۱) چه د کامل طهارت په حالت کښی به یی موزی اغوستی وی (چه د دوهمی ښپی د پریمنځلو نه ئی وروسته موزی په ښپو کړی وی). ۲) چه دغه طهارت په اوبو سره حاصل شوی وی. ۳) چه د ښپو د کومو ځایونو پریمنځل فرض وی هغه یی پټ کړی وی. ٤) مباحی یعنی حلالی وی. ٥) چه د دغی موزو اصلی ماده پاکه وی.
**په پټکی باندی مسحه کول :** په پټکی باندی دلاندی شرطونو موافق هم مسحه کول جائز دی: ۱) چه دغه پټکی د سړی لپاره وی. ۲) چه ټول سر یی پټ کړی وی ۳) چه مسحه د وړوکی بی اودسیٔ له امله وی. ٤) چه دغه طهارت په اوبو سره حاصل شوی وی.
**په پوړنی او لوپټه باندی مسحه کول :** په پوړنی او لوپټه باندی مسحه کول دلاندی شرطونو موافق جائز دی: ۱) چه دغه پوړنی د ښځی لپاره وی. ۲) چه د مری یا غاړی د لاندی طرف نه چاپیر (راتاو) شوی وی. ۳) چه دغه مسحه د وړوکی بی اودسیٔ له امله وی. ٤) چه دغه طهارت په اوبو سره حاصل شوی وی. ٥) چه ټول سر یی پټ کړی وی.
**د مسحی موده :** د مقیم لپاره یوه شپه او ورځ، او د مسافر لپاره دقصر موده یعنی (85) کیلومتره مسافه ده، چی دری ورځی او دری شپی دی.
**د مسحی ابتداء :** اوموده یی د مسحی د کولو نه شروع کیږی د سبا ورځی د همدغی وخت پوری (٢٤) ساعته.
**د موزو هغه مقدار چه مسح پری کیدای شی :** د ښپو د گوتو نه نیولی تر پنډو پوری او د موزو اکثره حصه باید مسحه شی، او د دواړو لاسونو په گوتو باندی به مسحه کوی په داسی حال کښی چه گوتی به یی خوری کړی وی.
**فائده :** که چیرته دسفر په وخت کښی څوک مسحه وکړی، اوبیا مقیم شی، اویا په کور کښی مسحه وکړی لیکن بیا مسافر شی، او یا د مسحی په ابتداء کښی شکی وی، نوپدی ټولو حالاتو کښی یی حکم د مقیم دی.
**په پټی باندی مسحه کول :** پټی په اصل کښی د هغی دوه و لرگو نه عبارت ده چه د هډوکی د ترلو لپاره تری کار اخستلی کیږی، چه په هغی باندی مسحه کول دلاندی شرطونو موافق جائز ده : ۱) چه انسان ورته ضرورت او حاجت ولری. ۲) چه د حاجت د ځای نه پکښی باید تجاوز ونه کړی. ۳) چه د دغه ځای په مسحه کولو او د اوداسه د نورو اندامونو په پریمنځلو کښی موالات (پرله پسی والی) وکړی، که چیرته دغه پټی د زخمی ځای نه تجاوز کړی وی نو بیا د دغی ځای نه د پټی لری کول ضروری دی، او که چیرته د ضرر نه ویریده نو بیا پری مسحه کول جایز دی، نارینه او ښځه پدی حکم کښی برابر دی.
**څو فایدی :** غوره دا ده چه په دواړو موزو باندی غبرگ مسحه وکړی شی په غیر د تقدیم د ښی ښپی نه ✸ د موزو په لاندی او وروستنی برخی مسحه کول جائز نه ده ✸ د مسحی په ځای د موزو پریمنځل او یا د مسحی تکرارول مکروهه کار دی ✸ د پټکی او لوپټی (پوړنی) په اکثره برخه مسحه کول فرض دی.

**داودس ماتونکی شیا ن :**
**هغه په دری قسمه دی : ۱)** هغه څه چه دانسان د دوه وو لارو نه خارج شي، لکه دهواء یا باد، منی، تشی اوډکی بولی، اود مذی (سپینو اوبو) خارجیدل. **۲)** دعقل دسره تلل، په خوب سره وی او که په بی هوشۍ سره وی، مگر په ناستی یا په ولاړه باندی معمولی پرکاره کیدل، کوم ضرر نه لری. **۳)** ددوو لارو نه بغیر دبدن دبلی حصی نه د تشو او ډکو بولو خارجیدل. **٤)** د بدن نه د یو نجس شی په کثرت سره خارجیدل (په غیر د تشو او ډکو بولو نه) لکه وینه شوه او یا داسی بل شی. **٥)** د اوښ د غوښی خوړل. **٦)** او ځینی شیان داسی دی چه دعلماء په کښی اختلاف دی، لکه قی کول، اود وینی خارجیدل، په لاس باندی د عورت بیله کوم حائل مسحه کول، او په شهوت سره او بیله کوم حائل سره دښځی یا سړی مسحه کول، د اسلام نه مرتد کیدل، او مړی له غسل ورکول، لیکن په دی حالاتو کښی اودس کول غوره دی چه د اختلاف نه پری ووځی.

که د یوه سړی په طهارت کښی یقین وی، او په بی اودسۍ کښی یی شک وی، اویا د دی په عکس باندی وی، نو عمل به په یقین باندی کوی، چه هغه مخکی والی دی، که بی اودسی مخکی وی نوحکم یی دبی اودسۍ دی، او که طهارت مخکی وی نوحکم یی د طهارت دی.

**غسل او هغه شیان چه غسل فرضوی :**
**هغه شیان چه غسل پری فرضیږی : ۱)** په وینه باندی او یا په خوب کښی په خوند سره د بدن نه د منی وتل. **۲)** دزنانه سره جماع کول اگرکه انزال یی هم ونه شی. **۳)** چه کله یو کافریا یو مرتد اسلام راوړی. **٤)** دحیض د وینی وتل. **٥)** د نفاس د وینی وتل.**٦)** چه کله یو مسلمان مړ شی.

**د غسل فرضونه :** د ټول بدن پریمنځل دغسل په نیت، او د خولی او پوزی دننه پریمنځل.
**دکامل غسل مسنونه طریقه : ۱)** په زړه کښی نیت کول. **۲)** بسم الله ویل. **۳)** دری کرتی دلاسونو پریمنځل د مړوندونو پوری. **٤)** دجنابت نه وروسته دعورت یا شرمگاه پریمنځل یعنی استنجاء کول. **٥)** اودس کول. **٦)** په سرباندی دری کرتی په لپه اوبه اچول، چه د ویښتو بیخونه پری لانده شی اوبیا د هغی خلالول.**۷)** بیا په ټول بدن باندی اوبه اچول.
**۸)**په لاسونو باندی د بدن مښل اوسولول. **۹)** په ښی طرف باندی شروع کول.

که چیرته ویښته ډیر گڼ وی، نو په دغی صورت کښی د ویښتو لاندی پوستکی ته د اوبو رسول فرض دی، اوکه چیرته یی کونځۍ کړی وی نو د هغی خلاصول فرض ندی، او په غسل کښی په ښی طرف باندی شروع کول مستحب دی، او که چیرته په غسل سره د لوی او وړوکی طهارت نیت وکړی، نو د دواړو لپاره کافی کیږی.

**کله چه یو انسان بی اودسه وی نو په هغی باندی دری شیان حرام دی : ۱)** په غیر دغلاف اوپردی نه د مصحف (قران کریم) مسحه کول. **۲)** لمونځ کول فرضی وی او که نفلی. **۳)** دبیت الله شریف طواف.

**اوپه جنب باندی د دغو دریو شیانو نه علاوه : ٤)** د قرآن کریم تلاوت. **٥)** په جمات کښی وخت تیرول هم حرام دی. د جنب لپاره په غیر د اوداسه نه خوب کول، اود غسل کولو په وخت کښی د اوبو په استعمال کښی اسراف کول مکروه کار دی.

**د تیمم مسایل :**

**د تیمم د روا کیدو شرطونه : ۱)** د اوبو نشتوالی **۲)** په پاکو، حلالو، خاورو باندی تیمم وهل چه دوړه او غبار لرونکی وی، او سوی نه وی.

**د تیمم ارکان :** په ټول مخ باندی مسحه کول، بیا تر مړوندونو پوری په دواړو لاسونو مسحه کول، ترتیب، او په متصله توګه په مخ او لاسونو باندی مسحه کول.

**د تیمم ماتونکی شیان : ۱)** هر هغه شی چه اودس ماتوی. **۲)** د اوبو پیدا کیدل د هغه چا لپاره چه د نشتوالی له امله یی تیمم وهلی وی. **۳)** د عذر زایله کیدل لکه څوک چه د مرض له امله تیمم وکړی او بیا روغ شی.

**د تیمم سنت طریقی : ۱)** د لوئی بی اودسی په حالت کښی په ترتیب او پرله پسی توګه تیمم کول. **۲)** په اخری وخت کښی تیمم کول. **۳)** د تیمم نه وروسته د هغی دعاء ویل چه د اوداسه نه وروسته ویل کیږی.

**په تیمم کښی مکروهه کار :** د یو ځل نه زیات په زمکه پاندی د لاسونو وهل.

**د تیمم مسنونه طریقه :** طریقه یی داده چه اول به په زړه کښی نیت کوی او بیا به بسم الله ووائی، بیا به یو کرت (یو ځلی) په دواړو لاسونو باندی پاکه ځمکه ووهی، او خپل مخ به پری مسحه کړی، او بیا به د لاسونو ورغوی مسحه کړی یعنی د ښی ورغوی شاه به د چپ ورغوی په دننه طرف باندی مسحه کړی، او همداراز د چپ ورغوی شاه به د ښی ورغوی په دننه طرف باندی مسحه کړی.

**د نجاست صفا کول :**

نجاست په دوه قسمه دی : ۱) عینی : دا هغه دی چه پاکول ئی ممکن نه وی ، لکه خنزیر که دا هر څومره پریمنځی نو نه پاکیږی . ۲) حکمی : دا هغه پلیتی ده چه په عارضی طور په هغه ځای باندی راغلی وی چه اصل ئی پاک وی لکه جامی زمکه ، او دا په لاندی ډول دی :

| أعیان | | دهغی حکم |
|---|---|---|
| حیوانات هغه بیا په دوه قسمه دی: | نجس | لکه سپی خنزیر او هغه شیان چه د دی دواړو نه پیداکیږی، هغه مرغان چه غوښه یی نه خوړل کیږی، او یا هغه حیوانات چه غوښه یی نه خوړل کیږی او د پشوګانو نه لوی وی، او د دی قسم حیواناتو متیازی، خوشایان، لاړی، خولی، منی، شوده، بلغم او قی پلیت او نجس دی. |
| | پاک حیوانات | ۱) انسان: د هغی خوله، لاړی، شوده، او بلغم پاک دی، همدا راز د انسان ټول اجزاء پاک دی، مګر د انسان تش او ډک بول (مذی) او (ودی) یعنی هغه اوبه چه د شهوت له امله د بدن نه وځی او همدا راز د انسان وینه دا ټول نجس او پلیت دی. |
| | | ۲) هغه حیوانات چه غوښه یی خوړلی کیږی، نو د هغی بولی، خوشیان، شوده، خوله، لاړی، بلغم او قی پاک دی. |
| | | ۳) هغه حیوانات چه د هغی نه ځان ساتل ګران وی، لکه خر، پشو او مږه شوه او یا داسی نور حیوانات شوه نو د دی حیواناتو لاړی او خوله صرف پاکه ده. |
| مړه شیان | | ټول پلیت او نجس دی مګر د انسان جثه پاکه ده او همدا راز ماهی ملخ، او هغه شیان چه وینه نه لری لکه لړم، میږی او ماشی شوه (دا شیان چه په کوم ځای باندی مړه شی نو هغه ځای پری نه پلتیږی). |
| جامدشیان | | جامد شیان ټول پاک دی لکه زمکه، ګټی، او داسی نور، لیکن د مخکینو شیانو عناصر تری مستثنی دی. |

**ځنې فايدې :** ويني، زوې، او نوونه پليت دي، ليکن د لمانځه په حالت کښې د پاکوحيواناتو لړ او معمولي وينه څه پروا نه کوي. ✸ د دوو شيانو وينه پاکه ده ١) ماهی. ٢) کومه وينه چه د حلال شوي مال په غوښه او يا د هغې په رګونو کښې پاتې شوې وي. ✸ هغه غوښه چه دژوندي حيوان نه غوڅه شوې وي، همدا راز علقه يعني ټينګه وينه چه په رحم کښې وي او يا مضغه يعني هغه حمل چه څلويښت ورځې ورباندې تيرې شوې وي دا ټول نجس او پليت دي ✸ د نجاست لرې کول نيت ته ضرورت نه لري که باران يې صفا کړي نو هم پاک شوه ✸ د پليت څيز مسه کول په لاس سره او پاېرې ګرځيدل اودس نه ماتوي، ليکن د هغې لرې کول فرض دي، او همداراز هغه نجاست چه جامو او يا بدن ته رسيدلې وي نو د هغې صفا کول هم فرض دي ✸ نجاست او پليتي د لاندې شرطونو موافق صفا کيداى شي: ١) په پاکو اوبو باندې د هغې پريمنځل. ٢) د پريمنځل شوي څيز زبيښل که زبيښل يې امکان لري ٣) که چيرته په پريمنځلو باندې پليتي نه صفا کيږي نو بيا به يې سولولو (مښلو) باندې صفا کوي. ٤) که چيرته د سپي نجاست او پليتي وي نو هغه به اوه کرتې پريمنځلې شي او اتم کرت به يې په خاورو او يا په صابون باندې پريمنځې.

**ځنې لارښوونې :** ✸ که چيرته دغه نجاست مائع وي لکه تشې بولې او يا د وينې په شکل کښې وي، نو هغه به په اوبو سره صفا کولې شي، تر دې چه د نجاست بوې او رنګ ختم شي، او که جسم لرونکي پليتي وي لکه لوې بولې نو بيا به د هغې ماده او اثرات حتمي له منځه وړي. ✸ او که چيرته د پليتۍ صفا کيدل په غير د اوبو نه ممکن نه وو نو بيا يې په اوبو باندې پريمنځل فرض دي ✸ او که چيرته د پليتۍ او نجاست ځاى ورک شي نو بيا به هغه احتمالي ځاى ټول پريمنځل کيږي تر دې چه پليتي په يقيني توګه له منځه ولاړه شي. ✸ څوک چه د نفلي لمونځ لپاره اودس وکړي نو فرضي لمونځ پرې هم کولاى شي. ✸ څوک چه اوده شي او يا ترې باد خارج شي نو استنجاء کول پرې فرض نه دي ځکه چه هوا پليته نه ده، ليکن که د لمانځه اراده لري نو صرف اودس کول پرې فرض دي.

## د هغې وينې أحکام چه په طبيعي طور د ښځو نه خارجيږي (حيض او استحاضه)

| مسأله | حکم |
|---|---|
| د حيض لږ اوډير عمر | کم عمر چه حيض پکښې شروع کيږي نه (٩) کاله دي او که د دې نه مخکې وينه شروع شي نو هغه استحاضه ده او ډير عمر له يې حد نشته |
| د حيض لږه موده | د حيض لږه موده يوه ورځ او شپه (٢٤) ساعته دي که د دې نه کمه شي نو هغه بيا استحاضه ده |
| د حيض ډيره موده | پنځلس ورځې دي او که د دې نه زياتې شي نو هغه بيا استحاضه ده |
| د دوو حيضونو منځ کښې د طهر موده | ديارلس ورځې دي که د ديارلسو ورځو د پوره کيدو نه مخکښې وينه وينې نو هغه بيا استحاضه ده[1]. |

---

١) حيض : هغه طبيعي وينه ده چې دصحت او روغتيا په حال کی دولادت څخه بغير وځی.
استحاضه : هغه وينه ده چه د مرض د وجی نه رابهيږی.
د حيض او استحاضه په منځ کښی فرق . ١) د حيض وينه ټنګه وی چه تور والی ته مايله وی او د استحاضه وينه خالصه سره وی لکه د پوزی د وينی په شان . ٢) د حيض وينه ټنګه وی چه قطری پکښی

| | |
|---|---|
| د ښځو غالبه موده د حيض | شپږ او يا اوه ورځی دی. |
| د ښځو غالبه موده د طهر | درويشت او يا څلرويشت ورځی دی. |
| ايا د حمل په دوران کښی چه کومه وينه ده هغه د حيض وينه ده؟ | کله چه د حامله زنا نه نه خړه وينه او يا زيړه وينه خارج شی نو هغه حيض نه دی بلکه استحاضه ده. |
| ښځی په خيل طهر باندی څنګه پوهيږی ؟ | ښځی په دوه قسمه دی: 1) په خړيښناکی اود سپينو اوبو په وتلو سره چه د طهر په وخت کښی يی وينی 2) د شرمګاه په وچيدو سره چه وينه بنده شی |
| هغه سريښناکی او سپين رنګی تنګی اوبه چه د ښځی د شرمګاه نه وځی | که چيرته شفافی سپين رنګی او خړيښناکی اوبه وی نو هغه پاکی دی، او که چيرته سره يا خړ رنګی او يا زير رنګی وينه وی نو هغه پليته ده، او په دی تولو سره اودس ماتيږی، او که په دوامداره توګه بهيږی نو دا بيا استحاضه ده. |
| هغه خړه او زيړه وينه چه د ښځی د شرمګاه نه خارجيږی | که چيرته د حيض سره متصل وی مخکی او يا وروسته نو دا بيا حيض دی او که د حيض سره متصل نه وی نو هغه بيا استحاضهدی. |
| هغه زنانه چه د حيض ورځی يی معلومی وی او بيا د حيض د ورځو د پوره کيدو نه مخکی پاکه شی | کله چه وينه بنده شی او طهر يی وليده نو دغه زنانه بيا پاکه ده اګر که د دغی زنانه د عادت ورځی پوره شوی هم نه وی |
| د خپلی معلومی مودی نه د حيض مخکی کيدل او يا وروسته کيدل | هغه وينه چه د حيض صفت پکښی وی نو هغه حيض دی، که په هر وخت کښی وی ليکن په دی شرط چه د دوارو وينو په منځ کښی د ديارلسو ورځونه زياتی وی چه د طهر لږه موده ده، او که د هغی نه کمی وی نو هغه بيا استحاضه ده. |
| کله چه د حيض وينه د خپل معلوم عادت نه زياته او يا کمه شی | هغه د حيض وينه ده ليکن په دی شرط چه د پنځلسو ورځو نه زياته نشی چه د حيض اکثره موده ده . |
| کله چه د يوی ښځی نه ډيره موده وينه بهيږی لکه مياشت او يا د دينه زيات | د هغی څلور حالاته دی: 1) هغه زنانه چه په هره مياشت کښی د حيض وخت او د ورځو شمير پيژنی، نو دغه زنانه به د حيض د ورځو د شمير او وخت موافق کښينی، برابره خبره ده که وينه يی معلومه وی او که نه وی. 2) هغه زنانه چه په هره مياشت کښی ورته د حيض وخت معلوم وی ليکن د ورځو شمير ورته معلوم نه وی، نو دغه زنانه به په همغو ورځو کښی شپږ او يا اوه ورځی کښينی چه د حيض غالبه موده ده. 3) هغه زنانه چه چه د حيض د ورځو حساب ورته معلوم وی ليکن په مياشت کښی ورته د حيض د راتلو وخت معلوم نه وی، نو هغه به د هری اسلامی هجری مياشت په ابتداء کښی د حيض د ورځو په مقدار کښينی. |

## د هغی وينی أحکام چه په طبيعی توګه د ښځو نه خارجيږی

| مسأله | حکم |
|---|---|
| کله چه يوه ښځه بچی و زيږوی او وينه ونه وينی | نو دغه ښځه نفاسه نه ده، نه پری غسل فرض دی، او نه يی روژه ماتيږی. |
| کله چه ښځه د ولادت علامی ووينی | هغه وينه او اوبه چه ښځه يی د ولادت نه څه موده مخکی وينی هغی باندی د نفاس احکام نه جاری کيږی بلکه هغه استحاضه ده. |
| هغه وينه چه د ولادت په دوران کښی د ښځی نه خارجيږی | دغه د نفاس وينه ده اګر که ماشوم لا پيدا شوی نه وی، او يا د ماشوم څه برخه خارج شوی وی، نو په دغی زنانه باندی هغه لمونځ فرض نه دی چه د ولادت په دوران کښی پری راغلی وی. |

---

وی او د استحاضه وينه نری وی لکه د زخم نه چه وينه بهيږی. ۳) د حيض وينه غالبا بد بويه وی ، او د استحاضه وينه د نورو عادی وينو په شان بوی لری.

او په حائضه زنانه باندی دا شيان حرام دی : په فرج کی جماع کول، طلاق ورکول، لمونځ کول ، په جمات کښی وخت تيرول ، د قرآن تلاوت ، روژه، طواف، او داسی نور.

| | |
|---|---|
| د نفاس ورځې به د کوم وخت نه حسابیږی؟ | کله چه ماشوم د مور د خیټی نه په کامله توګه خارج شی. |
| د نفاس کمه موده څومره ده ؟ | د لږی مودی لپاره یی حد نشته که چیرته بچی وزیږوی او بیا سمدستی وینه بنده شی غسل پری فرض دی او لمونځ به کوی او د څلویښتو ورځو پوره کیدو ته به انتظار نه کوی. |
| د نفاس ډیره موده څومره ده؟ | د نفاس ډیره موده څلویښت ورځې دی که د دی نه زیاته شی نو څه اعتبار ورله نشته، لیکن غسل پری فرض دی او لمونځ به کوی مګر که د حیض د هغی زمانی سره موافق شی چه د حمل نه مخکی وه نو بیا دغه وینه د حیض ده. |
| که چیرته یوه ښځه دوه بچی وزیږوی او یا د هغی نه زیات | نو د اول بچی د پیدا کیو نه به وروسته د نفاس ورځې حسابیږی. |
| هغه وینه چه د ماشوم د غورځیدونه وروسته خارجیږی | که چیرته د دغی ضائع شوی ماشوم عمر (۸۰) ورځې وی او یا دهغی نه کمی نو دغه بیا داستحاضه وینه ده، او که چیرته (۹۰) ورځې وی نو دغه بیا د نفاس وینه ده، او که د (۸۰) او (۹۰) ورځو په منځ کښی وی نو حکم بیا د ماشوم د خلقت سره تعلق لری، که چیرته د انسان شکل او خلقت پکښی پوره شوی وی نو دغه بیا د نفاس وینه ده او که پوره شوی نه وی نو هغه بیا داستحاضه وینه ده. |
| کله چه یوه ښځه د څلویښتوورځو په منځ کښی پاکه شی او بیا د څلویښتو ورځو د پوره کیدو نه مخکښی دوباره وینه جاری شی | هغه طهر چه ښځه یی د څلویښتو ورځو په منځ کښی وینی نو هغه طهر (پاکوالی) دی غسل به کوی او لمونځ به کوی که چیرته د څلویښتو ورځو د پوره کیدو نه مخکی بیا وینه جاری شی نو د هغی حکم د نفاس دی، او همدا حکم دی تر څو چه څلویښت ورځې پوره شوی نه وی. |

**څو لاربښودنې :**

- په مستحاضه باندی (هغه ښځه چه د مرض د وجه نه تری وینه جاری وی) فرض دی چه لمونځ وکړی، لیکن د هر لمانځه لپاره به نوی اودس کوی.
- کله چه یوه ښځه د لمر د پناه کیدو نه مخکی د حیض او نفاس نه پاکه شی نو په هغی باندی د دغی ورځې د ماسپښین او د مازیګرد دواړه لمونځونو ادا کول فرض دی او کله چه د سهار د لمانځه نه مخکی پاکه شی نو هغه به د دغی شپې د ماښام او ماخوستن دواړه لمونځونه کوی.
- کله چه په یوه زنانه باندی د لمانځه وخت راشی، او بیا د لمانځه د ادا کولو نه مخکی حائضه شی او یائی نفاس شروع شی نو د دغی لمانځه قضائی پری فرض نه ده.
- په هغه ښځه باندی چه د حیض او یا د نفاس نه پاکه شی د غسل کولو په وخت کښی د ویښتو خلاصول فرض دی، او کله چه د جنابت نه غسل کوی نو بیا پری د کونځو خلاصول فرض نه دی
- د حائضې او نفاس والا زنانه سره جماع کول حرام دی، لیکن د نور بدن نه یی خوند اخستل جایز دی .
- د مستحاضې زنانه سره جماع کول مکروه دی لیکن د سخت ضرورت په وخت کښی جایز دی.
- د مستحاضې زنانه لپاره د هر لمانځه لپاره غسل کول مستحب دی که چیرته د هغی نه عاجزه شی نو بیادی د ماسپښین او مازدیګر لمانځه لپاره یو غسل وکړی او د ماښام او ماخوستن لمونځونو لپاره دی بل غسل وکړی، او د سهار لمانځه لپاره دی ځانله غسل وکړی، نو په یوه شپه او ورځ کښی دا دری غسلونه شوه، که چیرته د دی طاقت یی هم نه وی نو بیادی په ورځ کښی یو کرت غسل وکړی او د هر لمانځه لپاره دی تازه اودس کوی، او که د دی نه هم عاجزه وی نو بیا دی د هر لمانځه لپاره تازه اودس کوی او بیا دی لمونځ کوی.

* د ښځې لپاره د حج او يا د عمرې د ادا كولو لپاره، او يا د روژې د پوره كولو په خاطر په مؤقت طور د حيض د بندولو په خاطر د دواء استعمالول جايز دي، ليكن په دې شرط چه د دوا استعمال ورته ضرر نه رسوي.

**په اسلام ک د ښځې مرتبه او درجه :**

د الله تعالى په نزد باندې ښځه لكه د نارينه په اجر ثواب او فضيلت كښې د ايمان او نيك عمل په مقداربرخه لرې ، رسول الله فرمائى «إِنَّمَا النِّسَاءُ شَقَائِقُ الرِّجَالِ» أبو داود ﷺ يقينا زنانه د نارينه و خويندې دي ، د هغې لپاره په اسلام كښې د خپل حق طَلب كول اويا د ظلم د دفع كولو پوره حق وركړى شوى دى ، او دا ځكه چه ديني خطاب زنانه او نارينه دواړو ته شامل دى مگر هغه چه په هغې كښې د زنانه او نارينه په مابين كښې تفرقه ذكر شوې وي ، ليكن دغسې احكام نسبتا نورو پورې ډير كم دي ، ځكه چه شريعت د زنانه او نارينه دواړو د پيدايښت د خاصيتونو او د طاقتونو ډير لحاظ ساتلى دى الله تعالى فرمائى ﷻ: ﴿أَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ﴾. ايا نه پوهيږي هغه ذات چه پيداكول كوي او هغه باريك بين او خبر دار دى ، نو د زنانه لپاره ځانګړې وظيفې دي او د نارينه لپاره ځانګړې نو د يو لپاره د بل په وظايفو كښې هر قسم مداخلت كول د زندګۍ توازن ته سخت زيان رسوي ، بلكه زنانه ته په خپل كور كښې دننه د نارينه برابر امتيازات او ثوابونه وركړى شوي ، لكه څرنګ چه د اسماء بنت يزيد په روايت كښې راغلي چه هغې رسول الله ﷺ ته تشريف راوړه چه هغه د خپلو صحابه كرامو په مابين كښې ناست ؤ ،نو وئې فرمايل : زما پلار او مور دې ستا نه قربان شي ، زه د ټولو زنانو له خوانه تاته د يو وفد په شكل كښې راغلې يم ، او خپل ځان پوهه كوم زما نفس دې ستانه قربان شي ، نشته كومه زنانه په شرق او غرب كښې زما په راتلو علم لرې او كه نه مګر هغه هم زما د نظر په شان راى لرى ، يقينا ته الله تعالى په حقه سره نارينه او زنانه ټولو ته راليږلى ئې نو مونږ په تا او ستا په الله باندې ايمان راوړه ، او زمونږ د زنانو ټولنه ستاسو په كورونو كښې رابندې كړې شوې ناستې دي ، او ستاسو د شهوت پوره كونكې او ستاسو داولادونو ساتونكې دي ، ليكن ستاسو د نارينو ټولنه په مونږ باندې د جمعې اود جمع په لمونځونو ، د مريضانو په په پوښتنه ، او جنازو ته په حاضريدو ، اود حجونو په ادا كولو او په جهاد كښې د حصې په اخستلو باندې غوره شوې ده ، او كله چه په تاسو كښې يو سړى د حج عمرې او جهاد لپاره وځي نو مونږ ستاسو د مالونو حفاظت كوو او ستاسو لپاره جامې جوړوو ، او ستاسو د اولادونو تربيه كوو ، نو ايا مونږ ستاسو سره په اجر كښې شريك نه يو يا رسول الله ﷺ ؟ راوي وائى : نو رسول الله ﷺ ملګرو ته مخ راواړو او وئې ويل : « هَلْ سَمِعْتُمْ مَقَالَةَ امْرَأَةٍ قَطُّ أَحْسَنَ مِنْ مَسْأَلَتِهَا فِي أُمْرِ دِيْنِهَا مِنْ هَذِهْ؟ » ايا تاسو د يوې زنانه نه چيرته هم يوه داسې وينا اوريدلې ده چه د دې زنانه د سوال نه بهتره وي په باره د دين كښې ؟ نو صحابه كرامو وويل : چه زمونږ دا خيال نه ؤ چه يوه زنانه به هم داسې تپوس او سوال ته لاره پيدا كوي ، نو بيا نبي ﷺ هغې ته مخ واړوه او ئې ويل : « انْصَرِفِي أَيَّتُهَا الْمَرْأَةُ، وَأَعْلِمِي مَنْ خَلْفَكِ مِنَ النِّسَاءِ أَنَّ حُسْنَ تَبَعُّلِ إِحْدَاكُنَّ لِزَوْجِهَا، وَطَلَبَهَا مَرْضَاتَهُ، وَإِتْبَاعَهَا مُوافَقَتَهُ تَعْدِلُ ذَلِكَ كُلَّهُ» چه زه لاړه شه اى زنانه او ټولې زنانه خبرې كړه چه په تاسو كښې د يوې زنانه خايسته وخت تيرول او ګذران كول د خپل خاوند سره ، او د هغې رضامندى طلب كول ، او د هغې سره موافقت كول د دغې ټولو كارونو سره برابر ثواب لرى . راوى

فرمائی : چه هغه زنانه په داسی حال کښی واپس شوه چه د خوشحالئ له کبله ئی د الله حمد او لوئی و یله ، امام بیهقی د دی حدیث روایت کړی دی . او همدا راز یو ځل زنانه راغلی رسول الله ﷺ ته نو وئی فرمایل : نارینه د الله په لار کښی د جهاد کولو د فضیلت له امله زمونږ نه ډیر مخکی شو ایا زمونږ لپاره یو داسی کار نشته چه مونږ پری د مجاهدینو د دغی عمل ثواب حاصل کړو ؟ نو رسول الله ﷺ وفرمایل : :« مِهْنَةُ إِحْدَاكُنَّ فِي بَيْتِهَا تُدْرِكُ عَمَلَ الْمُجَاهِدِيْنَ فِي سَبِيْلِ اللهِ» البيهقي. چه په خپل کور کښی د یوی زنانه مهنت او کار کول د الله په لار کښی د مجاهدینو د عمل برابر ثواب راګیروی . بلکه د یوی خپلوانی زنانه سره احسان کول ډیر لوی اجر او ثواب لری ، لکه څرنګ چه رسول الله ﷺ فرمائی: « مَنْ أَنْفَقَ عَلَى ابْنَتَيْنِ أَوْ أُخْتَيْنِ أَوْ ذَوَاتَي قَرَابَةٍ يَحْتَسِبُ النَّفَقَةَ عَلَيْهِمَا حَتَّى يَكْفِيَهُمَا اللّٰهُ أَوْ يُغْنِيَهُمَا مِنْ فَضْلِهِ كَانَتَا لَهُ سِتْرًا مِنَ النَّارِ » أحمد والطبراني. ، څوک چه په خپلو دوه لورګانو او یا په خویندو او یا په نورو خپلوانو زنانه و باندی صدقه وکړی او په هغی باندی د صدقی کولو ثواب طلب کړی تر هغی پوری چه الله ورله کافی شی او یا ئی په خپل فضل باندی مالداره کړی نو هغه به ورله د جهنم د اورنه سپر او پرده وګرځوی امام احمد او طبرانی روایت کړی دی .

## د ښځو ځنی احکام

✸ د هغی نارینه لپاره جایز نه دی چه د داسی زنانه سره ځانله شی چه محرم ئی نه وی لکه څرنګ چه رسول الله ﷺ فرمائی : لَا يَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ إِلاَّ مَعَ ذِي مَحْرَمٍ » متفق عليه. هیڅکله دی نه ځانله کیږی نارینه د یوی ښځی سره مګر په داسی حال کښی چه محرم ورسره وی

✸ دزنانه لپاره په جمات کښی لمونځ کول جایز دی ، لیکن که چیرته د فتنی ویره وی نو بیا ورله په جمات کښی لمونځ کول مکروهه دی ، عائشة رضي الله عنها فرمائی : که چیرته رسول الله هغه کارونه لیدلی وی چه دی زنانه و پیدا کړیدی نو د جماتونو نه به ئی داسی منع کړی وی لکه څرنګ چه د بنی اسرائلو زنانه د جماتونو نه منع شوی وی . متفق علیه . او لکه څرنګ چه د نارینه لمونځ په جمات کښی ډیر لوی اجر لری نو همدا راز د ښځو لمونځونه په کور کښی ډیر لوی اجر لری ، « رسول الله ﷺ ته یوه ښځه راغله او هغه ته ئی وویل: ای د الله تعالی پیغمبره زه ستا سره لمونځ کول خوښوم، نو هغه ورته وویل چه زه خبر یم چه ته زما سره لمونځ کول خوښ ګنی لیکن ستا لپاره په خپله کوټه کښی لمونځ کول د حجری نه ډیر غوره دی، او په خپله حجره کښی درله لمونځ کول د کور د ساحی نه ډیر بهتر دی، او په خپل کور کښی درله لمونځ کول د قوم (کلی) د جمات نه ډیر غوره دی، وَصَلاتُكِ فِي مَسْجِدِ قَوْمِكِ خَيْرٌ لَكِ مِنْ صَلاتِكِ فِي مَسْجِدِي » او د قوم په جمات کښی درله لمونځ کول زما د جمات نه ډیر غوره دی

✸ په زنانه باندی تر هغه وخت پوری حج او عمره نه فرض کیږی چه تر څو پوری محرم پیدا نکړی ، او په غیر د محرم نه ورله سفر کول جایز نه دی ، لکه څرنګ چه رسول الله ﷺ فرمائی : « لاَ تُسَافِرِ امْرَأَةٌ فَوْقَ ثَلاثِ لَيَالٍ إِلاَّ مَعَ ذِي مَحْرَمٍ » متفق عليه. زنانه به د دری ورځونه زیات سفر نه کوی مګر د خپل محرم سره .

✸ د ښځو لپاره د قبرونو زیارت کول او د جنازو رخصتول ناروا دی لکه څرنګ چه رسول الله ﷺ فرمائی : :« لَعَنَ اللَّهُ زَوَّارَاتِ الْقُبُورِ »، « قالت أم عطية رضي الله عنها : نُهِينَا عَنْ اتِّبَاعِ

الْجَنَائِزِ وَلَمْ يُعْزَمْ عَلَيْنَا » مسلم. « الله تعالى دى د قبرونو په زيارت كونكو ښځو باندى لعنت وكړى »، « ام عطية رضي الله عنها فرمائى : چه مونږ د جنازو نه منع شوى يو، ليكن تاكيد ئى راباندى نه دى كړى »

✸ د زنانه لپاره په غير د تور رنګ نه د خپل د سر وېښته رنګول جايز دى په دى شرط چه د غوښتونكى لپاره پكښى دوكه نه وى .

✸ په زنانه باندى د خپلى هغى حصى او جايداد نه ميراث وركول واجب دى چه الله تعالى ورله مقرر كړى دى ، او د هغى نه وركول پرى حرام دى ، لكه څرنګ چه د رسول الله ﷺ نه راغلى چه چه هغه فرمائى : « مَنْ قَطَعَ مِيراثَ وَارِثِهِ ؛ قَطَعَ اللهُ مِيرَاثَهُ مِنَ الجَنَّةِ يَومَ القِيَامَةِ » ابن ماجه. « څوک چه خپل وارث د ميراث نه محروم كړى نو الله تعالى به ئى په ورځ د قيامت كښى د جنت د ميراث نه محروم كړى ».

✸ په خاوند باندى د خپلى ښځى نفقه واجب ده چه هغه د هغى شيانو نه عبارت ده چه استغنا ترى نشى كيدلاى لكه خوراک سكل لباس د اوسيدو ځاى الله تعالى ﷻ فرمائى : ﴿لِيُنفِقْ ذُو سَعَةٍ مِّن سَعَتِهِۦ وَمَن قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهُۥ فَلْيُنفِقْ مِمَّآ ءَاتَىٰهُ ٱللَّهُ﴾ خرچ دى وكړى خاوند د پراختيا د طاقت (مال) خپل نه هغه څوک چه تنګه وى په هغى باندى روزى نو خرچ دى وكړى د هغى مال نه چه وركړى دى ده ته الله تعالى . او كه چيرته د خاوند والا نه وى نو بيا د هغى په پلار وررور او اولاد باندى نفقه فرض او واجب ده ، او كه رشته دار ورله نه وى نو بيا په نورو عامو خلكو باندى د هغى نفقه فرض ده لكه څرنګ چه په حديث كښى راغلى : «السَّاعِي عَلَى الأَرْمَلَةِ وَالمِسْكِينِ كَالمُجَاهِدِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوْ كَالذِي يَقُومُ اللَّيْلَ ويصومُ النَّهَارَ » متفق عليه د بى خاونده زنانه او د مسكنانو كفالت كونكى او مددګار د الله په لار كښى د جهاد كونكى او يا دهغى انسان په شان فضيلت او اجر لرى چه د شپى عبادت كوى او د ورځى له خوا روژه وى .

✸ ښځه د كوچنى بچى په تربيت ډيره حقداره ده چه تر څو پورى ئى واده نه وى كړى ، او چه تر څو پورى دغه ماشوم د مور په تربيت كښى وى نو پلار به ورته نفقه وركوى .

✸ د زنانه لپاره په سلام باندى مخكى والى مستحب عمل نه دى او خاصكر په هغه وخت كښى چه ځوانه وى او يا د فتنى خطره وى .

✸ د هغى لپاره د شرمګاه د وېښتو تراشول او د ترخګونود وېښتو خيژول او د هرى جمعى په ورځ ورله د نوكونو غوڅول مستحب او غوره دى ، او د څلويښتو ورځو نه زيات د هغى پريخودل مكروهه عمل دى .

✸ او د زنانو لپاره نمص يعنى د وروځو وېښته خيژول ناروا او حرام دى لكه څرنګ چه رسول الله ﷺ فرمائى : « لَعَنَ اللهُ النَّامِصَةَ والمتنمِّصَةَ» أبو داود. د الله تعالى لعنت دى په هغى زناه چه د وروځو وېښته خيژوى او يا ئى د بل نه طلب كوى .

✸ **غمرازى او ماتم كول :** د ښځى لپاره په غير د خپل خاوند نه په بل چا باندى د درى ورځو نه زيات غمرازى او ماتم كول ناروا دى، او په خپل خاوند باندى به څلور مياشتى او لس ورځى د غم اظهار كوى، او د احداد يعنى د غمرازئ په موده كښى په ښځه باندى فرض دى چه د ښايست او خوشبوئى نه ډډه وكړى، لكه زعفران، د سرو زرو كالى اچول اګر كه ګوته (انګشترى) هم وى، او ډولى جامى به نه اغوندى لكه سرى او يا زيړى، همدا راز نكريزى، رنګونه (مكياج) او رانجه به هم نه استعمالوى، او همدا راز

خوشبودار تیل به هم نه استعمالوی، او د نوکونو غوخول او یا د ویښتو لری کول ورله جایز دی، او په هغی کور کښی به عدت تیروی چه خاوند یی پکښی وفات شوی وی، د کور بدلول او یا د کور نه وتل ورله په غیر د عذر نه جایز نه دی ، او د خپل کورنه به په غیر د ضرورته نه اوځی او که ضرورت پیښ شی نو د ورځی به خپل حاجت پوره کوی.
✹ د ښځی لپاره په غیر د عذر نه د سر ویخته تراشول ناروا او حرام دی ، کمول ورله جایز دی په دی شرط چه د نارینه سره پکښی مشابهت نه راځی ، لکه څرنګ چه په حدیث کښی راغلی : «لَعَنَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ الْمُتَشَبِّهَاتِ بِالرِّجَالِ مِنْ النِّسَاءِ» الترمذي. رسول الله ﷺ په هغو زنانو باندی لعنت ویلی دی چه خپل ځان د نارینو سره مشابه کوی ، او یا پکښی د کافرانو ښځو سره ماشابهت نه راځی لکه څرنګ چه رسول الله ﷺ م فرمائی : «وَمَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ» أبو داود. څوک چه د کوم قوم سره ځان مشابه کوی نو هغه د هغوی د جملی څخه دی .
✹ د یوی زنانه لپاره دا واجب دی چه کله د خپل کور نه وځی چه خپل ټول ځان په داسی چادری او بورقه باندی پټ کړی چه لاندی شرطونه پکښی وی : ۱) چه ټول بدن ئی پټ کړی وی ۲) چه هغه په خپله زینت او خایست نه وی ۳) ډبله وی اوباید چه شفافه نه وی ٤) پراخه او ازاده وی باید تنګه نه وی ٥) خوشبوئی او عطر پری نه وی استعمال شوی ٦) د نارینه د جامو او لباس سره باید مشابهت ونه لری ۷) د کافرانو ښځو د لباس سره مشابه نه وی ۸) د شهرت لباس نه وی ، او د هغی لباس اغوستل حرام او ناروا دی چه په هغی کښی د انسان یا د بل حیوان عکس وی ، لکه څرنګ چه په دیوال باندی د هغی ځړول ، یا پری د دیوال پناه کول او خرڅول هم حرام دی .
**او د یوی زنانه عورت د بل چا سره په دری قسمه دی : ۱)** خاوند : چه هغی ته د خپلی ښځی ټول بدن ته کتل جایز دی ۲) زنانه او محرم نارینه : د هغوی لپاره د ښځی هغی ځایونو ته کتل جایز دی چه غالبا ښکاره وی لکه مخ ، ویخته ، ورمیږ او غړی ، لاسونه ، پنډی ، ښپی ، او یا داسی نور . ۳) نور عام پردی نارینه : د هغوی لپاره د زنانه هیڅ یو اندام ته کتل جایز نه دی ، مګر د ضرورت په وخت کښی ورته کتل جایز دی ، لکه د هغی سره د نکاح د طلب کولو او یا د علاج په وخت کښی او یا داسی نور ځایونه .
ځکه چه د زنانو فتنه په مخ کښی ده لکه څرنګ چه فاطمة بنت المنذر رضي الله عنها فرمائی : مونږ به خپل مخونه پټول . حاکم د دی حدیث روایت کړی دی . او عائشة رضي الله عنها فرمائی : كَانَ الرُّكْبَانُ يَمُرُّونَ بِنَا وَنَحْنُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ مُحْرِمَاتٌ فَإِذَا حَاذَوْنَا سَدَلَتْ إِحْدَانَا جِلْبَابَهَا مِنْ رَأْسِهَا إِلَى وَجْهِهَا فَإِذَا جَاوَزُونَا كَشَفْنَاهُ. أبو داود. سپاره خلک به زمونږ په خوا کښی تیریدل په داسی حال کښی چه مونږ به د رسول الله ﷺ سره د احرام په حالت کښی وُنو کله چه به مونږ ته نږدی شو نو په مونږ کښی به هری زنانه خپله چادری د سر نه په مخ باندی را زوړنده کړه نو کله چه به زمونږ نه تیر شو نو مونږ به بیا خپل مخونه ښکاره کړه .
✹ **د عدت قسمونه : ۱) حامله زنانه** : د حاملی زنانه عدت که د طلاق له امله وی او که د خاوند دوفات له امله وی هغه د بچی زیږول دی. **۲) هغه ښځه چه خاوند یی وفات شوی وی** : نو د هغی عدت څلور میاشتی او لس ورځی دی. **۳) هغه ښځه چه طلاقه شوی وی لیکن حیض پری راځی** : نو د هغی عدت دری حیضه دی، او د دغی ښځی عدت د دریم حیض نه په پاکیدو سره پوره کیږی. **٤) هغه مطلقه ښځه چه حیض پری نه راځی** : نو د دغی ښځی عدت دری میاشتی دی.

او هغه ښځه چه رجعی طلاق ورکړی شوی وی نو د عدت په حالت کښی ورله ضروری دی چه د خپل خاوند سره پاتی شی او د خاوند لپاره جایز دی چه د دغی ښځی هغه ځایونه ووینی چه کوم یی خوښ وی، او خلوت (ځانله کیدل) ورسره هم جایز دی کیدای شی چه الله تعالی د دواړو په منځ کښی اتفاق راولی.

اوښځی ته رجوع کول په وینا باندی هم حاصلیږی لکه ښځی ته داسی ووائی: ما تاته رجوع وکړه، او په جماع کولو سره هم حاصلیږی: او په رجوع کولو کښی د ښځی رضایت شرط نه دی.

✱ ښځه په خپل اختیار نکاح نشی کولی لکه څرنګ چه رسول الله ﷺ فرمائی : « أَيُّمَا امْرَأَةٍ نَكَحَتْ بِغَيْرِ إِذنِ وَلِيِّهَا فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ » أبو داود. هره زناه چه په غیر د ولی ( سرپرست ) د اجازی نه نکاح وکړی نو نکاح ئی فاسد او باطل دی .

✱ په ښځی باندی د جعلی ویختو لګول حرام او ناروا دی ، لکه څرنګ چه په بدن کښی ورله د خالونو لګول حرام دی ، او دا دواړه کارونه د کبیره ګناهونو له جملی څخه دی لکه څرنګ چه رسول الله ﷺ فرمائی : « لَعَنَ اللَّهُ الْوَاصِلَةَ وَالْمُسْتَوْصِلَةَ ، وَالْوَاشِمَةَ وَالْمُسْتَوْشِمَةَ » متفق علیه. الله تعالی دی لعنت وکړی په هغی زنانه باندی چه په خپله ویخته وصلوی او یا ئی د وصلولو طلب کوی او یا خالونه لګوی او یا د خالونو د لګولو طلب کوی .

✱ په ښځی باندی په غیر د یو سبب نه د خپل خاوند نه د طلاق طلب کول حرام دی لکه څرنګ چه رسول الله ﷺ فرمائی : : « أَيُّمَا امْرَأَةٍ سَأَلَتْ زَوْجَهَا الطَّلاقَ مِنْ غَيْرِ مَا بَأْسٍ فَحَرَامٌ عَلَيْهَا رَائِحَةُ الْجَنَّةِ » أبو داود. « هره ښځه چه په غیر د کوم جنجال نه د خپل خاوند نه طلاق وغواړی نو د جنت بوی پری حرام دی »

✱ په ښځی باندی په نیکی کښی د خپل خاوند تابعداری واجب او فرض ده او بیا په خاصه توګه چه کله ئی خپلی بشتری ته راوبلی لکه څرنګ چه رسول الله ﷺ فرمائی « إِذَا دَعَا الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ إِلَى فِرَاشِهِ فَأَبَتْ أَنْ تَجِيءَ ، فَبَاتَ غَضْبَانَ ؛ لَعَنَتْهَا الْمَلائِكَةُ حَتَّى تُصْبِحَ » متفق علیه.

« کله چه یو سړی خپله ښځه خپلی بشتری (بستر) ته راوبلی او هغه د راتلو نه انکار وکړی تر سهاره پوری پری ملایکی لعنت وائی »

✱ دښځو لپاره د عطرو استعمالول حرام دی چه کله یو هیړی چه په لاره کښی ورسره پردی سړی مخامخ کیږی ، لکه څرنګ چه رسول الله ﷺ فرمائی : : « إِنَّ الْمَرْأَةَ إِذَا اسْتَعْطَرَتْ ، فَمَرَّتْ عَلَى الْقَوْمِ لِيَجِدُوا رِيحَهَا ، فَهِيَ كَذَا وَكَذَا ؛ يَعْنِي زَانِيَةً » أبو داود. یقینا کله چه یوه زنانه عطر استعمال کړی او بیا په خلکو باندی تیریږی نو هغه زناکاره ده .

## لمونځ

**اذان او اقامت :** د نارينه وو لپاره په محل د اقامت کښې اذان او اقامت فرض کفائی د ی، او د مسافر او ځانله لمونځ کونکی لپاره سنت دی، او د زنانه و لپاره مکروه دی. او د وخت د داخليدو نه مخکی اذان کول صحيح نه دی، مگر د سهار اول اذان د نيمی شپی نه وروسته صحيح کيږی.

**د لمانځه شرطونه :** ۱) اسلام ۲) عقل ۳) تميز ٤) اودس او پاکوالی سره د طاقته ٥) دوقت داخليدل، د ماسپښين وخت د زوال نه شروع کيږی تر دی چه د هر شی سوری د هغی په اندازه شی، او د مازديگر وخت د ماسپيخين د اخر وخت نه شروع کيږی، تردی چه لمر زيړ شی، ليکن دا غوره وخت دی، او د ضرورت وخت د لمر د پناه کيدو (لويدو) پوری دی، او د مابنام وخت د لمر د پناه کيدو نه نيولی تردی چه د اسمان په کنارو کښی سوروالی ختم شی، او د ماخوستن لمونځ د دغه وخت نه شروع کيږی ترنيمی شپی پوری، او د ضرورت وخت د صبح صادقه پوری دوام لری، او په اول وخت کښی لمونځ کول بهتر دی، مگر د ماخوستن لمونځ او د گرمی په موسم کی د ماسپښين لمونځ.او د سهار وخت د لمر د راختلو پوري دوام لری.

٦) په داسی جامه باندی دعورت پټول چه پوستکی پکښی نه ښکاری.

۷) د نجاست او گندگی نه د بدن جامو اود ځای پاکوالی، اوکه پداسی حال کښی يی لمونځ وکړو چه په بدن باندی يی نجاست اوگندگی وی ليکن ده ته معلومه نه وی، اويا ورته معلومه وی ليکن بيا تری هير شی نو لمونځ يی صحيح دی، او که په لمانځه کښی ورته معلومه شی نو صفا دی کړی او لمونځ دی پوره کړی، او په ټوله زمکه باندی لمونځ کول جائزدی، مگر مقبره او قبرستان، حمامونه، د اوښانو په انډړ او غوجل کښی، اوپه عامه لاره کښی.۸) قبلی ته مخ گرځول سره د طاقته.۹) په زړه کښی نيت کول (ليکن په خوله يی ويل بدعت دی).

**دلمانځه ارکان څوارلس دی:** ۱) په فرضی لمانځه کښی قيام کول (ودريدل)، چه کله د هغی طاقت لری .۲) تکبير تحريمه.۳) د سورة فاتحی لوستل. ٤) په هر رکعت کښی رکوع کول.

٥) د رکوع نه وروسته پورته کيدل. ٦) د رکوع نه وروسته په اطمنان او اعتدال سره ودريدل. ۷) په اوو اندامونو باندی سجده کول.۸) د دوه و سجدو په مينځ کی کښيناستل. ۹) په اطمنان او سکون سره د دغی فرضونو ادا کول.۱۰) په وروستنی قاعده کښی د التحيات لله ويل. ۱۱) وروستنی قاعده (ناسته). ۱۲) په وروستنی قاعده (ناسته) کښی په نبی ﷺ باندی درود ويل. ۱۳) سلام گرځول. ١٤) په ترتيب سره د دغی فرضونو او ارکانو ادا کول.

اولمونځ په غير د دی فرضونو نه نه پوره کيږی، او د يو رکن په پريښودو سره رکعت باطليږی، په قصد سره وی اوکه په سهوه سره.

---

[1] **د عورت بيان :** د انسان شرمگاه او هغی شی ته عورت ويلی کيږی چه انسان له تری حيا ورځی، ليکن په دی ځای کښی د هغی عورت بيان کيږی چه د هغی د پټولو نه په غير لمونځ او طواف نه صحيح کيږی، نو د هغی نارينه عورت چه اوه کلنی ته رسيدلی وی صرف دوه شرمگاهونه دی، او د هغی نارينه عورت چه لس کلنی ته ورسيږی د نامه نه نيولی تر زنگنانو پوری دی، او په لمانځه کښی د ازادی او بالغی ښځی ټول بدن عورت دی ما سوا د مخ، لاسونو او ښپو نه چه د هغی پټول ورله مکروه دی مگر په هغه وخت کښی چه پردی او نامحرمه سړی موجود وی، نو بيا ورله د هغی پټول هم فرض دی، کله چه يوه ښځه په داسی حال کښی لمونځ او يا طواف کوی چه مټی يی ښکاره وی نو عبادت يی صحيح نه دی بلکه باطل دی، او مغلظه عورت صرف د انسان مخکنی او وروستنی شرمگاه ته ويلی کيږی او د هغی پټول په هر حالت کښی فرض دی که لمونځ وی او که بل حالت وی، او په غير د ضرورته يی ښکاره کول مکروه دی اگر که انسان ځانله او يا په تورتم (تياره) ځای کښی هم وی، او خپل خاوند ته او يا د ضرورت په وخت کښی لکه علاج او ختنه (سنتگری) په وخت کی د عورت ښکاره کول جايز دی.

**دلمانځه واجبات اته دی : ۱)** د تکبیر تحریمه نه علاوه نور ټول تکبیرونه. **۲)** د امام او منفرد یعنی یواځی لمونځ کونکی لپاره د (سمع الله لمن حمده) ویل. **۳)** د رکوع نه د پورته کیدو په وخت کښی د (ربنا ولک الحمد) ویل. **٤)** په رکوع کښی یو کرت (ځلی) سبحان ربی العظیم ویل. **٥)** په سجده کښی یو کرت (ځلی) سبحان ربی الأعلی ویل. **٦)** د دوه و سجدو په مینځ کښی د (رب اغفرلی) ویل. **٧)** په اوله قاعده کښی د (التحیات لله) ویل.
**٨)**اوله قاعده او هغی ته کښیناستل.

او که څوک دغه واجبات قصدا پریږدی نو لمونځ یی فاسد شو، او که په سهوه سره پاتی شی نو بیا به سجده سهوه کوی.

او ماسوا د دغی فرضونو او واجباتو نه دلمانځه نور ټول افعال سنت دی، کول یی په کار دی لیکن د هغی په پریښودو سجده سهوه نه لازمیږی.

**د لمانځه سنت : په دوه قسمه دی:** قولی، او فعلی :

**قولی سنت :** د افتتاحی دعاء، اعوذ بالله، او بسم الله ویل، الحمد لله نه وروسته د قرائت ویل، د امام لپاره د سهار په لمانځه کښی او دماښام او ماخوستن په اولنو دوو رکعتونو کښی په جهر سره قرائت ویل، د ربنا ولک الحمد نه وروسته د (حمدا کثیرا طیبا مبارکا فیه ملء السموات وملء الأرض...) ویل، په رکوع او سجده کښی د یو ځل نه زیات د تسبیحاتو ویل، او د سلام نه مخکی د (رب اغفرلی) او دعاء ویل.

**فعلی سنت :** د قیام په حالت کښی د ښی لاس اینودل په چپ لاس باندی، د سجدی ځای ته کتل، د قیام په حالت کښی د قدمونو جدا اینودل، سجدی ته د تلو په حالت کښی په زمکه باندی اول د زنګونونو لګول بیا د لاسونو او بیا د تندی لګول، په سجده کښی د اړخونو نه د متو جدا کول، او د خیټی جدا کول د ورنونو نه، او د ورنونو جدا کول د لیچو نه، د زنګنونو جدا کول د یو بل نه، او د قدمونو ودرول، او د ګوتو باطنی طرف په زمکه لګول، او د اوږو برابر د لاسونو اینودل په داسی حال کښی چه ګوتی به یی خوری کړی نه وی، او د دوو سجدو په منځ کښی او همدا راز په اوله قاعده کښی د چپی ښپی اوارول او د ښی ښپی اودرول، او د دوو سجدو په منځ کښی په ورنونو باندی د لاسونو اینودل په داسی حال کښی چه ګوتی به یی را ټولی کړی وی، او همدا راز په قاعده کښی، مګر (خنصر) یعنی وړه ګوته او(بنصر) یعنی هغه ګوته چه د وړی ګوتی خواته ده هغه به راټولی کړی او د غتی او منځنۍ ګوتی نه به د حلقی شکل جوړ کړی او په سبابه ګوتی (دکنځلو ګوته) باندی به د الله تعالی د ذکر کولو او د دعاء کولو په وخت اشاره کوی چه مقصد پکښی د الله تعالی یووالی ته اشاره ده، او د سلام د ګرځولو په وخت کښی ښی او چپ طرف ته کتل، او د کتلو په وخت کښی په ښی طرف باندی شروع کول.

**د سجده سهوی بیان :** که څوک په سهوه سره په لمانځه کښی په غیر د خپل ځای نه یو روا عمل وکړی لکه په سجده کښی د قران کریم تلاوت نو د هغه لپاره سجده سهوه کول سنت ده.

او په ترک د سنتو باندی سجده سهوه جایز ده. او کله چه رکوع، یا سجده، یا قیام، او یا یوه قاعده (کیناستل) زیاته کړی، او یا د لمانځه د پوره کیدو نه مخکی سلام وګرځوی، او یا په قرائت کښی داسی لحن (غلطی) وکړی چه معنی بدلوی، او یا فرض ترک کړی، او یا ورته په زیادت کښی شک واقع شی نو په دی ټولو صورتونو کښی پری سجده سهوه فرض ګرځی.

او سجده سهوه د سهوه کیدو په حالت کښی مشروع او روا شویده، او هغه په دری قسمه دی:

**اول :** په لمانځه کښی زیادت کول، لکه د یورکعت او یا د رکن زیاتول.

**دوهم : کمی او نقصان کول:** لکه د يو فرضي حکم هيريدل، مثلا چه د اول تشهد نه پورته شی که نيغ اودريدلی نه وی او دا ورته ورپه ياد شی نو واپس دی شی او تشهد دی ووائی، او که چيرته نيغ ودريده او بيا ورپه ياد شی نو نه به واپس کيږی.

**دريم : شک پيداکيدل :** هغه څوک چه د رکن په پريښودو کښی ورته شک پيدا شی، نو داسی ده لکه چه دغه رکن يی پريښی وی، او که چا ته د رکعتونو په شمير کښی شک پيدا شی نوعمل به په يقين باندی کوی چه هغه لږ رکعتونه دی.

که امام سهوه شی نوناړينه به په (سبحان الله) ويلو سره فتحه ورکوی، او زنانه به په لاس پړقولو (ټکولو) سره فتحه ورکوی .

**دلمانځه طريقه :** کله چه څوک په لمانځه اودريږی په داسی حال کښی چه مخ يی قبلی طرف ته وی، نو الله اکبر به ووائی، او امام به تکبير تحريمه او نور ټول تکبيرونه هم په جهر باندی وائی، دي لپاره چه وروستنی خلک يی واوری، او مقتديان به يی په پټه باندی وائی، او د تکبير په وخت کښی به لاسونه داوږو برابر اوچت کړی، اوښی لاس به په چپ لاس باندی کيږدی، او د سينی لاندی به يی برابر کړی، او دسجدی ځای ته به ګوری، او بيا به د هغی دعاګانو نه يوه دعاء ووائی چه په حديثوکښی راغلی لکه: سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالَى جَدُّكَ وَلا إِلَهَ غَيْرُكَ. **ترجمه :** پاکي ده تالره ای خدايه او حمدونه دی تا لره او مبارک دی نوم ستا او اوچت دی شان ستا او بيله تا نه بل دعبادت وړ او مستحق معبود نشته، او يا دبلی دعاء ويل لکه: (اللهم باعد بيني وبين خطاياي...) بيا به اعوذ بالله او بسم الله وائی، او دغه ټول به په پټه باندی وائی، لکه څرنګه چه انس رضی الله تعالی عنه روايت کوی: چه ما د رسول الله ﷺ ابو بکر، عمر، او عثمان، رضي الله عنه نه وروسته لمونځ وکړه، ما د يوه نه هم ندی اوريدلی چه بسم الله يی په جهر ويله، بيا به سورة فاتحه ووائی، ځکه چه څوک سورة فاتحه ونه وائی نولمونځ يی صحيح ندی، او د مقتدی لپاره دا غوره ده چه د امام په سکتو او وقفو کښی سورة فاتحه ووائی او په خفيه لمانځه کښی يی ويل فرض دی، بيا به بل سورة ووائی او بيا دا مستحب دی چه د سحار په لمانځه کښی د (طوال المفصل) سورتونو نه يو سورة ووائی چه هغه دسورة (ق) نه نيولی تر سورة (نباء) پوری دی، او د مابښام په لمانځه کښی به د (قصار المفصل) سورتونو نه يو سورة وائی، چه هغه دسورة (والضحی) نه نيولی تر سورة (والنا س) پوری دی، او په نورو لمونځونو کښی به د (اوسط المفصل) سورتونو نه يو سورة وائی، چه هغه دسورة (عم يتسائلون) نه نيولی تر سورة (والضحی) پوری دی، او امام به د سحر لمونځ او همدارنګه د ماښام او ماخوستن اولنی دوه رکعته په جهر سره کوی، او ماسوا د دی نه به نور ټول لمونځونه په خفيه او پټه کوی، او بيا به الله اکبر وائی او رکوع ته به ځی او دواړه لا سونه به د تکبير تحريمه په شان اوچت کړی، او د رکوع په حالت کښی به دواړه لاسونه په زنګنو باندی ږدی، او ګوتی به پراخه کوی، او شا به هواره کړی، او سر به ورسره برابر کړی، بيا به دری کرتی (ځلی) سبحان ربي العظيم وائی، بيا به سر اوچت کړی، او سمع الله لمن حمده به وائی، او بيا به دواړه لاسونه د اوږو برابراوچت کړی، او کله چه د رکوع نه وروسته په اعتدال سره ودريده، نو دا دعاء به ووائی: ربنا ولك الحمد حمدًا كثيرًا طيبًا مباركًا فيه ملء السموات وملء الأرض وملء ما شئت من شيء بعد. **ترجمه :** ای زموا پروردګاره! تا لره پوره ستاينه ده، زياته، پاکه، او مبارکه ستاينه، (تا لره پوره ستاينه ده) د آسمانونو او ځمکي او د هغوی تر مينځ د مخلوقاتو د ډکوالي په اندازه، او په اندازه د ډکوالي د هغه شيانو چي تا غوښتي وي، ای د ستايني او لويي خاونده.

بیا به سجدی ته لاړ شی، او الله اکبر به ورسره ووائی، او د سجدی په وخت کښی به خپلی متې د اړخونو نه، اوخيټه به د ورنونو نه جدا کړی، او د ښپو اولاسونو ګوتی به قبلی ته مخامخ کړی او بیا به سبحان ربي الأعلى دری کرتی ووائی، او که چیرته دا دعائی ورسره وويله (سبوح قدوس رب الملائكة والروح)، او دا دعاء (سبحانك اللهم وبحمدك اللهم اغفرلي) نو دا به ډیره غوره وی، بیا به سر راپورته کړی او الله اکبر به ووائی، او چپه ښپه به خوره کړی، او په هغی به کښینی، او ښی ښپه به ودروی او ګوتی به ورله قبلی ته برابری کړی، اودا دعاء به دوه کرتی ووائی: ربِّ اغفر لي اوکه دا دعاء ورسره ووایی نودا به بهتره وی وَارْحَمْنِي واجبرنِي وَارْفَعْنِي وَارْزُقْنِي وَانْصُرْنِي وَاهْدِنِي وَعَافِنِي وَاعْفُ عَنِّي.

**ترجمه :** ای الله ما ته بخښنه وکړی، او په ما رحم وکړی، او نقصان مي جبيره کړی، او (زما مقام) اوچت کړی، او روزي را ته راکړی، او مدد مې وکړی، او هدايت را ته وکړی، او عافيت را ته راکړی، او عفو راته وکړی.

بیابه دوهمه سجده وکړی د اولی سجدی په شان، بیا به سراوچت کړی، او الله اکبر به ووائی، بیا به دوهم رکعت ته اوچت شی اوهغه به هم د اول رکعت په شان وکړی، چه کله یی دوه رکعتونه وکړه نو د تشهد لپاره به کښینی، ښی لاس به په ښی ورون او چپ لاس به په چپ ورون باندی کیږدی، او کچه ګوته او ورسره بله متصله ګوته به قط کړی، او دمينځ او غټی ګوتی نه به دحلقی شکل جوړ کړی، اوسبابه (دکنځلو) ګوتی باندی به اشاره کوی، او التحيات لله به تر اخره پوری ووائی: التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ، السَّلامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ السَّلامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللَّهِ الصَّالِحِينَ، أَشْهَدُ أَنْ لا إِلَهَ إِلا اللَّهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ. **ترجمه :** ژبني او بدني او مالي عبادتونه ټول الله لره دي، سلام او د الله رحمت او برکتونه دي وي پر تا ای پیغمبره! سلام دي وي پر موږ او د الله پر نیکو بندګانو، زه ګواهی ورکوم چي بيله الله نه بل د عبادت وړ او مستحق معبود نشته، او ګواهی ورکوم چي محمد د الله بنده او پيغمبر دی.

بیا به په دری رکعتیز، او څلورکعتیز لمونځونو کښی، دریم رکعت ته پورته کیږی، الله اکبر به ووائی، او لاسونه به د اوږو برابر اوچت کړی، او باقی لمونځ به په همدغه طریقه باندی کوی، مګر قراءت به په جهر سره نه ووائی، او فقط سورة فاتحه به ووائی او بیا به د تورک په شکل کينی، يعنی چپه ښپه به خوره کړی، او ښی طرف ته به یی اوباسی او ښی ښپه به نيغه ودروی، او کناتی به زمکی ته ورسوی، او تورک به په اخيره قاعده کښی کوی، ليکن په هغه لمونځ کښی چه په هغی کښی دوه قاعدی او کښيناستل وی، بیا به التحيات لله ووائی، او وريسی به درود شريف ووائی: اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، اللَّهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ. **ترجمه :** ای الله پر محمد او د محمد پر اهل وعيال درود وليږه، لکه څنګه چي دي پر ابراهيم عليه السلام او د ابراهيم عليه السلام پر اهل و عيال درود ليږلی دی، او برکت نازل کړه پر محمد او د هغه پر اهل وعيال باندي، لکه څنګه چي دي برکت نازل کړی دی پر ابراهيم عليه السلام او د هغه پر اهل وعيال باندي، په رښتيا سره ته ستايلی شوی، د لويي خاوند يی.

او بیا به دا دعاء ووائی: أعوذ بالله من عَذَابِ النَّارِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ، وَفِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ، وَفِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ. **ترجمه :** زه په الله سره پناه غواړم د دوزخ (جهنم) له عذاب نه، او د قبر له عذاب نه، او د ژوند او مرګ له فتنی نه، او د مسيح دجال د فتنی نه.

بیا به دوه کرتی سلام وګرځوی، ښی اوچپ طرف ته او د سلام ویلو سره به ښی اوچپ طرف ته مخ وګرځوی، او هر کله چه یی سلام وګرځوه، نو بیا به د لمانځه په ځای کښی مسنونی دعاګانی ووائی .(۱)

**د مریض انسان د لمانځه طریقه :** کله چه قیام او ودریدل د مریض او بیمار په مرض کښی زیاتوالی راولی او یائی د قیام طاقت نه وی، نو په دغه صورت کښی به په ناستی لمونځ کوی، او که په ناسته یی طاقت نه وی نوبیا به یی په اړخ باندی کوی، او که د دی طاقت هم نه لری، نو بیا به ملا یعنی په شا پروت وی اولمونځ به کوی، او که د دی نه هم عاجزه شی، نو بیا به په اشاره لمونځ کوی، اوهغه لمونځونه چه د بی هوشۍ په وخت کښی تری پاتی شوی وی، د هغی به قضائی راوړی، او که د هرلمونځ ادا کول ورته په خپل وخت باندی مشکل او ګران وی، نو بیا ده لپاره جائز دی چه دوه لمونځونه یو ځای (جمع بین الصلاتین) وکړی، یعنی دماسپښین او مازدیګر لمونځونه به په یو ځای ادا کړی، او د ماښام او ماخوستن لمونځونه دی هم په یو ځای ادا کړی.

**دمسافر لمونځ :** کله چه د سفر مسافه د اتیا (۸۰) کیلو متره نه زیاته وی، او روا او مباح سفر وی نوځلوررکعتیز لمونځ به دوه رکعته کوی، او که چیرته یو مسافر سړی په مقیم امام پسی اقتدا وکړی، نوبیا به پوره لمونځ کوی، او همدا راز که چیرته د یو مقیم سړی نه لمونځ هیرشی، او بیا ورته په سفر کښی یاد شی، او یا د یو مسافرنه د سفر په وخت کښی لمونځ هیر شی او بیا ورته په کور کښی یاد شی، نو په دی ټولو صورتونو کښی به پوره لمونځ کوی، او د مسافر لپاره پوره لمونځ جائز دی، لیکن قصر غوره دی، او څوک چه د څلورو ورځو (20 لمونځو) نه زیاته اراده وکړی، نو لمونځ به پوره کوی.

**د جمی لمونځ :** د جمعی لمونځ د ماسپښین د لمانځه څخه غوره دی، او دا مستقل لمونځ دی او د ماسپښین لمونځ څخه قصر شوی نه دی، څلورو رکعتو ته یی زیاتول جایز نه دی، او د ماسپښین د لمانځه په نیت یی کول جایز نه دی، او د جمعی لمونځ د مازدیګر د لمانځه سره نشی جمع کیدای اګر که سبب یی هم موجود شی.

**وتر:** سنت دی او وخت یی د ماخوستن د لمانځه نه نیولی تر سبا د راختلو پوری دوام لری، کم یی یو رکعت دی او ډیر یی یوولس رکعته دی، او په هر دوو رکعتونو کښی به سلام ګرځوی او دا غوره طریقه ده، او د ادنی کمال درجه یی دری رکعته دی چه په دوه وو سلامونو باندی ادا شی. او د وترو په اولنی رکعت کښی د سورة الاعلی او په دوهم رکعت کښی د قل یا ایهالکفرون او په دریم رکعت کښی د قل هو الله احد سورتونو ویل

---

(۱) دا اذکار به وائی: أستغفر الله، دری واره، اللهم أنت السلام ومنك السلام تباركت يا ذا الجلال والإكرام، لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد، وهو على كل شيء قدير، لا حول ولا قوة إلا بالله، لا إله إلا الله ولا نعبد إلا إياه له النعمة وله الفضل وله الثناء الحسن، لا إله إلا الله مخلصين له الدين ولو كره الكافرون، اللهم لا مانع لما أعطيت، ولا معطي لما منعت، ولا ينفع ذا الجد منك الجد. **او د سهار او ماښام لمانځه نه به روسته د مخکنی دعاګانو سره دا هم وائی:** لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد، يحيي ويميت، وهو على كل شيء قدير(لس واره)، بیا به دا ووائی : سبحان الله (دری دیرش واره)، الحمد لله (دری دیرش واره)، اوالله أكبر (دری دیرش واره)، او د سلو د پوره کولو لپاره به دا ووائی : لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير. بیا به آية الكرسي ووائی ، بیا به : (قل هو الله أحد)، و (قل أعوذ برب الفلق)، و (قل أعوذ برب الناس) ولولی ، اود سهار او ماښام لمانځه نه به روسته سورة فلق والناس او سورة اخلاص دری واره ولولی.

سنت دی . او د رکوع نه روسته پکښی د قنوت دعا ویل او د دعا په وخت کښی د لاسونو اوچتول مستحب دی ، او دعا به په جهر سره کوی اګر که یو کس هم وی .

**دجنازی مسائل :** مسلمان ته غسل او کفن ورکول، او د هغی دفن کول او په هغی باندی د جنازی لمونځ کول فرض کفائی دی، چه بعضی خلک په دی کارونو کښی شریک شی، نو تول د ګناه نه بچ کیږی، او که هیڅوک په کښی شریک نه شی نو بیا ټول خلک ګناهګار بللی شی، مګر د جهاد شهید ته به غسل نه ورکوی، او نه به ورته کفن ورکولی شی، او په هغوی باندی د جنازی لمونځ کول جایز دی، او په خپل مخکنی حالت کښی به دفن (ښخ) کیږی، او د نارینه په کفن کښی سنت طریقه دا ده چه د دریو سپینو خلتو یا ټوکرانو نه کفن ورکړی شی، او د زنانه (ښځو) لپاره سنت طریقه دا ده چه د پنځوو سپینو جامو نه دی کفن ورکړی شی، یعنی لنګ، پړونی، قمیص، او دوه خلتی (ساده ټوتی)، او امام به د جنازی دلمانځه په وخت کښی د نارینه سینی او د زنانه مینځ طرف ته مخامخ ودریږی، او بیابه څلور تکبیرونه کوی، او د هر تکبیر سره به لاسونه اوچتوی، د اول تکبیر نه به وروسته سبحانک اللهم نه وائی، بلکه اعوذ بالله او بسم الله به وائی، او بیابه سورة فاتحه په پټه باندی وائی، بیا به دوهم تکبیر وکړی، او په نبی ﷺ به درود ووائی، او بیابه دریم تکبیر وکړی، او د مړی لپاره به مسنونی دعاګانی ووائی، نوبیا به څلورم تکبیر وکړی او د لږ انتظار نه وروسته ته سلام وګرځوی .

او د قبرونو اوچتول دیوی لویشت نه زیات مکروه دی، او همدارنګه د قبر پخول، ښکلول، او خوش بویه کول، او یا په قبر باندی لیکل کول، او یا وربانډی کیناستل، او یا وربانډی ګرځیدل، دا ټول مکروه او ناروا کارونه دی، اوپه قبر باندی د چراغونو بلول او یا دهغی نه طوافونه کول، او یا پری جماتونه جوړول، او یا په جمات کښی د مړی دفن کول دا ټول حرام اوناروا دی. او د هغی ګمبدو او درګاهونو ورانول فرض دی چه په قبرونو باندی جوړی شویدی.

✸ د تعزیه لپاره کوم خاص الفاظ نشته په مناسبو الفاظو باندی باید تعزیه وشی، لکه د اسی ویل: الله دی لوی اجر درکړی او الله تعالی دی ښایسته تسلی درکړی او الله دی ستاسو مړی وبخښی، او مسلمان ته په کافر باندی تعزیه کول: الله دی لوی اجر درکړی او الله تعالی دی ښایسته تسلی درکړی. او کافر ته تسلی او تعزیه ورکول ناروا دی، ولو که مړی مسلمان هم وی.

✸ څوک چه په دی پوهیږی چه د ده کورنی به د ده د مرګ نه وروسته په ده باندی ژړا کوی نوپه ده باندی فرض دی چه د ژړا په ترک باندی ورته وصیت وکړی، که وصیت ونه کړی نو بیا به د هغوی په ژړا ورته عذاب رسیږی.

✸ امام شافعی رحمه الله فرمائی : چه د تعزیه اخستلو لپاره کیناستل مکروه کار دی، چه هغه په کور کښی د مړی د وارثانو را جمع کیدل دی په دی غرض چه خلک ورته د تعزیه لپاره ورشی، بلکه د دوی لپاره که نارینه وی او که زنانه پکار دی چه خپلو کارونو پسی لاړ شی او تیت او خپاره شی.

✸ د مړی د کورنی لپاره د طعام (خواړه) تیارول سنت طریقه ده، لیکن د مړی د کورنی نه طعام خوړل، او یا د هغه چا لپاره طعام تیارول چه د مړی په کور کښی راجمع شوی وی مکروه دی.

✸ په غیر د سفر نه د مسلمان د قبر زیارت کول سنت طریقه ده، د کافر قبر ته ورتګ مباح دی، او همدا راز یو کافر کولی شی چه د مسلمان د قبر زیارت وکړی.

✸ څوک چه مقبرې ته ورشي نو د دې دعاء ویل ورله سنت دي : السلام عليكم دار قومٍ مُؤمنين ـ أو: أهل الديار من المؤمنين ـ وإنا إن شاء الله بكم للاحقون، يرحم الله المستقدِمين منَّا والمستأخرين، نسأل الله لنا ولكم العافية، اللهم لا تحرمنا أجرهم، ولا تفتِنَّا بعدهم، واغفر لنا ولهم. سلامتيا دي وي په تاسو باندې اې مؤمنانو، او ان شاء الله موږ هم تاسو پسې دروان یو، الله تعالی دې زموږ په مخکنو او وروستنو باندې رحم وکړي، موږ د خپل ځان او ستاسو لپاره سلامتیا غواړو، اې الله موږ د دوی د اجر نه مه محرومومه، او د دوی نه وروسته موږ په فتنه کښې مه اخته کوه، موږ او دوی ټولو ته مغفرت وکړې.

✸ په کفن باندې د قرآن کریم د آیاتونو لیکل حرام او ناروا دي، ځکه چه په دغه کار کښې له یوې خوا د ایاتونو د ګنده کیدو (نجس کیدو) ویره ده، او له بله پلوه د قرآن عظیم الشان اهانت او سپکاوی دی، او په لیکلو باندې څه دلیل هم نشته.

**د وړوکې او لوی اختر لمونځونه :** دغه لمونځونه فرض کفائي دي، او وخت يې د څاښت د لمانځه په شان دی، که چیرته د زوال نه وروسته د اختر ورځ معلومه شي نو بیا به د هغې په سبا د دغې لمانځه قضائي راوړي. او شرطونه يې د جمعې د لمانځه په شان دي په غیر د خطبو نه، او د اختر د لمانځه نه مخکې او وروسته په جوماتت کښې نفل کول مکروهه دي.

**د اختر د لمانځه طریقه :** دا دوه رکعته لمونځ دی په اول رکعت کښې د تکبیر تحریمه نه وروسته او د اعوذ بالله د ویلو نه مخکې شپږ تکبیرونه دي، او په دوهم رکعت کښې د قراءت د شروع کولو نه مخکښې پنځه تکبیرونه دي، او د هر تکبیر سره به لاسونه اوچتوی، بیا به اعوذ بالله ووائی او په جهر باندې به الحمدلله ووائی، او بیا به په اول رکعت کښې (سبح اسم ربک الاعلی) سورة ووائی او په دوهم رکعت کښې به سورة (الغاشیة) و وائی، کله چه سلام وګرځوی نو د جمعې په شان خطبه به ووائی لیکن په کثرت سره د تکبیرونو ویل پکښې سنت طریقه ده، او که د نفلي لمونځ په شان لمونځ يې وکړه نو صحیح دی ځکه چه زیات تکبیرونه او د هغې په منځ کښې ذکر کول دا ټول سنت دي.

**د کسوف لمونځ :** سنت دی او وقت يې د لمر او سپوږمۍ د توروالي نه نیولي د تورروالي د ختمیدو پورې دوام لري، او که د دغې لمونځ سبب ختم شي نو بیا ورله قضائي نشي راوړي، او دا دوه رکعته لمونځ دی چه په اول رکعت کښې به په جهر سره سورة فاتحه او یو بل اوږد سورة وائی، بیا به اوږده رکوع وکړي، بیا به د رکوع نه سر اوچت کړي سمع الله لمن حمده او ربنا ولک الحمد به ووائی، بیا به د سجدې نه مخکې دوباره سورة فاتحه او یو بل اوږد سورة ولولي، او بیا به اوږده رکوع وکړي، بیا به سر اوچت کړي، بیا به دوه اوږدې سجدې وکړي، بیا به دوهم رکعت هم د اول رکعت په شان وکړي، بیا به تشهد ووایي او سلام به وګرځوی، او که چیرته مقتدي د اولې رکوع نه وروسته راغي نو رکعت يې نه دی ګیر کړی (نه دی نیولی).

**د استسقاء لمونځ :** کله چه زمکه وچه شي او بارانونه کم شي نو په دغې وخت کښې د استسقاء لمونځ سنت دی، او د استسقاء د لمانځه وخت، طریقه او احکام هماغه د اختر دلمانځه په شان دي، مګر دومره خبره ده چه د استسقاء په لمونځ کښې د لمانځه نه وروسته یوه خطبه لوستلې کیږي، او د لمانځه نه وروسته بیا د څادر سرچپه کول سنت دي چه الله تعالی په حالاتو کښې هم دغسې بدلون راولي.

✸ **نفلي لمونځونه :** په حدیث کښې راغلي چه رسول الله ﷺ به هره ورځ په غیر د فرضي لمونځ نه دوولس رکعته لمونځ کوو، دوه رکعته د سهار د لمانځه نه مخکې، څلور رکعته د ماسپښین

نه مخکې او دوه رکعته وروسته، او دوه رکعته د ماښام نه وروسته او دوه رکعته د ماخوستن نه وروسته، او دوه رکعته د ماښام د اذان نه وروسته او د نورو نفلي لمونځونو ثبوت ترې هم شته .

✸ **ممنوعه وختونه :** په ممنوعه وختونو کښې د نفلي لمونځ کول منع دي چه هغه درې وختونه دي : ۱) د سبا د راختلو نه نيولې د لمر د راختلو پورې. ۲) کله چه لمر د اسمان منځ ته ورسيږي تر څو پورې چه زايله شوی نه وي. ۳) د مازديګر د لمانځه نه وروسته د لمر د پريوتو پورې. او د ذوات الاسباب لمونځونو کول (هغه لمونځونه چه سبب ورله وي) په دې وختونو کښې جايز دي لکه تحية المسجد لمونځ، د طواف دوه رکعته، د سهار سنت، د جنازې لمونځ، د اودس نه وروسته دوه رکعته لمونځ، د تلاوت او دشکر سجده.

✸ **د جمات (مسجد) احکام :** د ضرورت په اندازه د جمات جوړول فرض دي، او د الله تعالى په نزد بهترين ځاى جماتونه دي، او په جماتونو کښې د لوبو ويل (سندرې ويل)، لاسونه پړقول، موسيقي، ناروا شعرونه، د نارينه وو او د ښځو اختلاط، جماع کول، اخستل، خرڅول، ناروا او حرام دي، او څوک چه په جماتونو کښې تجارتونه کوي نو د دې ويل ورته سنت دي: الله دې ستا تجارت فايده مند نه کړي، او د ورک شي اعلان کول پکښې حرام دي، او څوک چه اعلان واوري نو داسې دې ورته و وائي: الله تعالى دې تا ته دغه شی پيدا نه کړي. او ماشومانو ته په جمات کښې تعليم ورکول جايز دي په دې شرط چه ضرر نه رسوي، او همدا راز د نکاح تړل، فيصلې، جايز نعتونه، د معتکف او يا د بل چا لپاره پکښې خوب کول، د ميلمه يا د مريض لپاره پکښې شپه کول، او يا پکښې قيلوله (د غرمې خوب) دا ټول جايز دي. او دعبثو خبرو، جګړې، ډيرو خبرو، او په ناکره خبره باندې د اواز اوچتولو نه، يا په غير د ضرورته په جمات کښې د لار جوړولو نه، دجمات ساتل مستحب او سنت دي. او په جماتونو کښې دنياوي او بې فايدې خبرې مکروه دي، او همداراز په ودونو او يا د مړي په تعزيه کښې د جماتونو فرشونه، چراغونه، او يا د جمات د برق استعمالول جايز نه دي.

**ځنې لاربنودنې :** په لمونځونو کښې د صف په برابرولو باندې نبي ﷺ امر کړی دی، لکه څرنګه چه هغه فرمائي :« **لَتُسَوُّنَّ صُفُوفَكُمْ أَوْ لَيُخَالِفَنَّ اللَّهُ بَيْنَ وُجُوهِكُمْ** » **ترجمه :** خپل صفونه خامخا برابر کړئ، که نه نو الله تعالى به ستاسو مخونه مسخ کړي. نعمان بن بشير فرمائي : ما به سړی ليده چه خپله اوږه به يې د ملګري د اوږې سره، زنګون به يې د زنګون سره، او ګټې (بجلکه يا ښنګرې) به يې د ملګري د ګټې سره برابرولې.

**په نارينه وو باندې د جمع (جماعت) لمونځ :** فرض دی تر دې چه که په سفر کښې يې توان ولرې نو هم پرې فرض دی، او تارک الجماعت ته به تعزيري سزا ورکولې شي، او د جمع لمونځ د مؤمنانو شعار او علامه ده، او د هغې پرېښودل د منافقينو علامه ده، نبي ﷺ فرمائي : « **وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ آمُرَ بِحَطَبٍ فَيُحْطَبَ ثُمَّ آمُرَ بِالصَّلَاةِ فَيُؤَذَّنَ لَهَا ثُمَّ آمُرَ رَجُلًا فَيَؤُمَّ النَّاسَ ثُمَّ أُخَالِفَ إِلَى رِجَالٍ فَأُحَرِّقَ عَلَيْهِمْ بُيُوتَهُمْ** » متفق عليه. **ترجمه :** زما دې په هغه ذات باندې قسم وي چه زما نفس د هغې په لاس کښې دی زما دا اراده ده چه د لرګو په راجمع کولو امر وکړم، او بيا په لمانځه باندې حکم وکړم نو اذان وويل شي، او بيا يو سړي ته حکم وکړم چه امامت وکړي، او بيا هغه کسانو پسې ورشم (چې جمعې ته نه دي راغلي) او کورونه پرې وسوځوم.

# د زکات مسائل

**هغه شیان چه زکات ورکول پکښی فرض دی څلور قسمه دی: اول:** څریدونکی څاروی. **دوهم:** هغه فصلونه چه د زمکی نه راوځی یعنی د زمکو حاصلات. **دریم:** سره او سپین زر. **څلورم:** د تجارت سامانونه.

**د زکات د فرض کیدو شرطونه پنځه دی: اول:** اسلام **دوهم:** ازادی.**دریم:** د نصاب پوره کیدل.**څلورم:** پوره ملکیت. **پنځم:** دکال تیریدل.

## دڅارووو د زکات تفصیل :

څاروی په دری قسمه دی: اوښان، غوائی، ګډین او بزین څاروی (پسونه او بزی)، اود دی د زکات ورکولو لپاره دوه شرطونه دی:

**اول :** چه پوره کال او یا د کال په اکثره برخه کښی څریدلی وی.

**دوهم :** چه د شیدو پیو او نسل د ډیریدو لپاره ساتلی شوی وی نه د کار لپاره.

## د اوښانو د زکات تفصیل په لاندی ډول سره دی.

دیوه (۱) نه نیولی تر څلورو (٤) اوښانو پوری پکښی زکات نشته، او د پنځه و(۵) نه نیولی تر نهه (۹) اوښانو پوری یو ګډ یا پسه دی، د لسو(۱۰) نه نیولی تر څورلسو (۱٤) اوښانو پوری دوه ګډان یا پسونه دی، او دپنځلسو(۱۵) نه نیولی تر نولسو(۱۹) پوری دری ګډان دی، او د شلو(۲۰) نه نیولی تر څلرویشتو(۲٤) پوری څلور ګډان دی، او د پنځه ویشتو(۲۵) نه نیولی تر پنځه دیرشو (۳۵) پوری یو دانه بنت مخاض اوښ دی، او د شپږدیرشو (۳٦) نه نیولی تر پنځه څلویښتو(٤۵) پوری یو دانه بنت لبون اوښ دی، اود شپږ څلویښتو (٤٦) نه نیولی تر شپیتو (٦۰) پوری یوه حقه اوښه ده، او د یوشپیتو(٦۱) نه نیولی تر پنځه اویا (۷۵) پوری یوه جذعه اوښه ده، او د شپږ اویاوو(۷٦) نه نیولی تر نوی (۹۰) پوری دوه دانی بنت لبون اوښان دی، او د یو نوی (۹۱) نه نیولی تر یو سلوشلو (۱۲۰) پوری دوه دانی حقی او ښی دی.

| شمیره | ۱ – ٤ | ۵–۹ | ۱۰– ۱٤ | ۱۵– ۱۹ | ۲۰– ۲٤ | ۲۵– ۳۵ | ۳٦– ٤۵ | ٤٦–٦۰ | ٦۱– ۷۵ | ۷٦ –۹۰ | ۹۱– ۱۲۰ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| زکات | نشته | یوګډ (پسه) | دوه ګډان (پسونه) | دری ګډان (پسونه) | څلور ګډان | یو(بنت مخاض) اوښه | یو (بنت لبون) اوښه | یوه (حقه) اوښه | یوه (جذعه) اوښه | دوه (بنت لبون) اوښی | دوه (حقی) اوښی |

دوضاحت لپاره په مختصر توګه دلاندی جدول څخه استفاده وکړی
بنت مخاض: هغی اوښی ته وائی چه یو کال ورباندی تیر شوی وی، او بنت لبون: هغه اوښی ته ویلی کیږی چه دوه کاله ورباندی تیر شوی وی، حقه: هغی اوښی ته وائی چه دری کلنه وی، جذعه: هغی اوښی ته وائی چه څلور کلنه وی.
نو هر کله چه د دی نه زیاتی شی نو په پنځوسو اوښانو کښی یوه (حقه) یعنی دری کلنه اوښه ده، او په څلویښتو کښی یوه (بنت لبون) یعنی دوه کلنه اوښه ده.

## او دغوایانو زکات په لاندی ډول دی :

دیوه (۱) نه نیولی ترنهه ویشتو (۲۹) پوری زکات نشته، او د دیرشو(۳۰) نه نیولی ترنهه دیرشو(۳۹) پوری یو کلن خوسی (ګلګی) دی او یا یوه کلنه خوسکی (ګلګۍ) ده، او د څلویښتو (٤۰) نه نیولی ترنهه پنځوسو(۵۹) پوری، دوه کلن غوائی اویا دوه کلنه غواه ده، او د شپیتو

### د وضاحت لپاره لاندی جدول ته مراجعة وکړئ

| شمیره | ۱ – ۲۹ | ۳۰-۳۹ | ٤٠-٥٩ |
|---|---|---|---|
| زکات | نشته | یوکلن خوسی یا خوسکی | دوه کلن غوائی یا غوا |

تبیع : یوکلن غوائی ته وائی، او تبیعة : یوکلنی غواته وائی، مسن: دوه کلن غوائی ته وائی، او مسنة: دوه کلنی غوا ته وائی .
کله چه شماریوسلوشلو (۱۲۰) ته ورسیږی نو په هر دیرشو(۳۰) مالونو کښی یو کلن غوائی، او په هر څلویښتو(٤٠) مالونو کښی یوه دوه کلنه غوا ورکول فرض دی.

### د ګډو (پسونو) او بزو زکات په لاندی ډول دی:

د یوه (۱) نه نیولی تر نهه دیرشو (۳۹) پوری پکښی زکات نشته، او د څلویښتو (٤٠) نه نیولی تر یو سلوشلو (۱۲۰) پوری یوګډ دی، او دیو سلو یویشتو (۱۲۱) نه نیولی تر دوه سوه (۲۰۰) پوری دوه مالونه دی، او کله چه د دوه سوه (۲۰۱) نه یو مال هم زیات شی نو بیا په هر سلو مالونو کښی یو ګډ دی، او په زکات کښی به غټ سیرلی نه اخیستل کیږی، او همداراز زوړ، یو سترګی مال، اویا هغه مال چه بچی ورسره وی، اویا بلاربه، اویا قیمتی مال هم نشی اخستلی کیدای.

### او د وضاحت لپاره لاندی جدول وګورئ

| شمیره | ۱-۳۹ | ٤٠ـ ۱۲۰ | ۱۲۱-۲۰۰ | ۲۰۱-۳۹۹ |
|---|---|---|---|---|
| زکات | نشته | یوګډ (پسه) | دوه ګډان (پسونه) | دری ګډان (پسونه) |

شاة: په ګډین مالونو کښی هغی ته وائی چه شیږ میاشتنی یی شوی وی او هغی ته (جذعة)هم وائی، او په بزین مالونو کښی (شاة) هغی ته وائی چه یوکال یی شوی وی او(ثني) ورته هم وائی.

**د زمکی د حاصلاتو زکات په لاندی ډول دی :** په دانو اومیوه جاتو کښی زکات په دری شرطونو سره فرض دی :

۱) چه دغه دانی اومیوی دهغی قسم نه وی چه پیمانه کیږی اویا ذخیره کیږی، لکه په دانو کښی وربشی او غنم، اوپه میوه جاتو کښی کجوری او انګور، اوهغه شیان چه پیمانه کیږی هم نه، اوذخیره کیږی هم نه لکه سبزی جات نوبیا په هغی کښی زکات نشته.

۲) د نصاب پوره کیدل، چه هغه (653) کیلو ګرامه دی، او یا دهغی نه زیات وی.

۳) چه دغه حاصلات د زکات د فرضیت په وخت کښی د ده په ملکیت اوتصرف کښی وی، که چیرته میوه جات وی نو باید چه پخی شوی وی یعنی رنګ یی سوروالی یا زیړوالی ته مایله شوی وی، او که چیرته نور زراعت وی، لکه دانی نو هغه باید کلکی او پخی شی، او په هغه فصلونو کښی چه په باران او یا په نهرونو باندی اوبه کیږی، په غیر د مشقت او مصرف څخه، نو په هغی کښی عشر یعنی لسمه برخه فرض ده، او کوم فصلونه چه په مشقت او تکلیف سره خړوبیږی، لکه په ارټونو، څاګانو، بوکو، او فوارو، سره نو په هغی کښی شلمه برخه فرض ده، او کله چه په میوو کښی پوخوالی ولګیږی، او دانی کلکی شی، نو په هغی کښی بیا زکات فرض دی. او کوم فصلونه چه د کال په ځنو ورځو کښی په مشقت سره اوبه کیږی، او په ځنو ورځو کښی په غیر د مشقت نه اوبه کیږی نو اعتبار اکثریت لره دی، او حساب به د مشقت او نه مشقت په تناسب سره کیدای شی.

**دسرو اوسپینو زرو زکات په لاندی ډول دی: ۱)** دسرو زرو نصاب (85) ګرامه دی

۲) د سپینو زرو نصاب (595) ګرامه دی . او په نغدو روپو کښی هله زکات فرضیږی چه د زکات د ورکولو په وخت کښی د هغی قیمت د سرو زرو او یا سپینو زرو کم نصاب ته ورسیږی، او کله چه دغه مقدار پوره شی، نوبیا به د لسمی برخی څلورمه حصه یعنی

ځلوېښتمه حصه په زکات کښې ورکوي. او د ښځو په جايزو، ګاڼو اوکالو کښې زکات نشته چه کوم د ښايست لپاره استعمالوي، او هغه کالي او ګاڼه چه د تجارت لپاره تيار شوي وي اويا د ذخيره کولو لپاره نو په هغې کښې زکات ورکول فرض دي. اود ښځو لپاره د ټولو سرو زرو اوسپينو زرو استعمال جائزدي، کوم چه عرف اورواج کښې استعماليږي، او د لوښو سره لړ او معمولي سپين زر ګډول جايز دي، او د نارينه وو لپاره فقط د سپينو زرو د ګوتې او چشمو استعمالول جائزدي. او د سرو زرو ګډول د لوښو سره حرام دي، او د نارينه لپاره د هغې مستقل استعمالول جايز نه دي، ليکن که د بل شي تابع وي نو بيا په کمه اندازه د هغې استعمالول جايز دي، لکه تڼۍ شوي او يا پرې د غاښونو کلکول شوه، ليکن په دې شرط چه د ښځو سره پکښې مشابهت نه وي.

که د چا سره داسې مال وي چه کميږي او زياتيږي، او په ده باندې د ټول مال زکات ويستل د کال په پوره کيدو کښې ګران وي: نو بيا دې په کال کښې يوه ورځ د زکات د ويستلو لپاره انتخاب کړي، او کله چه هغه ورځ راورسيږي نو ودې ګوري چه څومره مال ورسره دي؟ نو په سلو کښې دې دونيمې روپۍ په زکات کښې ورکړي اګر که په ځنې مال يې کال نه وي تيرشوي. او څوک چه تنخوا اخلي او يا يې زمکه او کور په کرايه (ايجار) ورکړي وي، که د هغې نه څه مال نه ذخيره کوي او نه يې ساتي نو زکات پرې نشته اګر که ډير هم وي، او که ذخيره کوي يې نو په هغه پيسو کښې به زکات ورکوي چه ذخيره کړي يې وي، او کله چه پرې کال تير شي، او که په دې کښې ورته مشقت وي نو بيا دې د زکات لپاره په کال کښې يوه ورځ انتخاب کړي.

که چيرته ديو انسان په مالدارسړي باندې قرض وي، چه د ادا کولو اميد يې وي، نوپه ده باندې بيا په هغه وخت کښې زکات لازميږي، چه کله ورته خپل قرض لاس ته ور شي، ليکن د مخکنې ټولو کلونو زکات به ورکوي اګرکه ډيروي، او که چيرته دغه قرضدار مفلس يعنې غريب وي، او د ادا کولو توان ونه لري، نوبيا په کښې زکات نشته تر څو چه خپل قرض يې په لاس نه وي ورغلی، او که چيرته خپل قرض په لاس ورشي نو بيا به د يو کال زکات ورکوي، اګرکه ډير کلونه پرې هم تير شوي وي.

**د تجارت په سامانونو کښې د زکات بيان :** په دې کښې زکات هله فرض ګرځي چه کله په کښې څلورشرطونه پوره شي: **١)** چه د ده په ملکيت کې راشي. **٢)** چه تملک يعنې ملکيت کې راوستل د تجارت په نيت وي. **٣)** چه د هغې قيمت د نصاب حد ته ورسيږي، چه کوم په سرو زرو او سپينوزرو کښې کم نصاب دی. **٤)** د کال تيريدل.

چه کله دا څلور شرطونه پوره شي، نو بيا به د هغې د قيمت نه زکات اوباسي، او که چيرته ورسره سره اوسپين زر موجود وي، نوهغه به هم د دغې سامانونو د قيمت سره جمع کړي، چه د نصاب تکميل ورباندې راشي، او که چيرته يې دغه سامانونه او اسباب د استعمال لپاره ساتلي وي، لکه جامې، کورونه، موټرې، او يا داسې نور نو بيا په هغې کښې زکات نشته.

**صدقة فطر (سرسايه) :** داپه هرهغه مسلمان باندې فرض ده، چه د اختر د يوې شپې او ورځې د طعام (خوړو) نه زيات طعام (خواړه) ولري، چه د ده او د هغې د کورنۍ دخوراک نه زيات وي. او د صدقة فطر مقدار دوه کيلو اودوه سوه پنځوس ګرامه طعام دي، چه کوم د ملک عام خوراک وي.

او دا په هر مسلمان باندی فرض ده نارینه وی او که زنانه، او انسان به د خپل ځان او د هغه چا صدقهٔ فطر ورکوی، چه په ده باندی د هغی خرچ اوخوراک (نفقه) لازم وی، او د صدقهٔ فطر ورکول داختر د لمانځه نه مخکی مستحب دی، او د اختر د ورځی نه ئی وروسته کول جائز نه دی، او د اختر نه یوه ورځ او یا دوه ورځی مخکی د هغی ورکول جائز دی، او که ډیر خلک یومسکین ته صدقهٔ فطر ورکوی نو جائز دی، او دا هم جائز دی چه یو انسان خپله صدقهٔ فطر په ډیرو خلکو تقسیم کړی.

**دزکات مستحقین او حقداران اته دی : ١)** فقیران. **٢)** مسکینان. **٣)** دزکات راجمع کونکی. **٤)** مؤلفة القلوب یعنی کوم کسان چه اسلام ته یی زړونه مایل وی، دهغوی د راجلبولو په خاطر. **٥)** د مریانو او غلامانو د ازادولو په خاطر. **٦)** قرضداری . **٧)** في سبیل الله یعنی د الله په لار کښی. **٨)** مسافر.

دی ټولو ته به د حاجت په اندازه زکات ورکول کیږی، مګر د زکات عامل (جمع کونکی) ته د هغه د اجرت په اندازه زکات ورکول کیږی اګر که مالدار هم وی، کله چه باغیان او خوارج په یو کلی باندی قبضه وکړی نو هغوی ته هم د زکات ورکول جایز دی، کله چه یو حاکم په زور سره او یا په اختیار سره زکات واخلی نو دغه زکات صحیح کیږی عدل پکښی کوی او که ظلم.

او کافرانو، غلامانو، مالدارانو، بنی هاشمو، او هغه چاته د زکات ورکول جایز نه دی چه په دی سړی یی نفقه فرض ده، او که چیرته په ناپوهی سره غیر مستحقینو ته زکات ورکړی او بیا ورته معلومه شی نو دغه زکات نه صحیح کیږی، مګر که یو سړی ته زکات ورکړی چه د ده په ګمان مسکین وو او هغه بیا مالداره ثابت شی نو دغه زکات صحیح دی.

**نفلی صدقه :** رسول الله ﷺ فرمائی : « **إِنَّ مِمَّا يَلْحَقُ الْمُؤْمِنَ مِنْ عَمَلِهِ وَحَسَنَاتِهِ بَعْدَ مَوْتِهِ عِلْمًا عَلَّمَهُ وَنَشَرَهُ، وَوَلَدًا صَالِحًا تَرَكَهُ، وَمُصْحَفًا وَرَّثَهُ، أَوْ مَسْجِدًا بَنَاهُ، أَوْ بَيْتًا لِابْنِ السَّبِيلِ بَنَاهُ، أَوْ نَهْرًا أَجْرَاهُ، أَوْ صَدَقَةً أَخْرَجَهَا مِنْ مَالِهِ فِي صِحَّتِهِ وَحَيَاتِهِ يَلْحَقُهُ مِنْ بَعْدِ مَوْتِهِ** » ابن ماجه.

**ترجمه :** ځنی هغه نیک عملونه چه مسلمان ته یی د مرګ نه وروسته ثواب رسیږی علم دی چه خلکو ته یی ښودلی دی او نشر کړی یی دی، او یا یی نیک بچی پریښی وی، او یا یی په میراث کښی قرآن کریم پریښی وی، او یا یی جمات جوړ کړی وی، او یا یی مسافر خانه جوړه کړی وی، او یا یی د اوبو نهر (ویاله) روان کړی وی، او یا یی په خپل ژوند کښی په روغ والی کښی صدقه ورکړی وی، نو د هغی ثواب به ورته د مرګ نه وروسته رسیږی.

## دروژی مسائل

د رمضان د مبارکی میاشتی روژه نیول، په هر مسلمان، عاقل، بالغ، او په هغه چا باندی چه د روژی طاقت لری فرض ده، لیکن په حائضه او نفاس واله زنانه باندی د دغی روژی نیول فرض او فرض نه دی، او هغه ماشوم چه د روژی د نیولو طاقت لری، هغی ته به دروژی په نیولو باندی حکم کیدای شی، دی لپاره چه د روژو سره اشنا شی.

**درمضان د میاشتی د پیژندلو لپاره دری طریقی دی: ۱)** د میاشت په لیدو سره، چه یو عادل او مکلف مسلمان پری گواهی وکړی اگر که ښځه هم وی. **۲)** د شعبان د میاشتی دیرش ورځی پوره کول.

او د فرضی روژی وخت د سبا صادق (فجر صادق) نه نیولی د لمر دپریوتو پوری دوام لری، او د روژی د نیولو نیت د سحر نه مخکی ضروری دی.

**هغه شیان چه روژه پری فاسدیږی : ۱)** جماع (کوروالی کول)، اوپه دغه انسان باندی د دغی روژی قضائی فرض ده، اوکفاره پری هم لازمیږی، چه ترتیب یی دا دی، دمرئی ازادول، که دهغی طاقت ونه لری نو دوه میاشتی مسلسل روژی به نیسی، اوکه د هغی طاقت یی هم نه وی نوبیا به شپیته مسکینانوته طعام ورکوی.

**۲)** د بدن نه د منی وتل، که په بوسه (ښکلولو یا مچولو سره وی)، او یا دلاس په استعمال سره وی، او د خوب په لیدلو باندی روژه نه ماتیږی.

**۳)** په قصد سره خوراک او څښاک کول، که چیرته په هیره سره وی، نورروژه یی صحیح ده.

**٤)** دوینی ویستل د بدن نه که په ښکر لگولو سره وی، اویا یو مریض ته د وینی ورکول، او که چیرته لږه وینه وی لکه د تیست او تحلیل (معاینانو) لپاره، اویا هغه وینه چه په غیر د ارادی نه ووځی، لکه دپوزی وینه نوبیا په هغی باندی روژه نه ماتیږی.

**٥)** په قصد سره قی او ولتی کول، که چیرته په هیره وی، اویا په زبردستی او زورسره وی، نوبیا پری روژه نه ماتیږی، او که چیرته دچا حلق (ستونی) ته گرد او غبار (دوړی) داخل شی، او یا خولی او پوزی ته د اوبو اچولو په وخت کښی د ده حلق (ستونی) ته اوبه داخلی شی، او یا په فکر او سوچ سره انزال وشی، اویا په خوب کښی په ده باندی اودس واوړی، او یا غیری اختیاری قی (ولتئ) وکړی، نو پدی ټولو حالتونو کښی د ده روژه نه ماتیږی، او د دغی مخکنی ماتونکو شیانو په وجه په ده باندی فقط د دغی یوی ورځی د روژی قضائی فرضیږی، او کفاره پری نشته، لکن صرف په جماع کولو باندی کفاره لازمیږی، چه مخکی ذکرشوه.

او که څوک خوراک وکړی، او خیال یی دا وی چه دا شپه ده او بیا هغه ورځ ثابته شی، نوپه ده باندی قضائی فرض اولازم ده، او که څوک خوراک وکړی، او دائی خیال وی چه سبا شوی ندی، نو روژه یی نه ماتیږی، او که څوک په شک سره روژه ماته کړی، او خیال یی دا وی چه ماښام شوی به وی، نوپه ده باندی قضائی فرض ده.

**دهغو کسانو احکام چه روژه ماتول او خوړل ورته روا دی :** د هغه چا لپاره چه عذر یی نه وی د روژی خوړل حرام دی.او د حائضی نفاس واله زنانه لپاره د روژی ماتول فرض دی، او همدا راز د هغه چا لپاره هم دا حکم دی چه د یو انسان د نجات لپاره د روژی ماتولو ته ضرورت لری. هغه مسافرچه د لمونځ قصر ورته جائز وی او د روژی نیول

ورته ګران وي، اویا هغه مریض چه د روژې نیول ورته ضرر رسوي د روژې ماتول سنت دي، او د هغه مقیم سړي لپاره چه د روژې په ورځ کښې مسافر شي، او یا د هغې حاملې او تې ورکونکې زنانه لپاره چه په خپل ځان او یا په خپل ماشوم باندې ویرېږي، د روژې ماتول جایز دي، او په دې ټولو باندې صرف د دغې ورځې قضائي راوړل فرض دي، او په هغې حاملې او تې ورکونکې زنانه باندې چه په خپل ماشوم باندې ویرېږي د هرې ورځې په بدل کښې یو مسکین ته طعام ورکول هم لازم دي.
هغه انسان چه د بوډاوالې د وجې نه اویا د دوامداره مرض له امله د روژې د نیولو توان نه لري، نو هغه به دهرې روژې په بدل کښې یو مسکین ته فدیه او طعام ورکوي، او د روژې قضائي ورباندې نشته.
اوکه څوک د عذر د وجې نه د روژې قضائي وروسته کړي، تردې چه بل رمضان پرې راشي، نو په هغه باندې صرف قضائي ده، اوکه چیرته یې په غیر د عذر نه وروسته کړې وي، نو بیا به د قضائي سره سره دهرې روژې په بدل کښې یومسکین ته طعام هم ورکوي، او که چیرته دعذر په وجه د روژې قضائي رانه وړې تردې چه مړ شي نو په هغې باندې فدیه نشته او که په غیر دعذر نه یې قضائي نه وي راوړې تردې چه مړ شي نو د هغه نه به د هرې روژې په مقابل کښې یو مسکین ته طعام ورکولې شي، د مړې وارثانو لپاره سنت دي چه د خپل رشته دار لپاره د رمضان د هغې روژې قضائي راوړي چه تفریط یعنې کمې یې پکښې کړې دي، او یائې نذر منلې وي، او همدا راز د هغې نذر پوره کول ورله سنت دي چه په نیکۍ کښې یې منلې وي.
او که څوک دعذرپه وجه روژه ماته کړي، او بیا دغه عذر د ورځې په مینځ کښې ختم (زائله) شي نو د باقي ورځې روژه پرې لازم ده. او که چیرته یو کافر د روژې په ورځ کښې مسلمان شي، او یا یوه حائضه زنانه پاکه شي، او یا یو مریض روغ شي، او یا یومسافر کور ته راشي، او یا یو ماشوم بالغ شي، او یا یو لیونې انسان عقلمند شي په داسې حال کښې چه دوی روژه ماته کړې وي، نو په دې ټولو باندې د دغې ورځې قضائي فرض ده اګر که دوی د پاتې ورځې روژه هم ساتلې وي. او د هغه چا لپاره چه د رمضان په میاشت کښې ورله د روژې ماتول جایز وي نو بل څوک ورله په هغې کښې روژه نشي نیولې.
**نفلي روژې :** غوره طریقه پکښې یوه ورځ روژه کېدل او یوه ورځ بوزه کېدل دي، بیا د دوشنبې او پنځشنبې په ورځ روژه نیول، او بیا په هره میاشت کښې درې ورځې روژه نیول، او غوره دا ده چه دغه روژې د هرې هجرې قمرې میاشتې، دیارلسم، څوارلسم، او پنځلسم تاریخ باندې وي، او همدا راز دمحرم او شعبان د میاشتې د اکثرو ورځو روژه نیول، او د عاشورا او د عرفات د ورځې روژې نیول هم سنت دي، لکه څرنګه چه د شوال د میاشتې شپږ ورځې روژې نیول مستحب دي، او د رجب میاشت په روژې سره خاص کول مکروهه دي، او همدارنګه دخالې او د جمعې په ورځ روژه نیول مکروهه دي، او همدا راز شکې روژه نیول چه هغه د شعبان د دیرشمې ورځې روژه ده چه کله هوا صافه وي، او د وړوکې اولوی اختر په ورځ او یا د تشریق په ورځو کښې روژه نیول حرام دي مګر هغه څوک چه په هغې باندې د حج قران او یا د حج تمتع دم اوښتې وي.

**لاربنودنى:**

✱ كه څوك د لوئى بى اودسى په حالت كښى وى، لكه جنابت او يا حائضه اونفاسه زنانه وى چه كله د سبا كيدونه مخكى پاكه شى، نوهغوى لپاره دغسل وروسته كول د سحر د بانگ (اذان) پورى جائز دى، او په دغى حالت كښى ورته خوراك كول هم جائز دى، ځكه چه نبى ﷺ به كله كله دغسى عمل كولو.

✱ د زنانه لپاره د رمضان په مياشت كښى د حيض د بندولو د دوا استعمال جايز دى، پدى غرض چه د مسلمانانو سره په نيكو اعمالو او عبادت كښى شريكه شى، ليكن په دى شرط چه د دوا استعمال ورته ضرر نه رسوى.

✱ دروژه دار لپاره د لاړو او همدارنگه دهغى بلغمو تيرول جائز دى چه كوم دستونى نه دننه وى.

✱ رسول الله ﷺ فرمائى : « لَا تَزَالُ أُمَّتِي بِخَيْرٍ مَا عَجَّلُوا الإِفْطَارَ وَأَخَّرُوا السُّحُورَ » أحمد. **ترجمه :** زما امت به ترهغى پورى په خيركښى وى چه ترڅو پورى په روژه ماتى كښى تلوار كوى، او په پيشمنى كښى تاخير كوى.

او د ابو داود په روايت كښى راغلى: « لَا يَزَالُ الدِّينُ ظَاهِرًا مَا عَجَّلَ النَّاسُ الْفِطْرَ لأَنَّ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى يُؤَخِّرُونَ » أبو داود. **ترجمه :** دين به هميشه لپاره غالب وى چه تر څو پورى خلك په افطارى (روژه ماتى) كښى تلواركوى، ځكه چه يهوديان او نصارى يى وروسته كوى.

✱ دروژه ماتى په وخت كښى دعاء كول سنت ده، رسول الله ﷺ فرمائى : « إن للصَّائِمِ عِنْدَ فِطْرِهِ دَعْوَةً لا تُرَدُّ » ابن ماجه. **ترجمه :** دروژه دار دعاء د روژه ماتى په وخت كى نه مسترد كيږى، او د روژه ماتى په وخت د دى دعاء ويل مستحب دى: « ذَهَبَ الظَّمَأُ وَابْتَلَّتْ الْعُرُوقُ وَثَبَتَ الأَجْرُ إِنْ شَاءَ اللَّهُ » أبو داود. **ترجمه :** تنده ختمه شوه او رگونه لانده شوه او ثواب حاصل شو ان شاء الله.

✱ په تازه كجورو باندى روژه ماتول سنت طريقه ده، كه چيرته تازه كجورى نه وى، نو په وچو كجورو باندى دى ماته كړى، او كه چيرته هغه هم نه وى، نو بيا دى په اوبو باندى ماته كړى.

✱ روژه دار به د ورځى له خوا رانجه نه استعمالوى، اونه به په سترگو او غوږونو كښى دوا اچوى، او دا علماوو داختلاف نه دوتلو له وجى، او كه چيرته ورته محتاج وى، لكه دعلاج په خاطر نوبيا د هغى استعمالول جائز دى پروا نه كوى، اگر كه خوند يى حلق (ستونى) ته هم ورسيږى، او روژه يى صحيح ده.

✱ دروژى په ټولو اوقاتو او وختونو كښى د مسواك استعمالول جائز دى، په غير د كراهت نه او دا صحيح قول دى.

✱ دروژه دار لپاره په كاردى چه غيبت، چغلى، دروغ او يا نور گناهونه پريږدى، اوكه څوك ورته كنځلى كوى، نوهغه دى ورته ووائى چه زه روژه يم، د گناهونو نه د ژبى او د نورو اندامونو په حفاظت سره د روژى حفاظت كيږى، لكه څرنگه چه رسول الله ﷺ فرمائى : «مَنْ لَمْ يَدَعْ قَوْلَ الزُّورِ وَالعَمَلَ بِهِ فَلَيْسَ لِلَّهِ حَاجَةٌ فِي أَنْ يَدَعَ طَعَامَهُ وَشَرَابَهُ »

أحمد. **ترجمه :** څوک چه د درغو وینا او په هغی باندی عمل کول پری نږدی نو الله تعالی دی محتاج نه دی چه بنده خوراك او څښاك پریږدی.

✸ څوک چه طعام ته وبللی شی که هغه روژه وی نو هغه لپاره سنت دی چه د طعام خاوند ته دعاء وکړی، او که بوزه وی نو خوراک دی وکړی.

✸ دقدر شپه (لیلة القدر) په ټول کال کښی بهترینه شپه ده، او د دی واقع کیدل د رمضان دمبارکی میاشتی په اخیری لسو شپو پوری خاص دی، او اوویشتمه شپه پکښی ډیره تاکیدی ده، او په دغه شپه کښی نیک عمل کول د زرو میاشتو د عبادت نه غوره دی، او د دغی شپی ځنی علامی دادی: چه کله د هغی په سبا له لمر راخیژی نو هغه سپین وی او پلوشی (شعاع) یی کمی وی، هوا معتدله وی، کله پکښی د یو مسلمان نصیب وشی لیکن هغی ته پری علم نه وی، او د دغی شپی اصلی هدف دا دی چه خلک د رمضان په میاشت کښی د الله په عبادت کښی محنت او کوشش وکړی، او په خاصه توگه په اخیرنی لسو شپو کښی، او مسلمان دا کوشش وکړی چه په دغو شپو کښی تری عبادت پاتی نشی، کله چه په جمع باندی تراویح کوی نو باید د امام سره جمع (جماعت) په نیمه پری نږدی، دی لپاره چه الله تعالی ورته د ټولی شپی د عبادت او قیام ثواب ورکړی.

**اعتکاف :** په جمات کښی د عبادت لپاره وخت تیرولو ته اعتکاف وائی، او د اعتکاف کونکی لپاره د لوئی بی اودسی (جنابت) نه پاکوالی شرط دی. او د معتکف لپاره په غیر د ضرورته د جمات نه وتل ناروا دی، ضرورت لکه طعام قضاء حاجت، فرضی غسل، او په غیر د ضرورته په وتلو باندی، او یا په جماع کولو باندی اعتکاف باطلیږی، او په هر وخت کښی اعتکاف کول سنت دی لیکن د رمضان په میاشت کښی سنت مؤکد دی، او بیا د رمضان په اخیری لسو ورځو کښی پری ډیر زیات تاکید شوی دی. او د اعتکاف لږه موده یو ساعت دی، لیکن دا مستحب دی چه د یوی ورځی او شپی نه کم نه وی، او ښځه به د خاوند د اجازت نه په غیر اعتکاف نه کوی.

د معتکف لپاره سنت طریقه دا ده چه په عبادت طاعت باندی مشغول وی، او مباح (بی ثوابه روا) کارونه پریږدی، او د بی فایدی شیانو نه ځان وژغوری.

# د حج او عمرې احکام

په ټول عمرکښې يو ځل حج او عمره کول فرض دی، او د فرضيت شرطونه يې په لاندې ډول دی. ۱) اسلام. ۲) عقل. ۳) بلوغ. ٤) ازادی. ٥) دلارې د سورلې او توښې طاقت.
٦) او دښځې لپاره شپږم شرط دميره يا محرم موجوديت دی، او محرم هغه چاته ويلی کيږی، چه ټول عمر ورسره نکاح جائز نه وی، او که په غير د محرم نه حج وکړی حج يې صحيح دی ليکن سره د ګناه نه، اوکه څوک د حج او عمرې په ادا کولو کښې نقصان او کوتاهی وکړی، اومړ شی (اوحج ونه کړی)، نو د هغه دمال نه به د حج اوعمرې لپاره نفقه جدا کړی، اوبل څوک به ورله په هغې باندې حج اوعمره کوی، د کافر اوليونی حج اوعمره صحيح نه ده، اود مرئی اوماشوم حج صحيح دی، ليکن په فرضی حج کښې نه حسابيږی او د هغه چا حج صحيح دی چه طاقت يې نه وی، او که څوک د بل چا نه حج وکړی اوپه خپله يې حج نه وی کړی نودغه حج يې د خپل ځان نه حسابيږی.
**د احرام مسايل :** څوک چه د احرام اراده وکړی، د هغه لپاره مستحب دی، چه غسل وکړی، او خپل ځان صفا او خوشبويه کړی، او سپين لنګ او ځادربه واغوندی، اوبيابه د لمانځه نه وروسته د حج يا دعمرې او يا د دواړو نيت وکړی، اوداسی به وائی: لبيك اللهم عمرة، أو حجًا، أو حجًا وعمرة. **ترجمه :** ای الله زما دعمرې او يا د حج اويا د عمرې اوحج دواړو اراده ده، که چيرته ويريده نو دا شرط به ذکر کړی : فإن حبسني حابس فمَحِلِّيْ حيث حبستني. **ترجمه :** که چيرته دځه مانع په وجه بند شوم، نوزما د حلاليدو ځای به همدغه د بند يدو ځای وی.
**او مسلمان په درې قسمه حجونو کښې اختيارمند دی :** تمتع، قران، او افراد، او غوره په کښې تمتع دی. او حج تمتع ديته وائی: چه اول د حج په مياشتو کښې دعمرې نيت وکړی، او بيا د هغې نه ځان حلال کړی او بيا د ذوالحجې په اتم تاريخ باندې دحج نيت وکړی، او حج افراد هغې ته وائی: چه د ميقات نه صرف د حج نيت وکړی، او حج قران هغې ته وائی: چه د ميقات نه د حج او عمرې دواړو نيت وکړی، او هرکله چه د حج اراده کونکی په سورلی باندې برابر شی، نو لبيك به و وائی: لبيك اللهم لبيك، لبيك لا شريك لك لبيك، إن الحمد والنعمة لك والملك، لا شريك لك. **ترجمه :**ای الله زه ستا حکم مَنَلو ته تيار يم، تا لره شريك نشته، زه ستا حکم مَنَلو ته تيار يم، په رښتيا سره چي ټوله ستاينه او د نعمت (شکر) او پادشاهي تا لره دي، تا لره شريك نشته.
او په ټوله لار د لبيك ويل مستحب دی، او د نارينه لپاره مستحب دا دی چه په اوچت اواز به لبيك ووائی.
**د احرام په حالت کښې ممنوع او ناروا کارونه : ۱)** د ويښتو خرول او تراشل. **۲)** د نوکونو غوځول. **۳)** د نارينه لپاره د ګنډلو جامو اغوستل. مګر په هغه وخت کښې چه لنګ ورته پيدا نشی، نو بيا پرتوګ اغوستلی شی او که پيزار ورته پيدا نه شی نو بيا موزې په ښپو کولی شی او دبجلکو لاندې نه به يې پريکوی، اوپه دغه وخت کښې پرې بيا فديه نه لازميږی. **٤)** دنارينه لپاره د سر پټول. **٥)** په جامو او يا په بدن باندې د خوشبوئی اوعطرو لګول. **٦)** په ځنګل او وچه کښې د يو وحشی او حلال حيوان ښکار کول. **۷)** د نکاح تړل، دا کار حرام دی ليکن فديه پکښې نشته. **۸)** د شهوت د وجه نه د ښځې سره په غير د شرمګاه نه مباشرت او لوبې کول، او د هغې فديه ګډ حلالول، او يا درې ورځې روژه نيول، او يا شپږو مسکينانو ته طعام ورکول دی. **۹)** جماع کول، که چيرته د اول ځل د حلاليدونه مخکې وی، نوحج يې فاسد دی، ليکن د حج مراسم به پوره کوی، او راروان کال به د دغې حج قضائی راوړی، او د جرمانې

په طور به اوښ حلالوی، او د مکی په مسکینانو به یی تقسیم کړی، او که چیرته د اول ځل د حلالیدو نه وروسته جماع (کوروالی) وکړی نو حج یی فاسد نه دی لیکن یو اوښ به حلالوی، او که چیرته په عمره کښی جماع وکړی نوعمره یی باطله شوه او په ده باندی ګډ لازم شو او د عمری قضائی به راوړی، حج او عمره په غیر د جماع نه په نورو شیانو باندی نه فاسدیږی، او زنانه دنارینه په شان ده مګر د زنانه احرام په مخ کښی دی، او همداراز زنانه ګنډلی جامی اغوستلی شی، لیکن برقه، نقاب او دست کشی یعنی دستانی به نه اغوندی.

**د فدیی مسائل :**

**فدیه په دوه قسمه ده :**

**۱)** هغه فدیه چه هغی کی ترتیب لازم نه دی، لکه د ویښتو خرول خوشبوئی استعمالول، د نوکونوپری کول، د سر پټول، او یا د نارینه لپاره د جامواغوستل، نو د ده لپاره پدی صورت کښی په مابین د دریو شیانو کښی اختیار دی: دری ورځی روژه نیول، یا شپږو مسکینانو ته طعام (خواړه) ورکول، چه مقدار یی یو نیم کیلو طعام دی، او یا د ګډ (پسه) حلالول.

او د ښکار قتلولو په بدل کښی به د کورنی ځاروو نه دهغه په شان ځاروی ورکوی، په دی شرط چه مثل ولری، او هغی سره ورته او مشابه وی، او که چیرته ورله مثل نه وو، نو بیا به دهغی ښکارشوی حیوان قیمت ورکوی، چه انصاف دار کس به دهغی اندازه لګوی.

**۲)** هغه فدیه چه په هغی کښی ترتیب لازم دی، لکه د متمتع او قارن حاجی حال شوه، ځکه چه په دوی باندی د ګډ ذبحه کول لازم دی، که چیرته ګډ پیدا نه کړی، نوبیا به د حج په ورځو کښی دری ورځی روژی نیسی، او اوه ورځی چه کله کورته واپس شی، او د جماع کولو فدیه اوښ دی، لیکن که اوښ پیدا نکړی نوبیا به د متمتع حاجی په شان روژه نیسی، د ویښتو اود نوکونوغوځول، او ښکار کول، که په نسیان یعنی په هیره سره وی، او که قصدا وی، دواړه برابر دی، او نور محظورات د احرام چه کله په هیره سره وی، نو په هغی کښی فدیه نشته، فدیی ګډ او دفدیی طعام (خواړه) به یوازی د حرم په مسکینانو تقسیمیږی.

**مکی ته د ننوتلو آداب :** چه کله یو حاجی بیت الله شریف ته داخل شو نو د جمات د ننوتلو دعاء به ووائی، که چیرته عمره کونکی وو نو د عمری په طواف باندی به شروع وکړی، اوکه د حج افراد او یا د حج قران نیت یی کړی وی، نو بیا به په طواف قدوم باندی شروع وکړی، او اضطباع به وکړی، یعنی ښی اوږه به ښکاره کړی او چپه اوږه به پټه کړی، او د حجراسود نه به طواف شروع کړی، او که چا ته د ضرر رسیدلو خطره نه وی نو لاس به پری کیږدی او ښکل به یی کړی، او (بسم الله والله اکبر) به ووائی، او په هر چکر کښی به داسی عمل کوی، او بیت الله به چپ طرف ته وګرځوی او اوه طوافه به وکړی، اوکه چیرته امکان وی نو په اولنی دری طوافونو کښی به په نژدی ګامونو سره تیز تیز ځی، او په نورو کښی به په دمه دمه (ورو ورو) ځی، او کله چه رکن یمانی ته ورسیږی نوهغه به په لاس باندی مسحه کوی او الله اکبر به وائی، او د رکن یمانی او حجر اسود په مابین کښی به ( ربنا آتنا في الدنيا حسنة وفي الآخرة حسنة وقنا عذاب النار) وائي. **ترجمه** : ای زموږ پروردګاره، موږ ته په دنیا کي توفیق دنیکی راکړی، او په آخرت کي ثواب دنیکی راکړی، او د دوږخ له عذاب نه مو وساتی.

اوپه نورو طوافونو کښې یې چه کومه دعاء خوښه وی هغه ویلی شی، او بیا به په مقام ابراهیم کښې دوه رکعته لمونځ وکړی، که چیرته ځای وی، په اول رکعت کښې به ( قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ) ووائی، او په دوهم رکعت کښې به ( قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ) ووائی، او بیا به د زمزم اوبه وڅښی، بیا به د حجر اسود ښکلولو لپاره دوباره راشی که امکان وو او د ملتزم (د حجر اسود او د دروازی په منځ) کښې به دعاء وکړی، بیا به د صفاء غونډۍ ته وخیژی او دا ایت به ووائی: ﴿إِنَّ ٱلصَّفَا وَٱلۡمَرۡوَةَ مِن شَعَآئِرِ ٱللَّهِۖ فَمَنۡ حَجَّ ٱلۡبَيۡتَ أَوِ ٱعۡتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡهِ أَن يَطَّوَّفَ بِهِمَاۚ وَمَن تَطَوَّعَ خَيۡرٗا فَإِنَّ ٱللَّهَ شَاكِرٌ عَلِيمٌ﴾ سورة البقرة 158. **ترجمه :** بيشكه چي صفا او مروه د الله له نخښو څخه دي، نو هر هغه څوك چي د الله دكور حج وكړي يا عمره وكړي پر هغه باندي كومه گناه نشته چي په د غو دواړو کی سعيه وكړي، او هغه كسان چي په خپله خوښه څه ښه كار وكړي نو بيشكه چي الله شكر قبلوونكى او ښه پوه دی.

او بیا به (الله اکبر) او (لا اله الا الله) ووائی، لاسونه به اوچت کړی، قبلی ته به مخامخ اودریږی، اودعا به اوکړی، اوکله چه شنو (زرغونو) څراغونو (راډونو) ته ورسیږی نو د هغی په مینځ کښی به په نژدی گامونو سره تیز تیز ځی، اوهرکله چه مروه ته ورسیږی نو هلته به هم د صفا په څیرعمل کوی، بیا به د صفا په طرف روان شی، په دمه به ځی او کله چه شنو (زرغونو) نښو یا څراغونو ته ورسیږی، نوهلته به په نژدی گامونو سره تیز تیز ځی، په دغه طریقه به اوه ځلی (کرتی) ځی راځی، اوبیا به ویښته کم کړی او یا به یی وخروی او خرول یی غوره دی مگر د حج تمتع په عمره کښی کمول غوره دی ځکه چه د هغی نه به وروسته بیا حج کوی، اودمفرد اوقارن حاجی لپاره د ویښتواغستل (کمول) جایز نه دی، ترڅو پوری چه یی داختر په ورځ لوی شیطان (جمرة العقبة) نه وی ویشتلی، او زنانه هم د نارینه په شان ده دحج په مراسموکښی، مگرپه طواف اوسعی کښی به منډی نه وهی.

**دحج شرعي طريقه :** کله چه د (د ذوالحجی اتمه) ورځ شی چه هغی ته د ترویه ورځ وائی نو هغه څوک چه ځان یی حلال کړی وی د خپل ځای نه به نیت وکړی، او د منی په طرف به روان شی، نهمه شپه به په منی کښی وکړی، کله چه لمر راوخیژی نو عرفات ته به لاړشی، کله چه زوال وشی نو د ماسپښین او مازدیگر لمونځونه به په یو ځای او په قصر سره کوی، او عرفات ټول موقف یعنی د اودریدو ځای دی، مگر (وادی عرنه نومی ځای) دعرفات نه بهر دی، او لا إله إلا الله وحده لا شريك لـه، له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير، به ډیر وائی. **ترجمه :** بيله يو الله نه بل دعبادت وړ معبود نشته، په داسی حال کښی چه يو دی شريك نه لری، خاص هغه لره بادشاهی ده، او هغه لره غوره ستاينه ده، او هغه په هرڅه قادر دی.

او د لمر د پناه کیدو پوری به په دعاء، توبه او عبادت کښی کوښښ او زیار باسی، او بیا به د مزدلفی په لورپه وقار او سکون سره روان شی او لبيك (تلبيه) به وائی، او کله چه مزدلفی ته ورسیږی نو هلته به د ماښام او ماخوستن لمونځونه په یو ځای او قصر سره وکړی، او بیا به په مزدلفه کښی شپه وکړی، او د سحر لمونځ به وکړی، او درڼا کیدو پوری به دعاگانی کوی، بیا به د منی طرف ته روان شی، کله چه وادی محسر ته ورسیږی که طاقت یی وو نو په منډه به ځی، کله چه منی ته ورسیږی نو لوی شیطان (جمرة العقبة) به په اوو کاڼو ولی، چه د نخود د دانی په مقداروی، او د ویشتلو په وخت کښی به دهر کاڼی سره الله اکبر وائی او

لاس به د ویښتلو په وخت کښې اوچتوی، او په حوض کښې دکانې غورځېدل شرط دی اگر که عمود یعنې ستن نه وی لګیدلی، او د جمرې په ویشتلو باندی به د لبیك ویل بند کړی، او بیا به قربانی وکړی، او بیا به ویښته وخروی، او یا به یې کم کړی، لیکن خرول غوره دی، او دشیطان په ویشتلو او د ویښتو په خریولو (تراشلو) باندی هرشی ده ته حلال شو چه د احرام په وجه وربادی بند شوی وو، مگر زنانه وربادی حرامه ده، او دی ته اول حلالیدل وائی. بیا به مکې ته ځی، او طواف زیارت به کوی، او دا هغه فرضی طواف دی چه حج پری پوره کیږی، بیا به د صفا او مروه په مینځ کښې سعی کوی که چیرته حاجی متمتع وی او یا یې د طواف قدوم سره سعی نه وی کړی. او په فرضی طواف ورته هر څه حلال شوه تردی چه زنانه ورته هم حلاله شوه، او دیته دوهم حلالیدل وائی. بیا به منی ته واپس لاړشی او هلته د دغی شپو تیرول فرض دی، او هره ورځ به د زوال نه وروسته جمرات یعنې شیطانان په کاڼو (تیګو) ولی، چه د وړی جمرې (اول شیطان) نه به شروع کوی، او په اوو کاڼو به یې ولی، او بیا به لږ مخکې شی قبلې ته به مخ کړی، او دعاء به کوی، او بیا به درمیانه جمرې (دوهم شیطان) ته راشی هغه به هم په دغی طریقې سره وولی، او بیا به دعا کوی، بیا به لویه جمره (دریم شیطان) ولی، او په دغه ځای کښې به د دعاء لپاره نه ودریږی، بیا به په دوهمه ورځ هم په دغه ترتیب سره شیطانان وولی، بیا که غواړی چه تلوار (تعجیل) وکړی، نو د دوولسمی ورځ دلمر پریوتونه مخکې باید د منی د حدودو نه ووځی، او که چیرته په ده باندی د منی په حدودو کښې ماښام شی، نو بیا په ده باندی په منی کښې شپه تیرول او په دیارلسم تاریخ باندی دشیطانانو ویشتل فرض دی، لیکن که چیرته ده د منی نه د وتلو اراده کړی وی لیکن د بیروبار له وجې په منی کښې حصار شی نوځه پروا نه کوی، اگر که د ماښام نه وروسته ووځی. او په حج قران او افراد کښې کوم فرق نشته لیکن په حج قران او تمتع کښې قربانی کول لازم دی، او په افراد کښې نشته او کله چه د مکې نه دوتلو اراده وکړی، نو بیا به طواف وداع کوی، مگر په حائضه او نفاس واله زنانه باندی طواف وداع نشته، او که یو انسان طواف وداع وکړی لیکن وروسته بیا د تجارت په خاطر حصارشی نو دوباره به بل طواف وداع کوی او که څوک په غیر د طواف قدوم نه د مکې نه ووځی که نږدی وو نو بیرته دی واپس شی او که جدا وی نو بیا پری دم فرض شوه.

**دحج فرضونه ځلور دی : ١)** احرام یعنې د حج په مراسمو کښې د داخلیدو نیت او اراده. **٢)** په عرفات باندی ودریدل. **٣)** طواف زیارت. **٤)** د صفا او مروه په مینځ کښې سعی کول.

**دحج واجبات اوه دي: ١)** د میقات نه احرام تړل یعنې نیت کول. **٢)** تر ماښامه پورې دعرفات په میدان کښې ودریدل. **٣)** په مزدلفه کښې شپه تیرول. **٤)** په منی کښې د تشریق دورځو شپې تیرول. **٥)** دجمراتو ویشتل. **٦)** دویښتو خریيل (تراشل) او لندول. **٧)** د رخصتی طواف کول.

**دعمری فرضونه دری دی : ١)** احرام یعنې نیت کول. **٢)** طواف **٣)** سعی کول.

**دعمري واجبات دوه دی : ١)** د میقات نه احرام او نیت کول. **٢)** د ویښتو خریيل (تراشل) او یا کمول.

که څوک رکن او فرضی حکم ترک کړی، ترڅوپوری چه د هغی قضائی اداء نه کړی نو حج یې ناقص دی، او که څوک فرض پریږدی نو قربانی او دم پری لازمیږی، او که څوک سنت پریږدی نو هیڅ پری نشته.

**د طواف د صحیح کیدو شرطونه دیارلس دی :** ۱) اسلام ۲) عقل. ۳) معین او خاص نیت. ٤) د طواف د وخت داخلیدل. ٥) د توان او قدرت په اندازه د عورت پټول. ٦)طهارت او پاکی، لیکن ماشوم تری مستثنی دی. ۷) په یقین سره د اوو طوافونو پوره کول. ۸) کعبه چپ طرف ته ګرځول. ۹) په تلو کښی نه واپس کیدل. ۱۰) د طاقت لرونکی انسان لپاره پیاده تلل. ۱۱) پرله پسی طواف کول. ۱۲) د مسجد حرام په منځ کښی طواف کول. ۱۳) د حجر اسود نه د طواف شروع کول.

**د طواف سنتونه :** د حجر اسود ښکلول ، د هغی په خوا کښی الله اکبر ویل، په لاس باندی د رکن یمانی مسه کول، په خپلو مناسبو وختونو کښی د ښی اوږی ښکاره کول، تیز تلل او یا په دمه تلل، د طواف په دوران کښی دعاء او د الله تعالی ذکر کول، کعبی ته نږدی ګرځیدل، او په مقام ابراهیم کښی د طواف نه وروسته دوه رکعته لمونځ کول.

**د صفا او مروه د سعی شرطونه نهه دی :** ۱) اسلام ۲) عقل. ۳) نیت کول. ٤) پرله پسی سعی کول. ٥) د طاقت لرونکی انسان لپاره پیاده تلل. ٦) اوه کرتی (ځلی) تلل او راتلل. ۷) د صفا او مروه تول حدود راګیرول. ۸) د صحیح طواف نه ئی وروسته کول. ۹) د صفا نه یی شروع کول او په مروه یی ختمول.

**دسعی سنتونه :** د بی اودسی او د نور خباثت نه طهارت حاصلول، د عورت پټول، د سعی په دوران کښی دعاء او ذکر کول، په خپل مناسب وخت سره تیز او په دمه تلل، په صفا او مروه باندی ختل، په طواف پسی متصل سعی کول.

**پاملرنه :** غوره دا ده چه په خپله معینه ورځ کښی شیطانان وویشتلی شی، لیکن که چیرته د یوی ورځی جمرات بلی ورځی ته وروسته کړی شی، او یا ټول جمرات د تشریق اخیری ورځ ته وروسته کړی شی نو صحیح کیږی.

**قربانی :** سنت مؤکد ده، کله چه د ذی الحجه میاشت شروع شی نو د قربانی کونکی لپاره په دغی لسو ورځو کښی د نوکونو او یا د ویښتو غوڅول جایز نه دی.

**عقیقه :** سنت ده د هلک نه به دوه ګډین مالونه (پسونه) حلالیږی، او د جنی نه به یو حلالیږی، او عقیقه به په اومه ورځ کیږی، او په اومه ورځ باندی د هلک د سر خرول او بیا د دغی ویښتو په مقدار سپین زر صدقه کول سنت دی، او په اومه ورځ به ورته نوم ږدی، او الله تعالی ته غوره نومونه عبدالله او عبدالرحمن دی، او په عبد النبی او عبد الرسول باندی نوم ایښودل حرام دی، او که چیرته د عقیقی او د قربانی وخت برابر شی نو ددواړو لپاره یو مال حلالول کافی دی.

✸ ځوک چه د نبی ﷺ جمات ته داخل شی نو اول به دوه رکعته تحیة المسجد لمونځ کوی، بیا به د نبی ﷺ قبر ته راشی د هغی مخ ته به مخامخ ودریږی او سلام به پری وکړی: **السلام علیك یا رسول الله** او که په سلام ویلو کی زیادت وکړی نو ډیره به ښه وی، بیا به ښی طرف ته د یو متر په اندازه وړاندی شی او داسی به وائی: **السلام علیك یا أبا بکر الصدیق** ، **السلام علیك یا عمر الفاروق**. سلام دی وی په تا باندی ای ابوبکر صدیق، او سلامتیا دی وی په تا باندی ای عمر فاروقه. ای الله دی دواړو ته د نبی ﷺ او د اسلام په عوض کښی ښایسته بدله ورکړی، بیا به قبلی ته مخ کړی او حجره به چپ لاس ته وګرځوی او دعا به وکړی.

# مختلفي فايدې

**گناه :** په یو څو شیانو باندې ختمیږي: په ریښتینې توبې سره، په استغفار سره، په نیکو عملونو باندې، او یا د یو مصیبت په مبتلا کیدو سره، د مؤمنانو په دعا سره، په صدقې سره، درسول الله ﷺ په شفاعت سره، که چیرته څه گناهونه پاتې شي او الله تعالی ورته مغفرت ونه کړي نو هغه ته به د قبراو یا د قیامت په عذاب سره سزا ورکړی شي تر دې چه د گناهونو نه پاک شي، بیا به جنت ته ننوځي که په توحید باندې وفات شوی وي، او که په شرک کفر او یا په نفاق باندې مړ شوی وي نو په جهنم کښې به همیشه لپاره اوسیږي .

او گناهونه ډیر اثرات لري، د انسان په زړه باندې یې اثر دا دی ، چه وحشت تورتم، ذلت رسوائي، او بیماري پیدا کوي، او دالله تعالی نه انسان جدا کوي. او په دین باندې یې تاثیر دا دی، چه انسان د نیک عمل نه محرومه کوي، او د نبي ﷺ ملایکو او د مؤمنانود دعا نه انسان محرومه کوي، او په رزق باندې یې اثر دادی، چه رزق نه انسان محروموي، برکتونه او نعمتونه له منځه وړي. او په فرد اوشخص باندې یې دا اثر دی، چه په عمر کښې برکت ختموي، او د انسان ژوند تنگوي، او په کارونو کښې به ورته مشکلات او تکلیف پیښیږي.

او په عملونو باندې دا اثر کوي چه قبلیږي به نه، او په معاشره او ټولنه باندې یې دا اثر دی، چه امن به له منځه لاړ شي، قیمتي به راشي، دوشمنان به خلکو مسلط شي، باران به نه کیږي، او داسې نور اثرات. فایده : ابن الجوزي رحمه الله فرمائي : دا ډیره لویه سزا ده چه انسان د سزا او عقاب هیڅ احساس نه کوي، او ډیره سخته سزا بیا دا ده چه انسان په هغه څه باندې خوشحاله شي چه الله تعالی ورته د عقوبت په طور ورکړې وي، لکه په حرام مال، او یا د گناه په کولو باندې خوشحالي کول.

**غمونه او پریشاني :** د زړه خوشحالي او د غمونو لرې کیدل د هر چا اساسي هدف دی، او په دې سره ښایسته ژوند حاصلیږي، او د دغې مقصد د حاصلولو لپاره دیني طبیعي او عملي اسباب دي چه په غیر د مؤمنانو نه چا ته نه شي حاصلیدې، چه ځنې یې په لاندې ډول دي :

و ۱) په الله تعالی باندې ایمان. ۲) د الله تعالی د حکمونو عملي کول او د ناروا وو نه ځان ساتل. ۳) د مخلوق سره په وینا، عمل او نیکو کارونو کښې احسان کول. ٤) په کارونو او فایده مندو دیني او دنیوي علمونو باندې ځان مشغولول. ٥) په راروانو او تیرشوو کارونو کښې سوچ نه کول بلکه په روزمره کارونو کښې خپل ځان مصروفول. ٦) په کثرت سره د الله تعالی ذکر کول. ۷) د الله تعالی د باطني او ښکاره نعمتونو یادول. ۸) د دنیا په کارونو کښې هغه چا ته کتل چه زمونږ نه په مرتبه کښې کم وي او هغه چاته به نظر نه کوو چه زمونږ نه په دنیا کښې غوره وي. ۹) د هغې اسبابو له منځه وړل چه غمونه راجلبوي، او د داسې اسبابو حاصلول چه خوشحالي راجلبوي. ۱۰) الله تعالی ته په هغې دعاء گانو باندې پناه وړل چه نبي ﷺ به پرې د خپل رب نه د غمونو په ختمولو کښې مدد غوښته .

**فائده :** ابراهیم الخواص رحمه الله فرمائي : په پنځو شیانو سره د زړه علاج کیږي، په تدبر او سوچ سره د قرآن کریم تلاوت، د خیټې خالي کول، د شپې عبادت (قیام اللیل)، د چربانگې (دسهار کیدو) په وخت کښې الله ته تضرع کول، او د نیکانو خلکو سره کیناستل.

**فائده :** د الله ذکر که په لمانځه کښې وي او که د لمانځه نه بهر وي تر هغه پورې ورله اعتبار نشته چه تر څو پورې پرې تلفظ ونه کړي چه خپله یې واوري، لیکن بل چاته به تکلیف نه ورکوي.

**د نکاح مسائل :** د هغه چا لپاره چه دشهوت خاوند وي خو د زنا کولو ویره ورسره نه وي، نو نکاح کول ورته سنت دي، او د هغه چا لپاره جایز او مباح ده چه شهوت نه لري، او د هغه چا لپاره چه د زنا کولو ویره ورسره وي نکاح کول فرض دي، او پردي زنانه ته کتل حرام دي او همدا راز په شهوت سره زړې ښځې ته او یا نابالغه هلک ته کتل هم

حرام دی، لکه څرنګه چه د پردو ښځو سره خلوت (ځانله کیدل) هم حرام دی.

**د نکاح شرطونه :** د لاندی شرطونو موافق د یوسړی نکاح د ښځی سره صحیح کیږی: **۱)** د جنی او د هلک تعین: نو د ولی لپاره داسی ویل جایز نه دی چه ما په خپلو لورګانو کښی تاته یوه په نکاح سره در کړه او حال دا چه د هغی ډیری لورګانی وی. **۲)** کله چه سړی مکلف وی نو د هغی رضاکیدل، او همدا راز د ازادی او عاقلی ښځی رضایت. **۳)** د ښځی لپاره ولی او سرپرست: د یوی ښځی لپاره خپل ځان په نکاح سره ورکول جایز نه دی، لکه څرنګه چه د ولی (متصرف) نه په غیر د بل چا لپاره د یوی ښځی په نکاح سره ورکول جایز نه دی، مګر په هغه وخت کښی چه ولی دغه جنی (جلکی) خپل مثل او سیال ته په نکاح سره نه ورکوی بلکه د هغی نه انکار کوی (نوبیا یی بل څوک په نکاح سره ورکولی شی)، او د ښځی په ورکولو باندی ډیر حقدار پلار دی بیا د پلار طرفه نیکه دی اګر که ډیر بره هم وی، بیا زوی دی بیا نمسی دی اګر که ډیر کوز وی، بیا سکه ورور دی، بیا د پلار د طرفه ورور دی، او بیا وراره دی... **٤)** د دوه و بالغانو عاقلانو عادلانو شهادت. **٥)** د نکاح د موانعو نه د ښځی او خاوند خالی کیدل، موانع لکه رضاعت، دنسب رشته داری، او یا د مصاهرت رشته داری.

**د نکاح محرمات :** د نکاح محرمات په دوه قسمه دی: اول: هغه زنانه چه ابدی حرامی دی، په هغی کښی بیا قسمونه دی : **۱) هغه زنانه چه د نسب له امله حرامی دی** لکه مور، نیا اګر که ډیره بره هم وی، لور، نمسی اګر که ښکته هم وی، خور، او د خور لورګانی او یا د هغی نمسیانی، وریره او دوریری لورګانی او یا د هغی د زوی او لور طرفه نمسیانی، اګر که ښکته هم وی، (عمه) ترور او خاله اګر که ډیری بره هم وی. **۲) هغه زنانه چه د رضاعت له امله حرامی ګرځیدلی دی:** د هغی حراموالی د نسبی حرمت په شان دی او همدارنګه په مصاهرت کښی. **۳) هغه زنانه چه د سخرولۍ له امله حرامی ګرځیدلی دی:** لکه د ښځی مور او نیاګانی او د ښځی لورګانی اګر که ښکته هم وی.

**دوهم :** هغه زنانه چه د مؤقت وخت لپاره حرامی دی: او هغه په دوه قسمه دی : **۱)** چه د جمع والی له امله حرامی وی، لکه دوه خویندی، او یا دښځی او دهغی عمه، او یا خاله په یو نکاح کښی جمع کول. **۲)** د یو عارضی سبب له امله حرامی وی لکه دبل چا ښځه.

**فائده :** ✱ د مور او پلار لپاره دا حق نشته چه خپل زوی د هغی ښځی په نکاح باندی مجبوره کړی چه خوښه یی نه وی، او په زوی باندی په دغی کار کښی د مور او پلار اطاعت فرض نه دی، او په دغی انکار سره زوی عاق (نافرمان) نه بللی کیږی.

**د طلاق مسائل :** په حیض نفاس او په هغی طهر کښی ښځی ته طلاق ورکول حرام دی چه جماع یی ورسره کړی وی لیکن طلاق واقع کیږی، او په غیر د حاجت نه طلاق ورکول مکروه دی، او د ضرورت له امله مباح دی، او د هغه چا لپاره مستحب دی چه د نکاح په وجه ورته ضرر رسیږی، او په طلاق کښی د مور او پلار اطاعت فرض نه دی، او څوک چه خپلی ښځی ته د طلاق ورکولو اراده لری نو د یو طلاق نه زیات ورکول پری حرام دی، او دا ضروری ده چه په هغی طهر کښی طلاق ورکړی چه جماع یی ورسره نه وی کړی، نو یو طلاق دی ورکړی او بیا دی پریږدی تر دی چه عدت یی ختم شی، او د هغی طلاق شوی ښځی لپاره د خپل کور نه وتل حرام دی چه طلاق رجعی ورته ورکړی شوی وی، او د خاوند لپاره هم جایز نه دی چه خپله ښځه د عدت د پوره کیدو نه مخکی د کور نه اوباسی، او طلاق په وینا باندی واقع کیږی او یواځی په نیت باندی نه واقع کیږی.

**قسمونه :** په قسمونو کښی د کفاری د وجوب لپاره څلور شرطونه دی: **۱) د قسم د کولو اراده:** که چیرته په غیر د قصد او ارادی نه څوک قسم وکړی نو دغه قسم نه واقع کیږی، او دغی ته بیا یمین لغوه (عبث قسم) وائی، لکه د خبرو په منځ کښی داسی ویل: (نه والله) او یا داسی ویل

(هو والله). **۲) په راروان او ممکن شي باندې قسم کول :** په تیرشوي شي باندې په ناپوهۍ سره قسم نه واقع کیږي، او یا یې دا گمان وي چه زه خو رښتینی او صادق یم، او یا سره د علم نه په دروغه باندې قسم کوي (نو دا بیا یمین غموس دی او داسې قسم کول گناه کبیره ده)، او یا په مستقبل باندې قسم وکړي په داسې حال کښې چه د هغې دا گمان وي چه زه خو په دې قسم کښې رښتینی یم لیکن بیا د هغې خلاف ثابت شي. **۳) چه قسم کونکی اختیار مند وي** ، او زبردستۍ (زور) پرې نه وي شوی. **۴) چه خپل قسم مات کړي :** یا هغه کار وکړي چه د کوم په پریښودو یې قسم کړی، او یا هغه کار پریږدي چه د کوم په کولو یې قسم کړی وي، او چا چه قسم وکړه او ان شاء الله یې ورسره وویله نو کفاره پرې نه لازمیږي لیکن په دوه و شرطونو سره: **۱)** چه د قسم سره متصل ان شاء الله ووائي. **۲)** چه په استثناء یعنې ان شاء الله ویلو سره یې د قسم غوټه کول او معلق کول مراد وي لکه داسې ووائي (والله ان شاء الله).
چا چه په یو شي باندې قسم وکړه او بیا یې مصلحت او فایده د هغې په خلاف کښې ولیده، نو سنت طریقه دا ده چه کفاره دې ورکړي او بیا دې هغه کار وکړي چه غوره وي.

**د قسم کفاره :** چه هغه لسو مسکینانو ته طعام (خواړه) ورکول دي چه هر مسکین ته به نیمه پیمانه (یونیم کیلو) طعام ورکوي، او یا لسو مسکینانو ته جامې ورکول، او یا د مرئي ازادول، لیکن که د چا طاقت نه وي نو هغه به درې ورځې پرله پسې روژه نیسي، څوک چه روژه ونیسي په داسې حال کښې چه د طعام او د جامو ورکولو توان یې وي نو دغه کفاره یې نه صحیح کیږي، او د کفارې ورکول د قسم نه مخکې او وروسته دواړه جایز دي، څوک چه په یو شي باندې ډیر قسمونه وکړي نو دهغې ټولو قسمونو لپاره یو ځل کفاره ورکول کافي دي، او که په مختلفو کارونو قسمونه وکړي نو بیا به ډیرې کفارې ورکوي.

**د نذر احکام :** د نذر قسمونه: **۱) مطلق نذر:** لکه داسې ویل ( که زه روغ شوم نو زه به د الله لپاره منښته او نذر ورکوم) او د یو معین شي نیت یې نه وي کړی نو کله چه دغه انسان روغ شو د قسم کفاره به ورکوي. **۲) د غضب او جنجال نذر:** هغه دیته وائي چه نذر په یو شر ط پورې معلق او غوټه کړي، د یو کار نه د منع کیدو او یا دیو کار د کولو په نیت. **۳) مباح نذر:** لکه داسې ووائي: (د الله تعالی لپار په ما باندې لازم دي چه زه به جامې اغوندم) د دې حکم دا دی: چه دغه انسان د جامو په اغوستلو کښې او د قسم د کفارې په ورکولو کښې اختیار مند دی. **۴) مکروه نذر:** لکه داسې ووائي: (د الله تعالی لپاره په ما باندې لازم دي چه زه به خپله ښځه طلاقوم)، د دې حکم دا دی: چه کفاره ورکول پکښې سنت دي او طلاق دې نه ورکوي او که ښځې ته یې طلاق ورکړه نو بیا پرې کفاره نشته. **۵) د معصیت نذر:** لکه داسې ویل: (د الله تعالی لپاره په ما باندې لازم دي چه زه به غلا کوم)، د دې حکم دا دی: چه پوره کول یې ناروا او حرام دي، بلکه کفاره به ورکوي، او که په نذر یې وفاء وکړه نو گناهگار شو لیکن کفاره پرې بیا نشته. **۶) د طاعت نذر:** لکه الله تعالی ته د تقرب په خاطرداسې ووائي: (د الله تعالی لپاره په باندې لازم دي چه زه به لمونځ کوم)، که چیرته په شرط پورې یې دا خبره غوټه کړې وي لکه د مریض روغیدل، نو د شرط حاصلیدلو په وخت کښې په دغه نذر باندې وفاء فرض ده، او که چیرته یې شرط نه وي لگولی نو پوره کول یې په مطلقه توگه فرض دي.

**د رضاعت مسئله :** د رضاعت په وجه هغه څوک حرامیږي چه د نسب په وجه حرام وي، او دا په یو څو شرطونو سره : **۱)** چه د ښځې شودې د ولادت له امله راغلې وي. **۲)** چه د رضاعت په موده (د دوه و کالو په دوران) کښې یې تې رودلې وي. **۳)** په یقیني توگه یې پنځه کرتې (ځلې) تې رودلې وي، او مراد د رودلو نه دا دی چه ماشوم یو ځل تې راکش کړي او بیا یې پریږدي، مړیدل ترې مراد نه دي، او په رضاعت سره نفقه او میراث نه فرضیږي.

✸ **د وصیت مسئله :** د مرگ په وخت کښی په قرضداری باندی خپل خاوند ته د قرض د ادا کولو وصیت فرض او ضروری دی چه کله شاهدان نه وی. او د مالدار انسان لپاره د خپل مال نه په پنځمه برخه باندی د صدقی کولو وصیت مستحب دی چه خپل قریبی رشته دار ته یی ورکړی، او که خپلوان یی نه وی نو بیادی مسکینانو، یا عالمانو او یا نیکانو خلکو ته ورکړی.
او د هغی فقیر لپاره چه وارثان ولری وصیت کول مکروه دی، مګر که وارثان یی مالدار وی نو بیا ورته وصیت کول جایز او مباح دی، اود پردی سړی لپاره د مال د دریمی حصی نه زیات وصیت کول ناروا دی، او د وارث لپاره د معمولی شی وصیت هم نشی کولی، مګر په هغه وخت کښی چه نور وارثان ورته اجازت وکړی د هغه د مرګ نه وروسته. او کله چه وصیت کونکی د خپل وصیت نه رجوع وکړی نو وصیت بیا باطلیږی. او د وصیت په اول کښی داسی لیکل مستحب دی: بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ هَذا مَا أَوْصَى بِهِ فُلانٌ أَنَّهُ يَشْهَدُ أَنْ لا إلهَ إلا اللَّهَ وَحْدَهُ لا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، وَأَنَّ الْجَنَّةَ حَقٌّ، وَأَنَّ النَّارَ حَقٌّ، وَأَنَّ السَّاعَةَ آتِيَةٌ لا رَيْبَ فِيهَا، وَأَنَّ اللَّهَ يَبْعَثُ مَنْ فِي الْقُبُورِ. وَأُوصِي مَنْ تَرَكْتُ مِنْ أَهْلِي أَنْ يَتَّقُوا اللَّهَ وَيُصْلِحُوا ذاتَ بَيْنِهِمْ، وَيُطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ إِنْ كَانُوا مُؤْمِنِينَ. وَأَوْصِيهِمْ بِمَا أَوْصَى بِهِ إِبْرَاهِيمُ بَنِيهِ وَيَعْقُوبُ: ﴿يَٰبَنِيَّ إِنَّ ٱللَّهَ ٱصۡطَفَىٰ لَكُمُ ٱلدِّينَ فَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ﴾

دا د فلانی انسان وصیت نامه ده، چه دا گواهی کوی چه بیله یو الله نه بل دعبادت وړ معبود نشته، شریك نلری، او یقینا محمد د الله بنده او پیغمبر دی، یقینا جنت او جهنم حق دی، او یقینا قیامت راتلونکی دی، شک پکښی نشته، او الله تعالی به راپورته کوی هغه څوک چه په قبرونو کښی دی، او زه خپلو وارثانو او کورنی ته وصیت کوم چه د الله تعالی نه وویریږی، او د خپلو کارونو اصلاح وکړی، د الله او د پیغمبر عليه السلام اطاعت وکړی، او زه په هغه څه باندی وصیت کوم چه ابراهیم او یعقوب علیهما السلام پری خپلو بچو ته وصیت کړی وو: ای زما بچو یقینا الله تعالی ستاسو لپاره دین غوره کړی دی نو مه مره کیږئ تاسو مګر په داسی حال کښی چه تاسو مسلمانان یئ.

✸ څوک چه په رسول الله ﷺ باندی درود وائی نو دا ورله مستحب دی چه درود او سلام پری دواړه و وائی، او په یو باندی به اکتفاء نه کوی، او په غیر د انبیاء علیهم السلام نه په نورو خلکو باندی په ابتداء کښی درود نه شی ویلی، لکه داسی ویل ابوبکر ﷺ او یا ابوبکر عليه السلام او داسی ویل مکروه تنزیهی دی، او په اجماع سره جایز دی چه د انبیاء علیهم السلام د ذکر کیدو سره په نورو خلکو هم درود او سلام وویلی شی، لکه داسی: (اللهم صَلِّ على محمد وعلى آل محمد وأصحابه وأزواجه وذريَّته)، **ترجمه :** ای الله تعالی په محمد عليه السلام باندی درود ولیږی او په اولاد د محمد عليه السلام او د هغه په ملګرو، بیبیانو او بچو باندی.
د صحابه کرامو ، تابعینو اویا د نورو نیکانو خلکو د ذکر کیدو سره د (رضي الله) عنه او یا ( رحمت الله ) علیه ویل مستحب دی ، نو داسی به وائی : ابوحنیفة مالک الشافعی او احمد( رضي الله عنهم ) ، او یا به (رحمت الله علیهم ) وائی .

✸ **د حلالکی (حلالولو) او ذبحی مسائل:** د حیوان د خوراک د جایز کیدو لپاره دهغی حلالول فرض او ضروری دی، او په حیوان کښی لاندی شرطونه دی: **۱)** چه خوراک به یی جایز او حلال وی. **۲)** چه د انسان په قدرت کښی وی. **۳)** د وچی حیوان به وی.
**او د حلالکی (حلالولو) او ذبحی لپاره څلور شرطونه دی : ۱)** چه حلالونکی عاقل وی. **۲)**چه د حلالکی او ذبحی آله به غاښونه او نوکونه نه وی او بل شی به وی. **۳)** د حلقوم مری او د دواړو هغه رګونو پری کول چه د مری نه لاندی دی او یا په هغی کښی د یو رګ پری کول.
**۴)** د ذبحی په وخت کښی د بسم الله ویل ، او په سهوه کیدو سره ساقطیږی، او د عربی نه علاوه په بله ژبه یی ویل هم جایز دی ، او د بسم الله سره د الله اکبر ویل سنت دی.

**د ښکار مسائل :** د حیوان د ښکار کولو شرطونه : **۱)** چه خوراک یې حلال وي. **۲)** چه وحشي وي. **۳)** چه په قدرت او تصرف کښې نه وي، او دغسې ښکار کول جایز دي، لیکن د ساعت تیرئ او لوبو په خاطر ښکار کول مکروه دي، او که په ښکار سره نورو خلکو ته ضرر رسیږي نو بیا حرام دي .

**او د ښکار د جایزکیدو لپاره څلور شرطونه دي : ۱)** ښکار کونکې به هغه څوک وي چه ذبحه یې حلاله وي. **۲)** د ښکار آله به هغه وي چه ذبحه کیدل پرې حلال وي، یعنې تیره به وي لکه غشي، او که چیرته څوک ښکار په حیوان سره کوي نو د هغې لپاره دا شرط دی چه تعلیم یافته به وي. **۳)** د ښکار کولو اراده او نیت کول، یعنې د ښکار په نیت باندې د تعلیم یافته حیوان خوشې کول، او که یو حیوان د ښکار کونکې د ارادې نه په غیر کوم شی ښکار کړي نو دهغې خوړل جایز نه دي. **٤)** د ښکاري حیوان د لیږلو په وخت بسم الله ویل، او که بسم الله د چانه هیره شي نو بیا د دغې ښکار خوړل جایز نه دي.

**تنبیه :** د حیواناتو په خاوندانو باندې فرض دي چه دغې حیواناتو ته طعام او اوبه ورکړي، که چیرته د هغې نه انکار وکړي او یا عاجزه شي نو د هغې په خرڅولو به مجبوریږي، او یا دې چاته په کرایه (ایجار) ورکړي، او یا دې حلال کړي که خوراک یې جایز وي، او حیوان باندې لعنت ویل حرام دي، او همداراز په هغې باندې داسې بار اچول ناروا دي چه طاقت یې نه لري، او یا د هغې نه په داسې طریقه شوده راویستل چه بچي ته یې پکښې ضرر رسیږي، یا یې وهل، او یا دهغې په مخ باندې داغونه لګول دا ټول حرام دي.

**د طعام (خواړو) مسائل :** دا هر هغه شي ته ویلې کیږي چه خوړل کیږي اویا څکل کیږي، او په طعام کښې اصل حلالوالی دی، نو هر طعام حلال دی لیکن په درې شرطونو سره : **۱)** چه طعام پاک وي. **۲)** چه ضرر پکښې نه وي. **۳)** چه ګنده نه وي.

هرهغه طعام چه پلیت وي لکه وینه او مرداره، اویا مضر وي لکه زهر، او یا ګنده وي لکه خوشیان (خوشایي)، متیازې، سپږې، او وربږې، نو د هغې خوړل حرام دي.

د وچې (زمکې) په حیواناتو کښې: کورنې خره، او هغه حیوانات چه په تیره او نیغ غاښونو باندې خوړل کوي، لکه زمرې، پړانګ، شرمخ، سپې، خنزیر، شادو (بیزو)، پشکه، ګیدړ، **سنجاب** ، دا ټول حرام دي، لیکن ضبع نومې حیوان (کوړ) حلال دی (سره د دې نه چه هغه تیره غاښونه هم لري).

او په مرغانو کښې هغه حرام دي چه په پنجو باندې خوراک کوي، لکه عقاب نومې مرغه، باز، شاهین، صقر، باښه، ټپوس، او ګونګې، او یا هغه مرغان چه مرداري خوري، لکه نسر (یوه نوعه ده د باز نه) رخم، لګلګ نومې مرغان شوه دا هم حرام دي، او همدا راز هغه حیوانات چه ښاریان عرب یې پلیت بولي هم حرام دي، لکه خاپیرک (شوپرك)، مږه، سرې مچې، د شهدو مچۍ، مچان، پتنګان، ملاچرګک، غشې داره مږه (جیږګی)، او ماران شوه، او همداراز حشرات هم حرام دي، لکه چنجې، سپږې، کربوړې، او یا هغه شیان چه شریعت د هغه د قتلولو حکم کړي وي، لکه لړم، او یا یې ترې منع کړې وي، لکه میږیان، او یا هغه حیوان چه د حلال او حرام حیواناتو د یو ځای کیدو نه پیداشوي وي لکه (سمع) نومې حیوان چه مور یې ضبع (کوړ) ده او پلار یې شرمخ دی هم حرام دی او خوراک یې حرام دی. او که چیرته یو حیوان د دوه و مباحواو حلالو نوعو حیواناتو نه پیداشوي وي نو هغه بیا حلال دی، لکه قچر چه د صحرائي (وحشې) خره اود آس نه پیدا شي ، او د دې نه ماسوا حلال دي لکه **په کورنې څاروو کښې** اوښان، غویان او میږې او بزې شوې، او همدا راز آس هم حلال دی، **او په وحشې حیواناتو کښې** : زرافه، خرګوش، وبر (خانې)، یربوع یا کربوړې (یو وړوکې صحرائي حیوان دی) ضب (خادمې) او ظبی (صحرانۍ بزې) شوې، **او په مرغانو کښې،** لکه شتر مرغ، چرګان، طاووس،

طوطیان، کوتری، مرغی، هیلی، زانی، اوهمداراز د اوبو ټولی مرغی شوی دا ټولی حلالی دی، او د بحر ټول حیوانات حلال دی مګر چنګخان، ماران، او تمساح حرام دی.
او هغه فصلونه (زراعت) او میوه جات چه په ګنده اوبو باندی خړوبیږی او یا ورته ګنده او پلیتی سری اچولی شوی وی نو د هغی خوراک جایز دی، لیکن که د ګندګۍ او نجاست خوند او یا بوی پکښی ښکاره شو نو بیا حرام دی.
او د سکرو، خاوری او ختی خوړل مکروه دی، او همدا راز د پوخوالی نه مخکی د پیازو اوږی او ګندنی خوړل هم مکروه دی، او که چیرته انسان وږی شی او د حرامو څیزونو خوړلو ته مجبوره شی نو په دغی وخت کښی ورله دومره خوراک کول فرض دی چه د مرګ نه پری نجات حاصل کړی.

**د وخت اهمیت :** سلفو صالحینو به په هغه څه کښی د وخت بربادول چه فایده پکښی نه وی خلک منع کول. ورځی د مزرعی او کروندی په شان دی هرکله چه پکښی یوه دانه و کری نو زر دانی به درله را اوباسی، نو آیا د یو عاقل انسان لپاره دا مناسب دی چه په خپله کرونده کښی دانی نه کری او یا پکښی سستی کوی؟

**زنا د شرک** نه وروسته ډیره لویه ګناه ده ، امام احمد رحمه الله فرمائی : د قتل نه وروسته ماته د زنا نه بله لویه ګناه معلومه نده. او زنا تفاوت لری، د محصنی او د محرم (خپلوان) د ښځی سره، او یا د ګاونډی دښځی سره، او یا د رشته داری ښځی سره زنا کول دا ډیره لویه او قبیحه ګناه ده. او لواطت ډیره بدترینه او کرکجنه ګناه ده، د دی وجه نه اکثرو علماء فرمایلی دی: چه فاعل او مفعول به دواړه قتلیږی اګر که واده والا هم نه وی، شمس الدین رحمه الله فرمائی : که یو امام یا حاکم ته یو لوطی انسان ته په سوزولو سره سزا ورکول مناسب ښکاری نو د هغه لپاره دغسی سزا ورکول جایز دی. ځکه چه دغسی سزا ورکول د ابوبکر رضي الله عنه او د نورو صحابهٔ کرامونه ثبوت لری.

**کفارو ته د هغوی په اخترو باندی مبارکی ورکول** او یا په هغی کښی شریکیدل، او یا پری سلام کول ناروا دی، او که هغوی مونږ ته سلام وکړی نو په جواب کښی یی داسی ویل فرض دی: وعلیکم. کافرانو او بدعتیانو ته د احترام په خاطر پورته کیدل حرام دی، او مصافحه کول (لاس ورکول) ورسره مکروه دی، او په غیر د یو شرعی مصلحت او عذر نه هغوی ته تعزیه ورکول حرام دی.

الله تعالی مونږ ته د دنیا د ښایست لپاره مونږ ته بچی راکړی لیکن له بله پلوه دغه زامن امتحان او فتنه ده الله تعالی فرمائی : ﴿إِنَّمَآ أَمۡوَٰلُكُمۡ وَأَوۡلَٰدُكُمۡ فِتۡنَةٞ﴾ **ترجمه :** یقینا مالونه او بچی ستاسو فتنه ده. نو د پلار لپاره د خپل رعیت د مصلحت او فایدی لپاره عمل کول لازم او ضروری دی، لکه څرنګه چه الله فرمائی : ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قُوٓاْ أَنفُسَكُمۡ وَأَهۡلِيكُمۡ نَارٗا﴾ **ترجمه :** ای مؤمنانو خپل ځانونه او کورنی د اور نه وساتئ، او رسول الله صلی الله علیه وسلم : **«کلکم راع وکلکم مسئول عن رعیته»** مسلم. تاسو ټول دمسئولیت او مشرتوب خاوندان یاست او د ټولو نه به د هغه د رعیت تپوس کیدای شی. او کله چه بچی بالغه شی نو بیا هم پلاران او مشران د مسئولیت نه معاف کیدای نه شی، بلکه که د هغوی په نصیحت کښی یی تقصیر وکړه اویا یی د دنیاوی او اخروی ضررونو نه حمایت ونه کړی نو په امانت کښی یی خیانت وکړ او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دی وعید مستحق شو چه فرمائی : **« مَا مِنْ عَبْدٍ يَسْتَرْعِيهِ اللهُ رَعِيَّةً يَمُوتُ يَوْمَ يَمُوتُ وَهُوَ غَاشٌّ لِرَعِيَّتِهِ إلاّ حَرَّمَ اللهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ »** البخاري. **ترجمه :** نشته یو بنده چه الله تعالی یی د یو رعیت مشر کړی او بیا په داسی حال کښی مړ شی چه د خپل رعیت سره یی غدر او دوکه کړی وی مګر الله تعالی به پری جنت حرام کړی.

که څوک د الله تعالی په سنت اوطریقو کښې سوچ اوغور وکړي، نوپه دی باندیی به پوه شي، چه مصیبتونه او تکلیفونه د الله تعالی کونی اوتقدیری سنت دی، اوالله تعالی فرمائی :
﴿ وَلَنَبۡلُوَنَّكُم بِشَيۡءٖ مِّنَ ٱلۡخَوۡفِ وَٱلۡجُوعِ وَنَقۡصٖ مِّنَ ٱلۡأَمۡوَٰلِ وَٱلۡأَنفُسِ وَٱلثَّمَرَٰتِۗ وَبَشِّرِ ٱلصَّٰبِرِينَ ﴾ سورة البقرة 155
**ترجمه:** او هرومرو (خامخا) مونږ تاسو په یوڅه ناڅه له ویري، لوږي او د مالونو او د ځانونو د تاوان او دمیوو کم والي په ذریعه آزمایو (امتحانوو) او صبر کوونکو ته زیری ورکړه.
اوهغه څوک خطاء کیږی چه دا خیال کوی چه نیکان خلک د مصیبتونو نه ډیر لیری او جدا دی، بلکه ابتلاء د ایمان دلیل دی، د نبی ﷺ نه چا پوښتنه وکړه چه په کومو خلکو باندی ډیر سخت امتحان راځی؟ نو هغه وفرمائل : « **الأنبياء ثم الصالحون ثم الأمثل فالأمثل من الناس، يبتلى الرجل على حسب دينه ، فإن كان في دينه صلابة زيد في بلائه ، وإن كان في دينه رقة خفف عنه** »، ابن ماجه. او بیا نور نیکان خلک او بیا چه څوک غوره وی دخلکو نه، اوپه انسان باندی د هغه د دین او ایمان په مقدار ابتلا راځی، که چیرته دین یی مضبوط وی نوابتلا پری سخته راځی، او که چیرته دین یی قوی نه وی نو اسانه ابتلا پری راځی، ابتلا او امتحان د الله تعالی د بنده سره د محبت علامه ده، رسول الله ﷺ فرمائی : « **وإن الله إذا أحب قوما ابتلاهم** » أحمد. **ترجمه :** الله تعالی چه کله د کوم قوم سره محبت کوی، نو امتحان پری راولی، مسند احمد او ترمذی روایت کوی.
او ابتلا د دی خبری علامه ده، چه الله تعالی په دغه انسان باندی د خیر اراده کړی ده، نبی ﷺ فرمائی : « **إذا أراد الله بعبده الخير عجل له العقوبة في الدنيا ، وإذا أراد الله بعبده الشر أمسك عنه بذنبه حتى يوافي به يوم القيامة** » الترمذي، **ترجمه :** الله تعالی چه کله یو بنده ته د خیر رسولو اراده وکړی نو په دنیا کښی ورله سزا ورکړی، او کله چه ورته د شر اراده وکړی نو هغه باندی د ګناه د وجی نه مصیبت نه راولی، دی لپاره چه په قیامت کښی ورله پوره سزا ورکړی، ترمذی روایت کوی، او ابتلا د ګناهونو لپاره کفاره ده، اګر که ډیره معمولی هم وی، رسول الله ﷺ فرمائی :« **ما من مسلم يصيبه أذى شوكة فما فوقها إلا كفر الله بها سيئاته كما تحط الشجرة ورقها** » متفق عليه. **ترجمه :** نشته یومسلمان چه هغه ته د اغزی یا دهغی نه کم ضرر ورسیږی مګر الله تعالی د هغی په وجه د دغی انسان ټول ګناهونه داسی ختموی لکه ونه چه پاڼی ورژوی، متفق علیه.
د دی وجی نه دغه مصیبت زده مسلمان که چیرته نیک وی، نو دغه ابتلا د هغه د مخکنیو ګناهونو لپاره کفاره ده، اویا د هغه د درجو لپاره او چتوالی دی، او که چیرته ګناهکار وی نو بیا د هغه د ګناهونو لپاره کفاره ده، او د ګناهونو په خطر باندی ورته یاداشت دی، الله تعالی فرمائی : ﴿ ظَهَرَ ٱلۡفَسَادُ فِي ٱلۡبَرِّ وَٱلۡبَحۡرِ بِمَا كَسَبَتۡ أَيۡدِي ٱلنَّاسِ لِيُذِيقَهُم بَعۡضَ ٱلَّذِي عَمِلُواْ لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ ﴾ سورة الروم 41 ، **ترجمه :** دهغو کړنو له امله فساد ظاهر شو چي خلك يي كوی په وچه او لنده (بر او بحر) كښي، ددي دپاره چي (الله) دوی لره ددوی دځينو كړنو جزاء وڅكوي، ددي دپاره چي دوی ( له خپلو ګناهونو څخه دالله طاعت ته) راوګرځی.
**د ابتلاء او امتحان قسمونه :** په نعمتونو باندی امتحان او ابتلاء لکه د مال زیاتوالی ، په مصیبتونو باندی ابتلاء او امتحان لکه ویره ، ولږه ، د مالونو کمیدل ، الله تعالی فرمائی:
﴿ وَنَبۡلُوكُم بِٱلشَّرِّ وَٱلۡخَيۡرِ فِتۡنَةٗ ﴾ سورة الانبياء 35 ، **ترجمه:** او مونږ په تاسي د خير او شر ازمیښت کوو دپاره دامتحان.
ځنی د ابتلاء نه په مرض او مرګ سره ازمایښت دی چه د هغی لوی سبب نظر او جادو دی چه د حسد نه پیدا کیږی، رسول الله ﷺ فرمائی : « **أكثر من يموت من أمتي بعد قضاء الله**

**وقَدَرِه بِالعَيْن»** الطيالسي. **ترجمه:** زما په امت كښې ډير خلك د الله تعالى د قضاء او تقدير نه وروسته د نظر له امله مري.

**د نظر او جادو نه دحفاظت او پرهيز ځنې شرعي اسباب:** زمونږ لپاره دا پكاردي چه د حفاظت او پرهيز اسباب وپيژنو، كوم چه نظراو جادو د واقع كيدلو نه مخكې دفع كوى او بيا يې عملي كړو، لكه څرنگه چه ويلې شوى (چه پرهيز دعلاج نه غوره دى) او پرهيز يعنى حفاظت په ډيرو شيانو سره حاصليداى شى، چه ځنې يې په لاندې ډول دى:

✱ په توحيد باندى خپل نفس كلكول، او دا ايمان ساتل چه په ټولو كائناتو كښې تصرف كونكى صرف الله دى، او نيكو عملونو ته توجه كول. په الله تعالى باندى ښايسته گمان او توكل كول، د هر عارضى شى په پيښيدو باندى دى د مرض او نظر گمان او وهم نه كوى ځكه چه وهم پخپله يو قسم مرض دى.

✱ كله چه يو انسان په نظر او جادو كولو باندى مشهور شى، د هغى نه بايد نور خلك ځان وساتى، او دا صرف د اسبابو د استعمال په خاطر ليكن ويره به ترى نه كوى.

✱ كله چه څوك هغه شى ووينى چه انسان پرى خوشحاليږى بايد الله تعالى ياد كړى او مباركى پرى و وائى، رسول الله ﷺ فرمائى: «**إذَا رَأى أحَدُكُمْ مِنْ نَفْسِه أوْمَالِه، أوْأخِيْه مَا يُحِبّ، فَلْيُبَرِكْ، فَإنَّ العَيْنَ حَقٌّ**» الحاكم. **ترجمه:** كله چه څوك په خپل نفس او مال كښى، او يا په خپل ورور كښى داسى څه ووينى چه هغه خوښوى نو تبريكى (بارك الله لك) دى ووائى، ځكه چه نظر حق دى. او تبارك الله ويل صحيح نه دى.

✱ دسحر او جادونه د حفاظت او وقائى لپاره دا هم يو سبب ى، چه يو انسان د مدينى منورى د (عجوه) نوعى كجورى نه هر سحر اوه دانى وخورى.

✱ د جادو او سحر نه الله تعالى پورى پناه نيول، په الله تعالى باندى توكل او ښايسته گمان كول، دسبا او بيگاه په وختونوكښى د شرعى اذكارو او دعاگانو پابندى كول، او د دغى اذكارو او دعاگانو لپاره تاثير شته، چه هغه د دوو شيانو موافق زياتيږى او كميږى:

۱) دا ايمان ساتل چه دغه شرعى اذكارو او دعاگانو كښى نفع او فائده شته ليكن د الله په حكم باندى، او د ايمان په مقدار په هغى كښى تاثير وى.

۲) چه په ژبه باندى دغه اذكار په داسى حالت كښى ووائى، چه د زړه توجه ورسره هم وى، ځكه چه دغه اذكار په حقيقت كښى دعاگانى دى، او الله تعالى دغافل زړه دعاگانى نه قبلوى، لكه څرنگه چه په صحيح حديث كښى راغلى دى او د زړه د توجه او حضور په اندازه په دغى اذكارو كښى تاثير وى ان شاء الله .

**د اذكارو او دعاگانو وختونه:** دسبا اذكار به د سهار د لمانځه نه وروسته ويلى كيږى، او دبيگاه اذكار به د مازديگر د لمانځه نه وروسته ويلى كيږى، او كله چه د يو مسلمان نه دغه دعاگانى هيرى شى، نو كله چه ورته په ياد شى نوپه هغه وخت كښى يى بايد ووائى.

**دسترگود لگيدواويا د نظر ځنى علامى:** اول بايد په دى باندى انسان پوه شى چه د علم طب اود شرعى د مونو په مابين كښى هيڅ قسم تضاد او تعارض نشته، نو په قرآن عظيم الشان كښى د ظاهرى مرضونو اود هغى مرضونوچه تعلق يى د روح سره دى شفاء اوعلاج دى، نو كله چه انسان د ظاهرى مرضونو نه سالم وى، نو سلبى اعراض او اثرات اكثريا د درد په شكل كښى وى، چه د يوځاى نه بل ځاى ته نقل كيږى، چه په مخ كښى زيړوالى پيداشى، خوله او متيازى (بولى) زياتى وى، اشتها كمزورى وى، اود بدن په اندامونو كښى گرموالى اويا يخوالى پيداشى، د زړه ټكان پيداشى، په شاه او اوږو كښى

داسی دردونه پیدا شی چه د یو ځای نه بل ځای ته نقلیږی، غم اود سینی تنګوالی شروع شی، د خوب په حال کی ناقراری، د ویری په وخت کښی ډیر زیات متاثره کیدل، غیر طبیعی غصه کیدل، د قی زیاتیدل، ګوښه ژوند خوښول، تنبلی او کسالت، د خوب خوښول، او داسی نور مرضونه چه د طب په لحاظ سره د هغی لپاره کوم سبب نه وی، او کله دا علامی د مرض د زیاتوالی او کموالی په مقدار پیدا کیږی.

**لیکن د مسلمان لپاره پکار دی** چه د قوی ایمان او قوی زړه خاوند وی، چه وسوسی پکښی داخلی نشی، او باید د مجرد یو مشکل او مرض له امله دا وهم او خیال ونکړی چه زه خو په مصیبت باندی مبتلا یم، ځکه چه وهم یو داسی سخت مرض دی چه علاج یی په اسانتیا سره نشی کیدای، کله دا علامی په روغو خلکو کښی هم وی، او کله دغه اثرات د یو اندام د مرض له امله وی، او کله د ایمان د کمزورتیا له امله راځی، لکه د سینی تنګیدل، غم، تنبلی، او یا نور، په کار ده چه انسان د الله تعالی سره خپله علاقه جوړه کړی.

**که چیرته دا مرض د نظر[۱] له امله وی :** نوعلاج به یی د الله تعالی په اذن سره په دوه و طریقو سره وی: **۱)** که چیرته نظرباز (نظرکونکی) معلوم وی، نوهغه ته به حکم وکړی چه غسل وکړی، بیا به په هغی مستعملو اوبو باندی غسل وکړی او یا دی وڅکی. **۲)** اوکه چیرته معلوم نه وی، نوبیا به علاج په شرعی دمونو سره کوی، اویا په دعا سره چه الله تعالی ورنه مصیبت لری کړی، او یا په ښکر لګولو سره.

**اوکه د مرض سبب جادواوسحر[۲] وی :** نوپه لاندی طریقوسره به د الله تعالی په اذن دهغی علاج کیدای شی.

**۱) که د جادو اوکوډو ځای معلوم وی** ، نوکله چه دی پیدا کړه، هغه به خلاص کړی اوغوټی به ورله خلاصی کړی، اوقل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس دوه سورتونه به پری ولولی او بیا به یی وسوزوی.

**۲) شرعی دمونه** ، دقران کریم په ایاتونو باندی اوخاصکر په سورة بقره، سورة فلق او سورة الناس، او نورو مسنونه دعاګانو باندی.

**۳) نشره (دجادو او کوډو خلاصول)** ، اوداپه دوه قسمه ده: **أ) حرام اوناروا:** چه هغه دجادو د تاثیر ختمول دی په جادو اوسحرسره، او جادوګرو اوساحرانو ته تلل چه د ده د سحر اثر ختم کړی. **ب) جایزاوروا:** چه ځنی یی دا دی، د بیری اوه پانی به په ګټه باندی وټکوی، اوبیا به پری دری کرتی سورة الکافرون، اخلاص، فلق، او الناس، ولولی، بیابه یی په اوبه کښی ګډی کړی، بیابه یی وڅکی اویا به پری غسل وکړی، اوباربار به دغه طریقه وکړی ترڅو چه الله تعالی ورله شفاء ورکړی، په مصنف دعبدالرزاق کښی داسی طریقه ذکرشوی.

---

(۱) **نظر:** د شیطان ضرر دی چه انسان ته د صفت او تعجب کولو له امله رسیږی ، چه کله ورسره د الله تعالی ذکر درود نه وی او په دی باندی دا حدیث دلیل دی (العين حق) البخاري یعنی نظر حق دی ، او په بل روایت کښی راغلی چه شیطان اود بنی ادم حسد ورته حاضریږی) رواه أحمد وصححه الهيثمي وله شواهد، او نظر نه په عین سره تعبیر شوی : ځکه چه دا نظر کولو وسیله ده ، او داسی نده چی همدا سترګی په خپله ضرر رسولی شی، ځکه چه کله د ړوند انسان نظر هم لګیږی.

(۲) **السحر:** دا په غوټو، دمونو او خبرو سره وی ، او یا داسی عمل وی چه د مسحور انسان په بدن زړه او یا د هغی په عقل باندی فورا تاثیر کوی ، او سحر حقیقت لری ، څه قسم داسی سحر دی چه انسان وژنی ، ځنی ئی د مرض سبب ګرځی ، او ځنی ئی انسان د جماع کولو نه بندوی ، آو ځنی ئی د خاوند او ښځی په منځ کښی جداوالی راولی ، ځنی شرک او کفر دی ، او ځنی ئی ګناه کبیره ده.

٤) که چیرته د جادو او سحراثرپه خیته کښی دننه وی نوقی دی وکړی، اوکه چیرته په بل ځای کښی وي نوبیا به ښکر ولګوی.

**د دمونو شرطونه:** ١) چه د قران کریم په ایاتونو او یا په مسنونه دعاګانو باندی وی. ٢) چه په عربی ژبه وی او یا په هغه ژبه چه معنی یی معلومه وی. ٣) دا عقیده ساتل چه دا دم په خپله مؤثر ندی بلکه شفاء اوعلاج د الله تعالی د طرف نه دی. او پکار دا ده چه د قران تلاوت د پیریانو او انسانانو د هدایت په نیت ولوستل شی، ځکه چه قران د هدایت او شفا لپاره نازل شوی دی، او د پیریانو د قتلولو په نیت به یی نه لولی مګر په هغی وخت کښی چه د پیریانو ویستل سخت شی.

**د دمونکی انسان شرطونه:** ١) غوره دا ده چه دمونکی باید نیک او تقوی دار مؤمن وی، ځکه چه څومره دمونکی په خپله نیک وی، نو په هغی اندازه به د دمونو اثر قوی وی.

٢) الله ته په اخلاص سره متوجه کیدل، په دی شان سره چه د زړه توجه یی د ژبی سره یو ځای شی، اوبیا غوره طریقه دا ده چه انسان خپل ځان په خپله دم کړی، ځکه چه څومره دا دخپل حاجت او مصیبت احساس کوی، دغومره احساس دبل چا سره نه وی، او الله تعالی دمحتا جانو او مصیبت زده وو خلکو سره د دعاء د قبلیدو وعده کړیده، او بل دا چه دمونکی انسان اکثر غافل وی.

**د هغی مریض شرطونه چه دم پری کیدای شی:** ١) دا به ډیره ښه وی چه دغه مریض نیک مؤمن وی، ځکه چه د دمونو تاثیر دایمان په مقدار باندی وی، الله تعالی فرمائی :

﴿ وَنُنَزِّلُ مِنَ ٱلْقُرْءَانِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ ۙ وَلَا يَزِيدُ ٱلظَّٰلِمِينَ إِلَّا خَسَارًا ﴾ سورة الإسراء 82 ، ، او مونږ دقرآن نه هغه آیاتونه نازلوو چي د مسلمانانو د پاره شفا او رحمت دی او د ظالمانو لپاره پرته له ضرر څخه (بل څه) نه زیاتوي. ٢) الله ته په صداقت سره متوجه کیدل، چه شفاء ورله ورکړی. ٣) په شفاء کښی به تلوار نه کوی، ځکه چه دمونه په حقیقت کښی دعاء ده، نو کله چه سوال کونکی په تلوار سره اجابت غواړی نوالله ورله دعاء نه قبلوی، لکه څرنګه چه په حدیث کښی راغلی دی، رسول الله ﷺ فرمائی: «**يُسْتَجَابُ لأَحَدِكُمْ مَا لَمْ يَعْجَلْ يَقُولُ : دَعَوْتُ فَلَمْ يُسْتَجَبْ لِي** » متفق علیه. په تاسو کښی د یو کس دعاء ترهغی پوری قبلیږی تر څو پوری چه تلوار ونه کړی، او دادی چه ووائی: زه دعاګانی کوم خو نه قبلیږی، متفق علیه.

**د دمونو شرعی طریقه:** ١) په مریض باندی د دمونو لوستل، لیکن سره د چوپ کولو نه یعنی چه لړی لاړی ورسره وی. ٢) صرف د دمونو لوستل په غیر د چوپ کولو نه. ٣) دلاړو ګډون د خاورو سره او بیا پری د دردمند ځای مسه کول. ٤) د دمونو لوستل او د هغه ځای مسحه کول چه درد کوی.

**هغه ایتونه او احادیث چه مریض وربانډی دمولی شی:**

د سورة فاتحی، اية الكرسی، د سورة بقری د اخری دوو ایاتونو لوستل، او همدا راز د، الكافرون، اخلاص، فلق، الناس، د سورتونو لوستل

✱﴿ فَسَيَكْفِيكَهُمُ ٱللَّهُ ۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴾ سورة البقرة 137، **ترجمه:** نو الله به ژر ددوی شر له تا څخه دفع کړي او همغه دی ښه اوریدونکی او ښه عالم.

✱﴿ يَٰقَوْمَنَآ أَجِيبُوا۟ دَاعِىَ ٱللَّهِ وَءَامِنُوا۟ بِهِۦ يَغْفِرْ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمْ وَيُجِرْكُم مِّنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ﴾ سورة الاحقاف 31

**ترجمه:** ای زمونږ قومه دالله دغه دعوت کوونکی ومنئ، پرې ایمان راوړئ، تر څو چې (الله) ستاسې ګناهونه وبخښي او تاسې له دردناك عذاب څخه وژغوري.

✸ ﴿وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَاءٌ وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ ۙ وَلَا يَزِيدُ الظَّالِمِينَ إِلَّا خَسَارًا﴾ سورة الإسراء 82 . ، او مونږ دقرآن نه هغه آیاتونه نازلوو چې د مسلمانانو د پاره شفا او رحمت دی او د ظالمانو لپاره پرته له ضرر څخه (بل څه) نه زیاتوي.

✸ ﴿أَمْ يَحْسُدُونَ النَّاسَ عَلَىٰ مَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ﴾ سورة النساء 54. ، آیا خلکو سره دهغه څه لـه کبله چې خدای دویته له خپل فضل څخه ورکړی دی حسد کوي.

✸ ﴿وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِينِ﴾ سورة الشعراء 80، او کله چه زه مریض شم نو هغه شفا راکوی ماته.

✸ ﴿وَيَشْفِ صُدُورَ قَوْمٍ مُّؤْمِنِينَ﴾ سورة التوبة ١٤ ، ، او دمسلمانانو سینو ته به شفاء ورکړي.

✸ ﴿قُلْ هُوَ لِلَّذِينَ آمَنُوا هُدًى وَشِفَاءٌ﴾ سورة فصلت 44 ، او ووایه دا د مؤمنانو لپاره هدایت او شفاء ده.

✸ ﴿لَوْ أَنزَلْنَا هَٰذَا الْقُرْآنَ عَلَىٰ جَبَلٍ لَّرَأَيْتَهُ خَاشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ اللَّهِ﴾ سورة الحشر 21 ، کـه دغـه قرآن مونږ پر یوه غره باندې نازل کړی وای، بیشکه تا به هغه دالله دویرې لـه کبلـه زاری کونکی (او) ټوټې ټوټې کیدونکی لیدلی وای.

✸ ﴿فَارْجِعِ الْبَصَرَ هَلْ تَرَىٰ مِن فُطُورٍ﴾ سورة الملك 3 ، نو یو بل ځل وګوره، آیا کوم سوری (یا خلل په آسمانو کښې) وینې؟

✸ ﴿وَإِن يَكَادُ الَّذِينَ كَفَرُوا لَيُزْلِقُونَكَ بِأَبْصَارِهِمْ لَمَّا سَمِعُوا الذِّكْرَ وَيَقُولُونَ إِنَّهُ لَمَجْنُونٌ﴾ سـورة القلـم 51 ، بیشـکه چـې نژدې وو کافران تاته په خپلو سترګو سره زیان ورسوي، کله چې دوی قرآن واوریده ( چې تا هغه لوسته ) او دوی وایي چې دی په ربښتیا سره لیونی دی.

✸ ﴿وَأَوْحَيْنَا إِلَىٰ مُوسَىٰ أَنْ أَلْقِ عَصَاكَ ۖ فَإِذَا هِيَ تَلْقَفُ مَا يَأْفِكُونَ ﴿١١٧﴾ فَوَقَعَ الْحَقُّ وَبَطَلَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١١٨﴾ فَغُلِبُوا هُنَالِكَ وَانقَلَبُوا صَاغِرِينَ﴾ سورة الاعراف 117- 119 ، او موسی تـه مو وحي وکړه چې تـه خپله امسا وغورځوه، (دموسی امسا) سمدستي دهغوی ټول چل ول یې ( په خپل ستوني ) ښوې تیرول، نو ( پدې توګه ) حق ثابت او هر هغه څه چې دوی (برابر ) کړي وو ټول باطل شول، نو (فرعونیان) په هغه ځای کښې مغلوب شول او خوار او سپك وګرځیدل.

✸ ﴿قَالُوا يَا مُوسَىٰ إِمَّا أَن تُلْقِيَ وَإِمَّا أَن نَّكُونَ أَوَّلَ مَنْ أَلْقَىٰ ﴿٦٥﴾ قَالَ بَلْ أَلْقُوا ۖ فَإِذَا حِبَالُهُمْ وَعِصِيُّهُمْ يُخَيَّلُ إِلَيْهِ مِن سِحْرِهِمْ أَنَّهَا تَسْعَىٰ ﴿٦٦﴾ فَأَوْجَسَ فِي نَفْسِهِ خِيفَةً مُّوسَىٰ ﴿٦٧﴾ قُلْنَا لَا تَخَفْ إِنَّكَ أَنتَ الْأَعْلَىٰ ﴿٦٨﴾ وَأَلْقِ مَا فِي يَمِينِكَ تَلْقَفْ مَا صَنَعُوا ۖ إِنَّمَا صَنَعُوا كَيْدُ سَاحِرٍ ۖ وَلَا يُفْلِحُ السَّاحِرُ حَيْثُ أَتَىٰ﴾ سورة طه 65- 69 . **ترجمه :** دوی وویل: ای موسی، یا به ته (خپله لکړه میدان ته) اچوې یابه مونږ هغه کسان شو چې لومړی اچوی، (موسی) وویل: خو تاسې (لومړی) واچوئ، نو ناڅاپه د دوی پړي او لکړی (امساوی) د دوی په خیال کښې د دوی د جادو په وجه داسې راتللې چې منډې وهې، نو موسی په خپل زړه کښې یو څه ویره حس کړه، نو مونږ (ورته) وویل: مه ویریږه، بیشکه چې همدا ته (دوی بانـه دی) بـرلاس او غالب یئ، او هغه څه (میدان ته) واچوه چې ستا په ښی لاس کښې دی ترڅو هغه شیان چې (جادوګرانو) جوړ کړي دي له ستوني څخه تیر کړي، بیشکه څه چې دوی جوړ کړي دي (یوائې) د جادوګرچل ول دی، جادوګر هر چیرته چې راشي نه بریالی کیږي.

✸ ﴿ثُمَّ أَنزَلَ اللَّهُ سَكِينَتَهُ عَلَىٰ رَسُولِهِ وَعَلَى الْمُؤْمِنِينَ﴾ سورة التوبة 26 ، بیا الله خپل آرامښت (ډاډینه)

پرخپل پیغمبر اوپر مؤمنانوباندي راوليږه.

✹ ﴿فَأَنزَلَ ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَيۡهِ وَأَيَّدَهُۥ بِجُنُودٖ لَّمۡ تَرَوۡهَا﴾ سورة التوبة 40 ، نو الله خپله آرامښت (ډاډينه) پرده باندې نازله کړه او هغه سره يې په داسې لښکروسره مرسته وکړه چې تاسې هغه نه ليدل.

✹ ﴿فَأَنزَلَ ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ وَعَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَأَلۡزَمَهُمۡ كَلِمَةَ ٱلتَّقۡوَىٰ﴾ سورة الفتح 26 ، نو الله تعالى خپله ډاډينه پر خپل پیغمبر او پر مؤمنانو باندې راواستوله او پر دوی باندې يې د توحيد کلمه لازمه وګرځول.

✹ ﴿لَّقَدۡ رَضِيَ ٱللَّهُ عَنِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ إِذۡ يُبَايِعُونَكَ تَحۡتَ ٱلشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمۡ فَأَنزَلَ ٱلسَّكِينَةَ عَلَيۡهِمۡ وَأَثَٰبَهُمۡ فَتۡحٗا قَرِيبٗا﴾ سورة الفتح 18 ، بيشکه الله له مسلمانانو نه راضي شو کله چې دوی تر ونې لاندې تا سره بيعت کاوه او هغه څه چې د دوی په زړونو کښې وو الله ته معلوم وو، نو له همدې کبله يې پر دوی باندې ډاډينه (او آرامتيا) راوليږله او دوی ته يې په نږدی بريالیتوب او فتح بدله ورکړه.

✹ ﴿هُوَ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ ٱلسَّكِينَةَ فِي قُلُوبِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ لِيَزۡدَادُوٓاْ إِيمَٰنٗا مَّعَ إِيمَٰنِهِمۡ﴾ سورة الفتح ٤. همدغه (الله) دی چې د مؤمنانو په زړونو کښې يې ډاډ واچوه ترڅو چې له خپل ايمان سره يې (نور) ايمان زيات شي.

**د نبوی احاديثو نه ځنې دعاګانې :**

✹ **(أسألُ اللهَ العَظِيمَ ربَّ العَرْشِ العَظِيمِ أنْ يَشْفِيَكَ)** ، له هغې لوی او عظيم الشان الله نه سوال کوم چه خاوند د لوی عرش دی، چه تا لره شفاء او روغتيا درکړی. دا بايد اوه کرتې (ځلې) وويل شی.

✹ اود دی دعاء ويل درې کرتې : **(أعِيذُكَ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَةِ مِنْ كُلِّ شَيْطَانٍ وَهَامَّةٍ وَمِنْ كُلِّ عَيْنٍ لامَّةٍ)** ، زه ستا لپاره د الله په پوره او کاملو کلماتو باندی پناه غواړم، د هر شيطان او زهرناک مخلوق نه، او د هرې ضرر رسونکی سترګی نه.

✹ او درې کرتې (ځلې) د دی دعاء ويل : **(اللّهُمَّ رَبَّ النَّاسِ أذْهِبِ البَأسَ اِشْفِ أنْتَ الشَّافِي لا شِفَاءَ إلا شِفَاؤُكَ شِفَاءً لايُغَادِرُ سَقَمًا)** ، أی د خلکو پروردګاره، ته مرض ختم کړی، صرف ته شفاء ورکونکی ئی، نشته شفاء مګر ستا شفاء او علاج، داسی شفاء چه مرض نه پريږدی .

✹ او يوکرتې (ځلې) د دی دعاء ويل **(اللّهُمَّ أذْهِبْ عَنْهُ حَرَّهَا وَبَرْدَهَا وَوَصَبَهَا)** ، أی الله د دی نفس نه ګرمی يخنی مرض او تکليف لرې کړی.

✹ اوه کرتې (ځلې) د دی دعاء ويل **(حَسْبِيَ اللهُ لا إلَهَ إلا هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ العَرْشِ العَظِيمِ)** ، بس پوره دی مالره هغه الله چه بيله هغې نه دعبادت وړ او حقدار نشته، خاص په هغه باندی ما توکل کړی دی، او هغه د لوی عرش خاوند دی.

✹ او درې کرتې (ځلې) د دی دعاء ويل **(بِسْمِ اللهِ أرْقِيكَ مِنْ كُلِّ دَاءٍ يُؤْذِيكَ وَمِنْ شَرِّ كُلِّ نَفْسٍ أوْ عَيْنِ حَاسِدٍ، اللهُ يَشْفِيكَ بِسْمِ اللهِ أرْقِيكَ )** ، د الله تعالى په نوم دی دموم، د هر مرض نه چه تاته تکليف رسوی، د هر نفس او د حسد کونکی سترګی د شر نه، الله تعالى دی تاته شفاء درکړی، او د الله په نوم دی زه دموم.

✸ لا س به په درد مند ځای باندی کیږدی او دری کرتی (ځلی) به (بِسْمِ اللهِ) ووائی او اوه کرتی (ځلی) به (أَعُوْذُ بِعِزَّةِ اللهِ وَقُدْرَتِهِ مِنْ شَرِّ مَا أَجِدُ وَأُحَاذِرُ) ، زه دالله په عزت اوقدرت باندی پناه غواړم د شر دهغه څه نه چه ماته رسیدلی دی، او زه تری ویریږم.

**ځنی ضروری هدایات :**

**۱)** دهغی دروغو او خرافاتو تصدیق کول جائز ندی، چه د خلکو په مابین کښی شهرت لری، چه مریض به د نظر باز (نظر کونکی) متیازی څکی، او یا دا خبره چه کله هغه خبر شی نو بیا د هغی اثر (د اوداسه اوبه) فایده نه ورکوی .

**۲)** د نظر دویریدو دوجی نه د څرمنو تعویذونه، بنګړی، او د امیلونو، زوړندول جائز نه دی، رسول الله ﷺ فرمائی : ( څوک چه د نظر ماتی تعویذ په غاړه کښی اچوی نو الله تعالی دی ورله حاجت پوره نه کړی ) . احمد روایت کوی. او رسول الله ﷺ فرمائی : « مَنْ تَعَلَّقَ شَيْئًا وُكِلَ إِلَيْهِ » الترمذي، څوک چه کوم څیز په غاړه کښی واچوی هغی ته به وسپارلی شی. ترمذی روایت کوی. که چیرته د قران ایاتونه وی نو په هغی کښی اختلاف دی لیکن نه اچول یی غوره او بهتر دی.

**۳)** د (**ماشاء الله تبارک الله**) لیکل، او یا د توری، چاقو، او د سترګی رسمول، او یا د (نظر نه د ځان ساتلو په خاطر) په موټر کښی د قران ایښودل، اویا په کورونوکښی د بعضی ایاتونو زوړندول، دا هم جایز نه دی، ځکه چه په دی شیانو سره نظر نه شی دفع کیدلی، بلکی دا هم د ناروا تعویذونو په شان دی.

**٤)** د مریض لپاره دا خبره ضروری ده، چه د دعا د قبلیدو یقین یی په زړه کښی راشی، او د شفاء او علاج نه نا امیده نه شی، مثلا که چیرته ورته وویلی شی چه ته به تول عمر ګولی (دوا) خوری، الله به درلـه شفاء درکړی، نو په دغه صورت کښی خو شکایت او فریاد نه کوی، لیکن کله چه په شرعی دمونو سره د ده په علاج او شفاء کښی لږ تاخیر واقع کیږی، نو بیا فورا فریاد اوشکا یت کوی، سره د دی نه چه ده لپاره په هر حرف باندی چه په دعاګانو او دمونو کښی لولی اجر او نیکی شته، نو ده لپاره پکاردی چه ډیری دعاګانی او استغفار ولولی او خیراتونه وکړی، ځکه دا دشفا حاصلولو سبب ګرځی.

**٥)** په اجتماعی صورت سره د دمونو لوستل د سنت مخالف عمل دی، او د دی تاثیر ضعیف دی، همداراز د تیپونو نه په دمونو کښی استفاده کول، ځکه چه د دمونکی لپاره نیت شرط دی، او د دغی الاتو لپاره نیت نشی کیدلای، اګر چه د هغی په اوریدلو کښی ډیری فائدی شته لیکن د دمونو لپاره به یی نه استعمالوی، او د مریض د جوړیدلو پوری د دمونو تکرارول سنت دی، مګر که دغه دمونه مریض ستړی کوی نو بیا دی په کمه اندازه باندی ووائی، او د یو ایت او یا د یوی دعاء تکرارول په یو خاص مقدار باندی په غیر د دلیل نه جایز نه دی.

**٦)** بعضی هغه علامی اونخښی چه دهغی نه دامعلومیږی چه دا دمونکی ساحر دی، اګر چه په ظاهره به تاته دیندار ښکاری، او ابتدا کښی به د قران بعضی ایتونه لولی، لیکن په دی باندی باید انسان دوکه نشی او توجه او تحقیق پکاردی، او کله به د خلکو د دوکه کولو په خاطر جماتونو ته هم ځی، او ستا په مخکی به ذکر هم کوی نوخبردار چه په دی شیانو باندی دوکه نه شی.

**د جادو ګرو او کوډګرانو ځنی علامی :** ✸ دمریض نه د نوم او د مورنوم معلومول، ځکه چه د نوم پیژندل او یا نه پیژندل په علاج کښی کوم تاثیر نشی کولی. ✸ د مریض نه د جامو طلب کول، لکه بنین (انګیا یا زیرپیراهنی) او یانوری داخلی جامی. ✸ د مریض نه د یو معین اومشخص حیوان

طلب کول، چه د پیریانوپه نوم یی قربانی کړی، او کله داسی هم کیږی چه د دغی ښاروی په وینو باندی مریض رنګ کړی. ✵ د داسی منترو لوستل او یا د هغی لیکل چه په معنی یی څوک نه پوهیږی. ✵ مریض ته د داسی ورقی ورکول، چه په هغی کښی خط کشی، او مربعات، او خانه کشی وی، چه په داخل د دغی خانو کښی حرفونه او حساب وی. ✵ مریض ته حکم کول چه څه زمانه د خلکو نه جدا شی، او په تورتم (تیاره) ځای کښی وخت تیر کړی، او دغی ته (حجبه) یعنی تنهایی وائی. ✵ مریض ته حکم کول چه تر څه مودی پوری به داوبو د استعمال نه ځان ساتی. ✵ کله مریض ته یو شی ورکړی چه په زمکه کښی یی دفن کړه. ✵ کله مریض ته یوه ورقه ورکړی چه وئی سوزوی، او دهغی لوګی بوی کړی. ✵ کله مریض په بعضی خصوصی خبرو باندی خبر کړی، چه ماسوا دهغی نه پری بل څوک نه پوهیږی، او یا د خبرو نه مخکی مریض ته خپل نوم، ملک، او مرض ور وښائی. ✵ په کوم وخت کښی چه مریض ورشی نو فورا یی مرض معلوم کړی، او یا یی د تلیفون او ډاکخانی په واسطه خبرکړی.

٧) داهل سنت وجماعت مذهب دا دی ، چه پیریان په انسان باندی راتلای شی، او په انسان کښی چلند کوی، او دلیل پری د قرآن عظیم الشان دا ایت دی : ﴿ٱلَّذِينَ يَأۡكُلُونَ ٱلرِّبَوٰاْ لَا يَقُومُونَ إِلَّا كَمَا يَقُومُ ٱلَّذِي يَتَخَبَّطُهُ ٱلشَّيۡطَٰنُ مِنَ ٱلۡمَسِّۚ﴾ سورة البقرة 275 . هغه کسان چي سود خوري په قیامت کښي نه پاځيږي مګر دهغه چا د پاځيدو په شان چي شيطان دهغه حواس دليونتوب له کبله ګډ وډ کړی وی.

او دا د ټولو مفسرینو اجماع او اتفاق دی، چه مراد د مس نه پدی ایت کښی، هغه شیطانی لیونتوب دی، چه انسان ته د پیریانو د ننوتلو له امله رسیږی.

**د جادو او سحر د بیان تکمله:** جادو شته لیکن د هغی حقیقت یو خیالی شی دی، لکه څرنګه چه الله تعالی فرمائی ﴿يُخَيَّلُ إِلَيۡهِ مِن سِحۡرِهِمۡ أَنَّهَا تَسۡعَىٰ﴾ سورة طه 66 ، په خیال کښی راتله ده ته د وجی د جادو د هغوی نه چه هغه منډی وهی، او تاثیر یی په قران او حدیث سره ثابت دی، او جادو ناروا او حرام عمل دی او ډیره لویه ګناه ده، او دلیل پری دا حدیث دی چه رسول الله ﷺ فرمائی : « **اجْتَنِبُوا السَّبْعَ الْمُوبِقَاتِ قَالُوا :يَا رَسُولَ اللَّهِ وَمَا هُنَّ؟ قَالَ:الشِّرْكُ بِاللَّهِ، وَالسِّحْرُ...** » متفق عليه، ځان وساتی د اوو تباه کونکو څیزونو نه، صحابه وو وفرمایل چه هغه کوم دی ای د الله نبی ﷺ نو رسو ل الله ﷺ وفرمایل: د الله سره شرک کول، جادو، او د یو پاک نفس قتلول چه الله یی وژل حرام کړی وی، او د سود خوړل، متفق علیه، او الله تعالی فرمائی : ﴿وَلَقَدۡ عَلِمُواْ لَمَنِ ٱشۡتَرَىٰهُ مَا لَهُۥ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنۡ خَلَٰقٖ﴾. سورة البقرة 106 ، **او** یقینا دوی پوهیدل چا چه واخسته جادو نو نشته د هغی لپاره په اخرت کښی څه حصه.

**او جادو بیا په دوه قسمه دی : ١)** غوټی اچول اود منترو ویل تر څو چه پری جادوګر د یو انسان د ضرر په خاطر د شیطانانو د استعمالولو مرحلی ته ورسیږی **٢)** هغه دوایانی چه د مسحور انسان په بدن عقل ارادی ، او میلان باندی تاثیر کوی ، او دیته (صرف) یعنی د یوشی نه اړول ، او ( عطف) یعنی دیو شی سره محبت پیدا کول وائی . نو د مسحور انسان په خیال کښی داسی راځی چه دا شی واوړیده او یا وښوریده او یا لاړ ، او یا د دی په شان نور خیالات . نو په دی کښی اول قسم شرک دی ځکه چه شیطانان تر هغی پوری د جادوګر خبره نه منی چه تر څو ئی کفر نه وی کړی ، او دوهم قسم د هلا کونکو او لویو ګناهونو له جملی څخه دی . او دا ټول د الله تعالی د تقدیر له امله حاصلیږی .

# د دعاء آداب او فضیلت

دایو حقیقت دی چه مخلوق ټول الله تعالی ته محتاج د ی، او یو الله رب العلمین دخپل مخلوق نه بی پروا دی، په مونږ ئی دعاء او سوال فرض کړی دی، الله فرمائی : ﴿ٱدۡعُونِيٓ أَسۡتَجِبۡ لَكُمۡۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَسۡتَكۡبِرُونَ عَنۡ عِبَادَتِي سَيَدۡخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ﴾ سورة غافر 60، أي عن دعائی. ، او ستاسي پروردگار وويل: يوازی ما ته دعاء وکړئ ترڅو چې ستاسي دعاء قبوله کړم، بيشکه هغه کسان چې زما له عبادت څخه تکبر کوي هرو مرو به په خواری (او سپکتيا) سره دوزخ ته ننوځي.

اورسول الله ﷺ فرمائی : « مَنْ لَمْ يَسْأَلِ اللَّهَ يَغْضَبْ عَلَيْهِ » څوک چه الله تعالی ته سوال نه کوی هغه ورته په غضب کيږی، سره د دی نه چه الله تعالی د خپلو بندګانو په سوال باندی ډير خوشحاليږی، او څوک چه په دعاء کښی ډيراصرار (باربار طلب) کوی الله ته ډير محبوب وی، او ځان ته ئی نږدی کوی، او د رسول الله ﷺ صحابه وو دغه خبره محسوسه کړی وه، نو هغوی به د الله تعالی نه په غوښتلوکښی هيڅ يو شی حقير او معمولی نه ګڼه، او خپل حاجتونه به ئی مخلوق ته نه پيش کول، او دا ځکه چه د هغوی علاقه او ارتباط د خپل رب سره وو، او هغی ته نږدی وو او الله هم دوی ته نږدی وو، لکه څرنګه چه الله تعالی فرمائی: ﴿وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ﴾ سورة البقرة 186 . ، او کله چې له تا څخه ز ما بندګان زما په باره کښی پوښتنه وکړي بيشکه زه (دويته) نژدي يم.

او دعاء د الله تعالی په نزد ډير لوی اهميت او فضليت لری، او الله تعالی ته په ټولو عبادتونوکښی عزتمند او غوره عبادت دعاء ده، او دعاء کله تقدير وروروسته کوی، او د مسلمان دعاء قبوله وی، ليکن چه کله د قبليدو اسباب موجود شی، او موانع ئی ختم شي، او په دعاء باندي مسلمان ته د دريو شيانو نه يو حاصليږی، رسول الله ﷺ فرمائي : « ما من مُسْلِمٍ يَدْعُو بِدَعْوَةٍ لَيْسَ فِيهَا إِثْمٌ وَلا قَطِيعَةُ رَحِمٍ إِلا أَعْطَاهُ اللَّهُ بِهَا إِحْدَى ثَلاثٍ : إِمَّا أَنْ تُعَجَّلَ لَهُ دَعْوَتُهُ ، وَإِمَّا أَنْ يَدَّخِرَهَا لَهُ فِي الآخِرَةِ، وَإِمَّا أَنْ يَصْرِفَ عَنْهُ مِنَ السُّوءِ مِثْلَهَا. قَالُوا إِذًا نُكْثِرُ؟ قَالَ: اللَّهُ أَكْثَرُ » أحمد.

**ترجمه :** هيڅ يو مسلمان دعاء نه کوی داسی دعاء چه ګناه او د صله رحمی قطع کول پکښی نه وی، مګر الله تعالی ورته په هغی سره په دريو نعمتونو کښی يو ورکوی، يا به ورله په عاجله توګه دعاء قبوله کړی، اويا به ئی ورله اخرت ته وروروسته کړی، اويا به تری بل مصيبت چه د هغی په شان وی دفع کړی، صحابه وو وويلی نو مونږ اوس په دعاګانو کښی زياتوالی راولو؟ نو هغه وويلی: نو الله تعالی هم په د غسی ډيرو کارونو باندی امر کوی، احمد او ترمذی روايت کوی.

**د دعاء قسمونه: دعاء په دوه قسمه ده : ١)** د عبادت په طور دعاء، لکه لمونځ اوروژه. **٢)** د سوال په طور دعاء.

**د عملونو په يو بل باندی غوره والی :**

آيا د قران عظيم الشان تلاوت غوره دی، او که ذکر او يا دعاء غوره ده؟ جواب: په عام طور د قرآن عظيم الشان تلاوت په ټولوعملونو کښی بهتر عمل دی، او بيا ورپسی ذکر او بيا دعاء، ليکن کله د وختونو د تقاضا په خاطر دعاء د تلاوت نه غوره وی، لکه دعرفات په ورځ دعاء کول، او همدا رنګه د فرضی لمونځونو نه وروسته ذکر د تلاوت نه ډير غوره دی.

**د دعا د قبليدو څنی اسباب : هغه په دوه قسمه دی :** ظاهری اسباب، او باطنی اسباب.

**١) ظاهری اسباب :** د نيکوعملونوپه کولوسره حاصليږی، لکه صدقه، اودس، لمونځ، قبلی ته مخ کول، دلاسونو اوچتول، او د الله تعالی ثناء اوصفت ذکرکول، اود الله تعالی هغه نومونه ذکرکول چه د دعاء سره مناسبت لری، لکه د جنت د غوښتلو په وخت کښی بايد

انسان د الله تعالی په فضل او رحمت سره عاجزی او زاری وکړی، او که یو ظالم ته ښیری کوی نو باید رحمن او رحیم ذکر نه کړی، بلکه د هغی په نومونو کښی به جبار او قهار ذکر کوی، اوهمدا راز د دعاء په اول، مینځ او اخره کښی په رسول الله ﷺ باندی درود ویل، او په خپلو ګناهونو اقرار کول، او د الله تعالی د نعمتونو شکر ادا کول، اوپه غوره وختونو کښی دعاء کول چه په فضیلت باندی ئی شرعی دلیل وارد شوی وی، چه په دغه وختونو کښی د دعاء د قبلیدو ډیر امید دی داسی وختونه ډیر زیات دی:

✱ **په شپه او ورځ کښی :** لکه د شپی په دریمه حصه کښی کله چه الله تعالی نږدی اسمان ته راکوزیږی، د باران په وخت کښی، د اودس نه روسته، د اذان او اقامت په مینځ کښی، د سجدی په حالت کښی، د فرضی لمونځونو په اخیر کښی، د قران د ختم په وخت کښی، د بانګی د اذان په وخت کښی، د سفرپه وخت کښی، د مظلوم مصیبت زده او د محتاج دعاء، د پلار دعاء خپلو بچو ته، یو مسلمان ته د هغی په غیاب کښی دعاء کول، په جنګ کښی د دشمن سره د مخامخ کیدو په وخت کښی دعاء کول.

✱ **او په هفته کښی بهترین وختونه :** د جمی په ورځ او خاصکر (په خاصه توګه) د ورځی په اخری لحظاتو کښی.

✱ **په میاشتو کښی بهترین وختونه :** د روژه ماتی په وخت کښی، د پیشنمی په وخت کښی، په شب قدر کښی، دعرفات په ورځ.

✱ **او په بهترینو او مقدسو مقاماتو او ځایونو کښی :** لکه بیت الله شریف اومسجد نبوی او یا په نورو عامو جماتونو کښی دعاء کول، د کعبی شریفی د ملتزم په خواکښی دعاء، مقام ابراهیم، په صفا او مروا باندی دعاء، او د حج په ورځو کښی په عرفات مزدلفه او منی کښی دعا کول، او د زمزم د اوبو د څکلو په وخت کښی دعاء.

٢) **باطنی اسباب :** د دعاکولو نه مخکښی په صداقت سره توبه ویستل، خپلو خاوندانو ته حقونه ورکول، د خوراك، څکاك، لباس، او د اوسیدلو دځای پاکوالی، د نیکو عملونو ډیرول، د حرامو نه ځان ساتل، د خواهشاتو اومشتبه شیانو نه اجتناب کول، د زړه په توجه سره دعاء کول، په الله تعالی باندی باور لرل، قوی امید لرل، الله ته عاجزی کول، په دعاء کښی اصرار کول، الله ته د خپل کار سپارل، او د مخلوق نه نظر قطع کول.

**د دعاګانو د اجابت اوقبلیدوځني موانع :** کله یوانسان دعاء کوی لیکن قبلیږی نه ، او یا په قبلیدوکی تاخیر واقع کیږی، د هغی ډیراسباب دی : چه ځنی ئی په لاندی ډول دی :

✱ دالله تعالی سره په رابللو کی شرک کول. ✱ په دعاء کښی تجاوز کول لکه یوسړی و وائی: چه زه د جهنم د ګرمی، تنګوالی، او د تورتمونو نه پناه غواړم، سره د دینه چه دومره ویل کافی وو چه ای الله زه تا پوری د جهنم د اور نه پناه غواړم. ✱ خپل ځان یا یومسلمان ته په ناحقه ښیری کول. ✱ یا د ګناه د کولولپاره دعاء کول. ✱ اویا د صله رحمی د قطع کولو په خاطردعاء کول.

✱ اویا دعاء د الله تعالی په مشیئت پوری معلق (غوټه) کول لکه داسی ویل : ای الله ماته مغفرت وکړی که ستا خوښه شی. ✱ اویا په دعاء کښی تلوارکول. ✱ او یا دسترې والی د وجی نه دعا پریښودل. ✱ اویا په غافل زړه سره دعاء کول. ✱ اویا د دعاء د ادابو نه خلاف کول، رسول الله ﷺ یوځل د یوکس نه واوریدل چه په لمانځه کښی ئی دعاء کوله، لیکن په رسول الله ﷺ ئی درود ونه ویلی، نونبی ﷺ وویل: چه دی انسان په دعاء کښی تلوار (استعجال) وکړ، اوبیا ئی ورته وویل : « **إذا صلّى أحدكم فليبدأ بتحميد الله والثّناء عليه، ثُمّ ليُصل على النّبي ﷺ ثمّ ليدعُ بعدُ بما شاء** » أبوداود والترمذي . کله چه یوکس لمونځ کوی په تاسوکښی، نو د الله تعالی په حمد اوثنا ویلو دی شروع

وکړی، بیا دی په رسول الله ﷺ باندی درود ووائی، اوبیا دی دهغی نه وروسته هغه دعاء وکړی چه خوښه ئی شی، ترمذی روایت کوی. ✹ د داسی شی غوښتل چه د هغی د نه کیدو فیصله شوی وی لکه په دنیا کښی دهمیشوالی سوال کول. ✹ په دعاء کښی په تکلف سره قافیه برابرول، الله تعالی فرمائی : ﴿ٱدۡعُواْ رَبَّكُمۡ تَضَرُّعٗا وَخُفۡيَةًۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُعۡتَدِينَ﴾ ، راوبلئ رب خپل په عاجزی سره اوپه پټه باندی، یقینا الله تعالی نه خوښوی تجاوزکونکی، عبدالله بن عباس فرمائی : « فَانْظُرِ السَّجْعَ مِنَ الدُّعَاءِ فَاجْتَنِبْهُ فَإِنِّي عَهِدْتُ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ وَأَصْحَابَهُ لا يَفْعَلُونَ إِلا ذَلِكَ، يَعْنِي: لا يَفْعَلُونَ إِلا ذَلِكَ الاجْتِنَابَ » البخاري. په دعاء کښی سجع یعنی قافیه برابرول اوتکلف پریږدئ ځکه چه ما رسول الله ﷺ اود هغه صحابه لیدلی وو چه د دغی کارنه به ئی ځان ساته، امام بخاری روایت کوی ✹ اوهمدا رازد دعاء په وخت کښی په اواز اوچتولوکښی افراط (زیاتی) کول د اجابت او قبلیدو مانع دی، الله تعالی فرمائی : ﴿وَلَا تَجۡهَرۡ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتۡ بِهَا وَٱبۡتَغِ بَيۡنَ ذَٰلِكَ سَبِيلٗا﴾، او خپل لمونځ (او دعاء) نه په لوړ آواز سره ولوله او نه (هم) په (ډیر) ټیټ آواز سره او د دغو (دواړو) په منځ کښي (مینځنی) لیاره غوره کړه.

**د دعاکونکی انسان لپاره په لاندی ترتیب باندی دعا کول مستحب ده :**

**اول :** د الله تعالی حمد اوثنا بیا نول. **دوهم :** په رسول الله ﷺ باندی درود ویل. **دریم :** توبه او په خپلو ګناهونو با ندی اقرارکول. **څلورم :** د الله تعالی د نعمتونو شکرادا کول. **پنځم :** په دعا باندی شروع کول، اوپه هغی جامع دعا ګانو باندی اهتمام کول، چه د رسول الله ﷺ او د سلفو صالحینو نه نقل شوی دی. **شپږم :** د دعاګانو ختمول په درود باندی.

## ځنی ضروری دعاګانی چه یادول یی په کار دی

| د دعاء مناسبت | دعاء: رسول الله ﷺ فرمائی : |
|---|---|
| د خوب نه مخکی او وروروسته دعاء | « بِاسْمِكَ اللَّهُمَّ أَمُوتُ وَأَحْيَا » ، ستا په نوم سره مرم او ژوندی کیږم. او کله چه بیدار شی نو دا دعا به وائی : « الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَحْيَانَا بَعْدَمَا أَمَاتَنَا وَإِلَيْهِ النُّشُورُ »، ټول حمدونه خاص هغی الله لره دی چه مونږ ئی د مرګ نه وروسته ژوندی کړو او هغه ته جمع کیدل دی. |
| په خوب کښی د ویریدودعاء | « أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّاتِ مِنْ غَضَبِهِ، وَمِنْ شَرِّ عِبَادِهِ، وَمِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ، وَأَنْ يَحْضُرُونِ » د الله په پوره کلمو باندی د هغه دغضب اود بندګانو دشر او د شیطان د وسوسو او حاضریدو نه پناه غواړم. |
| د خوب د لیدو دعاء | « کله چه څوک ښه خوب ووینی نو هغه د الله له طرفه وی، نو(الحمد لله) دی ووائی، او خلک دی پری خبر کړی، او که ناکاره خوب و وینی، هغه د شیطان له طرفه دی دهغی د شر نه دی پناه وغواړی او چا ته دی نه وائی ضرربه ورته و نه رسیږی. » |
| د کور نه د وتلو دعاء | « اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ أَنْ أَضِلَّ أَوْ أُضَلَّ، أَوْ أَزِلَّ أَوْ أُزَلَّ، أَوْ أَظْلِمَ أَوْ أُظْلَمَ، أَوْ أَجْهَلَ أَوْ يُجْهَلَ عَلَيَّ » ای الله زه تا پوری پناه غواړم، له دینه چه ګمراه شم او یا می بل څوک ګمراه کړی یا وښویږم یا می بل څوک وښویوی یا ظلم وکړم او یا راسره بل څوک ظلم وکړی او یا چاته ضرر ورسوم او یا را ته د بل چا نه ضرر ورسیږی. « بسم الله تَوَكَّلْتُ عَلَى اللهِ لا حَوْلَ وَلا قُوَّةَ إِلا بِاللهِ » د الله په نامه سره (د کور نه وځم) په الله باندی توکل کوم هیڅ طاقت او قوت نشته مګر د الله تعالی (په توفیق) سره. |
| جمات ته د ننوتلو دعاء | ښی ښپه به مخکی کړی او دا دعاء به و وائی : بِسْمِ اللَّهِ وَالسَّلَامُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي ذُنُوبِي وَافْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ. ، د الله په نوم سره ننوځم،او سلام دی وی په پیغمبر ﷺ ، ای الله ته راته مغفرت وکړی او د رحمت دروازی راته خلاصی کړی. |
| د مسجد نه د وتلو دعاء | چپه ښپه به مخکی کړی او دا دعاء به و وائی : بِسْمِ اللَّهِ وَالسَّلَامُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي ذُنُوبِي وَافْتَحْ لِي أَبْوَابَ فَضْلِكَ. د الله په نوم سره وځم، او سلام دی وی په پیغمبر ﷺ ، ای الله ته راته مغفرت وکړی او د خپلی مهربانئ دروازی راته خلاصی کړی. |

| | |
|---|---|
| نوی واده کونکی ته دعاء | « بَارَكَ اللّٰهُ لَكَ، وبَارَكَ عليكَ ، وَجمعَ بيْنكُما فی خيْر » ، الله دی تا له برکت در کړی، او په تا دی برکت نازل کړی، او تاسی دواړه دی په خیر سره جمع کړی. |
| څوک چه د چرګ اذان او د خر هناری (هنګاری) واوری | کله چه مو د خر هناری (هنګاری) واوریده نو أعوذ بالله من الشيطان الرجيم ووائی ځکه چه هغه شیطان وینی، او کله چه مو د چرګ اذان واوریده، نو د الله نه د هغه فضل وغواړئ، ځکه چه هغه په دغه وخت کښی ملک (پرښته) وینی، او چه کله مو په شپه کښی د خره هنیدل او د سپی غپیدل واوریده نو الله پوری د شیطان نه پناه وغواړئ. |
| چا چه درته وویل چه زما درسره د الله لپاره مینه ده | د أنس رضي الله عنه روایت دی، چه د نبی ﷺ سره یو سړی موجود وو، نو یو بل سړی په لاره روان وو، نو هغه وویل: ای د الله پیغمبره زما د دی سړی سره مینه ده، نو پیغمبر ﷺ ورته و ویل چه تا دغه سړی خبر کړی دی، هغه وویل نا، نو پیغمبر ﷺ ورته و ویل چه خبر ئی کړه، نو هغه ورپسی ورغی، وئی ویل ورته: إِنِّي أُحِبُّكَ فِي اللّٰه ، یعنی زما درسره د الله لپاره مینه ده، نو هغه ورته وویل : أَحَبَّكَ الَّذِي أَحْبَبْتَنِي لَهُ. هغه الله دی له تاسره مینه وکړی چه تا دهغه لپاره زما سره مینه کړیده. |
| د پرنجی (ترچیدو) دعاء | کله چه یو کس ستاسی نه پرنجی وکړی (وترچیږی) : نو هغه دی : الْحَمْدُ لِلّٰه ، و وائی او د هغه ملګری دی ورته يَرْحَمُكَ اللّٰهُ و وائی، یعنی الله دی په تا رحم وکړی: نو پرنجی کونکی دی ورته و وائی : « يَهْدِيكُمُ اللّٰهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُمْ » ، الله دی تاسی ته هدایت وکړی او الله دی ستاسی احوال او کار سم کړی او کافر ته به د « يرحمک الله » په ځای یهدیکم الله وائی. |
| د بی قراری دعاء | « لا إِلٰهَ إِلا اللّٰهُ الْعَظِيمُ الْحَلِيمُ، لا إِلٰهَ إلا اللّٰهُ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ، لا إِلٰهَ إلا اللّٰهُ رَبُّ السَّمٰوَاتِ وَرَبُّ الأَرْضِ وَرَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيمِ» ، بیله یو الله نه بل دعبادت حقدار نشته چه لوی او حلم لرونکی ذات دی، بیله یو الله نه بل دعبادت حقدار نشته چه د لوی عرش څښتن دی، بیله یو الله نه بل دعبادت حقدار نشته چه د اسمانونو او ځمکی پروردګار دی، اود عزتمند عرش پروردګار دی، « اللّٰهُ اللّٰهُ رَبِّي، لا أُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا » الله زما رب دی له هغه سره هیڅ شی نه شریکوم. « يَاحَيُّ يَا قَيُّومُ بِرَحْمَتِكَ أَسْتَغِيثُ » ای د همیشه لپاره ژوندی او انتظام کونکی ذاته زه ستا نه ستا رحمت پوری مدد غواړم «سُبحَانَ اللّٰهِ الْعَظِيمِ» پاک دی الله تعالی چه لوی ذات دی. |
| دښمنانو ته ښیری کول | « اللّٰهُمَّ مُجْرِيَ السَّحَابِ مُنْزِلَ الْكِتَابِ سَرِيعَ الْحِسَابِ اهْزِمْ الأَحْزَابَ، اللّٰهُمَّ اهْزِمْهُمْ وَزَلْزِلْهُمْ » الهی ای د وریځو چلونکی، ای د کتاب نازلونکی، ای زر حساب کونکی، د (دښمنانو) ډلو ته ماتی ورکړی، او (زمکه ئی) د پښو لاندی ولړزوی. |
| څوک چه د شپی بیدار شی او بیا دعاء وکړی | « رسول الله ﷺ فرمائی : څوک چه د شپی بیدارشی او بیا دا دعاء و وائی : لا إِلٰهَ إِلا اللّٰهُ وَحْدَهُ لا شَرِيكَ لَهُ ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، الْحَمْدُ لِلّٰهِ وَسُبْحَانَ اللّٰهِ وَلا إِلٰهَ إِلا اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ وَلا حَوْلَ وَلا قُوَّةَ إِلا بِاللّٰهِ، د دی **ترجمه** مخکی شوی ده. او بیا و وائی چه ای الله تعالی ماته مغفرت وکړه، او یا بله دعا وکړی نو هغه به قبوله شی، او که اودس وکړی او بیا لمونځ وکړی نو قبول به شی » |
| چاته چه یوکار مشکل شی | « اللّٰهمَّ لا سَهلَ إلا ما جعَلْتَه سَهلا وأنتَ تَجْعلُ الحزنَ إذا شئْتَ سَهلاً » ای الله هیڅ شی اسان نشته مګر هغه چه ته ئی اسان کړی، او ته چه وغواړی نو سخت او ګران شي اسانوی. |
| د قرض د اداء ګولو دعاء | « اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحَزَنِ، وَالْعَجْزِ وَالْكَسَلِ، وَالْجُبْنِ وَالْبُخْلِ، وَضَلَعِ الدَّيْنِ، وَغَلَبَةِ الرِّجَالِ » ای الله تعالی زه له پریشانی او غم نه او له کمزورتیا (سستی) او لټی نه، او بی زړه توب او شومتیا نه، د قرض د زیاتیدو او د خلکو د غلبی نه په تا سره پناه غواړم. |
| حمام ته د ننوتلو دعاء | څوک چه بیت الخلاء (حمام) ته د ننوتلو اراده وکړی نو د دی دعاء ویل ورله مستحب دی : « اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ ». ای الله زه پناه غواړم په تا پوری د نر او ښځی شیطان نه ، او کله چه دحمام نه اوځی نودا دعاء به وائی : « غُفْرَانَكَ » مغفرت راته وکړی أی الله. |
| په لمونځ کښی د وسوسو دعاء | دغه شیطان دی چه (خنزب) ورته ویلی کیږی نو کله چه دی وسوسه محسوس کړه نو ( أعوذ بالله) و وایه، او بیا چپ طرف ته لاړی تف کړی. |

| | |
|---|---|
| د سجدی دعاء | « اللَّهُمَّ اغفِرْ لي ذَنْبي كُلَّه دقَّه وَجلَّه وَأَوَّلَه وَآخره وَعلانيَتَه وَسرَّه » ای الله زما ټول واړه او لوی، مخکنی او روستنی، ښکاره او پټ ګناهونه و بخښی. « سُبْحَانَك رَبِّي وَبحَمْدِكَ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لي » ای زما ربه ته پاک ذات ئی او ستا لپاره حمدونه دی ای الله ماته مغفرت وکړه. « اللَّهُمَّ إنِّي أَعوذُ برضَاكَ منْ سَخَطك وبمُعَافاتك منْ عُقُوبَتكَ وَأَعوذُ بكَ منْكَ لا أُحْصِي ثَنَاءً عَلَيْكَ أَنتَ كَمَا أَثْنَيْتَ عَلى نَفْسكَ » ای الله زه ستا په رضا باندی ستا د غضب نه، او ستا په عافیت سره ستا له عذاب نه، او په تا سره (ستا د قهر) نه پناه غواړم، زه ستا پوره ستاینه نه شم کولای، ته هماغسی ئی لکه څرنګه چه تا د ځان ستاینه کړیده. |
| د تلاوت د سجدی دعاء | « اللَّهُمَّ لَكَ سَجَدْتُ وَبكَ آمَنْتُ وَلَكَ أَسْلَمْتُ سَجَدَ وَجْهي للَّذي خَلَقَهُ وَصوَّرَهُ وَشَقَّ سَمْعَهُ وَبَصَرَهُ تَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ الخَالقينَ » ای الله خاص تا ته سجده کوم او په تا ایمان لرم او تا ته تابعدار یم، زما مخ هغی ذات ته سجده وکړه چه هغه ئی پیدا کړی دی، او غوږونه او سترګی ئی ورکړی دی (په خپل قدرت او طاقت سره) نو برکت والا ذات دی الله تعالی چه ښه پیدا کونکی دی. |
| د لمانځه د شروع کولو دعاء | « اللَّهُمَّ بَاعدْ بيني وَبَيْنَ خَطَايَايَ كَمَا بَاعَدتَّ بينَ المَشْرق والمغرب، اللَّهُمَّ نَقِّني منْ خَطَايَايَ كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الأَبْيَض مَنَ الدَّنَس، اللَّهُمَّ اغْسلْني بالْمَاء والثَّلج وَالبَرَد » ای الله ته زما او د ګناهونو په مابین کی جدا والی راولی، لکه څرنګه چه تا د مشرق او مغرب په مابین کښی جدا والی راوستی دی، ای الله ما د ګناهونو نه داسی پاک کړه، لکه څرنګه چه سپینه جامه د خیرو نه پاکیږی، او ما په اوبو، واوری،او ږلئ باندی پریمنځی. |
| د لمونځ په اخرکښی دعاء | « اللَّهُمَّ إنِّي ظَلَمْتُ نَفْسي ظُلْمًا كَثيرًا وَلا يَغْفرُ الذُّنُوبَ إلا أَنْتَ فَاغْفرْ لي مَغْفرَةً منْ عنْدكَ وَارْحَمْني إنَّكَ أَنْتَ الْغَفُورُ الرَّحيمُ » ای الله ما په خپل ځان ډیر ظلم کړی دی، او ستا نه ماسوا بل څوک ګناهونه نه شی ښنلی، نو ته ما ته د خپل طرف نه بخښنه وکړی، او رحم راباندی وکړی ځکه چه ته ښونکی او مهربان ذات ئی. |
| د لمانځه نه وروسته دعاګانی | « اللَّهُمَّ أَعنِّي عَلَى ذكْركَ وَشُكْركَ وَحُسْن عبَادَتكَ ». أی الله ته زما سره امداد وکړی په ذکرستا سره، په شکرويستلواو ښایسته عبادت ستا سره. « اللَّهُمَّ إنِّي أَعوذُ بكَ منَ الْكُفْر وَالْفَقْر وَعَذَاب الْقَبْر » ای الله زه په تاسره د کفر، غریبئ، او د قبر د عذاب نه پناه غواړم. |
| دچا سره چه احسان وشی | چا سره چه احسان وشی او احسان کونکی ته ئی : « جزاک الله خيرا » وويلی ، يعنی الله تعالی دی تا له خير درکړی ، نو ده ښايسته ثنا ادا کړه.او هغه بل به ورته وائی : « جزاک، أو إياک » يعنی الله دی تا ته هم خير در کړی. |
| دباران د وریدو دعاء | « اللَّهُمَّ صَيِّبًا نَافعًا » ای الله د خير او فائدی بارن ئی (کړی) دا دعاء به دری کرتی وائی، « مُطرْنَا بفَضْل الله وَرَحْمَته »، د الله په فضل او رحمت سره پر مونږ باران وه وريده. او بيا دی هغه دعاء وکړی چه خوښه ئی وی ځکه چه د باران په وخت کښی دعاء قبليږی. |
| د بادونو د الوتلو دعاء | « اللهمَّ إني أسألك خَيْرَهَا وخير مَا فيْها وخير ما أرسلت به، وأعوذُ بكَ منْ شَرِّهَا وَشَرِّ مَا فيها وشَرِّ مَا أُرسلت به » ای الله زه له تانه د دی باد د خير سوال کوم، او د هغه څه د خير سوال درنه کوم چه په هغی کښی دی، او د هغی خير سوال درنه کوم چه باد پری رالیږلی شوی دی، او په تا پوری پناه غواړم د هغی له شر نه، او د هغه څه د شرنه چه په هغی کښی دی، او د هغه شر نه چه باد پری رالیږلی شوی دی. |
| د میاشت د لیدلو دعاء | « اللهمَّ أَهلَّه عَلَيْنَا باليمن والإيمَان والسَّلامَة وَالإسْلام، هلالُ خَيْر ورُشْد، رَبي وَرَبُّكَ اللهُ » ای الله ته په مونږ باندی په برکت او ايمان سره، او په سلامتيا او اسلام سره دغه مياشت راوخيژوه، د خير او هدايت مياشت ئی کړی، زما او ستا پروردګار الله تعالی دی. |
| د مسافر د رخصتولو دعاء | « أسْتَوْدعُ اللَّهَ دينَكَ وَأَمَانَتَكَ وَخَوَاتيمَ عَمَلكَ »، زه ستا دين امانت او ستا د کارونو خاتمه او انجام الله ته سپارم. او مسافر به ورته په جواب کښی داسی وائی : « أَسْتَوْدعُكُمُ اللهَ الَّذي لا تَضيعُ وَدَائعُهُ » هغی الله تعالی ته دی سپارم چه هغه ته سپارل شوی(شيان) نه ضائع کيږی. |
| کله چه هغه څه ووينی چه ستا خوښ او يا بدی شی | کله چه به رسول الله هغه څه وليدل چه خوښ به ئی ؤ نو دا دعا به ئی ويله: «الحَمْدُ للَّه الَّذي بنعْمَته تَتمُّ الصَّالحاتُ» ټول حمدونه د هغی الله لپاره دی چه د هغی د نعمت له امله ټول نيک کارونه تر سره کيږی او کله به چه ئی بد شی وليده نو ويل به ئی : «الحَمْدُ للَّه على كلّ حال» د الله تعالی لپاره په هر حالت کښی حمدونه او شکر دی |

| | |
|---|---|
| د سفر دعاء | « اللهُ أكْبَر، اللهُ أكْبَر، اللهُ أكْبَر ﴿ سُبْحانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ ۞ وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنقَلِبُونَ ﴾ اللَّهُمَّ إنَّا نَسْألُكَ في سَفَرنَا هذَا البرَّ والتَّقْوى، ومِنَ العَمل ما تَرْضى، اللَّهمَّ هوِّنْ عَلَيْنَا سَفرنَا هذا واطْوِ عنَّا بُعدَهُ، اللَّهمَّ أنْتَ الصَّاحبُ في السَّفَرِ وَالْخَلِيفَةُ في الأَهْلِ، اللَّهُمَّ إنِّي أعُوذُ بِكَ منْ وَعْثَاءِ السَّفَرِ وكَآبَةِ الْمنْظَرِ وَسُوءِ الْمُنْقَلَبِ في الْمَالِ والأهْلِ. وَإذَا رَجَعَ قَالَهُنَّ وَزَادَ فِيهنَّ : آيِبُونَ تَائِبُونَ عَابِدُونَ لِرَبِّنَا حَامِدُونَ » پاک دی هغه ذات چه مونږ ته ئی دا سورلی تابع کړیده او نه وو مونږ هغی لره حصارونکی، او مونږ خاص خپل پروردګار ته راګرځیدونکی یو. ای الله تعالی مونږ په دی سفر کی له تانه د نیکی او پرهیزګاری او د داسی عمل کولو سوال کوو چه ستا خوښ وی، ای الله تعالی ته مونږ ته دا سفر اسان کړی، او اوږدوالی ئی راته لنډ کړی، ای الله خاص ته په سفر کی ملګری ئی، او په کور کښی سرپرست ئی، ای الله زه په تا پوری پناه غواړم د سفر د سختی نه، او د ناکاره حالت نه، او د ناکاره ستنیدو نه خپل اهل او مال ته. او کله چه بیرته راستونیدونکی وی نوهمدا دعاء به وائی او دا به ورسره هم وایی: ((بیرته راتلونکی، توبه ویستونکی، عبادت کونکی، د خپل پروردګار ستایونکی یو. |
| د خوب دعاء | « اللَّهُمَّ أَسْلَمتُ نَفْسِي إِلَيْكَ وَفَوَّضْتُ أَمْرِي إِلَيْكَ وَأَلْجَأْتُ ظَهْرِي إِلَيْكَ رَهْبَةً وَرَغْبَةً إِلَيْكَ لا مَلْجَأَ وَلا مَنْجَا مِنْكَ إلا إِلَيْكَ آمَنْتُ بِكِتَابِكَ الَّذِي أَنْزَلْتَ وَبِنَبِيِّكَ الَّذِي أَرْسَلْتَ » ای الله ما خپل ځان تاته تسلیم کړی دی، او خپل کار می تاته سپارلی دی، او خپله شاه می تا ته تکیه کړی، په داسی حال کی چه ستا د رحمت امید لرم او سات د عذاب نه ویره لرم، بیله تانه بل هیڅ د نجات او د پناه ځای نشته، او ایمان می راوړی ستا په هغی کتاب چه تا نازل کړی دی،او ستا په هغی پیغمبر چه تا مونږ ته رالیږلی دی.<br>« الحَمْدُ للَّه الَّذي أَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَكَفَانَا وَآوَانَا فَكَمْ مِمَّنْ لا كَافِيَ لَهُ وَلا مُؤْوِيَ » ټول صفتونه د خدائی خاص الله لپاره دی هغه ذات چه مونږ له ئی رزق راکړی دی، او اوبه ئی راکړی، او زمونږ لپاره پوره دی (د شر د مخلوق نه)، او مونږ له ئی ځای راکړی دی، پس څومره ډیر مخلوق شته چه هغوی لره دشرنه ساتونکی اود ځای ورکونکی نشته. « اللَّهُمَّ قِنِي عَذَابَكَ يَوْمَ تَبْعَثُ عِبَادَكَ » ای الله تعالی ته مونږ په هغی ورځ ستا د عذاب نه وساتی چه ته په کښي خپل بندګان راپورته کوی. « سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ رَبِّي بِكَ وَضَعْتُ جَنْبِي وَبِكَ أَرْفَعُهُ إِنْ أَمْسَكْتَ نَفْسِي فَاغْفِرْ لَهَا وَإِنْ أَرْسَلْتَهَا فَاحْفَظْهَا بِمَا تَحْفَظُ بِهِ عِبَادَكَ الصَّالِحِينَ » پاک ئی ته ای الله او زما پروردګاره ستا په (طاقت) سره می ډډه ولګوله او ستا په قدرت سره ئی راپورته کوم، که دی زما روح قبض کړه نو مغفرت ورته وکړه، او که دی بیرته واپس راولیږه نو ساتنه ئی وکړه په هغه څه سره چه ته پری د خپلو نیکانو بندګانو ساتنه کوی. نبي ﷺ به دا دعاګانی په خپلو لاسونو باندی چوپ کولی او بیا به ئی ( قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس) ولوسته او خپل بدن به ئی پری مسحه کړه. او هره شپه به ئی د خوب نه مخکښی سورة (الم) سجده او سورة ملک (تبارک الذي) لوسته. |
| لمانځه ته د تللو دعاء | « اللَّهُمَّ اجْعَلْ فِي قَلْبِي نُورًا، وَفِي لِسَانِي نُورًا، وَفِي سَمْعِي نُورًا، وَفِي بَصَرِي نُورًا، وَمِنْ فَوْقِي نُورًا، وَمِنْ تَحْتِي نُورًا، وَعَنْ يَمِينِي نُورًا، وَعَنْ شِمَالِي نُورًا، وَمِنْ أَمَامِي نُورًا، وَمِنْ خَلْفِي نُورًا، وَاجْعَلْ فِي نَفْسِي نُورًا، وَأَعْظِمْ لِي نُورًا، وَعَظِّمْ لِي نُورًا، وَاجْعَلْ لِي نُورًا، وَاجْعَلْنِي نُورًا، اللَّهُمَّ أَعْطِنِي نُورًا، وَاجْعَلْ فِي عَصَبِي نُورًا، وَفِي لَحْمِي نُورًا، وَفِي دَمِي نُورًا، وَفِي شَعْرِي نُورًا، وَفِي بَشَرِي نُورًا » ای الله تعالی ته زما په زړه، ژبه، غوږونو، سترګو، زما د پاسه او لاندی، زما ښی او چپ طرف ته، مخی او شاته، رڼا وګرځوی، او زما په نفس کښی رڼا وګرځوی، او لویه ئی کړی راته، رڼا راته وګرځوی، او ما هم رڼا وګرځوی، او رڼا راته راکړی، او زما په پلو، غوښه، وینه، ویختو، او په بدن کښی هم رڼا وګرځوه. |
| د استخاری دعاء | « رسول الله ﷺ فرمائی : کله چه یو کس ستاسو نه د یو کار اراده او قصد وکړی نو دوه رکعته لمونځ دی وکړی په غیر د فرضی لمانځه نه او بیا دی دا دعاء و وائی : اللَّهُمَّ إنِّي أَسْتَخِيرُكَ بِعِلْمِكَ، وَأَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ، وَأَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ، فَإِنَّكَ تَقْدِرُ وَلا أَقْدِرُ، وَتَعْلَمُ وَلا أَعْلَمُ، وَأَنْتَ عَلامُ الْغُيُوبِ، اللَّهُمَّ فَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ هَذَا الأَمْرَ ( ثُمَّ تُسَمِّيهِ بِعَيْنِهِ ) خَيْرًا لِي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي .أو قال : عاجل أمري وآجله .فَاقْدُرْهُ لِي وَيَسِّرْهُ لِي ثُمَّ بَارِكْ لِي فِيهِ، وَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الأَمْرَ شَرٌّ لِي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي .أَوْ قَالَ فِي عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ .فَاصْرِفْهُ عَنِّي وَاصْرِفْنِي عَنْهُ وَاقْدُرْ لِي الْخَيْرَ حَيْثُ كَانَ ثُمَّ رَضِّنِي بِهِ » أی الله زه ستا د علم په سبب ستا نه خیر غواړم، او ستا په قدرت سره ستا نه طاقت او قدرت غواړم، یقینا ته قدرت لری او زما طاقت نشته، او ته پوه ذات ئی او زه نه پوهیږم، او خاص ته په غیبو باندی ډیرپوه ذات ئی، ای الله که چیرته ستا په علم کښی دا کار، زما لپاره اوس او روسته، اویا زما په دین او ژوند کښی، او زما د کار په انجام او عاقبت کښی ښه او غوره وی، نو ما ته ئی نصیب کړی، او اسان ئی کړی راته، او بیا ئی زما لپاره مبارک او فائده مند کړی، او که چیرته ستا په علم کښی دا کار زما لپاره، زما په دین، ژوند، او زما د کار په عاقبت او انجام کښی بد وی، او یا اوس، نو ما نه ئی واړوی، او ما تری هم واړوی، او ماته خیر نصیب کړه هر ځای چه وی، او بیا می پری خوشحاله کړه. |

| | |
|---|---|
| د مړی لپاره جامع دعاګانی | نبی ﷺ فرمائی : « اللّهمَّ اغفر لَه وارْحَمْه ، وعَافه واعْفُ عَنْه ، وأَكْرِم نُزُلَه ، ووَسِّعْ مُدْخَلَه ، واغسلْه بالْمَاء وَالثَّلْج وَالْبَرَد ، ونَقِّه من الْخطَايَا كَمَا نَقَّيْت الثَّوْب الأَبْيَض من الـدَّنَس ، وَأَبْدلْه دارًا خَيْرًا منْ داره ، وأَهْلاً خَيْرًا منْ أَهْله ، وَزَوْجًا خَيْرًا منْ زَوْجه ، وَأَدْخلْه الْجَنَّة ، وَأَعذْهُ منْ عَذاب الْقَبْر ومنْ عَذَاب النَّار » مسلم. ای الله ده ته بخښنه وکړی او رحم پری وکړی، عافیت یی نصیب کړی، او عفوه ورته وکړی، او غوره میلمستیا یی وکړی، او د داخلیدو ځای یی پراخه کړی، او په اوبو، واوره او ږلۍ سره یی پریمنځی، او له ګناهونو نه یی داسی پاک کړی لکه څرنګه چه دی سپینه جامه له خیرو نه پاکه کړی ده، اود (دنیا) د کور نه غوره کور، او د کورنۍ نه یی غوره کورنۍ، او له ښځی نه یی غوره ښځه ورکړی، او جنت ته یی داخل کړی، او د قبر او د دوزخ د عذاب نه یی وساتی. |
| د غمونو او پریشانۍ د ختمیدلو دعاء | اللَّهُمَّ إِنِّي عَبْدُكَ وَابْنُ عَبْدِكَ وَابْنُ أَمَتِكَ نَاصِيَتِي بِيَدِكَ مَاضٍ فِيَّ حُكْمُكَ عَدْلٌ فِيَّ قَضَاؤُكَ أَسْأَلُكَ بِكُلِّ اسْمٍ هُوَ لَكَ سَمَّيْتَ بِهِ نَفْسَكَ أَوْ عَلَّمْتَهُ أَحَدًا مِنْ خَلْقِكَ أَوْ أَنْزَلْتَهُ فِي كِتَابِكَ أَوْ اسْتَأْثَرْتَ بِهِ فِي عِلْمِ الْغَيْبِ عِنْدَكَ أَنْ تَجْعَلَ الْقُرْآنَ رَبِيعَ قَلْبِي وَنُورَ صَدْرِي وَجِلَاءَ حُزْنِي وَذَهَابَ هَمِّي. الهي! زه ستا بنده یم، ستا د بنده زوی یم، ستا د وینځی زوی یم، زما تندی ستا په لاس کي دی، ستا حکم پر ما جاری دی، ستا فیصله زما په حق کښی د عدل ده، ستا په ټولو هغه نومونو سره له تا نه سوال کوم، چه تا پری خپل ځان نومولی دی، او یا دی په خپل کتاب کښی نازل کړی دی، او یا دی په خپل مخلوق کښی چاته ښودلی دی، او یا دی په خپل غیبی علم کښی له ځان سره ساتلی دی، (پدي ټولو در نه سوال کوم) چه ته قران زما د زړه پسرلی، اود سینی رڼا، او د غمونو ورکونکی اود پریشانیو ختمونکی وګرځوی. |

## د رسول الله ﷺ جامع دعاګانی

« اللَّهُمَّ إنِّي أَعُوذُ بِكَ منْ سُوءِ الْقَضَاءِ وَمَنْ دَرَكِ الشَّقَاءِ وَمَنْ شَمَاتَةِ الأَعْدَاءِ وَمَنْ جَهْدِ الْبَلَاءِ » ای الله تعالی زه په تاسره د ناکاره فیصلی نه ، د بدبختئ د راګیرولو، او د دشمنانو د خوشحاله کیدو نه ، او د ازمایش د سترۍ کیدو نه پناه غواړم .

« اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي خَطِيئَتِي وَجَهْلِي وَإِسْرَافِي فِي أَمْرِي وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي جِدِّي وَهَزْلِي وَخَطَئِي وَعَمْدِي وَكُلُّ ذَلِكَ عِنْدِي اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ وَمَا أَسْرَرْتُ وَمَا أَعْلَنْتُ وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي أَنْتَ الْمُقَدِّمُ وَأَنْتَ الْمُؤَخِّرُ وَأَنْتَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ» أی الله ته ماته زما خطائی ناپوهی، او زما په ټولو کارونو کښی اسراف کول او هغه ګناه چه ته په هغی باندی زما نه ښه پوهیږی وبخښی، أی الله ته ماته په رشتیا سره ګناه او یا په ټوقو سره ګناه په خطا سره ګناه او یا په قصد سره ګناه او یا په ناپوهی سره ګناه معاف کړی او دغه ټولی زما له طرفه دی أی الله ته ماته هغه ګناه وبخښی، چه مخکی می کړیده، او هغه ګناه چه وروسته کړی می ده، او هغه ګناه چه ما پټه کړی، او یا می ښکاره کړی ده، او هغه ګناه چه ته په هغی باندی زما نه ښه پوهیږی، خاص ته مخکی کونکي ئی، او ته وروسته کونکي ئی، او ته په هر څه باندی قدرت لری.

« اللَّهُمَّ أَصْلِحْ لِي دِينِي الَّذِي هُوَ عِصْمَةُ أَمْرِي وَأَصْلِحْ لِي دُنْيَايَ الَّتِي فِيهَا مَعَاشِي وَأَصْلِحْ لِي آخِرَتِي الَّتِي فِيهَا مَعَادِي وَاجْعَلْ الْحَيَاةَ زِيَادَةً لِي فِي كُلِّ خَيْرٍ وَاجْعَلْ الْمَوْتَ رَاحَةً لِي مِنْ كُلِّ شَرٍّ » ای الله تعالی زما د هغه دین اصلاح وکړی چه زما د ژوند او کارونو د حفاظت (سبب) دی، او زما هغه دنیا ښه کړی چه زما په کښی ګذران دی، او اخرت راته ښایسته کړی چه زه ورپکښی راپورته کیږم، او ژوند راته د هر خیر د زیاتوالی سبب وګرځوی، او مرګ راته د هر شر نه د راحت لپاره سبب وګرځوی. « اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْهُدَى وَالتُّقَى وَالْعَفَافَ وَالْغِنَى » أی الله زه له تانه تقوا (پرهیزګاری) هدایت، پاکدامنی، اومالداری غواړم.

« اللَّهُمَّ آتِ نَفْسِي تَقْوَاهَا وَزَكِّهَا أَنْتَ خَيْرُ مَنْ زَكَّاهَا أَنْتَ وَلِيُّهَا وَمَوْلَاهَا اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عِلْمٍ لَا يَنْفَعُ وَمِنْ قَلْبٍ لَا يَخْشَعُ وَمِنْ نَفْسٍ لَا تَشْبَعُ وَمِنْ دَعْوَةٍ لَا يُسْتَجَابُ لَهَا » ای الله زما نفس ته تقوا په برخه کړی، اوپاکوالی ئی نصیب کړی، ځکه چه په ټولو کښی ته بهترین پاکونکی د نفس ئی، ته د هغی سرپرست او واکدار ئی، أی الله زه پناه غواړم په تا پوری، د هغی علم نه چه فایده نه رسوی، او د هغی زړه نه چه نه ویریږی، او د هغی نفس نه چه نه مړیږی، او د هغی دعاء نه چه نه قبلیږی.

« اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ زَوَالِ نِعْمَتِكَ وَتَحَوُّلِ عَافِيَتِكَ وَفُجَاءَةِ نِقْمَتِكَ وَجَمِيعِ سَخَطِكَ » ای الله تعالی زه په تا سره ستا د نعمت د محرومیدو نه، او ستا د روغتیا د بدلیدو نه، او ستا د ناڅاپی عذاب نه، او ستا د ټولو عذابونو نه، پناه غواړم.

# فایده مند تجارت

الله تعالی په ټولو مخلوقاتو باندی انسان غوره کړی دی او د خبروکولو په نعمت باندی ئی خاص کړی دی، او ژبه ئی د خبرو لپاره یوه اله او سبب جوړ کړی دی، او دا یو داسی نعمت دی چه په خیر او شر دواړو کښی استعمالیدی شی، لیکن که چا په خیر کښی استعمال کړه نو د دنیا سعادت او د جنت اوچتو درجو ته به ئی ورسوی، او که چا په شر کښی استعمال کړه نو په دنیا او اخرت دواړو کښی به ئی د هلاکت کندو ته ورسوی، او د قران کریم د تلاوت نه وروسته بهترین عبادت چه د وخت نه پری باید استفاده وشی نو هغه د الله تعالی ذکر دی :

**د الله تعالی د ذکر فضیلت :** د ذکر په فضیلت کښې ډیر احادیث راغلی دی چه ځنې ئې دا دی، رسول ﷺ فرمائی : « **ألا أنبئُكُمْ بخير أعمالكم، وأزكاها عند مليككم وأرفعها في درجاتكمْ، وخيرٍ لكُمْ منْ إنْفاق الذَّهب والورق، وخيرٍ لكم منْ أنْ تلْقوْا عدوّكم فتضْربُوا أعْناقهم ويضْربُوا أعْناقكُمْ؟ قالوا : بلى يا رسول الله. قال : ذكْرُ الله** » الترمذي، ایا زه تاسو په غوره کارونو باندی خبر نه کړم، چه ستاسی د بادشاه په نزد ډیر پاک وی، او ستاسو د درجو لپاره اوچتونکی وی، او ستاسو لپاره د سرو او سپینو زرو د انفاق نه ډیر غوره وی، او ستاسو لپاره د دی نه هم غوره وی چه دشمن سره مخامخ شی نو تاسو د هغوی ځتونه ووهی او هغوی ستاسی ځتونه ووهی؟ نو صحابه کرامو وویل: بلی یا رسول الله ﷺ مونږ پری خبر کړه، نو رسول الله ﷺ وفرمایل: چه هغه د الله تعالی ذکر دی.

او همداراز رسول الله ﷺ فرمائی : « **مَثَلُ الَّذي يَذْكُرُ ربَّهُ والَّذي لا يَذْكُرُ ربَّهُ مثلُ الْحيِّ والْميِّت** » البخاري . مثال د هغی کس چه د الله تعالی ذکر کوی او د هغی کس چه ذکر نه کوی په شان د ژوندی او مړی دی. او همدار ازالله تعالی په حدیث قدسی کښی فرمائی : « **أَنا عنْد ظَنِّ عَبْدِي بِي، وأَنا معهُ إذا ذكرني فإنْ ذكرني في نفسه ذكرْتُهُ في نفسي، وإنْ ذكرني في ملأ ذكرْتُهُ في ملأ خيرٍ منْهمْ، وإنْ تقرَّب إليَّ بشبْرٍ تقرَّبْتُ إليْه ذراعا** » البخاري ، زه د بنده سره د هغه د ګمان مطابق چلند کوم، زه د هغه سره یم ګله چه ما یاد کړی، که ما په زړه کښی یاد کړی نو زه ئی هم په خپل نفس کښی یادوم، او که ما په یو مجلس کښی یاد کړی نو زه ئی هم د داسی ټولی په مخ کښی یادوم چه د هغی د ټولی نه غوره وی، او که چیرته هغه ماته د یوی لویشت په اندازه رانږدی کیږی نو زه ورته د یو ذراع (متر) په اندازه نږدی کیږم.

او همدا راز رسول الله ﷺ : « **سبق الْمُفرِّدُون، قالوا : وما المُفرِّدُون يا رسُول اللَّه؟ قال : الذَّاكرُون اللَّه كثيرًا والذَّاكرات** » مسلم ، مفردون (موحدین) خلک مخکی لاړل، نو صحابه کرامو عرض وکړه چه (مفردون) څوک دی ای د الله تعالی پیغمبر ﷺ نو هغه وویل: چه دا هغه نارینه او ښځی دی چه الله تعالی ډیر یادوی. او همدا راز رسول الله ﷺ یو صحابی ته وصیت کوی او ورته فرمائی : « **لا يزالُ لسانُك رطْبًا منْ ذكْر اللَّه** » الترمذي وغیرها. چه ستا ژبه دی همیشه لپاره د الله تعالی په ذکر لنده وی.

**د ثوا بونو زیاتیدل او دوچنده کیدل:** نیک عملونه هم د قران د تلاوت په شان دوچنده کیږی، او دا د دوو شیانو له امله: ۱) د زړه د ایمان او د اخلاص په مقدار، او د الله تعالی سره د محبت او د هغی د تقاضی موافق. ۲) په ذکر کښی د زړه د سوچ فکر، تدبر او مشغولیدو په اندازه اجر زیاتیږی او ذکر باید یواځی په ژبه باندی نه وی. که چیرته ذکر په دغی طریقه کامل شی نو الله تعالی ورته ټول ګناهونه معاف کوی او پوره اجر او ثواب به ورله ورکړی، او که ناقص وی نو ثواب به هم د هغی په اندازه حاصلیږی.

**د ذکر فایدی :** شیخ الاسلام بن تیمیة رحمه الله فرمائی : ذکر د زړه لپاره داسی حیثیت لری لکه څرنګه چه اوبه د ماهیانو لپاره دی، نو کله چه ماهی د اوبو نه جدا شی نو د هغی به څه حالت وی؟

✸ ذکر د الله تعالی محبت پیدا کوی، او د الله تعالی د نزدیکت، رضاء، مراقبی، او د هغه نه د ویریدلو، او هغه ته د انابت، لپاره یو لوی سبب دی، او انسان سره د الله تعالی په اطاعت کښی مدد او مرسته کوی.

✸ د زړه نه پریشانی او غمونه لری کوی او خوشحالی پیداکوی، او په زړه کښی ښایسته ژوند، قوت، او صفائی پیدا کوی.

✸ په زړه کښی یوخالیګاه او ولږه ده چه په غیر د ذکر نه په بل څیز باندی نه بندیږی، او همدا راز په زړه کښی چه کوم قسوت او سختی ده هغه هم په غیر د ذکر نه په بل څیز باندی نه ختمیږی.

✸ ذکر د زړه شفاء دوا او طعام دی، او دا د زړه هغه مزه او خوند دی چه نور خوندونو ورسره نه شی برابریدی.

✸ د ذکر کموالی د منافقت علامه ده او ډیروالی ئی د ایمان د قوت اود الله تعالی سره د رښتینی محبت علامه ده ، ځکه څوک چه د کوم شی سره محبت لری نو د هغی ذکر ډیر کوی.

✸ کله چه یو بنده د راحت په وخت کښی الله تعالی په ذکر سره یادوی نو الله تعالی به ئی د سختئ په وخت کښی یاد کړی، او خاصکر (په خاصه توګه) د زنکدن د سخت حالت په وخت کښی.

✸ ذکر د الله تعالی د نجات، سکون، د رحمت د نازلیدو، او د ملایکو د استغفار لپاره یو لوی سبب دی.

✸ژبه د ذکر په وجه د عبث خبرو غیبت چغلی، دروغو، او دنورو مکروهه او ناروا کارونو نه بندیږی.

✸ ذکر ډیر اسان، لوی او جلیل القدر عبادت دی، او د جنت نالګی او بوټی دی.

✸ ذکر کونکی ته هیبت مزی، او د مخ تازګی حاصلیږی، چه دا په دنیا قبر او اخرت کښی یوه رڼا او نورانیت دی.

✸ ذاکر بنده باندی الله تعالی رحمتونه رالیږی، ملایکی ورله استغفار او رحمت غواړی او الله تعالی پری د ملایکو په مخکی فخر کوی.

✸ د بهترینو عملونو والا بندګان هغه دی چه په دغی عملونو کښی د الله تعالی ذکر ډیر کوی، نو بهترین روژه دار هغه خلک دی چه په روژه کښی د الله تعالی ډیر ذکر کوی.

✸ د ذکر په وجه ګران سخت او مشقت لرونکی شیان اسانیږی، رزق ډیروی، او بدن قوی کوی.

✸ شیطان شړی او له منځه یی وړی، رسوا کوی ئی او د ذلت سره ئی مخامخ کوی.

# دسهار او د ماښام اذكار

| م | روزمره اذكار چه ويلى كيږى | شمير او دهغى وخت | د ذكر أثر او فضيلت |
|---|---|---|---|
| 1 | آية الكرسي ﴿ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْحَىُّ ٱلْقَيُّومُ لَا تَأْخُذُهُۥ سِنَةٌ وَلَا نَوْمٌ لَّهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ مَن ذَا ٱلَّذِى يَشْفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذْنِهِۦ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَىْءٍ مِّنْ عِلْمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ وَلَا يَـُٔودُهُۥ حِفْظُهُمَا وَهُوَ ٱلْعَلِىُّ ٱلْعَظِيمُ ﴾ | سهار او ماښام، د خوب نه مخكى او د فرضى لمونځونو نه وروسته . | شيطان ورته نږدى كيداى نشى، او د جنت د ننوتلو سبب دى |
| 2 | دسورة بقرى د آخرى دوه و اياتونو ويل ﴿ ءَامَنَ ٱلرَّسُولُ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْهِ مِن رَّبِّهِۦ وَٱلْمُؤْمِنُونَ كُلٌّ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَكُتُبِهِۦ وَرُسُلِهِۦ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّن رُّسُلِهِۦ وَقَالُوا۟ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ ٱلْمَصِيرُ ﴿٢٨٥﴾ لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا ٱكْتَسَبَتْ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَآ إِن نَّسِينَآ أَوْ أَخْطَأْنَا رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَآ إِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهُۥ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِنَا رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهِۦ وَٱعْفُ عَنَّا وَٱغْفِرْ لَنَا وَٱرْحَمْنَآ أَنتَ مَوْلَىٰنَا فَٱنصُرْنَا عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴾ | بيګاه او د خوب نه مخكى | د هر شي د ضرر نه انسان محفوظ ساتى |
| 3 | سورة (**الإخلاص**) او سورة (**الفلق**) او سورة (**الناس**). | 3 ځلى سهار ، او3 ځلى ماښام | د ټولو كارونو لپاره كفايت كوى |
| 4 | **بسم الله الذي لا يضر مع اسمه شيء في الأرض ولا في السماء وهو السميع العليم.** د الله تعالى په نوم چه دهغه دنوم سره ضررنه شى رسولى كوم شى په زمكه كى اونه په اسمانونوكښى، اوهغه ښه اوريدونكى اوښه پوهه دى. | 3 ځلى سهار، او3 ځلى ماښام | نودهرقسم ضررنه به ئى الله تعالى محفوظ وساتى، اوناڅاپى به ورته كوم مصيبت نه رسيږى ، اوهيڅ شى به ورته ضررنه شى رسولى. |
| 5 | **أعوذ بكلمات الله التامات من شر ما خلق.** دالله تعالى په كامل اوپوره صفتونو باندى پناه غواړم، دشردهغه مخلوق نه چه الله پيداكړى دى. | 3 ځلى به ئى ماښام وائى، او يا چه څوك يو ځاى ته ورشى. | په دى سره به دغه ځاى د هر قسم ضرر نه محفوظ شى . |
| 6 | **حسبي الله لا إله إلا هو عليه توكلت وهو رب العرش العظيم .** ښه پوره دى زما لپاره الله هغه ذات چه نشته بل حقدار دبندګى مګرهغه، خاص په هغى باندى زه توكل كوم او هغه خاوند دعرش عظيم دى | 7 ځلى سهار، او7 ځلى ماښام | الله تعالى به ورله د د دنيا او د اخرت د هغه كارونو لپاره كافى شى چه د هغى قصد او اراده ئى كړى ده |
| 7 | **رضيت بالله ربًا، وبالاسلام دينًا، وبمحمد ﷺ نبيًا.** زه د الله تعالى په خدائى توب او ربوبيت، او د اسلام په دين، اود محمد ص په پغمبرى باندى راضى شوم | 3 ځلى سهار، او3 ځلى ماښام | الله تعالى به خامخا دغه انسان راضى كوى. |
| 8 | **اللهم بك أصبحنا وبك أمسينا وبك نحيا وبك نموت وإليك النشور.** أى الله ستاپه حكم مونږ سبا كوو، او ستا په حكم مونږ بيګاه كوو او ستا په حكم او امر مونږ ژوند كوو، او ستا په امر مونږ مرو، اوخاص تاته بيا راپورته كيدل دى. او په ماښام كښى به داسى وائى : **اللهم بك أمسينا وبك أصبحنا وبك نحيا وبك نموت وإليك المصير.** أى الله ستاپه حكم مونږ بيګاه كوو، او ستا په حكم مونږ سبا كوو، او ستا په حكم او امر مونږ ژوند كوو، او ستا په امر مونږ مرو، اوخاص تاته بيا راګرځيدل دى. | سهار او ماښام | په دى باندى رسول الله ﷺ تيزى وركړى ده |
| 9 | **أصبحنا على فطرة الإسلام، وكلمة الإخلاص، ودين نبينا محمد ﷺ وملة أبينا إبراهيم عليه السلام حنيفًا مسلمًا وما كان من المشركين .** مونږ په فطرت د اسلام او په كلمه داخلاص، او په دين د محمد ص او په ملت د ابراهيم عليه السلام چه زمونږ پلار دى سهار كړه، په داسى حال كښى چه حق ته مايله وو او له مشركانو څخه نه وو. | سهار | نبى ﷺ به د سهار په وخت كښى دا دعا ويله. |
| 10 | **اللَّهُمَّ مَا أَصْبَحَ بِي مِنْ نِعْمَةٍ أو بِأَحَدٍ مِنْ خَلْقِكَ فَمِنْكَ وَحْدَكَ لا شَرِيكَ لَكَ فَلَكَ الْحَمْدُ وَلَكَ الشُّكْرُ.** اى الله كوم نعمت چه ماته او يا ستا بل مخلوق ته د سهار په وخت كښى رسيدلى نو هغه يواځى ستا له طرفه دى، تا لره شريك نشته نو تالره ستاينه او شكر دى. او په ماښام كښى به وائى: **ما أمسى بي** أو.... ، كوم نعمت چه ماته د ماښام په وخت كښى رسيدلى دى.. | سهار او ماښام | دغى انسان د الله تعالى د دغى ورځى او شپى شكر ادا كړه |

| | | | |
|---|---|---|---|
| 11 | **اللهمّ إنّي أصبحتُ أُشهِدُكَ وأُشهِدُ حملةَ عرشِكَ وملائكتكَ وأنبياءكَ وجميعَ خلقِكَ بأنّكَ أنتَ اللهُ لا إله إلاّ أنت وأنّ محمّداً عبدُكَ ورسولُكَ.** اى الله تعالى ما سهار کړه په داسی حال کښی چه زه تا او ستا د عرش پورته کونکی او ستا ملایکی او پیغمبران علیهم السلام او ستا ټول مخلوق په دی ګواه کوم چه بیشکه ته الله ئی بی له تانه بل د عبادت حقدار نشته، او بیشکه محمد ص ستا بنده دی او ستا رسول دی. او ماښام به داسی وائی: إنّي أمسَيْتُ... یعنی ما بیګاه کړه... | 4 ځلی سهار، او ٤ ځلی ماښام | چا چه ځلور کرتی (ځلی) دا وویلی نو الله تعالی به ئی د اور نه ازاد کړی. |
| 12 | **اللهم فاطر السموات والأرض عالم الغيب والشهادة رب كل شيء ومليكه أشهد أن لا إله إلا أنت، أعوذ بك من شر نفسي ومن شر الشيطان وشركه وأن أقترف على نفسي سوءاً أو أجره إلى مسلم.** أی الله د زمکی او اسمانونو پیداکونکی، په پټوا و ښکاره وباندی پوهه، د هرشی رب أو پالونکی، او اختیارمنده، زه ګواهی کوم چه نشته بل حقدارد بندګی مګرته ئی، زه پناه غواړم په تاپوری، د ضررد نفس خپل نه، اود شیطان د ضرراوشرک نه پناه غواړم، اوله دی نه پناه غواړم چه زه د خپل نفس سره بدی وکړم اویا بل مسلمان ته بدی ورسوم | سهار او ماښام او د خوب په وخت کښی | انسان په دی سره د شیطان د وسوسو نه ساتلی کیږی. |
| 13 | **اللهم إني أعوذ بك من الهم والحزن وأعوذ بك من العجز والكسل وأعوذ بك من الجبن والبخل وأعوذ بك من غلبة الدين وقهر الرجال.** أی الله زه پناه غواړم په تا پوری، د پریشانی اوغم نه، اوزه پناه غواړم په تاپوری، د کمزورتیا اوسستی نه، اوزه پناه غواړم په تاپوری د بزدلی اوشومتیا کولونه، اوزه پناه غواړم په تا پوری دقرض د ډیریدو اود غالبه کیدو د خلکونه. | یو کرت سهار او یو کرت ماښام | د انسان غم او پریشانی له منځه وړی، او قرض ورله ختموی. |
| 14 | **اللّهُمَّ أنتَ ربِّي لا إلهَ إلا أنتَ خلقْتَني وأنا عبدُكَ وأنا على عهدِكَ ووعدِكَ ما استطعْتُ أعوذُ بكَ منْ شرِّ ما صنَعْتُ أبوءُ لكَ بنعمتكَ عليَّ وأبوءُ لكَ بذنبي فاغفرْ لي فإنَّهُ لا يغفرُ الذُّنوبَ إلا أنْتَ.** الهی ته زما پروردګار ئی، په غیر ستا نه بل د عبادت حقدار نشته، تا زه پیدا کړی یم، او زه ستا بنده یم، او زه د خپل طاقت او توان مطابق ستا په عهد او وعده ولاړ یم، زه پناه غواړم په تا پوری، د شر د هغه څه نه چه ما کړی دی، زه ستا په هغی نعمت اقرار کوم چه ماته دی راکړی دی، او په خپله ګناه هم اقرار کوم، نو ماته بخښنه وکړی، ځکه چه په غیر ستا نه بل څوک بخښنه نه شی کولی. | دیته (سید الاستغفار) وائی، سهار او ماښام به ویلی کیږی | چا چه دا دعاء د ورځی له خوا وویله په داسی حال کښی چه یقین کونکی وی وربانډی او بیا په دغی ورځ کښی مړ شی، او یا ئی د شپی له خوا ولولی او بیا په دغه شپه کښی مړ شی نو دغه انسان جنتی دی. |
| 15 | **يا حي يا قيوم برحمتك أستغيث أصلح لي شأني كله ولا تكلني إلى نفسي طرفة عين.** ای د کامل ژوند څښتنه ای (د ټول عالم) تدبیر کونکی ستا په رحمت سره مدد غواړم، زما ټول کارونه برابر کړی، او ما خپل نفس ته د سترګی د رپ په اندازه هم مه سپاره. | سهار او ماښام | نبی ﷺ حضرت فاطمه رضي الله عنها ته د دی د ویلو وصیت کړی وو. |
| 16 | **اللهم عافني في بدني، اللهم عافني في سمعي، اللهم عافني في بصري، اللهم إني أعوذ بك من الكفر والفقر، اللهم إني أعوذ بك من عذاب القبر لا إله إلا أنت.** ای الله ماته په بدن کښی روغتیا راکړی، ای الله ماته په غوږونو کښی روغتیا راکړی، ای الله ماته په سترګو کښی روغتیا را کړی، ای الله زه په تاسره د کفر او فقر نه پناه غواړم، او په تا سره د قبر د عذاب نه پناه غواړم، بی له تانه بل د عبادت وړ معبود نشته. | 3ځلی سهار، او3 ځلی ماښام | رسول الله ﷺ به دا دعاء ویله. |
| 17 | **اللهُمَّ إني أسألكَ العافيةَ في ديني ودنياي وأهلي ومالي، اللهمَّ استُرْ عوراتي وآمنْ روعاتي، اللهُمَّ احْفظني منْ بين يديَّ ومن خلْفي وعن يميني وعن شمالي ومن فوْقي وأعوذُ بعظمتكَ أن أُغتالَ منْ تحْتي.** ای الله زه له تانه په خپل دین او دنیا کښی او په خپل اهل او مال کښی د سلامتیا سوال کوم، ای الله ته زما عیبونه پټ کړی او ویره رانه لری کړی، ای الله ما د مخی نه، او شا نه، او د ښی خوانه، او د چپی خوانه، او د پورته خوا نه محفوظ کړی، او زه ستا په لوئی باندی له دی نه پناه غواړم چه د لاندی خوانه نا څاپه هلاک شم. | سهار او ماښام | رسول الله ﷺ به سهار او ماښام دا دعاء ویله او چیرته ئی نه ده پریښی. |
| 18 | **سبحان الله وبحمده عدد خلقه، ورضا نفسه، وزنة عرشه، ومداد كلماته** پاک دی الله تعالی، او هغه لره غوره ستاینه ده، د ده د مخلوقاتو د شمیر په اندازه، او د ده د نفس د رضا (په اندازه)، او د ده د عرش د وزن (په اندازه) او د ده د کلماتو د سیاهی (په اندازه) | 3 ځلی سهار | د دی ویل د سهار دلمانځه نه نیولی تر غرمی پوری د ذکر د کیناستو نه غوره دی |

# هغه دعاګانې او کارونه چه لوی اجراو ثواب لري

| م | غوره وينا او عمل | په احاديثو كښې د هغې اجر او ثواب : رسول الله ﷺ فرمائی : |
|---|---|---|
| 1 | لا إله إلا الله وحده لا شريك لـه لـه الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير | څوک چه دغه کلمة په يوه ورځ کښې سل (١٠٠) ځله و وائی، نو د لسو غلامانو د ازادولو برابر ثواب به ئی وشی، او سل (١٠٠) نيکيانی به ئی په عملنامه کی وليکل شی، او سل (١٠٠) ګاهونه به ورته معاف شی، او تر ماښامه پورې به دغه دعاء د ده لپاره د شيطان نه د حفاظت سبب وګرځی، او د ده په شان بهترين عمل کونکی هيڅ څوک نشته، مګر هغه څوک چه د ده نه زيات عمل وکړی. |
| 2 | سبحان الله العظيم وبحمده | « چا چه دا کلمات ووېل: پاک دی الله تعالی چه لوی ذات دی او حمدونه دی هغی لره. نو په جنت کښې به ورله د خرما ونه ولګيږی.» |
| 3 | ( سبحان الله وبحمده ، سبحان الله العظيم ) | څوک چه **(سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ)** د سهار او بيګاه په وخت کښې سل (١٠٠) ځلی و وايی، نو ګناهونه به ئی ټول ورژيږی اګر که د سمندر د زګ په اندازه وی، او څوک به په ورځ د قيامت کښې د ده نه په غوره عمل سره راتګ ونه کړی مګر هغه څوک چه د ده په شان او يا ئی د ده نه زيات ذکر کړی وی » ، رسول الله ﷺ فرمائی : « دوه کلمی او جملی دی چه په ژبه ئی ويل اسان دی، په تللو کښې درنی دی، الله تعالی ته ډيری محبوبی دی ، **سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ سُبْحَانَ اللَّهِ الْعَظِيمِ** »، پاک دی الله تعالی سره د حمدونو خپلو، پاک دی الله تعالی چه لوی ذات دی |
| 4 | لا حول ولا قوة إلا بالله | « آيا تا ته د جنت د خزانو نه يوه خزانه ونه ښايم؟ نو ما ورته ووېل: چه هو، نو رسول الله ﷺ وفرمائل : **لا حَوْلَ وَلا قُوَّةَ إِلا بِاللَّهِ** » نشته دی طاقت او قوت مګر په امداد د الله تعالی سره. |
| 5 | د جنت غوختل او د اورنه پناه طلب كول | چا چه د الله تعالی نه دری کرتی جنت وغوختنه نو جنت عرض وکړی چه ای الله تعالی جنت ته ئی داخل کړی ، او څوک چه الله تعالی پوری د اور نه پناه وغواړی نو اور عرض وکړی چه ای الله تعالی د اور نه ورته نجات ورکړه . |
| 6 | د مجلس د كفارى دعاء | « څوک چه په يو مجلس کښې کښيني، او خبری ئی پکښې ډيری شی او د پاڅيدو نه ئی مخکی دا دعاء و ويلی : **سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ أَشْهَدُ أَنْ لا إِلَهَ إِلا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ** ، پاکی ده تا لره ای الله او حمدونه دی تالره، ګواهی کوم چه نشته بل د عبادت حقدار مګر ته ئی، ستانه بخښنه غواړم او تا ته توبه اوباسم. نو په دغه مجلس کښې چه کوم ګناهونه د ده نه شوی دی هغه به ورته معاف شی. |
| 7 | د سورة كهف د اولنو لسو اياتونو د يادولو فضيلت | « چا چه د سورة کهف اولنی لس اياتونه حفظ کړه ، نو د دجال د فتنی نه به وساتلی شی ». |
| 8 | په نبی ﷺ باندی درود ويل | « څوک چه په ما باندی يو ځل درود و وائی نو الله تعالی به ورته لس رحمتونه ورکړی، او لس ګناهونه ورته معاف کيږی، او لس درجی ئی اوچتيږی » او په بل روايت کښې راغلی چه د هغی په وجه ورته لس نيکيانی ليکل کيږی. |
| 9 | د قرآن كريم د ايتونو د لوستلو ثواب او فضيلت | چا چه په يوه ورځ او شپه کښې پنځوس (٥٠) اياتونه ولوستل نو د غفلت کونکو په قطار کښې به ونه ليکل شی، او چا چه سل (١٠٠) اياتونه ولوستل نو هغه به د تابعدارو (نيکانو) خلکو په جمله کښې وليکلی شی، او چا چه دوه سوه (٢٠٠) اياتونه ولوستل نو قران به ئی په ورځ د قيامت کښې نه ملامته کوی، او که چا پنځه سوه (٥٠٠) اياتونه ولوستل نو د ثوابونو خزانی به ورله وليکلی شی. او « قل هوالله احد د قرآن کريم د دريمی برخی سره برابر ثواب لری » |
| 10 | د اذان ثواب | « هغه پيريان او انسانان او يا نور مخلوق چه د مؤذن اذان اوری نو هغه به په ورځ د قيامت کښې د ده لپاره ګواهی کوی » ، « په ورځ د قيامت کښې به اذان کونکی د ټولو خلکو نه اوږده وی په اعتبار د غړو سره » |

| | | |
|---|---|---|
| 11 | د اذان جواب ورکول او د اذان نه وروسته دعا کول | « چا چه د اذان د اوریدلو په وخت کښی دا دعاء ووایه : **اللّٰهُمَّ رَبَّ هَذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ، وَالصَّلاَةِ الْقَائِمَةِ، آتِ مُحَمَّدًا الْوَسِيلَةَ وَالْفَضِيلَةَ، وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَحْمُودًا الَّذِي وَعَدْتَهُ** ، ای الله تعالی او د دی مکملی بلنی او د دی کیدونکی لمونځ خاونده، محمد ﷺ ته په جنت کښی خاصه درجة او فضیلة ورکړی، او هغی ستایلی شوی مقام ته ئی ورسوی چه تا ورسره د هغی وعده کړې یده » نو د هغی لپاره په ورځ د قیامت کښی زما شفاعت ثابت شوه » |
| 12 | صحیح او پوره اودس کول | « څوک چه ښایسته اودس وکړی، نو د بدن نه ئی ټول ګناهونه اوځی تر دی چه د نوکونو لاندی نه هم ګناهونه اوځی ». |
| 13 | د اودس نه وروسته دعاء | « په تاسوکښی چه کله یو شخص ښایسته او پوره اودس وکړی او بیا دا دعاء ووائی : **أَشْهَدُ أَنْ لا إِلَهَ إِلا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُ اللَّهِ وَرَسُولُهُ** ، دا ګواهی کوم چه د الله تعالی نه په غیر بل څوک د عبادت حقدار نشته او محمد ﷺ د الله تعالی بنده او پیغمبر دی. نو ده ته به د جنت اته دروازی خلاصی شی، چه کومه دروازه ئی خوښه وی په هغی به ننوزی. |
| 14 | د اودس نه وروسته دوه رکعته لمونځ کول | « کله چه یو مسلمان اودس وکړی او خپل اودس ښایسته کړی، او بیا دوه رکعته لمونځ وکړی، په داسی حال کښی چه د زړه او اندامونو توجه ئی لمانځه ته راګرځولی وی نو د دغی مسلمان لپاره جنت فرض شوه ». |
| 15 | جماعت ته د ډیرو قدمونو اخستلو اجر او ثواب | « څوک چه د جمع لمانځه لپاره جماعت ته لاړ شی نو په یو قدم اخستلو سره د ده ګناه معاف کیږی، او په بل قدم ورته نیکی لیکلی کیږی ». |
| 16 | د جمی لمونځ لپاره تیاری نیول او هغی ته وختی تلل | « څوک چه د جمی په ورځ غسل وکړی او بیا وختی جماعت ته پیاده لاړ شی، او امام ته نږدی د خطبی اوریدلو لپاره کښینی او عبث کار ونه کړی، نو ده ته به په یو قدم باندی د یوکال د تهجدو او د روژی برابر ثواب ولیکلی شی »، « کله چه یو سړی د جمی په ورځ غسل وکړی، او خپل ځان پاک او صفا کړی، او بیا د کورخوشبوئی استعمال کړی ، او بیا جماعت ته لاړ شی په داسی حال کښی چه د دوه و کسانو په مینځ کښی جداوالی را نه ولی، او بیا لمونځ وکړی چه کوم ورته لیکلی شوی وی، او بیا د امام خبرو ته غوږ کیږدی، نو ده ته به د دغی جمی نه نیولی تر بلی جمی پوری ټول ګناهونه معاف شی » |
| 17 | د اولنی تکبیر راګیرول | « څوک چه د الله تعالی لپاره په جماعت سره څلویښت ورځی لمونځ وکړی په داسی حال کښی چه تکبیر تحریمه (اولنی تکبیر) راګیر کړی نو د ده لپاره دوه قسمه خلاصون ولیکلی شی : د جهنم د اور نه خلاصیدل، او بل د منافقت نه خلاصون او بری کیدل». |
| 18 | په جمع باندی د فرضی لمونځ ادا کول | « د جمع لمونځ په ځانله لمانځه باندی یو په اوه ویشتو (٢٧) درجو زیات ثواب لری ». |
| 19 | د ماخوستن او د سهار لمونځ په جمع باندی کول | « څوک چه د ماخوستن لمونځ په جمع سره ادا کړی ګویا چه دغی انسان نیمائی شپه عبادت وکړه، او څوک چه د سهار لمونځ هم په جمع سره ادا کړی ګویا چه ده ټوله شپه عبادت وکړه » |
| 20 | په اول صف کښی لمونځ کول | « که چیرته خلکو د اذان او د اول صف فضیلت پیژندلی، او بیا ئی په غیر د خسنی اچولو نه نه موندلی نو په هغی به ئی د یو بل سره قرعه اندازی کړی وی» |
| 21 | د موؤکدو سنتو پابندی کول | « څوک چه په یوه شپه او ورځ کښی دولس رکعته (سنت) وکړی نو الله تعالی به ورله په جنت کښی کور جوړ کړی، څلور رکعته د ماسپښین نه مخکی او دوه رکعته روسته، او دماښام او ماخوستن نه وروسته دوه رکعته، او دوه رکعته د سهار نه مخکی» |
| 22 | په کثرت سره د نفلی لمونځونو ادا کول او په خفیه ادا کولو باندی ئی کوشش | « الله تعالی ته ډیری سجدی کوه، ځکه چه ته الله تعالی ته سجده نه کوی مګر الله تعالی دی یوه درجه اوچتوی، او یوه ګناه درته معاف کوی » « د یو سړی نفلی لمونځ په داسی حال کښی ادا کول چه خلک ئی نه وینی دا د هغی پنځه ویشتو لمونځونو برابر ثواب لری چه د خلکو په مخکی ادا کښی » |

| | | |
|---|---|---|
| 23 | **د سهارد سنتو مووکدو او د فرضی لمونځ اجر** | « د سهار دوه رکعته (سنت) د دنیا او دهغه څه نه ډیر غوره دی چه په دی دنیا کښی دی »، « څوک چه د سهار (فرضی) لمونځ وکړی نو دغه انسان د الله تعالی په ذمه (حفاظت) کښی دی » |
| 24 | **د ځاښت لمونځ** | « کله چه په تاسو کښی یو شخص سبا کړی نو د بدن په هر اندام باندی پری صدقة ورکول هم ضروری شی، نو هر ځل تسبیح ویل صدقه ده، او همدا راز هر ځل د الله حمد، لا اله الا الله، او الله اکبر ویل هم صدقه ده، او په نیکی باندی امر کول، او د ناروا نه منع کول هم صدقه ده، او د ځاښت لمونځ د هغی ټولو نه کافی دی» |
| 25 | **څوک چه د الله تعالی د ذکر په خاطر د لمانځه په ځای کښی کښینی** | « په تاسو کښی د یو شخص لپاره ملایکی تر هغه وخت پوری د رحمت سوال کوی چه تر څو پوری هغه د لمانځه په ځای کښی د اوداسه په حالت کښی ناست وی، او هغوی وائی : ای الله تعالی مغفرت ورته وکړی او رحم پری وکړه » |
| 26 | **د سهار د فرضی لمانځه نه وروسته د لمر ختلو پوری د الله ذکر کول او بیا دوه رکعته لمونځ کول** | « څوک چه د سهار لمونځ په جماعت سره ادا کړی او بیا د لمر ختلو پوری د الله تعالی د ذکر لپاره کښینی، او بیا دوه رکعته لمونځ وکړی نو د ده لپاره د پوره حج او عمری په مقدار اجر او ثواب دی» |
| 27 | **څوک چه د شپی دتهجدو لپاره پاڅیږی او بیا خپله ښځه راپاڅوی** | « څوک چه دشپی راپورته شی او بیا خپله بی بی (ښځه) هم راپاڅوی او بیا دوه رکعته لمونځ وکړی نو دوی به په هغی خلکو کښی ولیکلی شی چه د الله تعالی ډیرذکر کونکی وی » |
| 28 | **څوک چه د تهجدو نیت لری او بیا اوده پاتی شی** | « هغه څوک چه دشپی له خوا لمونځ کوی او بیا په هغه باندی خوب غالبه شی نو الله تعالی به ورله د لمانځه اجر ولیکی، او دغه خوب به ئی صدقه وګرځی» |
| 29 | **بشارته د ننوتلو دعاء** | « **لا إِلهَ إِلاّ اللّهُ وَحْدَهُ لا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الحَمْدُ يُحْيِي وَيُمِيتُ وَهُوَ حَيٌّ لا يَمُوتُ بِيَدِهِ الخَيْرُ وَهُوَ عَلى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ** » : څوک چه دغه دعاء ووائی نو الله تعالی به ورله یو میلون نیکی ولیکی ، او یو میلون ګناهونه به ورله معاف کړی ، او یو میلون درجی به ورله اوچتی کړی . |
| 30 | **د فرضی لمانځه نه روسته (٣٣) ځله د سبحان الله، الحمدلله ، او الله اکبر ویل، او په لا اله الا الله باندی ئی ختمول** | « څوک چه د فرضی لمانځه نه وروسته (٣٣) کرتی **سبحان الله** و وائی او (٣٣) کرتی **الحمدلله** و وائی او (٣٣) کرتی **الله اکبر** و وائی چه دا ټول (٩٩) شوه او بیا په اخر کښی : **لا إلهَ إلا اللّهُ وَحْدَهُ لا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ**» ووائی، نو ټول ګناهونه به ورته معاف شی اګر که د سمندر د زګونو په اندازه هم وی ». |
| 31 | **د فرضی لمانځه نه وروسته د آیة الکرسی ویل** | « څوک چه د هرفرضی لمانځه نه وروسته اية الکرسی ووائی نو د جنت نه به ئی هیڅ شی منع نه کړی مګر مرګ (یعنی چه مړ شی نو جنت ته به ننوځی » |
| 32 | **د مریض پوښتنه کول** | «هر مسلمان چه د سهار په وخت کښی د بل ( بیمار مسلمان) تپوس (پوښتنه) وکړی، نو تر بیګا پوری به ورله (٧٠٠٠٠) ملایکی د رحمت سوال کوی، او که د شپی له خوا ئی پوښتنه وکړی نو تر سهاره پوری به ورله (٧٠٠٠٠) ملایکی د رحمت سوال کوی، او ده ته به په جنت کښی د کجورو باغ (خریف) ورکړی شی». |
| 33 | **د مصیبت زده انسان د لیدلو په وخت کښی دعاء** | څوک چه یو مصیبت زده انسان ووینی او بیا دا دعاء ووائی : « **الحَمْدُ لله الّذِي عَافَانِي مِمَّا ابْتَلاكَ بِهِ وَفَضَّلَنِي عَلَى كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقَ تَفْضِيلا** » ،ټول حمدونه د هغی الله لپاره دی چه ماته ئی د هغی مصیبت نه امان او عافیت راکړی چه ته ئی پری مبتلا کړی ئی او په ډیرو مخلوقاتو چه هغی پیدا کړی ماته غوره والی راکړی . |

| | | |
|---|---|---|
| 34 | ځوک چه مصيبت زده ته تسلی ورکړی | « ځوک چه مصيبت زده ته تسلی ورکړی نو ده لپاره به هم د هغی په شان اجر وی» او همداراز فرمائی : « هيڅ يو مسلمان خپل وورور ته د مصيبت په وخت کښی تسلی نه ورکوی مګر الله تعالی به ورته د عزت او کرامت جامی واغوندی» |
| 35 | د جنازی لمونځ او بيا د هغی دفن کول | « ځوک چه جنازی ته حاضر شی نو د هغی لپاره د يو قيراط په اندازه اجر دی، او ځوک چه جنازه کښی شريک شی تر دی چه دفن شی نو د هغی لپاره دوه قيراطه اجر دی، چا ورته وويل چه قيراط څه شی دی؟ نو هغه و ويل د دوو لويو غرونو په شان، نو عبدالله بن عمر و ويل: چه مونږ خو ډير قيراطونه ضائع کړی دی» |
| 36 | ځوک چه د الله لپاره جمات جوړ کړی | « ځوک چه د الله تعالی لپاره جمات جوړ کړی اګر که د (قطات نومی) مرغی د ځالی په اندازه هم وی نو الله تعالی به ورله په جنت کښی کور جوړ کړی » |
| 37 | د الله په لار کښی مال او پيسی لګول | « نشته هيڅ يوه داسی ورځ چه بندګان ورپکښی سبا کوی مګر دوه ملايکی راکوزيږی يوه ملايکه وائی: ای الله تعالی مال او پيسی لګونکی ته بدله ورکړه او دوهمه ملايکه وائی ای الله تعالی بخيل ته تاوان ورکړه » |
| 38 | د صدقی او خيرات فضيلت | « صدقه او خيرات ورکول مال نه کموی، او الله تعالی بنده لره د عفوی په وجه عزت زياتوی، ځوک چه الله تعالی ته عاجزی کوی نو الله تعالی ئی اوچتوی »، « کله يو روپی (درهم) د يولاک روپيو (درهمو) نه مخکی کيږی، چا و ويل ای د الله تعالی پيغمبره دا په څه طريقه؟ نو هغه وفرمائل: چه يوسړی دوه روپی لری نو يو روپی باندی صدقه وکړی، او بل سړی سره ډيری روپی وی نو د خپل مال نه سل زره روپی په صدقه کښی ورکړی» هرمسلمان چه يو بوټی نهال کړی او يا فصل وکړی ، نو بيا د هغی مرغان يا انسانان او حيوانات خوراک وکړی نو د دغی سړی لپاره به صدقه شی . |
| 39 | د قرض حسن ثواب | « کله چه يو مسلمان چاته دوه کرتی قرض ورکړی نو هغه داسی ده لکه ځوک چه يو ځل صدقه وکړی » |
| 40 | تنګ لاسی قرضدار سره اسانی کول | « يو سړی به خلکو ته قرض ورکولو نو خپل خادم ته به ئی ويل چه کله يو بی وسه قرضدار ته ورغلی نو اسانتيا ورسره وکړه، کيدای شی چه الله تعالی مونږ سره اسانتيا وکړی نو هغه وفرمائل : چه دغه سړی د الله تعالی سره ملاقات وکړ نو الله تعالی معاف کړ» |
| 41 | د الله لپاره روژه نيول | « ځوک چه د الله په لار کښی يوه ورځ روژه شی نو الله تعالی به ئی د جهنم د اورنه د اويا کاله په اندازه لری کړی » |
| 42 | په مياشت کښی دری روژی نيول، او همدا راز د عرفی او د عاشوری په ورځ روژه کيدل | «په هره مياشت کښی دری ورځی روژی نيول د ټول عمر روژی سره برابر دی » ، « او د هغه نه د عرفی د روژی په هکله تپوس وشوه نو وئی فرمائل چه د يوکال مخکنی اود راروان کال ګناهونه رژوی او بخښی» ، « او د عاشوری د روژی په هکله تری تپوس وشوه نو وئی فرمائل چه د مخکنی يو کال ګناهونه ختموی» |
| 43 | د شوال د مياشتی شپږ روژی | « ځوک چه د رمضان د مياشتی روژه ونيسی او بيا ورپسی د شوال د مياشتی شپږ روژی ونيسی داسی شوه لکه د ټول عمر روژی » |
| 44 | د امام سره تر اخره پوری تراويح کول | « يقينا کله چه يو سړی د امام سره د تراويح لمونځ وکړی تر دی چه امام د لمانځه نه راوګرځی نو ده لپاره به د ټولی شپی عبادت (قيام الليل) وليکلی شی |
| 45 | د رمضان په مياشت کښی عمره کول | « د رمضان په مياشت کښی عمره د حج برابر، او يا زما سره د حج کولو برابر ثواب لری » |
| 46 | نيک حج کول | « ځوک چه د الله لپاره حج وکړی، او د جماع کولو او د ګناه نه ځان وساتی، نو داسی واپس شی د حج نه لکه په کومه ورځ چه د مور نه پيدا شوی وی » او هغه فرمائی : « چه د نيک حج بدله جنت دی » |

| | | |
|---|---|---|
| 47 | د ذی الحجه په لسو ورځو کښې نیک عملونه | « نشته دی هیڅ داسی ورځی چه الله تعالی ته پکښی د ذیالحجة د لسو ورځو نه نیک عمل ډیر محبوب وی » صحابه کرامو وویل ای د الله پیغمبر ﷺ د الله په لار کښی جهاد هم د هغی نه ډیر محبوب نه دی الله ته؟ نو رسول الله ﷺ وویل: چه جهاد هم د هغی سره برابر نه دی، مګر هغه ځوک چه خپل ځان او مال سره د الله په لار کښی اوځی او بیا هیڅ شی واپس نه کړی » |
| 48 | د لوی اختر قربانی | « د رسول الله ﷺ ملګرو وویل ای د الله پیغمبره دا قربانی څه شی دی؟ نو هغه وویل چه دا ستاسو د پلار ابراهیم عليه السلام سنت دی، نو هغوی وویل چه مونږ له پکښی څه اجر دی؟ رسول الله ﷺ وفرمائل چه دهر ویخته په مقابل کښی یوه نیکی ده، نو هغوی وفرمائل چه د وړغونو (وړی) هم دا حکم دی؟ نو رسول الله ﷺ وفرمائل چه په هر ویښته باندی د وړغونو نه یوه نیکی ده » |
| 49 | د عالم فضیلت او ثواب | « د عالم فضیلت په عابد انسان باندی داسی دی لکه په یو ادنی امتی باندی زما فضیلت » او بیا رسول الله ﷺ وفرمائل: « یقینا الله تعالی په هغه انسان باندی رحمت کوی چه خلکو ته خیر ښائی، ملایکی، د اسمانونو، او دزمکو اوسیدونکی، تر دی چه میږان په خپلو غارونو کښی او ماهیان ورله هم د رحمت سوال کوی ». |
| 50 | ځوک چه د الله نه په رښتیا سره شهادت وغواړی | « ځوک چه د الله تعالی نه د شهادت سوال وکړی نو الله تعالی به ئی د شهیدانو مقام ته ورسوی اګر که په خپله بشتره (بستر) هم مړشی » |
| 51 | د الله تعالی له ویری نه ژړل او د هغه په لار کښی ځوکیداری کول | « دوه سترګی دی چه اور به ورته نه رسیږی، یوه هغه سترګه چه د الله د ویری ژاړی ، او دوهمه هغه سترګه ده چه د الله په لار کښی ځوکیداری کوی » |
| 52 | په الله باندی توکل کول او د داغونو او دمونو طلب کولو او بدفالی نه ځان ژغورل | « رسول الله ﷺ ته په خوب کښی امتونه وښودل شوه نو خپل امت ئی ولیده چه په هغی کښی به اویا زره کسان په غیر د حساب او عذاب نه جنت ته داخلیږی، او دا هغه خلک دی : چه داغونه نه لګوی، او د خلکو نه د دمونو طلب نه کوی، او بدفالی نه نیسی، او په خپل رب باندی توکل کوی » |
| 53 | د چا چه واړه بچی مړه شی | « په خلکو کښی چه کله د یو مسلمان دری بچی مړه شی چه بلوغ ته نه وی رسیدلی نو الله تعالی به ئی جنت ته داخل کړی » |
| 54 | د نظر ختمیدل او بیا پری صبر کول. | « الله تعالی فرمائی : چا نه چه زه سترګی واخلم او بیا صبر وکړی نو په عوض کښی به ورته جنت ورکړم » |
| 55 | ځوک چه د الله له ویری یو کار پریږدی | رسول الله ﷺ فرمائی : « یقینا ته د الله د ویری کوم شی نه پریږدی مګر الله تعالی به د هغی نه بهتر درکړی » |
| 56 | د ژبی او شرمګاه حفاظت کول | « ځوک چه ما ته د هغی شی ضمانت راکړی چه د دوو جامو او ښپو په مابین کښی دی (یعنی د ژبی او شرمګاه) نو زه به ورله د جنت د ننوتلو ضمانت وکړم» |
| 57 | کورته د ننوتلو او د طعام په وخت کښی د (بسم الله) ویل | « کله چه یو کس کور ته داخل شی او د ننوتلو او د طعام په وخت کښی د الله ذکر وکړی نو شیطان و وائی: چه ستاسو لپاره د شپی ځای او طعام نشته، او کله چه داخل شی او د الله ذکر ونه کړی نو شیطان و وائی: چه د شپی ځای مو پیدا کړه، او کله چه د طعام په وخت کښی الله یاد نه کړی نو شیطان و وائی چه د شپی ځای او طعام مو پیدا کړه » |
| 58 | د خوراک ځکلو او د نوی جامو د اغوستلو نه وروسته د الله حمد ادا کول | « چا چه طعام وخوړه او بیا ئی وویل: الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَنِي هَذَا وَرَزَقَنِيهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِنِّي وَلا قُوَّةٍ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ » ټول حمدونه خاص الله تعالی لپاره دی چه ما له ئی دا طعام راکړه، او رزق ئی راکړه په غیر د طاقت او قدرت زما نه ، نو مخکنی ګناهونه به ورته معاف شی ، او کله چه جامی واغوندی او دا دعاء ووائی: « الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي كَسَانِي هَذَا..» ټول حمدونه الله تعالی لپاره دی چه ماته ئی دا جامی راکړی... |

| | | |
|---|---|---|
| 59 | که څوک غواړی چه الله تعالی ورته په کار کښی سختی اسانه کړی | يوه ورځ فاطمة رضی الله عنها د نبی ﷺ نه خادم طلب کړه نو رسول الله ﷺ حضرت علی او فاطمة رضی الله عنهما دواړو ته ووېل:« ایا تاسو ته د هغه څه نه ډېر بهتر شی در وښایم چه تاسو ئی زما نه غواړی؟ کله چه مو په خپله بشتره کښی اړخونه ولګول نو (٣٤) کرتی **الله اکبر** و وائی، او دری دیرش (٣٣) کرتی **سبحان الله** او **الحمدلله** ووائی، دا ستاسو لپاره د خادم نه بهتر دی » |
| 60 | د جماع کولو نه مخکښی دعاء | « که چیرته یو کس ستاسو نه په هغه وخت کښی چه خپل اهل ته د نږدی کیدو اراده وکړی او دا دعاء ووائی : **بِسْمِ اللَّهِ ، اللَّهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّيْطَانَ وَجَنِّبِ الشَّيْطَانَ مَا رَزَقْتَنَا**» د الله تعالی په نوم، ای الله تعالی مونږ د شیطان نه لری کړی او شیطان دهغه څه نه لری کړی چه مونږ ته ئی راکوی، نوکه چیرته دواړو ته په دغی وخت کښی بچی مقرر شوی وی نو شیطان به ورته هر ګیز ضرر ونه رسوی » |
| 61 | د خاوند خوشحاله کول | « کله چه یوه ښځه پنځه وخته لمونځونه کوی، او د رمضان د میاشتی روژی نیسی، او د خپل شرمګاه حفاظت وکړی، او د خپل خاوند تابعداری وکړی، نو هغی ته به ووېلی شی چه جنت ته ننوځه چه هره دروازه دی خوښه وی، او همدا راز فرمائی : هره ښځه چه مړه شی په داسی حال کښی چه خاوند تری خوشحاله وی نو جنت ته به داخله شی » |
| 62 | د مور او پلار سره احسان او صله رحمی کول | د الله تعالی رضامندی د پلار په رضایت کښی ده « که څوک دا خبره خوښوی چه په رزق کښی ورته پراختیا پیدا شی او په عمر کښی ئی زیاتوالی راشی نو صله رحمی دی کوی ». |
| 63 | د یتیم سرپرستی کول | « زه او دیتیم سرپرست به په ورځ د قیامت کښی داسی یو، او په خپله سبابة او منځنی ګوته باندی ئی اشاره وکړه » |
| 64 | ښه اخلاق او خوی | « یقینا مؤمن سړی په ښایسته اخلاقو باندی د روژه دار او عابد انسان مرتبه او مقام مومی » او همدا راز فرمائی : « د ښایسته اخلاقو والاوو لپاره د جنت په اوچت طرف کښی یو کور دی » |
| 65 | په مخلوق باندی رحم او شفقت کول | « یقینا الله تعالی په خپلو بندګانو کښی په رحمکونکو باندی رحم کوی، تاسو په هغه چا رحم وکړی چه په ځمکه کښی دی نو هغه ذات به په تاسو رحم وکړی چه په اسمان کښی دی » |
| 66 | د مسلمانانو لپاره د فائدو خوښول | « تر هغه وخت پوری یو کس په تاسو کښی مؤمن کیدای نه شی چه د خپل ورور لپاره هغه څه خوښ کړی چه کوم د ځان لپاره خوښ ګڼی » |
| 67 | حیاء کول | « حیاء راتګ نه کوی مګر په خیر باندی » او بل ځای کښی فرمائی : « حیاء د ایمان نه ده » او همداراز فرمائی : « څلور څیزونه دی چه هغه د پیغمبرانو سنت دی، حیاء، خوشبوئی (عطر)، مسواک استعمالول، او نکاح کول » |
| 68 | په سلام باندی مخکی والی کول | یو سړی رسول الله ﷺ ته راغی و ئی ویل : « السلام علیکم، نو رسول الله ﷺ وفرمایل: (د دی لپاره) لس (نیکیانی) دی، بیا بل یو کس راغی نو هغه ووېل: السلام علیکم ورحمت الله، نو رسول الله ﷺ وفرمایل: (چه د دی لپاره) شل (نیکیانی دی) نو بیا بل یو کس راغی نو هغه ووېل: **السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته** ، نو رسول الله ﷺ وفرمایل: (چه د دی لپاره) دیرش (نیکیانی) دی. |
| 69 | د ملاقات په وخت کښی مصافحه کول (لاس ورکول) | « نشته دوه مسلمانان چه د ملاقات په وخت کښی یوبل ته لاسونه ورکړی مګر د جدا کیدونه به ورته مخکښی مغفرت وشی » |
| 70 | څوک چه د یو مسلمان ورور د عزت دفاع وکړی | « څوک چه د خپل ورور د عزت دفاع وکړی نو الله تعالی به د ده د مخ نه د جهنم اور لیری کړی » |
| 71 | د نیکانو خلکو سره محبت کول او د هغوی سره کیناستل | « ته به د هغه چا سره ئی چه ستا ورسره محبت دی » انس رضی الله عنه فرمائی : چه صحابه کرام په دی حدیث باندی ډېر خوشحاله شوه |

| | | |
|---|---|---|
| 72 | د الله دلوئی لپاره د یوبل سره محبت کونکی | « الله تعالی فرمائلی: زما د لوئی په خاطر د یوبل سره د محبت کونکو لپاره به په ورځ د قیامت کښې د رڼا منبرونه وی چه انبیاء علیهم السلام او شهیدان به د هغوی سره پکښې غبطه (د دغی مقام تمنی) کوی » |
| 73 | مسلمانانو ته په غیاب کښې دعاء کول | «د خپل مسلمان ورور لپاره په غیاب کښې د یو سړی دعاء کول مستجابه ده ، د ده د سر په خوا کښې یو مقرره پرښته ده چه هر کله دا دخپل ورور لپاره د خیر دعاء کوی نو هغه مقرره پرښته فرمائی : امین اوستا لپاره دی د هم د هغی په شان وی » |
| 74 | د مؤمنانو سړو او ښځو لپاره دګناه بخښنه غوښتل | « ځوک چه مؤمنانو سړو او ښځو لپاره مغفرت وغواړی، نو الله تعالی به ورته د هر یو مؤمن سړی او مؤمنی ښځی په مقابل کښې یوه نیکی ولیکی» |
| 75 | د لاری نه د مضر شی لیری کول | « ما یو سړی ولیده چه په جنت کښې ګرځیده چه د یوی ونی د غوځولو په وجه جنت ته ننوتلی وو داسی ونه چه په لاره کښې ولاړه وه او خلکو ته ئی ضرر رسولو » |
| 76 | د جدال او دروغو پریښودل | « زه د جنت په کنارو کښې دیو کور زموار یم د هغه چا لپاره چه جدال (جنګ) پریږ دی اګر که په حقه هم وی، او همدارنګ د هغه چالپاره د جنت په منځ کښ د یو کور زموار یم چه دروغ پریږدی اګر که د ټوقو په شکل کښې هم وی » |
| 77 | ځوک چه خپل قهر او غوصه قابو (کنټرول) کړی | « ځوک چه خپل قهر او غوصه کنټرول کړی په داسی حال کښې چه هغه ئی د نافذولو توان لری، نو الله تعالی به ئی د ټولو مخلوقاتو په مخکښې راو بلی چه کومی حوری ئی خوښې وی دهغو اختیار به ورکړی» |
| 78 | دیو چا په نیکو او یا په بدو یادول | « ځوك چه تاسو په نیکو یاد کړ، نو جنت ورله فرض شو، او ځوك چه مو په بدو یاد کړ، نو هغه لپاره د جهنم اور فرض شوه تاسو د الله تعالی ګواهان ئی په زمکه کښې...» |
| 79 | ځوک چه د یو مسلمان نه مصیبت لیری کړی، اسانتیا پری وکړی او عیب ورله پټ کړی. | « ځوک چه د مؤمن نه یو دنیاوی مصیبت لری کړی نو الله تعالی به تری یو اخروی مصیبت لیری کړی، او ځوک چه یو تنګ لاسی (انسان) سره اسانتیا وکړی نو الله تعالی به د هغه سره په دنیا او اخرت دواړو کښې د اسانتیا معامله وکړی، ځوک چه په یو مسلمان باندی پرده واچوی نو الله تعالی به په ده باندی په دنیا او اخرت دواړو کښې پرده واچوی، الله تعالی تر هغی وخت پوری د بنده په نصرت او مدد کښې وی تر څو پوری چه بنده د خپل مسلمان ورور په مرسته کښې وی... » |
| 80 | د اخرت په یاد ساتل | « ځوک چه د اخرت په غم او فکر کښې شی نو الله تعالی به په زړه کی قناعت ورله ورکړی، او اتفاق به ئی نصیب کړی، او دنیا به ورته په خپله راځی » |
| 81 | د بادشاه عدل، د ځوان تقوی، جماتونو سره مینه ساتل، د الله لپاره محبت کول | « اوه کسان دی چه الله تعالی به پری سیوری وکړی په هغه ورځ چه په غیر د الله تعالی د سیوری نه به بل سیوری نه وی، عادل امام، یو نوجوان (ځوان) چه د الله په عبادت کښې لوی شوی وی، بل هغه سړی چه زړه ئی جماتونو پوری تړلی وی، او دوه هغه کسان چه د الله لپاره د یو بل سره محبت کوی او په دغه محبت باندی راجمع کیږی او جداکیږی، او بل هغه سړی چه د منصب او ښایست خاونده ښځه ورنه دزنا خواهش وکړی، او هغه ورته ووائی چه زه د الله تعالی نه ویریږم، او بل هغه سړی چه داسی پټه صدقه او خیرات ورکړی چه چپ لاس تری هم خبر نه شی چه ښی لاس څه شی ورکړی دی، او بل هغه سړی چه په یو ځانله ځای کښې الله یاد کړی او د سترګو نه ئی اوښکی وبهیږی » |
| 82 | د استغفار فضیلت | « ځوک چه په پابندی سره استغفار غواړی نو الله تعالی به ورله د هری تنګستیا نه لار د وتلو پیدا کړی ، او د هر غم نه به ورله خوشحالی پیدا کړی ، او د داسی ځای نه به ورله رزق نصیب کړی چه د ده به پری ګمان نه وی » |

# هغه کارونه چه منع تری شوی ده

| م | ناروا کارونه | رسول الله ﷺ فرمائی : |
|---|---|---|
| 1 | په یو کار باندی دونیا طلب کول | « الله تعالی فرمائی : زه د شریکانو د شرک نه ډیر بی پروا یم ځوک چه یو عمل وکړی او بل ځوک پکښی زما سره شریک کړی زه به هغه او د هغی شرک پریږدم » |
| 2 | په ظاهر کښی د خیر او تقوی ښکاره کول او په باطن کښی فساد | « یقینا زه ډیر خلک پیژنم چه په ورځ د قیامت کښی به د تهامه د غرونو په شان په ډیرو نیکو اعمالو چه خالص به وی راتګ وکړی لیکن الله تعالی به ورله دغه عملونه وګرځوی دوړه الوځولی شوی ، ثوبان رضی الله عنه عرض وکړه چه ای رسول الله مونږ ته د هغی صفت بیان کړه او ښکاره ئی کړه راته ، هسی نه چه مونږ د هغوی د جملی څخه شو او مونږ ته به علم نه وی ، نو رسول الله ﷺ عرض وکړه چه هغوی ستاسی ورونه دی او ستاسو د جنسه دی او د شپی عبادت کوی لکه څرنګ چه تاسو د شپی عبادت کوی ، لیکن هغوی داسی قوم دی چه کله د الله تعالی د محرماتو سره ځانله شی نو بربادوی ئی » |
| 3 | تکبر | « هغه سړی جنت ته نه شی ننوتلی چه په زړه کښی ئی د ذری په اندازه تکبر وی» او تکبر : حق ردولو، او د خلکو اهانت کولو ته وائی. |
| 4 | په لنګ کمیص او پتکی کښی اسبال (د بجلکو نه د هغی ښکته کول) | « چاچه کومه جامه د تکبر له امله په زمکه راښکله نو الله تعالی به ورته په قیامت کښی نظر ونکړی » |
| 5 | حسد کول | « د حسد نه ځان وساتی ځکه چه حسد نیک عملونه داسی خوری لکه څنګ چه اور لرګی خوری، او یا ئی وویل : لکه څنګ چه اور واښه خوری » |
| 6 | سود | « رسول الله ﷺ دسود په خوړونکی او ورکونکی دواړو باندی لعنت ویلی دی » « یو سړی چه د سود یوه روپۍ خوری او هغه ته معلومه وی (چه دا سود دی) هغه د شپږ دیرش (٣٦) کرتی زنا نه ډیره ګناه لری » |
| 7 | د شرابو څکل | « جنت ته به پنځه قسم خلک داخل نه شی: د شرابو څښونکی، په جادو باندی ایمان لرونکی، د صله رحمی ختمونکی» « چا چه شراب وسکل نو څلویښت ورځی لمونځ به ئی قبول نشی » |
| 8 | دروغ ویل | « هلاکت دی هغه کس لره چه د خلکو د خندولو په خاطر خبری کوی او بیا پکښی دروغ وائی، هغه لپاره هلاکت دی، هغه لپاره هلاکت دی » |
| 9 | جاسوسی کول | « ځوک چه د خلکو خبرو ته غوږ ږدی، په داسی حال کښی چه هغوی دا سړی بد ګڼی، او یا تری ځان ساتی نو په ورځ د قیامت کښی به د داسی سړی په غوږونو کښی ویلی شوی اوسپنه واچولی شی. |
| 10 | د تصویرونو جوړول | « په ورځ د قیامت کښی ډیر سخت عذاب والا خلک هغه دی چه تصویرونه جوړوی » « او ملایکی هغه کورته نه داخلیږی چه په هغی کښی تصویر او یا سپی وی » |
| 11 | چغلی او نمامت | « جنت ته چغلی خور سړی نه شی ننوتلی » او نمامت دیته وائی : چه ځوک د فساد پیداکولو په خاطر د خلکو خبری وړی راوړی. |
| 12 | غیبت کول | « ایا تاسی پوهیږی چه غیبت څه ته وائی؟ خلکو وویل چه الله او د هغه پیغمبر ښه پوهیږی نو رسول الله ﷺ وفرمائل: ستا یادول خپل ورور لره په هغه څه باندی چه هغه ئی بد ګڼی، نو هغه ته وویلی شوه: که چیرته په هغه کښی هغه څه وی چه زه ئی وایم؟ نو هغه وویل: که چیرته په هغی کښی هغه څه وی چه ته ئی وائی نو غیبت دی وکړه او که چیرته پکښی نه وی نو بیادی پری بهتان ولګولو » |
| 13 | لعنت ویل | « په مؤمن باندی لعنت ویل د هغه د قتل په شان (ګناه) ده»، « لعنت ویونکی خلک په ورځ د قیامت کښی سفارشیان او ګواهان نشی کیدای » |
| 14 | د رازونو افشا کول | « ډیر د ناکاره خلکو نه په اعتبار د مرتبی سره په ورځ د قیامت کښی د الله تعالی په نزد هغه سړی دی چه خپل اهل ته نږدی کیږی او بیا د هغی رازونه نشروی » |

| | | |
|---|---|---|
| 15 | سپکی خبری | « ډیر ناکاره خلک د الله تعالی په نزد په ورځ د قیامت کښی په اعتبار د مرتبی سره هغه دی چه خلکو د فحش (ناکاره) وینا د ویری نه پریښی وی » |
| 16 | مسلمان باندی‌د کفر تهمت لګول | « هر سړی چه خپل مسلمان ورور ته کافر وویلی نو یو پری اخته کیږی، که چیرته هغه سړی همدغسی وی (نو صحیح ده) او که (کافر نه وی) نو کلمة د کفر ویونکی ته واپس کیږی » |
| 17 | څوک چه خپل ځان په غیر د پلار نه بل چا ته منسوبوی | « څوک چه د خپل پلار نه په غیر بل چاته د خپل ځان نسبت کوی او حال دا چه هغه پوهه وی نو په دغسی سړی باندی جنت حرام دی »، « او څوک چه د خپل پلار (د نسب نه) انکار کوی نو دا کفر دی » |
| 18 | د یو مسلمان ویرول | « د مسلمان لپاره جایز نه دی چه بل مسلمان وویروی »، « څوک چه خپل ورور ته په اوسپنه باندی اشاره وکړی نو ملایکی پری تر هغی وخت پوری لعنت وائی چه تر څو ئی پریښی نه وی » |
| 19 | په اسلامی ملک کښی د یو ذمی انسان وژل | « څوک چه یو ذمی انسان په غیر د حق نه قتل کړی نو د جنت بوی به بیا نه مومی، او یقینا د جنت بوی به په انسان باندی د سلو کالو د مزل په اندازه لګیږی » |
| 20 | د الله تعالی د دوستانو سره دشمنی کول | «الله تعالی فرمائی : څوک چه زما د دوست سره دشمنی وکړی نو ما ورته د جنګ اعلان کړی دی » |
| 21 | منافق او فاسق ته سردار (سید) ویل | « تاسو منافق ته سید (سردار) مه وائی ځکه که هغه (د خپل قوم سردار) هم وی نو تاسو بیا په دی وینا سره خپل رب ناراضه کړه » |
| 22 | د خپل رعیت سره دوکه کول | « کله چه الله تعالی یو بنده د رعیت مشر کړی او بیا په داسی حال کښی مړ شی چه د خپل قوم او رعیت سره ئی دوکه کړی وی نو الله تعالی به پری جنت حرام کړی » |
| 23 | بغیر د علم نه فتوی ورکول | « چا ته چه په غیر د علم نه فتوی ورکړی شی نو ګناه ئی په فتوی ورکونکی باندی ده » |
| 24 | د سستیِ په وجه د جمعی او مازدیګر لمونځ پریښودل | « څوک چه په غیر د عذر نه دری کرتی د جمعی لمونځ ترک کړی نو الله تعالی به ورله په زړه باندی مهر ولګوی » « څوک چه د مازدیګر لمونځ پریږدی نو عمل به ئی برباد شی » |
| 25 | په لمانځه کښی سستی کول | « زمونږ او د کافرانو په منځ کښی چه کوم عهد او وعده ده نو هغه لمونځ دی چا چه لمونځ ترک کړه نو هغه کفر وکړه » ، « د سړی او د شرک او کفر په منځ کښی فرق د لمانځه په پریښودو سره دی » |
| 26 | د لمونځ کونکی مخی ته تیریدل | « د لمونځ کونکی مخکی تیریدونکی ته که معلومه وی چه په دی کښی څومره ګناه ده ، نو څلوییښت (ورځی یا میاشتی یا کاله) اودریدل به ورته د لمونځ کونکی مخکی د تیریدو نه غوره ښکاره شوی وی » |
| 27 | لمونځ کونکو ته ضرر رسول | « چا چه پیاز، اوږه، او ګندنه، خوړلی وی نو زمونږ جمات ته دی نه نږدی کیږی ځکه چه ملایکی د هغه څه نه تنګیږی چه د کوم څیز نه انسان په عذابیږی» |
| 28 | د زمکی غصب کول | « څوک چه په ظلم سره د یوی لویشت په اندازه د چا زمکه غصب کړی نو الله تعالی به ورته په ورځ د قیامت کښی اوه زمکی د(طوق په شکل کښی) په غاړه کښی واچوی » |
| 29 | هغه خبری چه الله تعالی پری غصه کیږی | « یقینا یو بنده کله دالله د غصه کولو لپاره یوه داسی خبره وکړی چه هغه ورته څه اهمیت نه ورکوی چه د هغی په وجه باندی به اویا کاله په جهنم کښی لاندی روان وی » |
| 30 | بغیر د الله د ذکر نه د خبرو ډیرول | « تاسو په غیر د الله تعالی د ذکر نه زیاتی خبری مه کوی ځکه چه زیاتی خبری د انسان زړه سختوی » |

| | | |
|---|---|---|
| 31 | ډیرې اوبې احتیاطه خبرې کول | « د قیامت په ورځ به ماته په تاسو کښې ډیر مبغوض ترین او زما د مجلس نه ډیر لرې انسان هغه وی چه زر زر او ډیرې زیاتې او په تکبر او لوئی باندې خبرې کوی» |
| 32 | د الله تعالی د ذکرنه غافله کیدل | « نه کین یو قوم په یو داسې مجلس کښې چه نه پکښې د الله وکړی او نه پکښې په پیغمبر ﷺ باندې درود ووائی مگر وی په دغې مجلس باندې ملامتیا او افسوس که د الله تعالی خوښه شي نو عذاب به ورکړی او که خوښه ئې شي مغفرت به ورته وکړی » |
| 33 | د مسلمان په مصیبت باندې خوشحالی کول | «د خپل ورور په (مصیبت ) باندې د خوشحالی اظهار مه کوه هسې نه چه الله تعالی په هغې باندې رحم وکړی او تا په دغې مصیبت باندې مبتلا کړی» « چا چه خپل ورور ته په یو گناه باندې پیغور ورکړه نو تر هغې پورې به ورته مرگ نه راځی چه تر ځو ئې دغه گناه نه وی کړی » |
| 34 | د مسلمانانو په منیځ کښې د یو بل سره مقاطعه کول | « د مسلمان لپاره جایز نه دی چه خپل ورور د درې ورځو نه زیات پریږدی » ، « که څوک خپل مسلمان ورور د یو کال په اندازه پریږدی نو داسې ده لکه د هغې وینه چه توی کړی ». |
| 35 | د گناهونو ښکاره کول | « زما ټول امت د عافیت والا دی مگر هغه کسان چه خپل گناهونه افشا او ښکاره کوی ». |
| 36 | ناکاره اخلاق | « ناکاره اخلاق عملونه داسې بربادوی لکه سرکه (خل) چه شهد او گبین خرابوی ». |
| 37 | څوک چه هدیه یا تحفه بیرته واپس کوی | رسول الله ﷺ فرمائی : « هغه څوک چه هدیه یا تحفه بیرته واپس اخلی نو مثال ئې د سپې دی چه قی کوی او بیا ئې بیرته خوری » ، « د یو سړی لپاره دا جایز نه دی چه یو شی هدیه ورکړی او بیا ئې بیر ته واپس اخلی » |
| 38 | په گاونډی باندې ظلم کول | « که چیرته یو سړی د لسو ښځو سره زنا وکړی نو دا د ده په هکله کمه گناه ده د دی نه چه د گاونډی د ښځې سره زنا وکړی، او که چیرته د لسو کورونو نه غلا وکړی دا په دی باندې ډیره اسانه ده چه د گاونډی د کور نه غلا وکړی ». |
| 39 | پردو زنانه وو ته کتل | « په بنی ادم باندې په زنا کښې خپله برخه اخستل مقرر شوی، چه هغه به خامخا کوی، نو د سترگو زنا نظر دی، د غوږونو زنا اوریدل دی، او د ژبې زنا خبرې دی او دلاس زنا نیول دی،اود خپو زنا د قدمونو اخستل دی، او زړه د هغې خواهش او تمنا کوی اوشرمگاه د هغې یا تصدیق کوی او یا ئې تکذیب کوی » |
| 40 | د پردي (نامحرمی) زنانه سره د یو سړی لاس لگول | «دا چه د یو سړی سر د اوسپنې په ستن او میخ باندې ووهلې شي نو دا ورله د پردی زنانه سره د لاس لگولو نه ډیر بهتر دی چه دیته د هغې مسه کول جایز نه وی » زه د پردو زنانو سره مصافحه نه کوم ( لاس ورسره نه لگوم ) |
| 41 | د بدل (مخی) نکاح | « رسول الله ﷺ د بدل (مخی) نکاح نه منع کړی ده » او شغار یا بدل نکاح : دیته وائی چه یو سړی خپله لور چاته په نکاح سره ورکوی لیکن په دی شرط باندې چه هغه بل سړی به هم ده ته خپله لور په نکاح سره ورکوی، او په مینځ کښې ئې مهر نه وی مقرر کړی. |
| 42 | په مړی باندې په اوچت اواز ژړا کول | « چا باندې چه په اوچت اواز ژړا وشی نو هغه ته په ورځ د قیامت کښې په سبب د هغې ژړا باندې عذاب ورکول کیږی »،«رسول الله ﷺ په اوچت اواز ژړاکونکی زنانه او د هغې په اوریدونکې دواړو باندې لعنت ویلې دی » |
| 43 | په مخلوق باندې قسم کول | « چا چه د الله تعالی نه په غیر په بل چا باندې قسم وکړه نو هغه کفر او یا شرک وکړه » ، « که څوک قسم کونکې وی نو په الله تعالی دې قسم وکړی او یا دې سکوت وکړی » |
| 44 | په دروغه باندې قسم کول | « څوک چه قسم وکړی دی لپاره چه د مسلمان مال پرې قبضه کړی او هغه دروغجن وی نو د الله تعالی سره به په داسې حال کښې ملاقات وکړی چه هغه به پرې غصه وی » |

| | | |
|---|---|---|
| 45 | په اخستلو او خرڅولو کښې قسم کول | « په خرڅولو کښې د ډيرو قسمونو نه ځان وساتئ ځکه چه په قسم باندې مال ډير خرڅيږي ليکن بيا برکت ختموي » ، « قسم سودا خرڅوي او بيا برکت له منځه وړي » |
| 46 | د کافرانو سره ځان مشابه کول | « څوک چه پخپل ځان د کوم قوم سره مشابه کړي نو دا دهغوی نه دی »، « هغه سړی زمونږ د جملې نه نه دی چه خپل ځان د نورو خلکو سره مشابه کوي» |
| 47 | په قبر باندې ابادي جوړول | « رسول الله ﷺ د قبر د پخولو او په قبر باندې د کښيناستو نه او په قبر باندې د ابادي جوړولو نه منع کړې ده » |
| 48 | دوکه او خيانت کول | « کله چه الله تعالی په ورځ د قيامت کښې مخکنی او روستني مخلوقات راجمع کړي د هر دوکه باز لپاره به بيرغ اوچت کړی شي او وبه ويل شي : چه دا د فلانی د زوی‌غدر او دوکه ده » |
| 49 | په قبر باندې کښيناستل | « چه يو سړی په (ګرمو) سکروټو باندې کښيني او جامې ئې اوسوزي او پوستکي ته ئې اور ورسيږي دا ورله په قبر باندې د کښيناستو نه ډير غوره دی » |
| 50 | څوک چه دا خوښوي چه خلک ورته ودريږي | « څوک چه دا خوښوي چه خلک ورته (د راتلو په وخت کښې ) قيام وکړي نو د ځان لپاره ئې په جهنم کښې ځای جوړ کړه » |
| 51 | بغير د ضرورت نه سوال کول | « درې کسان دی چه زه د هغې په حق کښې قسم خورم او يو حديث درته بيانوم ياد يې کړئ... يو بنده د سوال دروازه نه خلاصوي مګر الله تعالی ورته د فقر دروازه بيرته کړي » « څوک چه د مال د ډيرولو لپاره سوا کوي نو هغه په حقيقت کښې د سکروټوسوال کوي نو يا دې کم کړي او يا دې زيات کړي » |
| 52 | په يوبل باندې نرخ زياتول | « رسول الله ﷺ د دې نه منع کړې چه د ښار سړی (ښهری) د باندچي (صحرائی) لپاره شي خرڅ کړي، او په يو بل باندې نرخونه مه زياتوئ ، او يو سړی دې د خپل ورور په خرڅولو باندې خرڅيدل نه کوي » |
| 53 | په جمات کښې د ورک شوي څيز اعلان کول | « چا چه د يو سړي نه د ورک شوی څيز په هکله اعلان واوريده نو هغه ته دې ووائی : چه الله تعالی دې تا ته دغه شي پيدا نه کړي، ځکه چه جماتونه د دغې لپاره نه دي جوړ شوي » |
| 54 | شيطان ته کنځلې کول | « شيطان ته کنځلې مه کوئ ليکن د شر نه ئې پناه وغواړئ » « يو صحابی فرمائی : زه د رسول الله ﷺ سره سپور وم نو د هغې سورلئ وخويدله نو ما وويل : شيطان دې هلاک شي ، نو رسول الله ﷺ وفرمايل : داسې مه وايه چه شيطان دې هلاک شي ، ځکه که ته داسې ووائی نو هغه په دې سره لويي وکړځي تر دې چه د يو کور قدرې شي ، او وائي : دا زما په قوت سره ( حاصل شو) ليکن بسم الله وايه ، ځکه که ته دا ووائی نو هغه ډير کوچنی او ذليل شي تردې چه د مچ قدرې شي » د (تعس) معنى ده هلاک دې شي ، او چا ويلي : چه ودې غورځيږي ، او چا ويلي چه ودې خوږيږي ، او چا ويلي : چه هميشه دې په شر باندې مبتلا وي . |
| 55 | تبې ته کنځلې کول | « تبې ته کنځل مه کوه ځکه چه تبې د بنی ادمو ګناهونه داسې ختموي لکه څرنګ چه د بادو بنی د اوسپنې زنګونه ختموي ». |
| 56 | څوک چه ګمراهي ته خلک رابلې | « څوک چه ګمراهي ته بلنه کوي په ده باندې به د ده د تابعدارو د ګناهونو په اندازه ګناه بار وي او دا به د هغوی د ګناهونو نه څه شی نه کموي » |
| 57 | د اوبو په څکلو کښې ځنې منکرات | « رسول الله ﷺ د کوډي او يا د غرکي د خولې نه اوبه څکل منع کړي دی» « رسول الله ﷺ د اودريدو په حالت کښې د اوبو د څکلو نه منع کړې ده » |
| 58 | د سرو او سپينو زرو په لوښو کښې اوبه څکل | « تاسو د سرو او سپينو زر و په لوښو کښې اوبه مه څښئ، او ورېښم مه اغوندئ ځکه چه دغه شيان په دنيا کښې د هغوی (کافرانو) لپاره دي او ستاسو لپاره په اخرت کښې دي » |

| | | |
|---|---|---|
| 59 | په ګس لاس باندی اوبه څکل | « په تاسو کښې دی يو کس په چپ لاس خوراک نه کوی او نه دی پری اوبه څښی ځکه چه شيطان په چپ لاس خوراک کوی او په چپ لاس اوبه څښی» |
| 60 | د صله رحمی قطع کونکی | « صله رحمی ختمونکی جنت ته نه شی ننوتلای ». |
| 61 | په نبی ﷺ باندی درود نه ويل | « د هغه سړی پوزه دی په خاورو ککړه شی چه زه د هغه په مخکښی ذکر شم او درود راباندی ونه وائی »، «بخيل هغه انسان دی چه زه د هغه په مخکښی ذکر شم او درود راباندی ونه وائی » |
| 62 | د سپو ساتل | « چا چه بغير د ښکار او د مالونو د څوکيدارۍ لپاره نور سپی وساتل نو هره ورځ به ئی دوه قيراطه اجراو ثواب کميږی ». قيراط: د احد د غره په اندازه ثواب ته ويلی کيږی » |
| 63 | حيواناتو ته ضرر رسول | « يوه ښځه د پشو په وجه جهنم ته ننوتله چه هغه ئی تږلی وه تر دی چه مړه شوه »، « تاسو هغه شی چه روح پکښی وی په نښه کوئ مه » |
| 64 | د څاروو په غاړه کی زنګ (جرس) اچول | « ملايکی د هغی قافلی سره نه ملګری کيږی چه په هغی کښی سپی او يا زنګ وی ». |
| 65 | فاسق او ګناهکار ته چه کله نعمتونه ورکړی شی | « کله چه د وليده چه الله تعالی يو ګناهکار او فاسق انسان ته سره د ګناهونو هغه نعمتونه ورکول چه خوښ ئی وی ، نو دغه بيا استدراج ( درجه په درجه ګرفتارول ) دی او بيا ئی دا ايات ولوسته : ﴿ فَلَمَّا نَسُوا۟ مَا ذُكِّرُوا۟ بِهِۦ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ أَبْوَٰبَ كُلِّ شَىْءٍ حَتَّىٰٓ إِذَا فَرِحُوا۟ بِمَآ أُوتُوٓا۟ أَخَذْنَٰهُم بَغْتَةً فَإِذَا هُم مُّبْلِسُونَ ﴾ پس هر کله چه هير کړه دوی هغه خبره چه بيان شوی وه دويته نو راپرانستلی مونږ په دوی باندی دروازی د هر څه تر هغی پوری چه دوی خوشحاله شوه په هغی څه چه دويته ورکړی شوی ؤ نو اونيول مونږ دوی لره ناګاه نو په دغی وخت کښی دوی نا اميده ؤ (د هر خير نه ) ». |
| 66 | د دنيا سره محبت کول | « دهغه چا چه مقصد او هدف دنيا وی نو الله تعالی به ورله فقر او غريبی د سترګو په وړاندی ورته وګرځوی، ډله او جماعت به ورله ختم کړی او صرف هغه دنيا به ورله په لاس ورشی چه الله تعالی ورله مقرر کړی ده » |

✸ **د قبر حالات :** قبر د اخرت اولنی منزل او پړاو دی، د کافرانو او منافقانو لپاره د اور یوه کنده ده، او د مؤمنانو لپاره د جنت یوه باغچه ده، په قبر کښی په څنو ګناهونو باندی عذاب ورکول کیږی، لکه: د متیازو نه ځان نه ساتل، چغلی، د غنیمت په مال کښی خیانت کول، دروغ ویل، د لمانځه نه اوده کیدل، د قران پریښودل، زنا، لواطت، سود، د قرض نه اداکول، او یا داسی نور ګناهونه، او د قبر د عذاب نه ځینی نیک عملونه انسان ته نجات ورکوی، لکه: هغه نیک عمل چه خالص د الله لپاره وی، د قبر د عذاب نه پناه غوښتل، د سورة الملک لوستل، او د قبر د عذاب نه به ځنی خلک محفوظ وی، لکه: شهید، د الله په لار کښی څوکیدار، هغه څوک چه د جمعی په ورځ مړ شی، او یا د خیټی په مرض مړ شی او یا داسی نور.

✸ **په شپیلۍ کښی پوکی کول :** دا یو لوی ښکر دی چه اسرافیل تیار په خوله کښی نیولی او د انتظار په حالت کښی دی چه کله به ورته د شپیلۍ د وهلو حکم کیږی : **د هلاکولو شپیلی :** الله تعالی فرمائی : ﴿ وَيَوْمَ يُنفَخُ فِي الصُّورِ فَفَزِعَ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَمَن فِي الأَرْضِ إِلاَّ مَن شَاء اللَّهُ ﴾ سورة النمل87 .

**ترجمه :** او ( کله چي ) په شپیلۍ کښي پو کړی شي ټول هغه ( شیان ) به چې په آسمانونو او په ځمکه کښي دي بیخوده شي، پرته د هغه چا چې الله يې اراده وکړي.

نو ټول عالم به دړی وړی شی او بیا به څلویښت کاله وروسته د مخلوقاتو د راپورته کولو لپاره دوهمه شپیلۍ وهلی کیږی چه الله تعالی فرمائی : ﴿ ثُمَّ نُفِخَ فِيهِ أُخْرَى فَإِذَا هُم قِيَامٌ يَنظُرُونَ ﴾ سورة الزمر ٦٨ .

**ترجمه :** بیا به په شپیلۍ کښي بل ځلې پو کړی شي، نو په دغه وخت کښې به ټول ودریږي او په انتظار کښې به وي.

✸ **دوباره ژوندون :** بیا به الله تعالی باران راښکته کړی نود شا د اخرنی بند (عجب الذنب نومی هډوکی) نه به جسدونه راشنه شی، او دا هغه نوی ژوند دی چه وروسته تری بیا مرګ نشته، او خلک بغیر د پایزار نه او برمنډ لغړ راپورته کیږی، ملایکی او پیریان به وینی، او د خپلو عملونو موافق به راپورته کیږی.

✸ **حشر :** الله تعالی به ټول مخلوقات د حساب لپاره په هغه لویه ورځ کښی راجمع کوی چه پنځوس زره کاله اوږده ده، دوی ته به د دنیا ژوند یو ساعت ښکاره شی، او لمر به د یو میل په اندازه نږدی وی، او خلک به د خپلو عملونو موافق په خپلو خولو کښی ډوب وی، په دغه ورځ کښی به ضعیفان او متکبران خلک جګړی کوی، او کافران به د خپلو ملګرو شیطانانو او اندامونو سره لاس په ګریوان وی، او ځنی کافران به په نورو باندی لعنت وائی، او ظالمان خلک به په خپلو لاسونو باندی چک لګوی (خولی لګوی)، او جهنم به په اویا زره ځنځیرونو باندی راښکلی کیږی، چه په هر ځنځیر او واګی پوری به ئی اویا زره ملایکی نښتی وی او راکش کوی به ئی، کله چه کافران دغه جهنم ووینی نو د خپل نفس نه د فدیه ورکولو او یا د خاوری کیدو ارمان به وکړی، او ګناهګاران: لکه زکات خور، نو د دوی مالونه به د جهنم په اور باندی ګرمیږی او دوی به پری داغلی کیږی، او تکبر کونکی خلک به الله تعالی د میږانو په شکل کښی راپورته کړی، او دوکه کونکی، دغنیمت په مال کښی خیانت کونکی او غصب کونکی خلک به رسوا کړی شی، غل به خپله غلا راوړی، او پټ رازونه به ښکاره شی، او متقیان خلک به د ویری نه محفوظ وی بلکه دوی باندی به دغه ورځ د ماسپښین د لمانځه په اندازه تیره شی.

✸ **شفاعت :** لوی شفاعت په نبی ﷺ پوری خاص دی، چه د خلکو نه د محشر لوی مصیبت لری شی او حساب شروع شی، او بل قسم عام شفاعت دی چه نبی ﷺ او نور انبیاء علیهم السلام ټول پکښی شریک دی، لکه: د جهنم نه د مؤمنانو راویستل او یا د هغوی ددرجو اوچتول.

✵ **حساب :** خلک به ټول الله تعالی ته صفونه صفونه پیش کیږی، نو دوی ته به خپل عملونه ښائی او د عملونو، عمر، ځوانی، مال، علم، وعدی، نعمتونو، غوږونو، سترګو، او د زړه تپوس به تری کوی، نود کافرانو او منافقانو سره به د ټولو مخلوقاتو په مخکی د رسوا کولو په خاطر او د حجت قائمولو په خاطر حساب کیږی، او په دوی باندی به دثبوت او د اقرار کولو لپاره خلک زمکه، ورځی، شپی، مالونه، ملایکی او اندامونه ګواهان کړی، او مؤمن به د الله تعالی سره ځانله شی او په خپلو ګناهونو به اقرار وکړی، تر هغی پوری چه هغه په خپل ځان باندی د هلاکت ګمان وکړی نو الله تعالی به ورته ووائی: (چه ما دربانداندی په دنیا کښی پرده اچولی وه او اوس درته مغفرت کوم) او اول به د رسول الله ﷺ امت سره حساب کیږی، او په عملونو کښی به اول د لمانځه متعلق حساب کیږی، او بیا به د وینو په باره کښی حساب کیږی.

✵ **د عملنامو تقسیم :** بیا به عملنامی تقسیم شی نو خلک به د کتاب په شکل کښی عملنامی واخلی ، الله تعالی فرمائی : ﴿ لا يُغَادِرُ صَغِيرَةً وَلاَ كَبِيرَةً إِلاَّ أَحْصَاهَا ﴾ سورة الكهف 49 . **ترجمه :** نه پریږدی وړی ګناه لره او نه لوی ګناه لره مګر ټول ئی راګیر کړی دی، لیکن مؤمن به په ښی لاس عملنامه اخلی کافر او منافق ته به د شا له خوا نه په چپ لاس ورکولی کیږی.

✵ **د عملونو تلل :** بیا به د خلکو عملونه په حقیقی تله باندی چه دوه طرفونه لری، تللی کیږی دی لپاره چه هر چا ته د خپل عمل بدله ورکړی شی، او په نیکو عملونو به دغه تله درنیږی کوم چه خالص د الله لپاره شوی وی، او بعضی هغه عملونه چه تله پری درنیږی: کلمه طیبه، ښایسته اخلاق، ذکر، لکه : الحمد لله، سبحان الله وبحمده، سبحان الله العظیم، او د خلکو سره به د هغوی د نیکو عملونو او ګناهونو موافق فیصله کیږی.

✵ **حوض :** بیا به مؤمنان حوض ته ورځی او چا چه د هغی نه اوبه وڅکلی نو چیرته به بیا تږی نشی، او د هر نبی لپاره به حوض وی لیکن د رسول الله ﷺ حوض پکښی د ټولو نه لوی دی، چه د دغی حوض اوبه به د شیدو نه سپینی وی، اود شهدو نه به خوږی وی، او د مشکو او عنبر نه به ډیری خوشبویه وی، او ګلاسونه به ئی د ستورو په حساب د سرو او سپینو زرو نه جوړ شوی وی، او د دغی حوض اوږد والی به د اردن د (ایله) نومی ځای نه نیولی تر (عدن) پوری وی او اوبه به ورته د کوثر د نهر نه راځی.

✵ **د مؤمنانو امتحان :** د حشر په اخری وخت کښی به کفار خپلو خدایانو پسی روان شی چه په دنیا کښی ئی ورله عبادت کولو، نود ګډو او بزو د رمو په شان به ئی ډلی ډلی په خپلو ښپو او یا پرمخ جهنم ته داخل کړی، نو محشر کښی به صرف مؤمنان او منافقان پاتی شی، نو الله تعالی به ورته ووائی چه د څه شی انتظار کوئ تاسو، نو دوی به ووائی چه مونږ د خپل رب انتظار کوو، نو دوی به خپل رب د ساق ( پنډی ) نه وپیژنی کله چه الله تعالی خپله پنډۍ ښکاره کړی (لکه څرنګه چه د هغی د شان سره لایق وی) نو ټول به سجده باندی پریوځی ماسوا د منافقینو نه لکه څرنګه چه الله تعالی فرمائی : ﴿ يَوْمَ يُكْشَفُ عَن سَاقٍ وَيُدْعَوْنَ إِلَى السُّجُودِ فَلاَ يَسْتَطِيعُونَ ﴾ سورة القلم 42 . **ترجمه :** هغه ورځ چه ښکاره به کړی شی پنډۍ او رابللی کیږی به دوی سجدی ته نو طاقت به نه لری دوی. بیا به دوی الله پسی روان شی نو پل صراط به جوړ شی نو مؤمنانو ته به رڼا ورکړی شی اود منافقانو رڼا به مړه شی.

✵ **پل صراط :** دا به په جهنم باندی لګیږی او مؤمنان به پری جنت ته تیریږی، رسول الله ﷺ د هغی ډیر صفتونه ذکر کړی دی، (مدحضة مزلة ، عليه خطاطيف و كلاليب كشوك السعدان ،...أدق من الشعر وأحدّ من من السيف) مسلم ، دغه پل به ډیر ښوئیونکی وی په هغی به د کږی اوسپنی په شکل غشی نصب شوی وی ( چه انسان به ځان ته راکش کوی ) ، او د ( سعدان ) د بوټی د اغزو په شان د اوسپنی اغزی به پری لګیدلی وی د وینته نه به ډیر نری وی او د توری نه به ډیر تیره وی.

په دغه ځای کښې به مؤمنانو ته د دوی د عملونو موافق رڼا ورکړی شی چه ټولو نه زیاته رڼا به د غرونو په اندازه وی او کمه رڼا به د ښپی د لوئی ګوتی پورې وی، نو دغه رڼا به دوی ته پل صراط روښانه کړی نو دوی به د خپلو عملونو په اندازه په پل صراط باندی تیریږی، نو څه مؤمنان به د سترګو د رپ په شان تیریږی، او څه به د بریښنا په شان تیریږی، او څه به د باد په شان تیریږی، او څه به د مرغانو په شان تیریږی، څه به د تیزو اسونو په شان تیریږی، څه به د اوښانو په شان تیریږی ، ( فناج مسلم ومخدوش مرسل ومکدوس فی جهنم ) متفق علیه ، نو څنې به په سلامتیا سره نجات حاصل کړی ، څنې به زخمی کیږی او بیا به پریښودلی شی، او څنې به د جهنم اور ته پرمخی غورځولی کیږی.

او دمنافقانو لپاره به رڼا نه وی، دوی به واپس شی نو د دوی او د مؤمنانو په منځ کښې به دیوال جوړ شی، بیا به دوی په پل صراط باندی د تیریدلو اراده وکړی نو جهنم ته به وغورځیږی.

✸ **جهنم (دوزخ) :** کفار به جهنم ته داخل شی بیا به نافرمان مؤمنان ورته داخل شی او بیا به منافقین، او په ۱۰۰۰ کښې به ۹۹۹ کسان جهنم ته ننوځی، او د هغی به اوه دروازی وی، او د جهنم اور د دنیا د اور نه ۷۰ چنده زیات ګرم دی، د کافرانو جسدونه به پکښې دومره لوی شی چه د یوی اوږی نه به د بلی اوږی پوری پری دری ورځی رفتار کیدای شی او دا په دی خاطر چه پوره عذاب وڅښی، او غاښونه به ئی د احد دغره په اندازه لوی وی، پوستکی به ئی کلکیږی لیکن بیا به ورته د عذاب ورکولو په خاطر نور تازه پوستکی ورکړی شی، څکل به ئی د جهنم ګرمی اوبه وی چه کولمی به ورله ټکړی ټکړی کوی، او خوراک به ئی زقوم، وینی او زوی وی، په دوی کښې به ډیر کم عذاب والا هغه انسان وی چه د ښپو لاندی به ئی سکروټی اینودلی کیږی چه د هغی نه به ئی ماغزه خوټیږی، په دغی جهنم کښې به پوستکی وریتیږی او ویلی کیږی به، او یا به پرسیږی، او په جهنم کښې به پرمخی راښکل وی، ځنځیرونه او ځلونی به وی، بیخ ئی ډیر ژور دی که یو ماشوم ورته وغورځیږی نو کله چه د جهنم بیخ ته رسیږی نو په هغی به ۷۰ کلونه تیر شوی وی، د هغی خشاک او لرګی به کافران او ګټی وی، او هوا به ئی ډیره ګرمه وی، او سیوری به ئی د لوګی وی، لباس به ئی د اور وی، هر شی به خوری او هیڅ شی به نه پریږدی، ډیر زیات غصه به وی او هډاری به کوی پوستکی به سوزی، هډوکو او زړونو ته به اور رسیږی.

✸ **پل (قنطرة) :** رسول الله ﷺ فرمائی : مؤمنان به د جهنم نه نجات حاصل کړی نو د جنت او جهنم په منځ کښې به په پل باندی رابند کړی شی، نو د څنو لپاره به د څنو نه د ظلم بدلی واخستلی شی چه په دنیا کښې ئی یو په بل باندی کړی وو، کله چه ښه صفا او پاک شی نو بیا به ورته د جنت د ننوتلو اجازت وشی، زما دی په هغه ذات قسم وی چه زما روح د هغی په لاس کښې دی هر یوکس ته به په جنت کښې خپل کور د دنیا د کور نه ښه معلوم وی. بخاری روایت کوی.

✸ **جنت :** د مؤمنانو د اوسیدو ځای دی، آبادی ئی د سپینو او سرو زرو ده، پلستر ئی د مشکو دی، کانی او شګه ئی ملغلری او یاقوت دی، او خاوره ئی زعفران دی، اته 8 دروازی لری، چه سور به ئی د دری ورځو د مزل په اندازه وی، لیکن دغه دروازی به د خلکو نه ډکی وی، په هغی کښې سل درجی دی چه د دوو درجو په منځ کښې د زمکی او د اسمان په اندازه فاصله ده، او په ټولو کښې بهترین جنت فردوس دی، چه د هغی نه نورو جنتونو ته نهرونه بهیږی، او د هغی چت د الله تعالی عرش دی، د شهدو، شدو، شرابو او اوبو نهرونه به پکښې بهیږی، مؤمن چه څرنګه غواړی هغی طرف ته به ئی روانوی، خوراکونه به ئی همیشه او نږدی وی، په هغی کښې به د ملغلری نه د خیمی په شکل کښې یو مانی (بنګله) وی چه شپیته میله پراختیا به لری چه د هغی په هر طرف کښې به بیبیانی او حوری وی ، بی ږیری او تورو سترګو والا به وی، ځوانی او جامی به ئی نه ختمیږی، تشی او ډکی متیازی او نوره ګندګی به پکښې نه وی، ږمنځی به ئی د سرو زرو وی، او خولی به ئی د مشکو په شان وی، ښځی ئی ډیری ښایسته باکری د نسب خاوندانی او همزولی وی، اول به ورته رسول الله ﷺ او بیا نور انبیاء علیهم السلام ننوځی، ډیره کمه اندازه چه څوک د یو شی طلب وکړی نود هغی شی لس چنده نعمت به ورکړی شی، د هغوی خدمت ګاران به د اسی ښایسته هلکان وی لکه د خورو ملغلرو په شان، او په ټولو کښې لوی نعمت د الله تعالی دیدار، رضامندی، او همیشوالی دی.

# فهرس الکتاب


| | | |
|---|---|---|
| 0 | سریزه | 0 |
| 1 | دقرآن کریم د لوستلو فضیلت | 1 |
| 2 | دی سورت ته فاتحه | 3 |
| 3 | دقرآن کریم | 4 |
| 4 | د مسلمان د ژوند په ارتباط مهم او ضروری سوالونه | 67 |
| 5 | د زړه عِمْلُونه القلوبِ | 88 |
| 6 | (د عبدالله او د عبدالنبي) په مینځ کښی آرامه مناظره او سوال او جواب | 100 |
| 7 | داسلام ارکان اوبناگاني دشهادت کلمه (لاإله إلاالله) | 117 |
| 8 | د رسالت کلمه (دا گواهی او شاهدی کول چه محمد ﷺ د الله تعالی پیغمبر دی) | 119 |
| 9 | د طهارت (د اودس غسل او تیمم مسائل) | 121 |
| 10 | د هغی وینی أحکام چه په طبیعی طور د ښځو نه خارجیږی | 126 |
| 11 | په اسلام ک د ښځی مرتبه او درجه | 129 |
| 12 | لمونځ | 134 |
| 13 | د زکات مسائل | 142 |
| 14 | دروژی مسائل | 146 |
| 15 | د حج او عمری احکام | 150 |
| 16 | مختلفی فایدی | 155 |
| 17 | شرعی او مسنون دمونه | 161 |
| 18 | د دعاء آداب او فضیلت | 169 |
| 19 | ځنی ضروری دعاگانی چه یادول یی په کار دی | 171 |
| 20 | فایده مند تجارت | 176 |
| 21 | دسهار او د ماښام اذکار | 178 |
| 22 | هغه دعاگانی او کارونه چه لوی اجراو ثواب لری | 180 |
| 23 | هغه کارونه چه منع تری شوی ده | 187 |
| 24 | ابدی سفر | 192 |
| | د اوداسه طریقه | |
| | د لمانځه طریقه | |
| | د علم سره عمل ضروری او لازم دی | |

# د اوداسه طریقه



لمونځ په غیر د اودس نه نه صحیح کیږی، او په پاکو اوبو باندی اودس کول لازم او ضروری دی، او پاکی اوبه هغی ته وائی چه په خپل اصلی خلقت باندی پاتی وی، لکه د سمندر، کوهیانو، چینو، او نهرونو اوبه.
**پاملرنه:** لږی اوبه مجرد د پلیتی او نجاست د کدیدو په وجه پلیتیږی، او ډیری اوبه هغه دی چه د (۲۱۰) لترو نه زیاتی وی، تر هغه وخت پوری نه پلیتیږی، تر څو دغه نجاست د اوبو رنګ یا خوند او یا بوی بدل کړی نه وی.



**د اودس شروع به په بسم الله باندی کوی،** او په هر اودس کښی د مړوندونو پوری دلاسونو پریمنځل مستحب دی، لیکن د هغه چا لپاره د لاسونو پریمنځل ضروری دی چه د خوب نه راپاځیږی.
**ملاحظه:** د اوداسه د ټولو اندامونو پریمنځل د دری ځلی نه زیات مکروه دی.



**بیا به خوله پریمنځی لیکن یو کرت (ځل) واجب دی، او دری کرتی (ځلی) غوره دی.**
**ملاحظه:** ۱ـ د مضمضی (د خولی د پریمنځلو) په وخت کښی فقط خولی ته اوبه اچول او بیا تری ویستل کافی نه دی، بلکه په خوله کښی د اوبو ښورول ضروری دی. ۲ـ د خولی د پریمنځلو په وخت کښی د مسواک استعمالول مستحب دی.



**بیا به پوزی ته اوبه اچوی لیکن یو کرت (ځل) واجب دی او دری کرتی (ځلی) غوره دی.**
**ملاحظه:** مجرد پوزی ته اوبه داخلول کافی نه دی بلکه په تنفس سره د پوزی منځ ته د اوبو راښکل او بیا ئی خارجول ضروری دی، بیا یو کرت پوزی ته اوبه اچول واجب دی او دری کرتی غوره دی.



**بیا به مخ پریمنځی لیکن یو کرت پریمنځل ئی واجب دی، او دری کرتی مستحب دی.**
او د مخ هغه حد او مقدار چه پریمنځل ئی فرض دی: په عرض سره د یو غوږ نه نیولی د بل غوږ پوری دی، او په اوږدوالی سره د زنی نه نیولی د ویښتو د شنو کیدو تر ځای پوری دی.
**ملاحظه:** د ګڼی ږیری تخلیلول (خلالول) مستحب دی او د رنګی (سپکی) ږیری تخلیلول واجب دی.



**بیا به خپل لاسونه د ګوتو نه نیولی تر څنګلو پوری پریمنځی،** لیکن یو ځل پریمنځل ئی فرض دی او دری ځلی مستحب او غوره دی.
**ملاحظه:** په پریمنځلو کښی د ښی لاس مخکی په چپ لاس باندی سنت دی.



**بیا به ټول سر مسحه کړی او خپلی دوه سبابی (کنځلو) ګوتی به د غوږونو په سوریو کښی** داخل کړی او په غټو ګوتو به د غوږونو ښکاره طرفونه مسحه کړی، او مسحه به صرف یو کرت کوی.
**ملاحظه:** ۱ـ د سر هغه برخه چه مسحه کول ئی فرض دی د تندی نه نیولی تر څټه پوری ده. ۲ـ په هغی ویښتو باندی مسحه کول فرض نه دی کوم چه زنګیری (ځوړنده وی). ۳ـ کله چه ویښته نه وی نو د سر په پوستکی به مسحه کوی. ٤ـ د غوږونو شاته چه کوم سپین ځای ښکاری هغه به هم مسحه کوی.



بیا به د ګټو (بجلکو) پوری ښپی پریمنځی لیکن یو ځل پریمنځل ئی فرض دی او دری ځلی مستحب دی.

**ضروری لاربښودنی:**
۱ـ د اوداسه اعضاء ( اندامونه ) څلور دی: **أ )** د خولی، پوزی او مخ پریمنځل. **ب )** د لاسونو پریمنځل. **ج)** د سر او غوږونو مسحه کول. **د )** تر ګټو (بجلکو) پوری د ښپو پریمنځل. اوپه ترتیب سره د دی اندامونو پریمنځل فرض دی، او په دی کښی د یو اندام مخکی کول په بل باندی اودس فاسدوی.
۲ـ په پرله پسی او متصله توګه د اندامونو پریمنځل فرض دی او که څوک دومره تاخیر وکړی چه مخکنی اندام وچ شی نو بیا اودس فاسدیږی.
۳ـ د اودس نه وروسته د دی دعاء ویل سنت دی: **(( أَشْهَدُ أَنْ لا إِلَهَ إِلا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُ اللَّهِ وَرَسُولُهُ ))**
دا ګواهی کوم چه بیله یو الله بل دعبادت وړ او حقدار معبود نشته او محمد ﷺ د الله تعالی بنده او پیغمبر دی.

# د لمانځه طریقه



کله چه د لمانځه اراده وکړی نو د قیام په حالت کښی به (الله اکبر) وائی، لیکن امام به ټول تکبیرونه مقتدیانو ته د اوریدلو په خاطر په جهر باندی وائی، او نور خلک به ئی په پټه باندی وائی، او د تکبیر د شروع کولو په وخت به خپل لاسونو د اوږو برابر اوچت کړی، او مقتدی به د امام د تکبیر کولو نه وروسته تکبیر کوی.

**ملاحظه:** په قولی او زبانی رکن کښی په دومره اندازه جهر کول واجب دی چه لمونځ کونکی ئی خپل ځان ته واوروی، تر دی چه په خفیه لمونځ کښی به هم داسی کوی، او ادنی درجه د جهر دا ده چه بل څوک ئی واوری، او ادنی درجه د خفیه ویلو دا ده چه خپل نفس ئی واوری.



په ښی لاس باندی به چپ لاس ونیسی او دسینی لاندی به ئی کیږدی، او د سجدی ځای ته به ګوری، او بیا به په هغی دعاء باندی لمونځ شروع کړی چه په احادیثو کښی راغلی دی لکه: سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالَى جَدُّكَ وَلا إِلَهَ غَيْرُكَ، بیا به اعوذ بالله او بسم الله وایی او په دغی ټولو شیانو باندی به جهر نه کوی، بیا به سورت فاتحه وائی، او په جهری لمونځ کښی په مقتدی باندی د سورت فاتحی ویل فرض نه دی، لیکن د امام په سکتو کښی ورله د فاتحی لوستل غوره دی، او په سری ( پټ ) لمونځ کښی به سورت فاتحه خامخا لولی، بیا به د قران کریم هغه سورت وائی چه ده ته اسان وی، او امام به د سهار لمونځ او د ماښام او ماخوستن اولنی دوه رکعتونه په جهر سره وائی، اوپه نورو لمونځونو کښی به قرات په پټه باندی وائی.

**ملاحظه:** د قران کریم د ترتیب موافق د سورتونو لوستل مستحب دی او د هغی عکس (سرچپه) کول مکروه دی، او په یو سورت کښی د کلماتو او یا د ایاتونو مخکی کول او وروسته کول حرام او ناروا دی.



**بیا به الله اکبر ووائی لاسونه به اوچت کړی** او رکوع به وکړی، او د رکوع په حالت کښی به لاسونه په زنګونانو باندی ږدی لکه چه هغه یی نیولی وی، او ګوتی به ئی خوری کړی وی، او شا به ئی همواره کړی وی او خپل سر به ورسره برابروی، او بیا به دری ځلی( سبحان ربی العظیم ) وائی او د رکوع په راګیرولو سره رکعت نیول کیږی (راګیریږی).

**ملاحظه:** د الله اکبر او د ( سمع الله لمن حمده ) د ویلو وقت د رکوع نه د اوچتیدلو او انتقال کولو وخت دی، مخکی والی او روسته والی به پکښی نه کوی، او په ټولو تکبیرونو کښی به داسی طریقه کوی او که قصدا ئی وروسته کړی نو لمونځ پری فاسدیږی.



**بیا به سر اوچت کړی او سمع الله لمن حمده به ووائی** او لاسونه به اوچت کړی، کله چه په اعتدال سره ودریده نو( ربنا ولک الحمد حمدا کثیرا طیبا مبارکا فیه ملء السموات و ملء ماشئت من شیء بعد... ) به تر اخره پوری ووائی.

**ملاحظه:** د ( ربنا ولک الحمد ) د ویلو وخت د رکوع نه روسته د قومی حالت دی یعنی کله چه د رکوع نه وروسته ودریده نو بیا به دغه دعا وائی او تر څو پوری چه نیغ ودریدلی نه وی نو دغه دعا به نه وائی.



**بیا به سجدی ته ځی او الله اکبر به وائی،** خپلی متی به د اړخونو نه او خیټه به د ورنونو نه جدا ساتی، او لاسونه به د اوږو برابر ږدی، اود ښپو او لاسونو ګوتی به قبلی ته برابروی، بیا به دری ځلی ( سبحان ربی الاعلی ) وائی.

**ملاحظه:** په اوو اندامونو باندی سجده کول فرض دی: د دواړوښپو ګوتی، زنګنان، لاسونه، تندی او پوزه، او که څوک په قصد سره په بعضی اندامونو سجده کول پریږدی نو لمونځ ئی باطلیږی او که په عذر سره وی نو بیا نه فاسدیږی.



**بیا به سر اوچت کړی په داسی حالت کښی چه الله اکبر به وائی** او کښینی به: او د کیناستلو دوه صحیح طریقی دی: ١) د چپی ښپی خورول او بیا په هغی باندی کیناستل، او د ښئ ښپی اودرول او قبلی ته د گوتو ماتول. ٢) د دواړو خپو ودرول او گوتی ئی قبلی ته برابرول او په کناتو باندی کیناستل.
او د سجدو په منځ کښی به دری ځلی (رب اغفرلی ) وائی، او د دی دعا زیاتول ورله هم جایز دی: ( وارحمنی واجبرنی وارفعنی وارزقنی وانصرنی واهدنی وعافنی واعف عني).
بیا به د اولی سجدی په شان دوهمه سجده کوی بیا به د تکبیر په حالت کښی سر اوچت کړی، او په ښپو به نیغ ودریږی، نو دوهم رکعت به هم د اول رکعت په شان وکړی.
**ملاحظه:** د سورت فاتحی د ویلو ځای قیام دی، او که د نیغ ودریدلو نه ئی مخکی په قراءت باندی شروع وکړه نو دوباره به ئی اعاده کوی، او که د قیام په حالت کښی اعاده ونکړی نو لمونځ ئی بیا باطل دی.



**کله چه د دوو رکعتونو نه فارغه شی** نو بیا به د اول تشهد لپاره په داسی حالت کښی کښینی چه چپه ښپه به ئی غوړولی وی، ښی لاس به په ښی ورانه باندی او چپ لاس به په چپ ورانه باندی کیږدی، خنصر( کوچنی ) او بنصر (کوچنی گوتی ته نږدی) گوتی به راټولی کړی او دلوئی او منځنی گوتو نه به د حلقی شکل جوړ کړی او په سبابه (کنځلو) گوتی به اشاره کوی، او تر اخره به التحیات و وائی: التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ، السَّلامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ السَّلامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللَّهِ الصَّالِحِينَ، أَشْهَدُ أَنْ لا إِلَهَ إِلا اللَّهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.
بیا به په دری رکعتیز او څلور رکعتیز لمونځونو کښی پاځیږی او الله اکبر به وائی، او لاسونه به اوچت کړی، او نور لمونځ به هم په همدغی طریقه باندی کوی، مگر قراءت به په پټه وائی او صرف سورت فاتحه به پکښی وائی.




**بیا به د اخری تشهد ویلو لپاره کښینی** لیکن که چیرته دری رکعتیز او یا څلور رکعتیز لمونځ وو نو( د تورک ) په شکل به کښینی چه د هغی یو خو صحیح طریقی دی :
١)چپه ښپه به وغوړوی او ښی طرف ته به ئی د پنډی نه لاندی اوباسی او ښئ ښپه به نیغه ودروی او کناتی به زمکی سره ولگوی.٢) چپه ښپه به وغوړوی او ښی طرف ته به ئی د پنډی نه لاندی اوباسی او ښئ ښپه به وغوړوی اوکناتی به زمکی سره ولگوی. ٣) چپه ښپه به وغوړوی او ښی طرف ته به ئی د ورانه او پنډی په منځ کښی اوباسی او په کناتی باندی به کښینی، او تورک به صرف د هغی لمونځ په اخری قعده کښی کوی چه په هغی کښی دوه ځله تشهد ویلی کیږی، بیا به تشهد تر اخره پوری ووائی او بیا به درود ووائی: اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، اللَّهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ. او په اخیر کښی د هغی دعاگانو ویل مستحب دی چه په احادیثو کښی راغلی چه ځنی ئی دا دی: أعوذ بالله من عَذَابِ النَّارِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ، وَفِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ، وَفِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ. ترجمه: زه پناه غواړم په الله سره دعذاب د جهنم نه او عذاب دقبر نه، د ژوند او مرگ د فتنو نه او د دجال د فتنی نه.



**بیا به ښی طرف ته سلام وگرځوی او داسی به وائی:** السلام علیکم ورحمت الله، او دوهم ځل به چپ طرف ته سلام وگرځوی. کله چه ئی سلام وگرځوو نو په خپل ځای کښی به هغه دعاگانی او اذکار ووائی چه احادیثو کښی راغلی دی.

# د علم سره عمل ضروری او لازم دی

الله تعالی او د هغه پیغمبر ﷺ د هغی علم ډیر قباحت او مذمت بیان کړی چه عمل ورسره نه وی، او همداراز د امت د علماء له خوا هم د دغسی علم ډیره غندنه شوی ده، الله تعالی فرمائی: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفۡعَلُونَ ٢ كَبُرَ مَقۡتًا عِندَ ٱللَّهِ أَن تَقُولُواْ مَا لَا تَفۡعَلُونَ﴾سورة الصف: ١-٢). ترجمه: ای موْمنانو! ولې تاسې هغه (خبرې) وایئ چې (ورباندې) عمل نه کوئ، د الله په نزد دلوی قهر سبب دی هغه شی چې وایئ او (ورباندې) عمل نه کوئ.

رسول الله ﷺ فرمائی: ( مثال د هغی علم چه عمل پری نه کیږی په شان د خزانی دی چه د الله په لار کښی نه مصرفیږی ) رواه احمد، فضیل رحمه الله فرمائی: (عالم به تر هغی پوری جاهل بللی کیږی چه تر څو ئی په خپل علم باندی عمل نه وی کړی )، مالک بن دینار رحمه الله فرمائی: ( یو سړی به وینی چه په خبرو کی به ئی هیڅ غلطی او لحن نه وی لیکن عمل به ئی ټول غلط او خطا وی.

## مسلمان وروره او مسلمانی خوری:

الله تعالی تا ته د دی فایده مند کتاب لوستل اسان کړه لیکن د هغی نتیجه چه هغه د دی کتاب په مضامینو باندی عمل دی باقی پاتی دی.

✱ تا په دی کتاب کښی د قران کریم د ځنی برخی تفسیر ولوسته نو دهغی په معنی باندی د عمل کولو کوشش او محنت وکړه، ځکه چه د رسول الله ﷺ اصحابو به د هغه نه لس ایاتونه ولوستل نو نور ایاتونه به ئی تر هغی وخته پوری نه اخستل چه تر څو پوری به ئی په هغه علم او عمل باندی ځان نه وو پوه کړی چه په دغی ایاتونونو کښی به وو، نو هغوی وائی: ( چه مونږ علم او عمل دواړه زده کړه). لکه څرنگه چه شریعت دغی خبری ته هڅول کوی، عبد الله بن عباس رضی الله عنه د دی ایت په تفسیر کښی فرمائی: ﴿يَتۡلُونَهُۥ حَقَّ تِلَاوَتِهِۦٓ﴾ دهغه تابعداری کوی دوی صحیح تابعداری، فضیل بن عیاض رحمه الله فرمائی: یقینا قران د دی لپاره نازل شوی دی چه خلک پری عمل وکړی لیکن خلکو د قران لوستل د عمل په شان گرځولی دی.

✱ لکه څرنگه چه تا په دی کتاب کښی د رسول الله ﷺ ځنی احادیث ولوستل نو د هغی استجابت او عمل کولو ته راودانگه، ځکه چه د دی امت نیکانو خلکو به کله یو مسئله زده کړه نو د هغی تطبیقولو او دعوت ته به ئی د یو بل نه مخکی وردانگل، او دا په دی خاطر چه له یوی خوا د رسول الله ﷺ په دی وینا باندی عمل راشی چه فرمائی: ( اذا أمرتكم بامر فأتوا منه ما استطعتم وما نهيتكم عنه فاجتنبوه ) رواه البخاری و مسلم. ترجمه: کله چه زه تاسو ته په یو کار باندی حکم وکړم نو په هغی عمل وکړئ څومره چه ستاسو طاقت وی، او د کوم څیز نه چه تاسو منع کړم نو د هغی نه ځان وساتئ، او له بله پلوه د الله تعالی د هغی سخت عذاب نه ځان وژغورئ چه فرمائی: ﴿فَلۡيَحۡذَرِ ٱلَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنۡ أَمۡرِهِۦٓ أَن تُصِيبَهُمۡ فِتۡنَةٌ أَوۡ يُصِيبَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ ٦٣﴾ سورة النور:٦٣). ترجمه: نو هغه کسان چې د الله له حکم نه تیری کوي، باید وویریږي چې له کومې فتنې سره مخامخ شي یا یو دردوونکی عذاب دوی ته ورسیږي

◀ او د دی یو مثال ام المؤمنین ام حبیبه رضي الله عنها وه چه د رسول الله ﷺ د دی حدیث روایت کوی، چه هغه فرمائی: ( چا چه په یوه ورځ او شپه کښی دولس رکعته لمونځ وکړ نو الله تعالی به ورله د هغی په سبب په جنت کښی کور جوړ کړی ) مسلم روایت کوی، نو ام حبیبه رضی الله عنها فرمائی چه ما دغه سنت بیا کله هم نه دی پریښی چه کله می د رسول الله ﷺ نه د احدیث اوریدلی دی.

◀ عبدالله بن عمر رضي الله عنه د دی حدیث روایت کوی چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی: ( د یو مسلمان لپاره دا مناسب نه دی چه د وصیت کولو یو شی ورسره وی او هغه بیا دری شپی

تیروی مګر د ده لپاره پکار دی چه دغه وصیت نامه ورسره لیکلی وی) بخاری و مسلم روایت کوی، نو عبدالله بن عمر ﷺ فرمائی د کوم وخت نه چه ما د رسول الله ﷺ نه دا حدیث اوریدلی نو په ما باندی یوه شپه هم داسی نه ده تیره شوی چه ما پکښی وصیت نه وی لیکلی.

◀ امام احمد رحمه الله فرمائی: ( ما هیڅ یو حدیث نه دی لیکلی مګر ما پری عمل کړی دی، تر دی چه ما دا حدیث واوریده چه نبی ﷺ ښکر ولګوه او بیا ئی ( ابو طیبه ) ته یو دینار ورکړه، نو ما هم ښکر ولګوه او بیا می حجام ( ښکر لګونکی ) ته یو دینار ورکړ.

◀ امام بخاری رحمه الله فرمائی: ( د کوم وخت نه چه ما واوریده چه غیبت حرام دی نو ما بیا د چا غیبت نه دی کړی. او زه دا امید لرم چه د الله تعالی سره به داسی حال کښی ملاقات وکړم چه د چا د غیبت کولو محاسبه راسره ونه کړی ).

◀ په حدیث کښی راغلی چه: (د هر لمانځه نه وروسته څوک اية الکرسی ووائی نو د جنت ننوتلو نه به ئی هیڅ شی منع نه کړی مګر دا چه مړ شی ( یعنی چه مړ شی نو فورا به جنت ته ننوځی ). نو امام ابن القیم رحمه الله فرمائی: ( چه ما ته د شیخ الاسلام بن تیمیة رحمه الله: نه دا خبره رسیدلی ده چه هغه فرمائی چه ما د هیڅ یوه لمانځه نه روسته اية الکرسی نه ده پریښی مګر په هیره سره ).

✱ د علم او عمل نه روسته په تا باندی هغی څه ته دعوت ورکول لازمی دی چه الله تعالی تا ته ښودلی دی، خپل ځان او نور خلک باید د خیر نه محروم نه کړی، نبی ﷺ فرمائی: ( څوک چه چاته خیر وښائی نو د ده لپاره د عمل کونکی په شان اجر دی ) امام بیهقی په سنن کبری کښی روایت کوی، او همدا راز رسول الله ﷺ فرمائی: ( بهترین په تاسو کښی هغه کسان دی چه قران زده کوی او بیا ئی نورو ته ښائی) بخاری روایت کوی، او همدا راز رسول الله ﷺ فرمائی: ( زما نه دین ورسوئ اګر که یو ایت هم وی) بخاری روایت کوی، څومره چه ته د ښو کارونو نشرول کوی هغومره به خیر زیاتیږی، او ستا اجر به هم زیاتیږی، او ستا لپاره به په مسلسله توګه په ژوند او د مرګ نه وروسته نیکی جاری وی، رسول الله ﷺ فرمائی: ( کله چه انسان وفات شی نو عمل ئی ختم شی مګر دری شیان دی چه نه ختمیږی، جاري صدقه او خیرات، اوهغه علم چه خلکو ته پری فایده رسیږی، او یا نیک بچی چه د مور او پلار لپاره دعاء کوی ) مسلم روایت کوی.

✱ تبصره او وضاحت: سوره فاتحه هره ورځ د (۱۷) ځلی نه زیات لوستل کیږی، چه مونږ پکښی د یهودو او د نصاری و د لاری نه پناه غواړو، لیکن بیا هم مونږ د هغوی سره په کارونو کښی خپل ځان مشابه کوو: علم او پوهه پریږدو نو نتیجه داشی چه عمل مو په جهالت سره شی، نو د ګمراهانو نصاری و سره زمونږ مشابهت راشی، او یا علم کوو لیکن عمل پری نه کوو: نو د یهودو لعنتیانو سره زمونږ مشابهت راشی.

د الله تعالی نه سوال کوو چه مونږ او تاسو ټولو ته فایده مند علم او نیک عمل نصیب کړی.

والله ورسوله أعلم، وصلی الله علی سیدنا و حبیبنا محمد وعلی آله وصحبه أجمعین.

بشتو

# تفسير العشر الأخير

## من القرآن الكريم